حقیقت درک کړه!

لیکوال: محمد عثمان (ایوبي)

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: حقیقت درک کړه!

لیکوال: محمد عثمان (ایوبي)

لومړی (۱) ټوک

حقیقت درک کړئ، تر څو حق او ناحق درته څرګند سي.

فهرست

موضوع **مخ**

اول فصل: د مسلمانانو د برم، سرلوړۍ او عزت دور........ ۶

دوهم فصل: د اسلامي اُمت د غفلت او ذلت دور........ ۱۱

دريم فصل: د خلافت له منځه وړونکی مصطفی کمال اتاترک........ ۱۸

څلورم فصل: د حق او باطل تر منځ جګړې........ ۲۶

پنځم فصل: فکري جګړه........ ۴۶

شپږم فصل: نشنليزم يا ملتپالنه........ ۵۴

اووم فصل: بشريت ته چا زيان رسولی؟........ ۶۰

اتم فصل: يهوديان (صهيونستان)........ ۶۴

نهم فصل: خفيه ټولني او سازمانونه........ ۷۹

لسم فصل: په اسلامي نړۍ کښي امريکايي پوهنتونونه........ ۸۹

يوولسم فصل: دجال څوک دی؟........ ۹۳

دوولسم فصل: جهاد........ ۱۰۳

ديارلسم فصل: نړيوالتوب، العولمة يا (Globalization)........ ۱۱۷

څوارلسم فصل: امريکا څنګه اسلام غواړي؟........ ۱۸۳

پنځلسم فصل: د سپټمبر يوولسمه (۱۱) د امريکا له خوا پر اسلامي خاورو د بښکيلاک پلمه وه........ ۱۸۹

شپاړسم فصل: د ښځو منزلت او مقام په غربي نړۍ کښي........ ۱۹۳

اوولسم فصل: آيا جمهوريت اسلامي نظام دی؟........ ۱۹۶

اتلسم فصل: اسلامي بيرغ کوم يو دی؟........ ۲۰۳

نوولسم فصل: کاذب استقلال........ ۲۰۶

شلم فصل: د ځوان نسل بې لاري کول د دښمن اصل هدف دی........ ۲۱۲

يوويشتم فصل: د مسلمانانو دښمنان څه کول غواړي؟........ ۲۱۴

دوويشتم فصل: اسلامي اُمت دعوت او دعوتګرانو ضرورت لري........ ۲۱۹

سریزه

په عصري نړۍ کي باطل او د باطل پيرو د اسلام د دين په مقابل کي داسي مسلسله جګړه روانه کړې ده، چي انساني ذهن کوم څه تصور کړي، هماغه يې د اسلام په مقابل کي په رد استفاده کړي دي، مسلمان ځوانان په نن عصر کي نه يوازي د فکري شلوغ سره مخامخ دي، بلکي د دوی د فکر نتيجه او قضاوت يې هم ور ناروغ کړی دی، اسلامي تاريخ داسي يو بډايه اخلاقي، متمدن، مشفق او فاتح تاريخ دی، چي د بشر په تاريخ کي داسي يوه سپينه صفحه نه ليدل کيږي، د همدې سپيني ورقي په اړه پست رقيبان شايعات او د کتاب البطن څخه اتهامات لګوي، مسلمان ځوانه ستا لپاره اصلي آرزښت اسلام دی، که ته اسلام ونه لرې، هيڅ هويت دي نسته که په غرب کي واوسې که په شرق کي واوسې ته يو بې هويته، بې مسئوليته، بې آرزښته، بې تاريخه او سپک شخص ياديږې، هيڅ قوم، قبيل دي په خپل هويت نه ور ګډوي، اسلام زموږ هويت دی، زموږ معرف او معرفت دی، موږ د اسلام يو، بيله اسلامه زه ژوند نه غواړو، نه بې اسلامه ژوند کولای سو، روح مو اسلام غواړي، وجود مو اسلام غواړي، تفکر تخيل، مو په اسلام کي دی، نه د شرق، غرب، جنوب او نه د شمال د قوم يو، موږ يوازي او يوازي مسلمان يو، اسلام قرباني غواړي، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د قربانۍ بنسټ د غاښونو مبارکانو څخه شروع کړ، چي د هغه اسلام وړانګي تر موږ پوري راورسيدلې، نو د اسلام حق دا دی چي عملي سي او نوري نړۍ ته نشر سي، صحابه کرام او نور عام مسلمانان د اسلامي تاريخ په مختلفو دورو کي د اسلامي دولت د پراخولو، د اسلام د پلي کولو او د خپل دولت د دفاع لپاره تر خپل ځان تير سول، ځانونه يې قربان کړل او د خپل ژوند تر اخيره پوري يې اسلام ته کار وکړ، تر څو د خپل دولت لوړ اهداف تر لاسه کړي.

اسلام يوازي يو جامد دين نه دی چي د ګوتو په شمار احکام ولري، لکه: لمونځ، روژه، حج، اخلاق او داسي نور... بلکي اسلام يو داسي عقيده ده چي د بشري ژوند د ټولو چارو لکه: سياسي، اقتصادي، ټولنيز، تعليمي، کورنۍ او بهرنۍ سياست لپاره احکام او حل لاري لري، دا زموږ مسلمانانو دنده ده چي مبارزه وکړو چي اسلام بايد مکمل د ټولني او دولت په واقعيت کي تطبيق سي، د مسلمانانو خاوري بايد سره يو کړل سي، ښکيلاکګر او اشغالګر کفار بايد د اسلامي خاورو څخه د هر اړخه وايستل سي، او د اسلام بيرغ پر ټوله نړۍ ورپول سي، د يو مسلمان ځوان سره کرښه اسلامي آرزښتونه دي، که دوی هغه ته دنيا د خپلو ټولو خزانو سره ورکړي، نو دی چمتو نه دی چي د حق په خاطر دي د چا سره معامله وکړي او د هغه څخه د ذرې په اندازه کښته ولاړ سي، اُمت د اوسني ذليله حالت څخه د نجات موندلو لپاره بايد په نړيواله سطح د واحد جسد په څير واوسيږي، د واحد په څير د يو بل په درد دردمن کړل سي، د ټولي اسلامي نړۍ څخه د غرب د اشغال، استعمار او استثمار ټغر ټول کړل سي، د نړۍ په هر کونج کي د هر مظلوم مسلمان ورور او مظلومي مسلماني خور څخه دفاع وکړل سي، د ټولو مقدساتو د سپکاوي څخه د کفارو لاسونه قطع کړل سي، د نړۍ په سطح اسلام تطبيق کړل سي او ټول بشريت جنت ته د سوق کيدو په هدف د هدايت لور ته راوبلل سي، ددې لپاره حل لاره يوازي او يوازي په نړيواله سطح د اسلامي نظام يعني اسلامي دولت شتون دی.

اسلامي اُمت د ټولنيز، اقتصادي او نظامي اړخه دومره ځواکمن دی، چي که چيري د يو دولت په توګه سره متحد سي، کولای سي چي د اُمت يووالي او د اسلامي پيغام په خپرولو کي هر ډول خنډونه له مخي پورته کړي او خپل وقار باثباته وساتي، څلورشپيته (۶۴) فيصده ګاز په اسلامي هيوادو کي دی، اته اتيا (۸۸) فيصده نفت د مسلمانانو په هيوادونو کي دي، د مسلمانانو د فوج شمير دوويوېشت (۲۲) ميليونه دی او د نړۍ د ټولو مسلمانانو شمير زياتو و کم دوه (۲) ميلیارده دی، مګر بيا هم موږ خوار او ذليله يو، نه پوهيږم چي يو اُمت ولي د ورزشي لوبو په ډګر کي د ماتي له کبله په غوسه او احساساتي کيږي، مګر د تمدني، صنعتي او ټولنيزو ماتو له کبله يو وريښته هم نه ښوري؟! د نړيوال اقتصادي جال او زبيښونکي مافيا په لومو کي مسلمانان يوازي د ښکار حيثيت لري، نه اقتصادي او نه هم سياسي نوښت لري، د مسلمانانو استقلال په اقتصادي استقلاليت او واقعي نوښت پوري تړلی دی، اقتصادي استقلال او منونکی نوښت په علم او پوهه سره راځي.

اسلامي اُمت مړ نه دی، ژوندی دی، مګر په خوب بيده دی، يا بيده کړل سوی دی، نو پر موږ لازم ده چي هغه بيدار او راويښ کړو، اسلامي اُمت د نړيوالو پر وړاندي د خپل رسالته خبر کړو، د ځان او نورو په هکله يې د خپل رول څخه خبر او هوښيار کړو، ځکه هغه يو نړيوال اُمت دی، چي يوازي د خپل ځان لپاره نه دی پيدا سوی، بلکي د ټولو خلکو د خير او ښيګڼي لپاره پيدا سوی دی، اسلامي اُمت هيڅکله نه سي کولای مخکي د خپل ځانه نورو ته نيکي او ښيګڼي وړاندي کړي، نو داخلي اصلاح د باندنۍ اصلاح څخه ضرور او مخکي ده، بايد د اسلامي اُمت هوښياري، پوهه او بيداري پرته له مبالغي، احساساتو، غفلت او ډار څخه بيا را وګرځوو، منفي ټکي بايد د خپل تفکر څخه وباسوو لکه يوازي د تير وخت په ستايلو بسنه، زموږ د ځليدونکي تاريخ پر پاڼه نمونو ژړا او فرياد کول او داسي نور... چي په عمل کي هيڅ ګټه په لاس نه ځيني راځي، د اسلام پر تير برم او عظمت ژړا او فرياد د تمدن جوړوونکو کار نه دی.

بايد د اُمت په اوسني حال وژاړو او اوسنی تاريخ په خپلو مټو، افکارو او علم سره جوړ کړو، د اسلام تير عظمت يو ځل بيا را وګرځوو، پر موږ لازم ده چي د خپلو اولادونو زړونه د ايمان، اُميدونو، هيلو، پر الله سبحانه وتعالی توکل، پر ځان باور او اعتماد، د ملتونو او اُمتونو په نيکبختيو او سعادتونو د تکيه کولو څخه ډک کړو، دا هغه چاري دي، چي تاريخ جوړوي بايد زړور او ميړني اولادونه ولرو، چي اسلام ته کار وکړي، نه دا چي د اسلام پر اوږو بار سي، په خپلو روحي ناروغيو، فکري آفتونو، ټولنيزو ناروغيو، اقتصادي فسادونو او سياسي اشتباهاتو اعتراف وکړو، په دې شيانو اعتراف په دې معنا نه چي موږ ددې ناروغيو د علاجه مايوسه يو، بلکي کله چي ناروغ تشخيص سي، بيا دوا آسانه ورته پيدا کيږي، ددې علاج کولو لومړی ګام دا دی، چي پوه سو تاوان زموږ خپل دی، نه دا چي دا ټولي فتنې او فسادونه د نورو پر اوږو ور واچوو، هغه څه چي پر موږ پوري تړاو لري، بايد ژر تر ژره يې تغيير کړو او ځانونه اصلاح کړو، ځکه که موږ خپل پخوانی حالت نه وای تغيير کړی، د الهي سنتو سره سم به هيڅکله په موږ کي تغيير نه وای راغلی.

په درنښت

د اسلامي اُمت خادم

محمد عثمان (ايوبي)

اول فصل

د مسلمانانو د برم، سرلوړی او عزت دور

څه باشکوه دولت، تمدن، عزت، غیرت، شجاعت، همت، قوت او قدرت مو درلودی، څومره مو د ځوانانو په زړونو کي عزم اراده، ایمان، د جهاد مینه او داسي نور درلودل، امریکا به عثماني خلافت ته جزیه ورکوله، اروپا عصري علوم، تمدن، نظاقت او پاکوالی زموږ څخه زده کړل، کله چي موږ نیم جهان فتح کړی وو، عیسویانو هغه وخت په ټول عمر کي دری (۳) ځلي د ځان مینځلو اجازه درلوده، کله چي زموږ په اندلس کي عصري علوم او جنګي فنون د مسلمانانو ځوانانو او ماشومانو ته تدریس ول، د امریکا په نوم هیڅ هیواد شتون نه درلودی، زموږ اوولس (۱۷) کلن ځوان محمد بن قاسم په اوولس (۱۷) کلنی کي د یوه غټ لښکر مشر او سپه سالار وو، زموږ ځوان سلطان محمد الفاتح شل (۲۰) کلنی کي قسطنطنیه فتحه کړه، د کفارو تر ټولو غټ او نه تسخیریدونکی مرکز یې له منځه یوړ، موږ غټ تمدن درلودی، زموږ د غازیانو د بیري څخه به کفارو سم خوب نه سوای کولای، څه سو هغه غیرت، همت، قوت، قدرت، عزم، اراده، ایمان، د جهاد سره هغه مینه افسوس افسوس.

څه سو هغه محمد بن قاسم چي د یوې مسلماني خور د ژغورلو لپاره یې زرګونه میله لیري ځان هندوستان ته ورسوی، او د خپل لښکر څخه لس (۱۰) برابره غټ لښکر ته یې ماته ورکړه، څه سو سلطان معتصم بالله چي د یوې مسلماني خور ږغ ته یې لبیک وویلی او د کفارو پاچا یې د سپي په څیر ذلیل کړ، د هماغي مسلماني خور په پښو کي یې ور واچوی، څه سو هغه یوسف بن تاشفین (رحمه الله علیه) چي د مسلمانانو د ژغورلو لپاره د مراکش څخه اندلس ته راغلی او کفارو ته یې ستره ماته ورکړه، چیري دی هغه قتیبه بن مسلم (رحمه الله علیه) چي مسلمانانو ته یې بخارا او سمرقند فتحه کړی، چیري دی هغه خالد بن ولید (رضي الله عنه) چي د قیصر او کسرا امپراطوري یې د خاورو سره خاوري کړه، چیري دی هغه محمود غزنوي (رحمة الله علیه) بت ماتوونکی چي اسلام یې تر هندوستانه ورسوی او د بُت پرستی سره یې مبارزه وکړه، چیري دی هغه احمد شاه ابدالي چي د مسلمانانو مرستي ته ولاړی او د پاني پت په ستر جنګ کي یې کفارو ته سخته ماته ورکړه، چیري دي د اندلس غازیان بدر بن مغیره نسته، عمیر بن خزام نسته، طاهر بن یوسف نسته، چیري دی د خوارزم زمری سلطان جلال الدین خوارزمشاه، چیري دی د مغولو د لښکر د سترګو اغزی د چنګیز د سترو ماتو غازي او د مسلمانانو حامي او مشر.

د اسلامي اُمت د یوالي په دغه تاریخي جګړه کي د عثماني خلافت بیرغ تر چتر لاندي ترکیان، عرب او کردیان مجاهدین د جګړې لپاره میدان ته را روان وه، د کوت العماره خونړی جګړه په ۱۹۱۶م کال کي د عراق په مشرقي سیمه کي د بغداد څخه یوسلو اویا (۱۷۰) کیلومیتره لیري د جله دریاب ته نږدي د الکوت په سیمه کي ترسره سوه، په دغه جګړه کي نامتو عثماني جنرال خلیل پاشا او قومندان علي پاشا په قومنده کي د عثماني خلافت مجاهدینو دیارلس زره

(۱۳۰۰۰) برطانوي عسکر جهنم ته واصل کړل، اته زره (۸۰۰۰) برطانوي عسکر ژوندي ونیول سول، د برطانوي لښکر سالار چارلس ټاؤنشینډ د نیول کیدو وروسته د خلیل پاشا پر آس باندي ټرلی سرنګونه د خلافت مرکز ته راوړل سو، د عثماني خلافت لس زره (۱۰۰۰۰) مجاهدینو هم د اسلام او خلافت د بقاء لپاره خپل سرونه نذرانه کړل، د دغه خونړۍ جګړې وروسته انګریزان پوه سول چي مسلمانانو ته په مخامخ جګړه کي ماته ورکول آسان کار نه دی، په دغه تاریخي جګړه کي د ترکیي، فلسطین، مصر او الجزایر څخه راغلي ترکیان، عرب او کردیان په یو اتفاق باندي د اسلامي دین د بقاء لپاره د عثماني خلافت تر بیرغ لاندي د انګریزانو په ضد وجنګیدل د برطانیې په تاریخ کي د انګریزانو لپاره دغه تر ټولو شرموونکې او عبرتناکه ماته بلل کیږي.

بلاط الشهداء تاریخي جګړه: د اورپا په پوهنتونو کي به نن د قرآن او حدیث درسونه ویل کیدلای، په ۷۳۲م کال د رمضان المبارک په میاشت کي اوسنۍ فرانس (پارس) ښار ته نږدې د ټورس پر مقام باندي د مسلمانانو او فرانسوي عیسایانو تر مابینځ خونړۍ جګړه وسوه، چي زرګونه عیسایان په کښي قتل او دوه چنده مجاهدین هم په کښي شهیدان سول، د هسپانیې اوسني (اسپین) د فتحي وروسته مسلمانانو غوښتل چي ټوله اورپا فتحه کړي او په اسلامي قلمرو کي یې شامل کړي، د دغه عظیم مقصد لپاره د اموي خلافت عظیم قومندان عبدالرحمٰن الغافقي په مشرۍ کي د اسلامي لښکر زیاتره مجاهدینو په سرونو باندي کفنونه وتړل او د الله اکبر په نعرو سره د فرانس سیمي ته داخل سول، د فتحي یا شهادت په آرمان کي د تورو په شرنګهارو سره د اسلامي لښکر مجاهدینو سخته جګړه پیل کړه، مګر متاسفانه د سخت مقاومت، ستړیا او د اسلامي لښکر قومندان عبدالرحمٰن الغافقي د شهادت وروسته مسلمانان د ماتي سره مخامخ سول. مشهوره مورخ ایډورډ ګیبون د دغه جنګ په هکله لیکي: که چیري عیسایي لښکر مسلمانانو ته ماته نه وای ورکړې، نن به پر ټوله اروپا باندي د مسلمانانو اسلامي حکومت وای، حتیٰ چي د پولینډ او سکاټ لینډ تر سرحدونو به مسلمانانو لاس رسۍ درلودای، او د اروپا په پوهنتونو کي به نن د قرآن او حدیث درسونه ویل کیدلای.

د فرانسویانو نڅا ته غبرګون: اتریشي تاریخ لیکونکی جوزف فون هامر وایي: فرانسویانو به شپه او ورځ په لارو او کوڅو کي نڅا کوله، یو او بل به په غیږ کي سره نیول، کله چي عثماني خلیفه سلطان سلیمان قانوني د فرانسویانو ددې کار څخه خبر سو، فرانسوي پاچا لومړي فرانسوا ته یې ولیکل: خبر سوم چي ستاسو خلګ په عمومي لارو او کوڅو کي په ډیره بې شرمانه ډول نڅا کوي، دا چي ستاسو هیواد زموږ د وطن سره پوله یعني سرحد لري، بیریږم چي ستاسو دغه ناوړه او بې شرمانه عمل زموږ وطن ته لار وکړي، نو که زما لیک در ورسیدی، دغه ناوړه کارونه منع کړه، کنې زه به پخپله درسم او له منځه به یې یوسم. کله چي فرانسوي پاچا ته لیک ورسید، په لارو او کوڅو کي یې د فرانسویانو په نڅا بندیز ولګوی او خلګو تر سلو (۱۰۰) کلونو پوري په پټه نڅا کول.

سپر پاور اسلامي خلافت: آیا تاسو خبر یاست، د عثماني خلافت په واکمنۍ کي د مصر یوه پیسه د اوسني امریکایي (۲۶۴۰۰) ډالرو سره مساوي وه، د مسلمانانو معیشت د نړۍ تر ټولو غوره معیشت وو، د سیاسي اقتصادي او عسکري طاقت په اساس عثماني خلافت په ټوله نړۍ کي د سپر پاور طاقت په حیث منل کیدی، په اسلامي تاریخ کي تر ټولو غوره شتمن او مستحکم معاشي نظام د بنو اُمیه عادل حکمران عمر بن عبدالعزیز (رحمة الله علیه) په خلافت کي تیر سوی دی، په هغه وخت کي د غربت کچه بالکل صفر سوه، مسلمانان په اقتصادي اساس دومره شتمن سول چي د نړۍ په ټولو اسلامي هیوادونو کي هڅ کوم سوالګر یا د زکات اخیستلو لپاره مستحق کس پاته نه سو.

د اسلامي خلافت عواید: د اسلامي خلافت د برکته په معاصر کي هسپانیا د زیتونو په تولید کي په ټوله نړۍ کي لومړی مقام لري، دا ځکه چي د بنو امویه په اسلامي خلافت کي کله چي مسلمانانو اندلس فتح کړ خپل کلتورونه یې د ځانه سره هسپانیې ته انتقال کړل چي د زیتون وني د برکت په اساس ښي وني او د نیکمرغۍ لامل بلل کیدلې، نو عربو د زیتونو او خورماوو ډیر ډولونه اسپانیا ته انتقال کړل، په اسلامي خلافت کي د زیتون کښت تر اتو (۸) پیړیو پوري وده وکړه، همدا راز زیتون په ټول اندلس او اورپا کي خپور سو، هر کال په زرهاوو ټنه زیتون د هسپانیا څخه د نړۍ بازارونو ته انتقال کیږي او د اسلامي خلافت د بنسټي کښت دغه مالي عواید د هسپانوي حکومت په عیسایي خزانو کي جمع کیږي.

په اورپا یعني هسپانیا کي د برباط دریاب پر غاړه جبلُ الطارِق هغه تاریخي غر دی، چي نن هم د اسلامي نړۍ جنرال طارق ابن زیاد د نوم سره نسبت او شهرت لري، د هسپانیا د دغه ساحلي مقام څخه د اسلامي تاریخ جنرالانو پر اورپا باندي خونړي تعرضونه وکړل کلیساوي او ښارونه یې فتحه کړل حتّٰی چي نیمایي اورپا په اسلامي قلمرو کي شامل سوه، طارق ابن زیاد، موسٰی بن نصیر، عبدالرحمٰن الداخل، یوسف بن تاشفین، عبدالمومن الموحدي، ابو یعقوب المنصور غوندي نامتو جنرالانو پر دغه مقام باندي د خپلو لښکرونو سره قیام وکړ، په دغه مقام باندي طارق ابنِ زیاد د خپل لښکر بیړۍ وسوځلې، ددې لپاره چي مجاهدین د بیرته تګ فکر لا ونه کړي او د فتحي یا شهادت په اراده باندي جګړه وکړي، د جبل الطارق په لمنه کي دوولس زره (۱۲۰۰۰) مجاهدینو د عیسایي جنرال راډرک یو لک (۱۰۰۰۰۰) عسکرو ته ماته ورکړه، د جبل الطارق دغه مقام د هغې ورځي شاهدي هم وایي کله چي د قلعةُ الاراک په جګړه کي د عیسویانو د ماتي وروسته مجاهدینو نیول سوي عیسویان عسکر د خرڅلاو لپاره لاس تړلي په بازارونو باندي ګرځول او ناری یې وهلې.

یـوه تـوره پـه یـــو درهـم واخلـــې

یؤ عیسایي غلام په یو درهم واخلې

په هغه وخت کي موږ د توري خاوندان وو، د جهاد له برکته د یونان، یوګوسلاویا، پولینډ، اوسني فرانس او نیمایي روس په شمول د ایټالیا تر ساحلي جزیرو پوري د اسلامي خلافت بیرغونه رپیدل، د اورپا طاقتوره صلیبي هیوادونو د بیري مسلمانانو ته جزیه ورکوله، ځکه چي هغه زموږ د عروج زمانه وه.

پر اندلس باندي مسلمانانو اته (۸) پيړۍ حکومت وکړ، هغه اندلس چي طارق ابن زياد (رحمة الله عليه) يوازي د دولسو (۱۲) زره لښکر سره د الله سبحانه وتعالی په مرسته يو لک (۱۰۰۰۰۰) لښکر د عيسويانو ته ماته ورکړه، طارق بن زياد (رحمة الله عليه) او موسی بن نصير (رحمة الله عليه) په ۷۱۴م کال چي د ۹۱ هجري قمري کال سره سمون خوري د شوال په مياشت کي اندلس فتح کړ، مسلمانانو هلته يو لوی تمدن او علمي فرهنګ جوړ کړ، اروپايان د علم د زده کړي او تجارت لپاره اندلس ته راغلل، اسلامي فرهنګ يې د اندلس څخه په اروپا کي ترويج کړ، عصري علوم يې په اندلس کي د مسلمانانو علماؤ او استادانو څخه زده کړل، در حالي چي اروپايانو او عيسويانو په ټول عمر کي دري (۳) ځلي د ځان مينځلو اجازه درلوده، که به چا تخلف وکړ د کليسا له خوا څخه به جزا ورکول کيدله، د اندلس با تقوا او غيرتمندو حکمرانانو څخه د اروپا پادشاهانو آرام خوب نه سوای کولای، عيسويان راټول سول مشوره يې وکړه: اندلس به په څه ډول د مسلمانانو څخه ونيسو، جاسوسان يې راټول کړل اندلس ته يې وليږل ورته ويې ويل: يوازي ځوانان وګورئ چي په څه حال کي دي، آيا اوس هم د اسلامي شريعت سره مينه لري؟ آيا اوس هم د اسلام او جهاد جذبه په زړونو کي ساتي؟

جاسوسان اندلس ته ولاړل کله چي ور ورسيدل ګوري چي يو ځوان ناست دی، ژاړي يو کس ورمخته سو او پوښتنه يې ځيني وکړه: ولي ژاړي؟ ځوان وويل: ما به هره ورځ په يوه غشي دوه (۲) ښکاره کول خو نن زما غشي خطاء ولاړل، عيسوی جاسوسانو زړونو کي بيري او ترس ځای ونيوی، خو بيا هم اندلس ته داخل سول، ګورئ چي د مومن مسلمانان د الهي شريعت سره برابر دی، د الله سبحانه وتعالی په احکامو پوره عمل کوي، د ځوانانو په زړونو کی د جهاد مينه له حده زياته ده، ماشومان د عصري او ديني علومو په زده کړو بوخت دي، د ۱۳ څخه تر ۱۴ کلونو عمره ماشومان تکړه سپاهيان، غشي ويشتونکي او د ښه علم خاوندان دي، عيسويان بيرته ولاړل، او عيسوي پادشاهانو ته يې دا حال بيان کړ، عيسويان پر مسلمانانو باندي د حملې کولو څخه بيرته شاته سول، مګر يو پلان يې جوړ کړ، او ويې ويل: اسلامي حکمرانان بايد د تقوا څخه بې برخي کړو، په منځ کي يې د عداوات او نفاق تخم وپاشو.

د صليبي جنګونو په جريان کي د فلسطين په کرک سيمه کي صليبي جنرال ريجنالډ د حاجيانو قافله چور کړه، بيا يې د قافِلې کوچنيان او ښځي ډير په بي رحمی سره شهيدان کړل او پاته خلګو ته يې وويل: خپل پيغمبر محمد ته مو ووايast چي نن راسي او ستاسو دفاع وکړي.

د قافلې څخه پاته يو مسلمان سلطان صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه) ته خبر راوړ، سلطان صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه) سمدستي لښکر تيار کړ، او مجاهدينو ته يې پخپله وينا کي وويل: اې د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) سپاهيانو ظالم ريجنالډ د بيت الله حاجيان شهيدان کړي او د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) په باب يې ګستاخي کړې ده، په تاسو کي چي کوم عسکر د ګستاخی بدل اخيستلو لپاره چمتو وي، هغه دي زما سره روان سي، ټول لښکر په يو ږغ باندي وويل: موږه ټول د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) فدايان يو، وروسته د حَطِين پر مقام باندي اسلامي لښکر داسي هيبتناکه جګړه پيل کړه، چي تقريباً ديرش زره (۳۰۰۰۰) يهوديان قتل او ژوندي په کښي ونيول سول، ګستاخه صليبي جنرال ريجنالډ هم ژوندۍ ونيول سو، سلطان صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه) لاس تړلی ريجنالډ ته وويل: اې لعينه تا هم ويلي وه: حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) دي راسي او د مسلمانانو دفاع دي وکړي. زه د حضرت

محمد (صلی الله علیه وسلم) د غلامانو څخه یو ادنا غلام ستا مخته ولاړ یم، بیا یې سمدستي توره راویسته او د ګستاخه ریجنالډ سر یې د سترګو په رپ کي قلم کړ.

محمد بن قاسم په ځوانۍ کي سنده فتح کړ او هند ته یې اسلام معرفي کړ، ددې ستري فتحي د امله هغه د هند او پاکستان د مسلمانانو په منځ کي یو لوی مقام خپل کړ او له همدې امله سنده ته (باب الاسلام) ویل کیږي، ځکه د اسلام دروازه له همدې ځایه هند ته خلاصه سوه، پر سنده باندي د حملې علت: د راجا داهر کارکونکو د مسلمانانو یو سوداګریز کاروان لوټ او ټول کسان یې بندیان کړل.

حجاج بن یوسف راجا داهر ته پیغام واستاوه: مسلمان بندیان ایله کړه. مګر داهر جواب ورکړ: دا کار نه سم کولای. دغه جواب حجاج بن یوسف ډیر په غوسه کړ، او د خپلو مسلمانانو بندیانو د خلاصون لپاره یې د محمد بن قاسم په مشرۍ یو لښکر د سند په لور واستاوه، دا چي راجا داهر د اسلامي حکومت یاغیانو ته پناه ورکړې وه او هغوی دلته په زیات شمیر سره موجود وه، هغه باغیان چي د حضرت عثمان (رضي الله عنه) د شهادت مسئولین وه، لومړی لښکر چي راجا داهر د ابن قاسم سره د مقابلې لپاره وړاندي کړ د هماغه اسلامي حکومت د یاغیانو څخه جوړ سوی وو، چي ابن قاسم شکست ورکړ، د راجا داهر د ظالمانه کړنو او د خپلي خور سره د واده له امله د سنده ځایي خلګ د راجا داهر پر ضد سول، چي د امله یې راجا داهر څو ځله د ابن قاسم د لښکرو له خوا مات او په پای کي په ملتان کي ووژل سو.

د محمد بن قاسم د فتوحاتو لړۍ په ۷۱۱ هـ ق کال کي پیل او تر ۷۱۳ هـ ق کال پوري یې دوام درلود، محمد بن قاسم د سنده مهمي سیمي فتحه کړې او د ملتان په فتحه کولو سره یې د سنده فتوحات بشپړ کړل، محمد بن قاسم ځوان وو، مګر په دې ځوانۍ کي یې نه یوازي د لوی فاتح په توګه خپل نوم جوړ کړ، بلکي یو بریالی جنګي قومندان هم ثابت سو، محمد بن قاسم شاوخوا څلور (۴) کاله په سنده کي تیر کړل، په دې لنډه موده کي یې د فتوحاتو تر څنګ سلطنت هم اداره کوی او په سنده کي یې د داسي حکومت بنسټ کښیښود، چي د انصاف ټولي اړتیاوي یې پوره کولې، په سنده کي د محمد بن قاسم لاسته راوړني د هغه استعداد، زړورتیا، ښه قضاوت او ښو اخلاقو له امله پیژندل سوی وو، محمد بن قاسم د سنده د خلګو لپاره د زغم او انصاف تګلاره غوره کړه، د محمد بن قاسم د سند فتحه په سیاسي، ټولنیز، مذهبي او عملي لحاظ بې شمیره اغیزې درلودې، د محمد بن قاسم د اخلاقو او شخصیت اټکل ددې څخه هم کیدای سي، یو غیري مسلمان قوم د هغه بیعت کړی وو، او په زیات شمیر خلګ یې د اسلام په مقدس دین مشرف کړي وه، د سند خلګو د محمد بن قاسم سره دومره مینه درلوده، چي د سند یو تاریخ پوه اعجازالحق قدوسي لیکي: کله چي محمد بن قاسم د سنده ووتی، ټول سند د محمد بن قاسم په وتلو سره خواشینی سو.

دوهم فصل

د اسلامي اُمت د غفلت او ذلت دور

د اسلامي خلافت د منځه تلل، په ۱۹۲۴م کال په ترکیه کي عثماني خلافت د اتاترک په لاس ونړیدی او د اسلامي خلافت جنازه پورته سوه، په حقیقت کي دا د ټولي نړۍ د مسلمانانو د آزادۍ، خپلواکۍ او د خپلو حقوقو څخه دفاع ته د پای ټکی وو، ټوله عربي نړۍ چي د اسلامي خلافت یوه لویه برخه وه، د اروپایي ښکیلاک تر ولکې لاندي سوه، مصر، فلسطین او عراق د انګلستان. سوریه، لبنان، الجزایر، تونس او صومالیه د فرانسې. لیبیا د ایټالیا او المغرب د هسپانیې د غلامۍ او اسارت په دام کي ولویدل، اسلامي خلافت د نړۍ د مسلمانانو د منجمد او عظمت اصلي ساتندویه وو، مګر له بده مرغه چي د خلافت په ړنګیدو سره په ټوله اسلامي نړۍ کي د بې سرپرستۍ تریخ ژوند پیل سو، د اسلامي اُمت د وجود فلسفه ګډه وډه سوه، او هغه یوازینی رمز چي مسلمانان پر راټولیدل.

د وخت مشرانو نالیدلی او واړه ګڼل، مګر نن سبا یې د ناسور حیثیت غوره کړی دی، چي ټول اسلامي اُمت ورسره رنځیږي، لومړنی ناسور د منځني ختیځ په سینه کي د یهودانو د دولت اعلانول وه، یهودانو ډیر کوښښ وکړ، خپلو دسیسو او شومو پلانونو ته یې دوام ورکړ، هماغه وو چي د انګلستان په مرسته چي پر ټوله عربي نړۍ یې اقتصادي، سیاسي او نظامي نفوذ او اغیز درلودی، هدف ته ورسیدل، په ۱۹۱۶م کال کي په ډیره آسانۍ سره وتوانیدل چي یهودي (صهیونیستي) نظام رامنځته کړي، د عربی نړۍ مزدور واکمنان د بشپړي آزادۍ ورکولو په وعده وغولیدل او د اسلامي خلافت په خلاف ودریدل، انګلیسان وتوانیدی چي د استانبول او مدینې منورې یعني د اسلامي خلافت د مرکز او عربي نړۍ تر منځ د دوستۍ او ورورولۍ غځیدلی تناب پرې کړي، د ۱۳۳۸م څخه تر ۱۹۴۴م کاله پوري د اسرائیلو دولت منځته راغلی، ترکیې په رسمیت وپیژاندی، او د اسرائیلو سره یې هر اړخیزه مرسته پیل کړه، په ۱۹۲۳م کال چي کمال اتاترک د ترکیې واک په لاس کي واخیستی، نو د ترکانو حکومت یې اعلان کړ.

ددې سره ډیري اسلامي سیمي، لکه: بلقان، قفقاز، عربي نړۍ او کردي سیمي د ترکانو حکومت څخه دباندي پاته سوې او دا په حقیقت کي د نورو شخړو او ناآرامیو د زیږیدني لامل وګرځیدی، ځکه نوی حکومت یوازي د ترکانو انحصاري حکومت وو، نو ددې سره سم نورو پرګنو او ملتونو په ځانګړې توګه کردانو د خپلي آزادۍ او خپلواکۍ ږغ پورته کړ، ځکه هغوی دعوه لرله، چي د ترکانو په حکومت کي هیڅ ځای نه لري، او دا دی تر ننه د ترکیې او کردانو تر منځ ستونزي دوام لري، د اسلامي خلافت د ړنګیدو سره د عربي نړۍ په وجود کي یو بله ستونزه د اسکندرون لانجه ده، چي تر ننه پوري سوریه او ترکیه په خپل منځ کي پر لاس او ګریوان دي، د خلافت په ړنګیدو سره په منځنۍ آسیا کي د مارکس او لینن کمونستي فلسفې د وحشت او بربریت توپان راوست، د امام بخاري، امام ترمذي (رحمة الله علیهم)، ابن سینا، خوارزمي، فارابي، قزویني او بالذري په څیر علماؤ سیمي یې شنډي کړې، او نور یې داسي بچیان ونه زیږول، اسلامي تمدن ونړید، عربي ژبه په لاتینۍ ژبي بدله سوه.

په هند نیمه وچه کي د مسلمانو ملتونو جلاوالی، پاکستان او بنګله دیش جلا کیدل او د کشمیر لانجه چي لا تر اوسه تازه ده، د بل ناسور حیثیت لري، چي له بده مرغه اسلامي نړۍ یې د حلولو څخه عاجزه ده، د انګلیس د لوري د افغان خاوري یوه برخه د هند په نیمه وچه پوري تړل چي وروسته د پاکستان د رامنځته کیدو څخه د د دوو اسلامي مملکوتونو تر منځ د اخو ډب یوه نه هیریدونکې او نه منل کیدونکې دسیسه ده، د فلپین په خاوره کي د بودایانو او عیسایانو په لاس د مسلمانانو تباهي او هلاکت چي د لسګونو کلونو راهیسې دوام لري د اسلامي خلافت د ړنګیدو څخه وروسته را پیدا سوی زخم دی، چي لا تر اوسه د مسلمانانو ویني په کښي رواني دي، په سوډان کي کورني جنګونه، د مرکزي حکومت پر خلاف د دغه هیواد په جنوب کي د پرتو مسیحیانو راپاریدل او د دارفور سیمي جنجال چي دا ټول د سوډان د ترقۍ او پرمختګ د مخنیوي په موخه یوه بله ستونزه ده، د صومالیې په مځکه کي د مسلمانانو وژنه پر عراق او افغانستان باندي د امریکا وحشیانه بریدونه او داسي نور... دا ټول د اسلامي خلافت د نشتوالي زیږنده ده.

دا چي یو کوچنۍ کفري دولت د امنیت په شورا کي د غږیتوب حق لري، مګر څه باندي اوه پنځوس (۵۷) اسلامي دولتونه یې نه لري، هغه تاوان دی چي مسلمانانو ته د اسلامي خلافت د نشتوالي په پایله کي رسیدلی دی، نن او سبا خو په هر ځای کي د مسلمانانو په خاوره او میشت سیمه د مرګونو ننداري دي، د وینو ویالې بهیږي او د ځپل سوو چغي تر آسمانه رسیږي، بیت المقدس د مسلمانانو لومړنۍ قبله، د اسارت شپې تیروي، ټوله اسلامي نړۍ د امریکایي او انګلیسي لیوانو په لومه کي مښتي ده، مګر بیا هم ددې وخت نه دی را رسیدلی چي مسلمانان دغه کوچني کوچکي کورونه په یوه لوی، په خپلو پښو ولاړ او د قوي مټو څښتن خلافت چي څوک ورته په کږو سترګو هم نه سي کتلای بدل کړي، د خلاصون لار یې کومه ده؟ آیا ددې وخت نه دی را رسیدلی چي اسلامي نړۍ د څو بې ماهیته، وطن پلورو او مزدورو واکمنانو د ولکې څخه وایستل سي او هغو اتلانو ته چي پر تندي یې د آزادۍ او میراني نښي نښانې ځلیږي، په کړنو کي یې د شهکارۍ او اتلولۍ رمز ښکاري ته وسپارل سي.

تر څو مسلمانان د لومړنیو پیړیو په څیر آزاد ژوند ولري، لاس په لاس د خپل روڼ سهار او روښانه مستقبل په لور د یوه قوي اسلامي خلافت تر سیوري لاندي یون پیل کړي؟ ولی نه، مګر دا په هغه وخت کي امکان لري چي یو مسلمان بل مسلمان ته لاس ورکړي، ټوله اسلامي نړۍ دي په دې ځان وپوهوي چي کفر د اسلام هر اړخیز پرمختګ ته د یو لوی خنډ په څیر اسلامي نړۍ ته راغلی دی، که مسلمانان وغواړي چي فکري او نظامي خپلواکي ولري، اړینه خبر ده، باید چي موږ د الله (جل جلاله) خوا ته مخ واړوو، او د الله (جل جلاله) څخه بخښنه وغواړو، په خپلو تیرو بدو کړنو پښیمانتیا څرګنده کړو او په نیکو کړنو همیشه والی وکړو، تر څو الله (جل جلاله) راضی کړو، د الله (جل جلاله) په رضایت سره موږ هم ددې کرغیړن تور تم څخه نجات پیدا کړو.

په اندلس کې د مسلمانانو اته سوه (۸۰۰) کلن خلافت وروستۍ سلګۍ، د اندلس تاریخي فتحه، هلته مادي او معنوي انقلاب، اته سوه (۸۰۰) کلن تاریخ او بیا د اندلس سقوط یا د لاسه وتل، د اسلامي اُمت بلخصوص د ځوان نسل لپاره د درسونو او عبرتونو یوه لویه پانګه ده، چې د تاریخ د پنډو کتابونو په غیږ کې یې ځای نیولی دی، د اندلس پر لمن د طارق ورکښیوتل، د لرزیق ماته، د قرطبي، اشبیلیي، اندلسي، بلنسیي او غرناطي فتحه، د یو لوی انقلاب اغاز، د ابن حیان القرطبي، ابن خلدون، ابن حزم ظاهري، ابو القاسم المجریطي او ابوالقاسم الزهراوي په شان ستر ستر علماء، د الزهراء، الحمراء، الکامل، المعشوق او المبارک په شان دنګي دنګي، برجوري ښکلي ماڼۍ، جنت نظیره مځکه او داسي نور... بیا خپلمنځي شخړي، یو بل سرکوبول، د خپل ورور خلاف د کفارو د مرستي طلب، د قرطبې سقوط، د اشبیلیې سقوط، ورپسې نور ښارونه، بلاخره د غرناطې او ټول اندلس سقوط د تاریخ هغه باب دی، چې یو بیده قوم د غفلت د درانه خوبه را بیدارولی سي، کله چې اندلس د طارق ابن زیاد (رحمه الله علیه) په مبارکو لاسونو فتحه سو، نو پیړۍ پیړۍ اندلس د مسلمانانو یوه محکمه کلا وه، د علم، روحانیت، تمدن او اخلاقیاتو مرکز وو، د اسلامي خلافت یوه بې ساري او ریښتني نمونه وو.

د اندلس د غیږي د اورپا پر ګوټ ګوټ باندي د علم، تجربو او اخلاقو وړانګي پریوتې، د اورپا لوی لوی پوهان په خورا آدب سره د قرطبې او غرناطې په درسګاوو کي د مسلمانو علماؤو په مخکي د شاګردۍ ګونډې ووهلې، اندلس په خپله نامي غیږ کي داسي نومیالي علماء وروزل چي لا تر اوسه د علومو تږي خپلي تندي ځیني خړوبوي او اندلس د مځکي پر مخ د مسلمانانو جنت وو، اندلس تر هغو د مسلمانانو اندلس وو، چي تر کومه مسلمانان پر خپل دین قایم وه، د الله سبحانه وتعالی پر دین یې منګولي ښخي وې او د اسلام پنځه (۵) ګونو بناوو تر څنګ د جهاد رکن ته پابند پاته وه، الهي سنت داسي دی چي الله سبحانه وتعالی د یو قوم حالت تر هغو نه بدلوي، تر څو هغه قوم په خپله خپل حالت بدل نه کړي.

په اندلس کي هم کټ مټ همداسي وسول، کله چي اندلسیانو د الله سبحانه وتعالی د مبارک دین څخه مخ وګرځاوه، جهاد، قرباني، ننګ او غیرت یې تر پښو لاندي کړل، د یو لوی مصیبت سره لاس او ګریوان سول، د اندلس پر محکم جوړښت باندي زلزله ګډه سوه، د بغاوتونو، ځانپالنو او تعصبونو چټل دریابونه په مستۍ سول، اسلامي خلافت خپل شان او شوکت د لاسه ورکړ، اندلس د زړبودۍ خزان راحصار کړ، د بدن نازک غړي یې یو یو لکه خزان وهلي پاڼي ژړ مخ پر مځکه پریوتل، قرطبه، اشبیلیه، طلیطله، او نور ټول ښارونه د کفارو په لاس سقوط سول او یوازي غرناطه د وروستي سنګر په حیث مسلمان قوم ته ورپاته وه، په ۸۹۵ هـ ق کال کي فرډیننډ د غرناطې په لور لښکر کشي وکړه، کله چي د غرناطې تر څنګ راورسید، ټول ښار یې محاصره کړ، شاوخوا باغونه، فصلونه او آباد کلي یې تالا والا کړل، مسلمانان د څلورو (۴) خواوو څخه محاصره سول، محاصره ورځ تر بلي تنګیده او اته (۸) میاشتي یې دوام وموند، د ښار خلګو ابو عبدالله ته وویل: تر هغو چي زموږ په بدن کي روح پاته وي، تر هغو به موږ د دښمن سره مقابله کوو، موږ د لوږي د مړیني پر ځای دا غوره ګڼو، چي د جګړې په میدان کي د دښمن په غشو او نیزو ولګیږو او شهیدان سو، سلطان ابو عبدالله د الحمراء په ماڼۍ کي عاجله غونډه راوبلله، تر څو د دښمن سره د جګړې او سولي اړوند مشوره وکړي، په غونډه کي ټولو ګډون والو په یو ږغ د جګړې خبره کوله...

مګر سلطان د جګړې پر ځای په سوله خوښ وو، غوښتل یې داسي سوله وسي، چي مسلمانان د کفارو د ضرر څخه خلاص سي، او د غرناطې ښار بې له کوم مقاومت څخه عیسویانو ته تسلیم کړي، ابوالقاسم یې په پټه فرډیننډ ته ورولیږه، تر څو د سولې خبري ورسره وکړي، فرډیننډ چي کله د ابوالقاسم د خولې د سولې خبر واوریده، ډیر خوښ سو، ځکه چي د جګړې د لاري د غرناطې نیول خورا ستونزمن کار وو، د سولې خبري پیل سوې، پنځلس (۱۵) مادییز ترون چمتو سو، دواړو مشرانو لاسلیکونه باندي وکړل، د تړون په دیارلسمه (۱۳) ماده کي راغلي وه: مسلمانان به د شپیتو (۶۰) ورځو په دننه کي د الحمراء ماڼۍ، نور ټول سامان او اسلحې عیسویانو ته سپاري، سلطان به د خپلو ملګرو سره د ښاره وځي، مګر شپیته (۶۰) ورځي لا نه وې پوره، چي عیسویانو خپل عهد مات کړ او د غرناطې په ښار کي لکه وږي لیوان ورکښیوتل، په ښار کي غلغوله جوړه وه، کفارو د خوښۍ څخه نڅیدل، مګر د مسلمانانو د زړونو څخه یو الله (جل جلاله) خبر وو، عیسایان ټول د الحمراء ماڼۍ خوا ته راجمع سول، د ټولو سترګي د الحمراء د ښکلي ماڼۍ په لور کږې وې، څو تنه سپاهیان د الحمراء ماڼۍ تر ټولو لوړ برج ته پورته سول او د اسلام عقابي بیرغ یې کښته وغورځاوه، او پر ځای یې د سپینو زرو صلیب پورته کړ، او د لمر په شغلو کي یې ځلا پیل کړه، د همدې ورځې څخه د اندلس د جنت نظیره خاوري څخه اسلامي نظام خپله کډه بار کړه. انا الله وانا الیه راجعون

د خلافتونو د سقوط وروسته اسلامي خاوري د نړیوالو قدرتونو لخوا یو په بل پسې اشغال سوې او په میلیونونو بې ګناه مسلمانان شهیدان سوي دي، چي اُمت هیڅکله په تیرو (۱۳) پیړیو کي دومره لوړ تلفات نه وه ورکړي، آن تر دې پوري چي نن د الجزایري مجاهدینو د کوپړیو څخه په فرانسه کي موزیم جوړ سوی دی، دې کفارو دومره ووژلو چي اوس د اسلامي نړۍ مهمي سیمي په هدیرو بدلي سوي دي، سوریه، عراق د معتصم بالله خلیفه پایتخت او د اسلامي د مدنیت ځانګو، فلسطین د اُمت سینه، بیخي د نقشې ایستل سوي دي، یمن کي وحشي اشغال او د لوږي بحران، د اسلامي نړۍ د مجاهدو، مبارزو او مخلصو بچیانو څخه د امریکا، انګلیس او فرانسې وحشي زندانونه ډک دي، موږ تیر برم ته یوازي راشده خلافت ورکرځولای سي، بیا به هیڅ ځواک پر یوه مسلمان هم د تیري جرائت ونه لري دا خو څه چي اسلامي هیوادونه به اشغالوي.

اسلامي نړۍ ته دروند پیغور، د سلطان صلاح الدین ایوبي د قبر څخه غلا سوی هغه تاریخي او طلایي میډال چي برطانوي اشغالګرو د (شام) دمشق څخه برطانیې ته انتقال کړ، په ۱۸۹۸م کال باندي د جرمني بادشاه ګیلیم د خپلي میرمني په شمول د عثماني خلیفه په ځانګړې بلنه باندي دمشق ته راغلی، او دغه طلایي میډال یې د سلطان صلاح الدین ایوبي قبر ته ډالۍ کړ، پر دغه طلایي میډال باندي لیکل سوي وه: د بادشاه ګیلیم له خوا د اسلامي نړۍ عظیم فاتح سلطان صلاح الدین ایوبي ته ډالۍ. دغه ښایسته او طلایي میډال تر ۱۹۱۸م کال پوري د سلطان صلاح الدین ایوبي پر مقبره باندي ځوړند وو، متاسفانه د عثماني خلافت د سقوط وروسته، کله چي اسلامي فوځونه د دمشق څخه ووتل، د برطانوي استخباراتو نامتو جاسوس (لارنس آف عربیبه) د برطانوي اشغالګرو په شمول د دمشق اموي جومات ته داخل سو، او ډیر په بې شرمۍ سره یې د سلطان صلاح الدین ایوبي د قبر څخه دغه میډال غلا کولو وروسته برطانوي حکومت ته ډالۍ کړ، د مسلمانانو شخصي ملکیت دغه ایوبي میډال نن هم د برطانیا په (امپیریل وار) نومي نندارتون کي د خلافت په طمع د یو بل صلاح الدین ایوبي راتګ ته انتظار دی.

د اسلامي نړۍ د آتلانو یاد تر مرګ وروسته، تریخ حقیقت کله چې فرانسوي جنرال (ګورو) په شام کې قدم کښیښود د سلطان صلاح الدین ایوبي قبر ته ورغلی او قبر یې په لغته ووهی ورته ویې ویل: پورته سه صلاح الدینه موږ بیا راغلو. کله چې فرانسوي جنرال (لیوتي) په مراکش کې خپل قدم کښیښود، نو د یوسف بن تاشفین قبر ته ورغلی، قبر یې په پښه ووهی ورته یې وویل: اې د تاشفین زویه! پورته سه موږ بیا ستاسو سرته راغلو. کله چې صلیبیانو دوهم واري بیرته اندلس قبضه کړ، نو (الفونسو) د حاجب منصور پر قبر د سرو زرو چارپایي کښیښوول او د ماینې سره یې شراب وچیښل پر بیده سو او ویې ویل: وګورۍ! موږ بیا د مسلمانانو سلطنت قبضه کړ. کله چې یوناني فوځیان ترکیې ته داخل سول، نو د یوناني فوځ مشر (سوفوکلس وینیزیلوس) د عثماني خلافت د مؤسس عثمان غازي د قبر خواته ولاړی او ویې ویل: اې د لویې پګړۍ خاونده عظیم عثمانه پورته سه د خپلو لمسیانو حالت وګوره موږ د هغه عظیم سلطنت خاتمه وکړل، د کوم چې تا بنیاد (تهداب) ایښی وو، موږ ستاسو سره د جنګیدو لپاره راغلي یو.

علامه اقبال وایي: په برطانیه کې وم، یو پلار خپل زوی ته ویل: بچیه! مسلمانان زموږ غلامان دي او تاسو باید دا باداري برقراره وساتۍ، زوی یې ورته وویل: مسلمانان خو هیڅکله هم غلام نه سي کیدلای، دوی خو هغه خلګ دي، چې په ټول لښکر کې یې اته (۸) توري وې، مګر بیا هم جګړې ته روان وه، اشاره یې د بدر غزا ته وه. دوی خو داسي وه، چې په وجود باندې یې اویا (۷۰) زخمونه وه، مګر بیا هم دفاع ته ولاړ وه، اشاره ابودُجانه (رضی الله عنه) ته وه. د یوې ښځې پلار، زوی، خاوند او ورور هم ووژل سول، مګر ښځې یوازې د خپل پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) غم وړې وه، د احد غزا ته اشاره وه. پلاره! ما دا تاریخ لوستی دی، هغوی به مسلمانان نه وي، چې زموږ غلامي کوي.

بصیر آغا مسجد یونان په کلیسا بدل سو، د یونان هیواد په آرګوس ښار کې د کوتسوپودي نومي سیمه کې هغه ښایسته او تاریخي جومات چې عیسایانو قصداً په کلیسا باندي بدل کړی، دغه تاریخي جومات په ۱۶۷۰م کال کې د عثماني خلافت حکمران سلطان محمود اول په وختونو کې د عثماني جنرال سلطان بصیر آغا په آمر باندي تعمیر او تکمیل سو، متأسفانه په ۱۸۳۲م کال کې کله چې یونان د عثماني خلافت څخه جلا سو، عیسایانو د دغه جومات مینار نړولو وروسته په رسمي ډول د کلیسا درجه ورکړه، په یونان کې د عثماني خلافت اسلامي یادګار دغه بصیر آغا جومات د ۱۸۷۱م کال راهیسي تر نن ورځې پوري د چرچ آف هیلین او د سینټ قسطنطین په نوم باندي د کاتولیک مسلک د عیسایانو مشهوره کلیسا ده.

پاشا قاسم مسجد هنګري په کلیسا بدل کړل سو، د مجارستان اوسني هنګري هیواد په جنوبي برخه کې هغه ښایسته او تاریخي جومات دی، کوم چې عیسایانو قصداً په کلیسا باندي بدل کړی، د اورپا هنګرۍ هیواد په ۱۵۲۹م کال کې د عثماني خلافت جنرال سلطان سلیمان القانوني په قومنده فتحه سو، البته دغه تاریخي جومات په ۱۵۴۶م کال کې د بحري ځواکونو قومندان سلطان پاشا قاسم په ځانګړي آمر باندي تعمیر کړل سو، متأسفانه په هنګرۍ هیواد کې د عثماني خلافت د سقوط څخه وروسته په ۱۷۶۶م کال کې د دغه جومات مینار نړولو وروسته په رسمي ډول د کلیسا درجه ورکړل سوه، د جومات په محراب کې د (کلیمهِ طیبه)

پر سر د عیسایانو صلیبي نښان لیکل سوی دی، په هنګرۍ هیواد کي د عثماني خلافت تاریخي یادګار دغه سلطان پاشا قاسم جومات د کلونو راهیسي تر نن ورځي پوري د سینټ میکایل چرچ په نوم باندي د عیسایانو مشهوره کلیسا ده.

د ۱۵۵۰م کلونو وروسته د عثماني سلطان سلیمان القانوني او د هغه د زوی سلطان سلیم له خوا د اندلس اوسنۍ هسپانیې او پرتګال د مسلمانانو د ژغورلو لپاره هڅي ګړندۍ سوې، دا وخت په مراکش (المغرب) باندي د سلطان سعدي غالب بالله واکمني وه، چي د نصرانیانو سره یې خاصه یارانه وه، مګر د عثمانیانو سره یې کلکه دښمني وه، د عثماني دولت د اسخباراتو د کوښښونو په نتیجه کي د اندلس مسلمانان پاڅون ته چمتو سول، او بلاخره د ۱۵۶۹م کال په لومړیو کي یو نیم لک مسلمانانو د اندلس دننه بغاوت ته اماده سول، په دې وخت کي د اندلس مسلمانانو ته د سلطان سعدي له خوا د مرستي پوره ډاډ ورکړل سو، مګر لکه څنګه چي عثمانیان هم د پخوا څخه د اندلس د غازیانو سره په تماس کي وه، د بحري پوځونو عمومي قومندان قلج علي ته یې آمر وکړ: د اندلس د خلګو مرسته وکړی، هغه داسي یو پلان جوړ کړ، د اندلس غازیانو ته یې په پټه په کافي اندازه وسله ورسوله، او په نقطو کي یې ځای پر ځای کړه، د اندلس د پاڅون کوونکو د مشر سره یې داسي خبره وکړه: کله چي عثماني فوځونه د الجزایر څخه روان سول او د هسپانیې سواحلو ته ورسیدل، نو بس په همدې وخت کي دي د اندلس مسلمانان پاڅون وکړي.

بلاخره عثماني لښکر روان سو چي څوارلس زره (۱۴۰۰۰۰) منظم ټوپک لرونکی فوځ، اوه زره (۷۰۰۰) عثماني مجاهدین، ډیر زیات توپونه، او څوارلس سوه (۱۴۰۰) په باروتو بار اوښان د مستغانم او مازغران ښارونو ته ورسیدل، په ټاکلي ورځ د عثماني بحري قوې څلوېښت (۴۰) کښتۍ د هسپانیې مریه بندر ته ورسیدې، په دې وخت کي د اندلس د غازیانو د بې احتیاطۍ له وجي پلان رسوا سو، او هسپانویانو د پاڅون کوونکو لپاره ځای پر ځای سوي وسلې، له منځه یوړې، په دې ډول یو آرزښتناکه موقع د لاسه ووته، مګر عثماني قومندان همت ونه بایله، دا وخت بحري طوفان هم شروع سو، چي د عثمانیانو دوو دیرش (۳۲) بار کښتۍ ډوبې سوې، او پخپله قلج علي د شپږ (۶) کښتیو سره اندلس ته پوریوت، دا وخت پاڅون کوونکي هم ډیر زړور سول، او پاڅون د کامیابۍ خواته روان سو، چي د سلطان سعدي غالب بالله یا نورو غلامانو له خوا د یوې توطیې په نتیجه کي د پاڅون کوونکو تر منځ داسي اوزه خپره سوه: د مسلمانانو پاڅون کوونکو قومندان د جهاده څخه انکار کړی دی، هغه په خپل کور کي ووژل سو، او په دې ډول د اندلس د بیا ځل فتحي دا وروستۍ هڅه هم ناکامه سوه.

زما اندلس، زما جلا سوې برخه، د یوې ځلاندي دوري د لاسه تللی یادګار روح یې اوس هم ترپیږي، د اسلامي تهذیب او پوهي زانګو نن بې مسجد او بې امام پاته دی او د صلیب هغه خوني پیروان اسلام په کښي وژني، قرآن نه پریږدي، د قرطبې مسجد کي د عیسویانو د ناقوس زنګونه د اسرافیل د شپیلۍ په شان غږ کړي، د اسرافیل هغه دوهمه شپیلۍ چي ټول بې روحه ژوي، ساه په اخلي، مګر مسلمان ځیني غافل پاته دی، د الحمراء پر مانۍ د لیوني سیکولر او بې مذهبه پاچا راج چلیږي، د اشبیلي کوڅو کي د الفانسو زامن فحشاوي کوي، د بلنسیي ښارګوټي لکه دوږخ د کمپیادور د دوږخي اولادونو ځاله سوې ده، د طلیطلې د زلاقي په ډګر لا د یوسف بن تاشفین د آسونو پلونه او د زخمي معتصم ویني ښکاري جبل الطارق ساحل لا

موج لري، دغه سلګونه کاله څپه څپه دي، مګر د طارق بېړۍ لنګر نه اچوي، چي دا هیره سوي، دا جلا سوې برخه دا د صلیب د پیروانو تر ستم لاندي آزاده کړي، بیا د پیرنه غرونه لا دنګ ولاړ دي، مګر غافقي په ابدي خوب بیده دی، ها د اسلام په مینه مست زړونه اوس د عیاشۍ په دام کي ګیر پاته دي، نو به بیا څوک دا اندلس ژغوري؟ بیا به نو څوک د مورسکي مسلم پیغام اوري؟ هغه عبید لا په تمه پروت دی او د ابوالحسن نیمي خلاصي سترګي لا په انتظار دي داسي خلاصي پاته دي، خو موحدین د دسیسو ښکار دي او د اموي عبدالرحمن زامنو خپله د دغه صلیب واک منلی، نو د مالقي ساحله غلی شی نور اولوشي تمه د نجات مه کوه دا به تقدیر کي لیکل سوي وي چي ته د صلیب تر جغ لاندي زګیروی ولري او موږ غافل مسلمان د خپل غفلت د لاسه هره ورځ وکړیږو، ودردیږو.

کفار زموږ ابدي دوښمنان دي، د مسیحیانو مشر زویمر په بیت المقدس کي د خپلي بیانې په ضمن کي وویل: اې مسیحي دولتونو! ستاسي وظیفه په هغو ځایونو کي چي محمدي دین هلته موجود دی، دا نه ده چي خلک د اسلام څخه بیرون او عیسایان یې کړی، ځکه دا هم د دوی عزت او احترم دی، بلکي ستاسي دنده دا ده چي د اسلام څخه یې بیزاره او داسي خلک یې وګرځوی، چي د الله (جل جلاله) سره یې اړیکي نه وي، که تاسي داسي نسل جوړولای سي، چي نه یې د الله (جل جلاله) سره اړیکي وي او نه یې د پیدا کولو هڅه وکړي، د اسلام څخه مو بهر او په مسیحیت کي مو داخل نه کړل، نو بالاخره داسي نسل مو وروزه، چي زموږ د نقشو د عملي کولو لپاره به هر وخت تیار وي، د لوړتیا په هکله به هڅه کوي، آرامتیا او بې غمي به د هر څه زیاته خوښوي او په دنیا کي به بې له جنسي شهوت د پوره کولو څخه بله دنده نه پیژني.

دریم فصل

د خلافت له منځه وړونکی مصطفی کمال اتاترک

د عثماني خلافت له منځه وړلو لوبه خپل پای ته رسیدونکې وه، اوس داسي یوه مصنوعي آتل ته اړتیا وه، چي د دښمن فوځ ته د فرار شکل ورکړي، دا شخص باید د اسلامي اُمت سره اړیکه ولري، د داسي اُمت سره چي د خپلي مایوسی اوج ته رسیدلی دی، دا شخص باید په داسي ډراماتیک شکل میدان ته راوستل سي، چي ددې اُمت زړونه وګټي، مسلمانان په دغه شخص د نجات راوستونکي، محسن او آتل ګمان وکړي، تر څو هغه لړ څه ځواک چي د مسلمانانو په منځ کي پاته دی، هغه هم له منځه یوسي او اسلامي سیمي ونیسي، دغه پروژه د هغه لسګونو پروژو څخه ډیره ګټوره وه، کومي چي پخوا کله نا کله جوړي سوي وې، انګریز د خپلو جاسوسانو په ملتیا وکولای سول، چي داسي یو آتل پیدا کړي، یونانیانو په ۱۳۳۸هـ ق کال کي ازمیر د انګلیسانو په مرسته نیولی وو، او په اناطولیه کي ښخه سوي صلیبي کینه یې بیرته رایستلې وه، مصطفی کمال اتاترک د عثماني دولت د عزت او حرمت د ساتلو په شکل راښکاره سو، اتاترک په ترکانو کي د جهاد روح واچاوه، قرآن کریم یې په خپلو لاسونو کي ونیوی، او یونانیان یې وشړل.

د دښمن فوځ د وسلې د استعمال پرته وتښتیده او ډیري سیمي یې خالي کړې، اتاترک کرار کرار راښکاره کیدی، اسلامي نړۍ د هغه په دې کار ډیره خوشحاله سوه، هغه ته یې د غازي لقب ورکړ او شاعرانو یې په ستاینه کي شعرونه وویل، احمد شوقي د خپلي یوې مشهوري قصیدې په لومړي شعر کي هغه دوهم خالد بن ولید ونوموه، شوقي هغه د صلاح الدین ایوبي سره په یوه صف کي ودروه، کله چي خلګ د اتاترک کمال پاشا او د خلیفه شپږم وحیدالدین محمد ماته سره پرتله کوي، نو اتاترک ته ډیر درناوۍ ورکول کیږي، ځکه چي خلیفه خپل سر په ګریوان کي ټیټ کړی او ذلیل ناست وو، په ورځپاڼو کي د اتاترک څخه دا غوښتنه کیده، چي خلیفه د ټول قوم مجرم دی او د مرګ د سزا مستحق دی، اتاترک د هغوی په نظر یو مجاهد سو، داسي چي خپل ځان یې د خلافت د لوړوالي لپاره نذرانه کړی وي، مګر ډیر وخت نه وو، تیر سوی، چي د اتاترک حقیقت ښکاره سو.

خلګ پوه سول، چي دا خو د اسلام د دښمنانو د یهودو او عیسویانو تراشل سوی آتل دی، په ځانګړي ډول د انګریز، دوی پوهیده چي د خلافت له منځه وړل دومره آسانه کار نه دی، د له منځه وړلو لپاره یوه لاره ده، چي یو آتل رامنځته سي او د یوه ستر لاربښود په توګه وړاندي کړل سي، د هغه شخص پر شاوخوا د عزت، کرامت، او بریالیتوبونو داسي یو جال خپور کړل سي، چي خلګ هغه ته د یوه معجزه شخص په توګه وګوري، د هغه شخص په لاس څه داسي اعجازي کارنامي وکړي، چي خلګ یې په اړه د اسلامي اُمت د نجات ورکوونکي شخص فکر وکړي، د هغه په لاس داسي یو ټپ رامنځته کړي، چي ډیر ژور نه وي، تر څو د هغه د اخلاص په اړه شک ونه کړل سي.

خلګو د هغه په درواغجنو برياوو باندي د شک فکر نه سوای کولای، بس هغه يو آتل وو، متحدينو خپله هم خفګان ښکاره کړ او د سلطان څخه يې د جګړې د پای ته رسيدو غوښتنه وکړه، هغه د سولي لپاره اتاترک وړاندي کړ، تر څو د خلګو غوښتنو ته جواب ووايي، د فوځي افسرانو تر منځ يې ځای پيدا کړ، درناوئ يې زيات سو، د خليفه درناوئ کم سو، تر څو د خلافت په اړه د خلګو فکر خراب سي، د انګريز په چالاکيو باندي پوهيدل دومره آسانه کار نه دی، د انګريز جاسوسي شبکو خپل هدف تر لاسه کړ، ددې شبکو او اتاترک تر منځ د ارمسټرانګ په نوم يوه شخص تګ راتګ کاوه، دغه شخص د اتاترک سره هغه وخت اړيکي جوړي کړي وې، کله چي اتاترک په شام او فلسطين کي د عثماني فوځ سپه سالار وو.

ارمسټرانګ په خپل کتاب کي ليکلي: څنګه چي يې د اتاترک سره اړيکي جوړي کړې او د کومه دا لړۍ پيل سوه، هغه د اتاترک د مور دوهم واده چي د يوه امير دوډيسي سره يې کړی وو، د اتاترک د بدليدو د پيل نقطه بولي، اتاترک د خپلي مور څخه خفه سو او د هغې سره يې د ملاقات کولو څخه انکار وکړ، بيا هغه د خپل يوه مقدوني راهب ملګري فتحي څخه د فرانسوي ژبې د زده کړي لپاره هغه ته ورتلی، په دې وخت کي يې د والټر او روسو کتابونه ولوستل، د هريز، جان سټيورټ او ميل منع سوي کتابونه يې هم ولوستل، تر دې پوري چي د قومي جذبې څخه ډک شعرونه او نظمونه ويل يې شروع کړل او خپلو هغو فوځي ملګرو ته به يې اورول، کوم چي د ده سره په پوهنتون کي په زده کړه بوخت وه، هغه به په سلطان پسي بد ويل، په داسي حال کي چي شل (۲۰) کلنی ته لا نه وو رسيدلی، هغه بيا استنبول ته ولاړی عيش او عشرت يې پيل کړ، د شراب څښلو او خماربازۍ په څېر قباحتونو باندي اخته سو او په وطن ګوند کي د داخليدو څخه مخکي د عشق په څېر ناروغۍ باندي هم اخته سو.

ارمسټرانګ د اتاترک د بيوګرافۍ د ليکلو پر مهال د هغه او د دوئمه او ماسوني يهودو د مجلسونو تر منځ د اړيکو ذکر هم کوي او ليکي: هغه ته د يو ايټالوي هويت لرونکي يهودي په کور کي د ماسوني ټولني له خوا دعوت ورکړل سو، ځکه هغه ايټالوي ته د تړون پر اساس ځانګړي مراعات ورکړل سوي وه، او هغه د دغو مراعاتو څخه په استفادې سره داسي ټولني جوړولې چي متحدينو به د يهودو د ملاتړ په موجوديت هلته غونډي کولې، د هيواد او قوم پر ضد به يې پلانونه جوړول، متحدينو به د يهودو کورونو ته په ډېر اطمينان سره تګ راتګ کاوه، په دې يهودو کي به ځيني د اتاترک ډېر نږدې دوستان وه، لکه فتحي چي د مقدونيې وو، او د اتاترک پخوانۍ ملګرۍ وه، فتحي د ماسوني ټولني غړی وو. څنګه چي هغوی خپله انقلابي ټولنه جوړه کړه، او د ماسوني ډلو د غوښتني پر اساس يې هغوی د خپلو موخو لپاره څنګه منظم کړل او څنګه يې د هغو خلګو سره اړيکي جوړي کړې، کوم چي سلطان د هيواده شړلي وه، ارمسټرانګ ددې خبري ذکر هم کوي، څنګه چي يې اتاترک انتخاب کړ او د هغه نور ملګري يې پرېښوول، تر څو د هغه پواسطه انګلستان خپل وروستي پروګرام ته د عمل جامه ورواغوندي، اتاترک په فطري توګه د واکمن کيدو شوقي وو، هغه خوښول چي د امر او نهي واک يې په لاس کي وي، هغه د متحدو مشرانو هيڅ درناوئ نه کوی، او د هغوی يهودي الاصل وو، سره يې جګړه کوله، لکه: انور جمال، جاويد، کوم چي اصلاً نيازي المانی

کوم چې ډېر بد صورته انسان وو، او طلعت کوم چې په یوه پوسته خانه کې ملازم وو، یو کوچنی افسر چې حالات یې نه سوای بدلولای، د انګریزي جاسوسانو پواسطه لوی بزرګ سو او د بریاوو د تر لاسه کولو وروسته ستر غازي او جنرال سو.

په یهودي دائرة المعارف (انسایکلوپیډیا) کې دا خبره لیکل سوې ده، چې د سالنیک یا سالونیکا چیري چې اتاترک زیږیدلی وو، زیاتره خلګو ددې خبري شاهدي ورکوله، چې اتاترک د دوئمه یهودانو سره اړیکه درلوده، همدغه نظریه د هغو مسلمانانو هم ده، کوم چې د اتاترک مخالفین دي، مګر حکومت ددې خبري څخه انکار کوي.

ټویني د اتاترک په نسب نیوکه کوي او وایي: د اتاترک په رګونو کې یهودي وینه چلیږي، سالنیک د یهودانو د اوسیدو ځای وو، کله چې پر هغوی باندي ظلمونه کیدل، نو دې کورنۍ اسلامي عقیده خپله کړه، او یهودي عقیده یې پرېښوول، مګر د اتاترک عادات، د سترګو رنګ او شکل او بڼه یې دا وایي، چې د یهودي ویني څخه اغیزمن دی.

اسامه عینایي لیکي: دوئمه یهودان په اتاترک باندي ویاړ کوي او په بشپړ یقین سره دا وایي: هغه د یهودي نسل سره اړیکه درلوده، او په دې اړه دا دلیل راوړی، کله چې یې د حکومت واګي تر لاسه کړې، نو اتاترک د اسلام پر ضد خپلي ارادي څرګندي کړې، وروسته کله چې د اتاترک ټولي کړني ښکاره سوې، دا خبره ثابتوي، چې هغه د اسلام سره کینه درلوده.

کله چې په ۱۳۳۷هـ ق کال کې په انګوره کې هغه د یونانیانو پر ضد بریالی سو، هغه د خلګو په مخکي اعلان وکړ، هغه څه چې په نږدې راتلونکي کې به پیښ سي، یوازینۍ موخه یې د سلطنت او خلافت ساتل دي او هم د سلطان او د اسلامي حدودو د نورو د غلامۍ څخه آزادول دي، مګر کله چې یې په ۱۹۲۳م کال کې د حکومت واګي تر لاسه کړې، نو د ده په مشرۍ (جمعیت الوطنیه الترکیه) د جمهوریت اعلان وکړ او اتاترک یې خپل لومړنی مشر وټاکه، اتاترک د لږ وخت لپاره د خلافت د ساتني ایکټینګ وکړ او د خلیفه محمد السادس چې د انګریز د بیړۍ پواسطه مالټا ته لیږل سوی وو، پر ځای یې عبدالمجید بن عبدالعزیز خلیفه وټاکه، مګر خلیفه تش په نوم واک هم نه درلود، خلیفه عبدالمجید یو باسواده او متمدنه شخص وه، څرنګه چې د عثماني نسل د شان سره مناسب وه، عبدالمجید د ترکانو د نظره د اسلامي عثماني میراث او تاریخ ژوندۍ مثال وو.

د استنبول خلګ د هغه د یوه نظر لیدو ته بې صبره وه، او کله چې به خبر سول، چې خلیفه تشریف راوړي، نو په منډه به ورتلل، د جمعې د مبارکي ورځي لمانځه ته د راتګ پر وخت به یې مسلمانانو ډېر دروند استقبال کاوه، خلیفه ښه پوهیده، چې په څومره ستر منصب باندي ټاکل شوی دی او د څومره ستري کورنۍ سره اړیکه لري، کله چې به دباندي راوته، نو کله به یې د سلطان محمد الفاتح پټکی پر سر وه، او کله به یې د سلطان سلیمان القانوني توره په غاړه کې اچولې وه، دغه ټول کارونه اتاترک نه سوای زغملای، د خلیفه سره د خلګو دومره مینه هغه ته د زغملو نه وه، هغه خلیفه د لمانځه لپاره د دباندي وتلو څخه منع کړ.

بیا یې هغه ته ورکړل سوي مراعات نیم کړل، اتاترک په خپل رعیت باندي ډیر ظلم وکړ، چي د ده ددې ظلمونو ملاتړ غربیانو هم کاوه، د ۱۹۲۴ز کال د مارچ په دریمه (۳) اتاترک د قانون جوړونکي پارلمان غونډه راوغوښته، اتاترک پوهیدی، چي دا تش په نوم پارلمان دی او زما مخالفت نه سي کولای، دې پارلمان ته اتاترک د خلافت د له منځه وړلو وړاندیز وکړ، په دوهمه (۲) ورځ د خبرو اترو پرته دا پریکړه وسوه، چي خلیفه به د هیواده شړل کیږي، په دې پریکړه ټول چوپ سول او په دې ډول د اتاترک په لاس د اسلامي خلافت هغه رڼا ووژل سوه، کومي رڼا چي د پیړیو پیړیو راهیسي د مسلمانانو د یووالي او بقاء ضمانت کړی وو، اتاترک په حقیقت کي هغه پلانونه عملي کول، کوم چي د غربیانو سره په تړونونو کي لاسلیک سوي وه.

په ۱۹۲۳م کال کي د لوزان د سولي تړون لاسلیک سوی وو، په دغه تړون کي د کروزن له خوا چي د انګریز د وفد مشر وه، څلور (۴) مادې د پام وړ دي:- ۱: ترکیه به د اسلام سره خپلي ټولي اړیکي شلوي. ۲: اسلامي خلافت به په بشپړ ډول له منځه وړي. ۳: خلیفه، ملګري یې او اسلام به د ترکیې د سرحدونو څخه وباسي او د خلیفه ټوله شتمني به ضبطوي. ۴: د ترکیې د پخواني قانون پر ځای به نوی قانون نافذوي.

په اسلامي نړۍ کي د قهر او غصې څپې خپرې سوې، شوقي چي لږ څه وړاندې یې په شعرونو او قصیدو کي د اتاترک صفتونه کول اوس یې په شعرونو کي دا ویل: منبر او محراب ستا خلافت په مرګ په ژړا دي، شاوخوا سیمي زارۍ کوي هند د غم انځور وړاندي کوي، مصر هم پریشانه دی، دوی د باران په څیر د غم اوښکي تویوي. شام، عراق او فارس دا پوښتنه کوي: آیا کوم لیري کوونکی د مځکي څخه د خلافت نوم او نښان ورک کړی دی؟. اې باتورو! ژوندۍ ښخه سوې آزادي بیرته راوړی، هغه آزادي، کومه چي د کومي ګناه او خطاء پرته وژل سوې ده.

ددې وروسته شوقي په اتاترک ډیري نیوکي کوي، هغه ته ډیر بد وایي، چا چي ترکان په زور سره د آسیا وشړل او اروپا ته یې بوتلل، دوی چي په ختیځ کي ډیر ژور تللي وه، د لویدیځ په دروازو یې په انتظار ودرول. شوقي وایي: دا فتنه داسي یوه شخص راوړې ده، چي محمدي شریعت ته هیڅ آرزښت نه ورکوي، د عدل او انصاف دښمن دی او د ډیري ټیټي درجې بې حیاء دی، چا چي په مسخره ډول فتوا ورکړې، د ګمراهۍ خبري یې وکړې او په هیواد کي یې کفر او ګمراهۍ ته اجازه ورکړ. هغه شرعي قوانین، عقائد او نظریات د خلګو او ښارونو څخه داسي وباسل، لکه څنګه چي د جګړې د میدانه فوځ ایستل کیږي، د شوقي د نظره د داسي ظالمو او جابرو خلګو د منځته راتګ اصلي لامل د خلګو ناپوهي ده، چي د همدې کمزورۍ د امله خلګ ظالمو واکمنو ته سر ټیټوي. ستري کارنامې په یوه لحظه کي د زوال سره مخ کیدای سي، په کارنامو سره د خپل نوم د ابدي ژوندي ساتلو کوښښ مه کوه، د غیري مسلمانو یوې ډلي د مسلمانانو ستروالی وغورځوه او موجودیت یې پرې نه ښووی، هغه د یوه غافل اکثریت په اړه دا پریکړه وکړه، داسي اکثریت چي ګمراه او غلام د، ما چي د نړۍ قومونو ته وکتل، نو د ناپوهۍ څخه پرته بله داسي ناروغي مي پیدا نه کړه، چي د قومونو د

تباهۍ سبب ګرځېدلی وو، کله چې بهرني یوه مغلوبه ډله د خپلې ولکې لاندې راولي، نو آزاد خلک هم غلامان سي.

مصطفی کمال خپل پلان په بشپړ ډول عملي کړ او هیواد یې د اسلامي سرحدونو څخه بهر کړ، ترکیه اوس په بشپړ ډول د لویدیځوالی پر لور روانه وه، په ۱۹۲۴م کال کې د اوقافو وزارت له منځه یوړل سو، او چارې یې معارف وزارت ته وسپارل سوې، په ۱۹۲۵م کال کې جوماتونو ته قلفونه واچول سول، حکومت د هر ډول دیني حرکت مخلافت پیل کړ، هر ډول دیني خبرې یې بندې کړې، په ۱۹۳۱ او په ۱۹۳۲م کلونو کې یې د جوماتونو شمیر محدود کړ، په هره حلقه کې یې د پنځه سوه (۵۰۰) مترو په فاصله جومات پرېښود، او اعلان یې وکړ: د اسلامي روح مخکې تګ مخه دې ونیول سي. اتاترک پر جوماتونو باندې د حملې کولو پر مهال د افراط څخه کار واخیست، واعظانو ته چې پخوا حکومت معاشونه ورکول، د دوی شمیر درې سوه (۳۰۰) ته راکم کړ، او هغوی ته یې آمر وکړ: د جمعې د لمانځه په خطبو کې دې ډېرې خبرې د زراعت، صعنت او د حکومت د پالیسیو په اړه وکړي او د حکومت کړنې دې وستایي، د استنبول دوه (۲) مشهور جوماتونه یې وتړل، لومړی د اباصوفیا جومات وو، چې موزیم یې ځیني جوړ کړ او دوهم د فتح جومات وو، چې ګودام یې ځیني جوړ کړ.

هغه قانون چې په ۱۹۲۶م کال کې نافذ سو، د سویس د هیواد څخه اخیستل سوی وو، د هجري کلیزې پر ځای یې یوناني غربي کلیزه مروجه کړه، په ۱۹۲۶م کال کې یې په ټوله ترکیه کې د هجري کلیزې پر ځای لویدیځه کلیزه نافذه کړه، د ۱۹۲۸م کال په قانون کې دا خبره بیخي د نظره وغورځول سوه، چې ترکیه یو اسلامي هیواد دی، د لوړې اخیستو قسم کولو پخوانی طریقه پرېښوول سوه، او د الله سبحانه وتعالی د نوم پر ځای د خپل عزت او شرف په نوم قسم اخیستل پیل سول، په ۱۹۳۵م کال کې د دولتي رخصتۍ ورځ هم تغیر سوه، مخکې به دولتي رخصتي د جمعې په ورځ وه، اوس یې د یکشنبې ورځ وټاکله، حکومت د دیني تعلیم مخه نیوله، ټولې شخصي مدرسې یې وتړلې، د استنبول په پوهنتون کې یې د شرعیاتو په پوهنځي کې د محصلینو شمیر راکم کړ، او پای په ۱۹۳۳م کال کې یې په بشپړ ډول وتړه.

اتاترک د هیواد د غربي کولو لپاره هر ممکن کوښښ کاوه، د یوې پرېکړې له مخې یې د ترکي خولۍ پر سر کول منع کړل او پر ځای یې خلکو ته آمر وکړ: د اروپایي هیوادونو په شکل هیټ پر سر کړی. په ۱۹۲۹م کال کې حکومت په زور سره د ترکي ژبې د لیکلو لپاره لاتیني رسم الخط رامنځته کړ او عربي رسم الخط یې منع کړ، د ورځپاڼو، کتابونو او رسالو خپرېدل په لاتیني رسم الخط باندې پیل سول، عربي ژبه یې د پوهنتونونو د نصاب څخه وایستل، د فارسي ژبې زده کړه یې هم بنده کړه، د ترکي تألیفاتو د خپرولو لپاره یې د عربي ژبې رسم الخط بیخي منع اعلان کړ، د هیواد دننه یې د عربي ژبې د کتابونو اخیستل او خرڅول منع کړل، په دې ډول یې یو خوا د ترکیې او د هغې د اسلامي ماضي تر منځ اړیکه وشلوله او بل خوا یې د ترکیې د خلکو او د ټولو عربي او اسلامي هیوادونو د اوسیدونکو تر منځ اړیکې هم له منځه یوړې.

اتاترک د ترکیې په قوم کي د قومیت د روح د اچولو کوښښ وکړ، ځیني مؤرخینو ددې خبري ښخه ښه ګټه پورته کړه، چي ترکي ژبه د نهرین تر منځ د پخواني تمدن یعني سامري تهذیب د ژبي سره نږدیوالی لري، هغوی وویل: په نړۍ کي د پخواني تمدن لرونکي خلګ دي، ځکه اتاترک غوښتل، چي د اسلامي اخلاقو سره د جګړې وروسته خلګو ته هغه تمدن د نعم البدل په توګه ورکړي، اتاترک د خپل ځان لپاره د اتاترک لقب خپل کړ، چي د ترکانو د پلار معنا ورکوي، د اتاترک حکومت هره هغه رویه او اخلاق خپل کړل، کومو چي د غرب سره اړیکه درلوده، مختلف هنرونه یې راخپل کړل، د هیواد په لویو میدانونو کي یې خپلي مجسمې جوړې کړې، د رقص سلسله شروع سوه، زیاتره بهرني هنرمندان به هیواد ته راتلل، چي ډېر شمیر په کښي فرانسویان او اطریشیان وه، حکومت د ښځو پر حجاب باندي بندیز ولګوی، او د بې حجابۍ حکم یې صادر کړ، پر ښځه یې د سړي کنترول ختم کړ او دې بې حجابۍ او عریانۍ ته یې د آزادۍ او مساواتو نوم ورکړ، د داسي مجلسونو او رقصونو ستاینه او ملاتړ وسو، چیري چي ښځو او نرو یو ځای سندري ویلې او ګډاګانې یې کولې.

اتاترک په ترکي ژبه د قرآن کریم د ترجمه کولو حکم وکړ، ټولي معناوي یې بدلي کړې، او آمر یې وکړ: آذان دي هم په ترکي ژبه وسي. په تعلیمي نصاب کي یې تغیرات رامنځته کړل، د ترکي نشنلیزم د خپرولو لپاره یې د ترکیې د تاریخ د بیا لیکلو آمر وکړ، د عربي او فارسي ژبي د لغاتو پر ځای سوچه ترکي الفاظ استعمال سوه، پخواني لاتیني الفاظ یې په اروپایي الفاظو بدل کړل. حکومت اعلان وکړ: زموږ توجه به د اروپا پر لور وي، د اسلامي نړۍ سره موږ هیڅ اړیکه نه لرو، حکومت اسلام ته د زیان اړولو لپاره هر ډول کوښښ وکړ او هر هغه تحریک به یې په ډېري سختۍ سره ځپه، کوم چي به د اسلامي تعلیماتو د بیا احیاء کولو لپاره کوښښ کاوه. د اتاترک دې کړنو په مصر، افغانستان، ایران، اسلامي هندوستان، ترکستان او د اسلامي نړۍ په نورو سیمو ډېر اغیز وکړ، لویدیز پلوو او د استعماري کلتور خادمانو ته موقع په لاس ورغله، چي ترکیه د بیلګي په توګه وړاندي کړي او د انقلاب خبري شروع کړي.

د مصر ورځپاڼو د اهرامونو، سیاست او معظم په مصر کي یو پخوانۍ غر او د هر هغه څه په اړه ناري پورته کړې، کومو چي د اسلامي کلتور سره مخالفت درلود، دې ډول تحریکونو سره غربیانو، یهودي او ماسوني ډلو ډېره مرسته کول،. دې ورځپاڼو به د غربیتوب د جواز لپاره د ترکیې سیکولر نظام د دلیل په ډول وړاندي کاوه، د هغه د نوي والي تائید یې کاوه، او د هغه خبري به یې په خپلو ورځپاڼو کي نقلولې. د بیلګې په توګه د اتاترک دا خبره د ورځپاڼو ښکلا ګرځیدلي وه: نوې ترکیه د اسلام سره هیڅ ډول اړیکه نه لري.

اتاترک یوه ورځ قرآن کریم په خپل لاس کي واخیست او ویې ویل: قومونه د داسي قوانینو او اصولو په پلي کیدو پرمختګ نه سي کولای، هغه قوانین چي څو پیړۍ پر تیري سوي وي.

د ترکیې سیکولر حکومت، چي مشري یې اتاترک کوله، لکه څنګه چي امیر شکیب ارسلان ویلي دي: د فرانسې او انګلستان په څېر کوم دیني حکومت نه وو، بلکي په بشپړ ډول د دین مخالف حکومت وو، لکه: د روسیې د سوسیالیستي نظام په څېر.

غربي حکومتونو د سیکولرتوب سره سره د انقلابونو د انجیل حروف، د مذهبي خلګو لباس، مذهبي ورځو او د کلیسا په کارونو کي هیڅ ډول مداخله نه کوله او نه یې د کلیسا پر کړنو کوم بندیز لګولی وو، د مذهب څخه د بیزارۍ په رواجولو کي یهودي میډیا ستر رول ولوبوه، داسي رول لکه څنګه چي یې د اتاترک د حوصلې په لوړولو کي لوبولی وو، ورځپاڼو به داسي ښوولہ، چي هغه قتل و غارت او وینه تویول چي د هغه په لاس کیږي، جواز لري او دا یوه ستره کارنامه ده، دې ورځپاڼو به د ترکي ښځو فحاشۍ او بربنډتوب ته د آزادۍ نوم ورکوی، او هم به یې شراب څیښل، خمار کول او زنا کول د تمدن او تهذیب د مظاهرو په توګه وړاندي کول، دا یو تریخ حقیقت دی، چي اتاترک د اسلامي نړۍ د واکمنو لپاره یوه ښکاره مثال سو، د ده وروسته چي څوک واکمن کیدی، نو د هغه استبدادي او ظالم سیاست به یې خپلوه، نه یوازي مسلمانانو بلکي د لویدیځ استعماري هیوادونو هم د هغه کړني د دلیل په ډول وړاندي کولې.

د بیلګي په ډول: فرانسي په شمالي افریقا کي په زور سره د مسلمانانو عیسایي کول پیل کړل، هغوی یې د خپل دین، عقیدې او د اسلام پرینوولو ته اړ ایستل، هغوی د اتاترک کړني د دلیل په ډول وړاندي کولې، او ویل یې: د ترکانو زیات پر تاسو د اسلام د ژوندي ساتلو حق نسته.

مسلمانانو د سیکولر ترکیې پر ضد وسله وال بغاوتونه وکړل، تر ټول مهم بغاوت په ۱۳۴۴ هـ ق کال په جنوب ختیځي سیمه کي وسو، ددې وروسته په ۱۳۴۹هـ ق کال په ملیمین کي بغاوت وسو، د اتاترک حکومت په ډیر زور زیاتي سره دغه بغاوتونه وټکول، ډیرو علماؤو خپل ځانونه قرباني کړل او ټوله سیمه په اقتصادي او علمي لحاظ تباه سوه، ددې وروسته د بدیع الزمان سعید نورسي په مشرۍ د (نور تحریک) پیل سو، چي وروسته یې شاګردانو پر مخ یوړه. د (رسائل النور) رسالې ولیکل سوې او خپرې سوې، تر څو په خلګو کي اسلامي شعور پیدا سي او د اتاترک د سیکولر اصولو سره مقابله وکړي، دې تحریک د سولي لاره غوره کړه او وسله یې پرینوول، اتاترک ډیر کوښښ وکړ، چي شیخ سعید نورسي د ځان ملګری کړي، مګر بریالی نه سو، پای یې هغه تبعید کړ، اتاترک د هغه په دې کار ډیر خفه وو، چي هغه خلګ لمانځه ته رابلل، حکومت په هغه دا تور ولګوی، چي د پارلمان د غړو تر منځ یې کرکه پیدا کوله، شیخ ددې جواب داسي ورکړ: د اسلام د منلو وروسته تر ټولو ستر حقیقت چي انسان پوري تړلی دی، هغه لمونځ دی او کوم شخص چي لمونځ نه کوي، هغه خائن دی، د خائن حکومت باطل او مردود دی.

شیخ یې لومړی لږ وخت بندي او بیا یې تبعید کړی وو، دا تور یې پر لګولی وو، چي دا شخص د حکومت د نظام د بدلولو په تحریک کي لاس لري، مګر د شیخ د تبعید سره سره هم د نور تحریک د پوهنتونونو په محصلینو او استادانو، د فوځ په چونیو او د هیواد په مختلفو برخو کي جاري وو، یو ځل یې شیخ په دې تور ونیوی، چي شیخ اتاترک د دجال سره تشبیه کړی دی، شیخ د محکمې په وړاندي داسي وویل: د قرآن کریم رڼا د لکونو مسلمانانو زړونه روښانه کړي دي، حکومت د شرپسندۍ، خباثت او سیاست تر نامه لاندي غواړي، دغه رڼا ووژني.

واورئ! اې هغو خلګو! کومو چې د دنیا په بدل کې خپل آخرت خرڅ کړی او کفر ته مو سر ټیټ کړی دی، زه چې تر څو ژوندۍ یم، د الله سبحانه وتعالی په مرسته به د حق غږ اوچتوم، ستاسو څخه چې هر څوک څه کولای سي، ودې یې کړي، زموږ د زړه دا غوښتنه ده، چې د اسلام په یوه کوچني حقیقت مو دې هم سر قربان سي، شیخ یې بیا تبعید کړ او د ۱۳۶۷هـ ق کال پورې د هیواده لیرې وو، تر دې پورې چې حکومت د مسلمان قوم ځینو غوښتنو منلو ته مجبور سو او دیني کړنو ته یې لږ اجازه ورکړه.

اتاترک په ۱۳۵۶هـ ق ۱۹۳۸م کال کې مړ سو، د خپل مرګ څخه مخکې د مسلمانانو د نه غوښتنې په پایله کې هم په دې بریالی سوی وو، چې ترکیه یو سیکولر هیواد کړي، د مرګ څخه څو کاله مخکې په داسې یوې ناروغۍ اخته سوی وو، چې خپل ځان یې نه پیژندی، هغه لاعلاجه ناروغیو باندې اخته سوی وو، د ناروغیو اصلي لامل یې د شرابو څښل وه، د شرابو د څښلو د امله یې ځیګر خراب سوی وو، او اعصابو یې کار پرېښی وو، کمزورۍ سوی وو، ماغزو یې کار پرېښی وو، همدا وجه وه، چې دا دیکتاتور په زور زیاتي، وحشي جزاګانو او خود غرضۍ کې یوه بیلګه سوه.

کله چې اتاترک مړ سو، افغانستان لومړی هغه هیواد وو چې د یوې اونۍ لپاره یې په ټول هیواد کې د امان الله ماتم اعلان کړ او بیرغ یې د یوې اونۍ لپاره نیم ځوړند کړ، د افغانستان سره د ترکیې روابط پر دې ځای باندې پای ته نه دي رسیدلي، بلکې د هغه وروسته هم د ترکیې سیکولر نظام د افغانستان سره د نظامیانو په روزلو، مکاتبو او پوهنتونو کې مرسته کړې او ډیرو افغانانو ته یې د تحصیلي سکالرشیپونو د لارې د لوړو زدکړو زمینه برابره کړې وه، د ۲۰۲۱م کال د مارچ پر لومړی د سیکولر ترکیې او افغانستان ډیپلوماتیک روابط سل (۱۰۰) کلن سوه.

موږ باید ډیر هوښیار واوسو او د اتاترک د واکمنۍ وروسته د افغانستان سره د ترکیې روابط له نژدې وڅارو، دا چې اتاترک یو خائن او غدار انسان وو او اسلامي خلافت یې له منځه یو وړ، معلومه خبره ده چې په افغانستان کې به هم ده د داسې خلګو روزل غوښتل لکه خپل ځان، چې هم به بې دینه وي، هم به د اسلامي نظام ضد وي او هم به د اسلامي اُمت د بې اتفاقۍ غوښتونکی وي، په دې هیله چې زموږ مسلمانان ویښ وسي او د دښمن په ظاهرو مرستو باندې ونه غولیږي. مصطفی کمال اتاترک، جمال ناصر او امان الله دې درو (۳) کسانو د مسلمانانو اخوت او اتحاد له منځه یو وړی، په ډیر مهارت سره صلبیانو د مسلمانانو په زړونو کې ور دننه کړل، دوی درې (۳) هغه کسان دي چې د مسلمانانو اراضي یې صلبیانو ته وروبخښله، دوی نجسه غربي مفکوره پر مسلمانانو باندې وتپله.

څلورم فصل

د حق او باطل تر منځ جګړې

په کومه نړۍ کې چې ژوند کوو، د حق او باطل د جګړو ډګر دی، د حضرت آدم (علیه السلام) د پیدایښت څخه تر ننه پورې د حق او باطل همدا جګړه روانه ده، د حزب الرحمن او حزب الشیطان دغه جګړه یوه ډېره اوږده او تاریخي پس منظر لري، چې پر یوې زماني او ځای پورې خاص نه دی، په هر ځای او هر وخت کې په مختلفو طریقو، شکلونو، لارو چارو او وسایلو تر ننه پورې روانه ده، او تر قیامته به روان وي، مګر په هره زمانه کې د جګړې شکل او طرز عمل بدلیږي، که چیرې د تاریخ پاڼو ته ځیر سوو، نو ټول حقایق به راڅرګند سي، کله ظالمو، جابرو، باغي او طاغي پادشاهانو خلګ د باطلي شرکي او کفري عقیدو منلو ته مجبوروي او کله یې بیا د شیطان لښکریانو د وژونکو، ذروي او کیمیاوي اسلحو پواسطه ملتونه او قومونه تر یرغل لاندي نیسي، خپل باطل او شیطاني عقیدې پر هغوی تحمیلوي او د نه منلو په صورت کې یې ژوندي تر خاوري لاندي ښخوي، د پیړیو راهیسي، د ابلیس لښکریان همدې ټکي ته متوجه وه، چې یو ملت د حقي عقیدې څخه د جګړو او وژنو د لاري اړولو سره د هغوی دښمني نور هم زیاتوي، او په مقابل کې یې پاڅون کولو ته هڅوي، بلکي مسلمانان نور هم پر خپلو عقیدو کلکوي، د همدې امله نوی استعمار د زوړ استعمار ځای ونیوی، او ګرمه جګړه په سړه جګړه بدله سوه، پخوانۍ تګلارې، فکرونه، پلانونه او پرګرامونه بدل سول، او یوه نوې بڼه یې غوره کړه، چې دا یې تر ټولو خطرناکه او دردونکې دوره پیل سوه، دغه نوی ارتداد هر کور، کلی، دفتر او هر فرد ته ورسید.

قاضي اکبراله ابادي د هند د مشهورو شاعرانو او د غربي تمدن د سختو دښمنانو او انتقادیانو څخه دی، هغه په خپل یو انتقادي شعر کي وایي: که فرعون د بني اسرائیلو د ماشومانو وژلو پر ځای تربیتي او تعلیمي مرکزونه ودان کړی وای، او د خپلو فکري انحرافاتو د لاري د هغوی ذهنونه مینځلی وای، کیدای سي، داسي بد نامه سوی نه وای، مګر داسي څوک نه وو، چي هغه بیچاره ته یې دا فکر ورکړی وای.

د اسلام د دښمنانو د همدې کفري تبلیغاتو د امله ځوانان متاثره سول، او د خپلو اسلامي قوانینو څخه یې بغاوت وکړ، په اکثرو اسلامي هیوادونو کي دغه پټ بشر دښمنه شیطاني ډله د خپلو عصري او ارتباطي وسایلو لکه: تلویزیون، راډیو، مطبوعات، رسنیو، فکر زبیښونکو کتابونو او سینماګانو د لاري ځوانان د اسلام څخه بیګانه او بالمقابل بیرته یې د اسلام او قرآن دښمني لپاره راپاڅول، تر دې پورې چي ځینو ناپوهو، جاهلو او د غرب په اشارو نڅاګرو ځوانانو په ښکاره وویل: زموږ د وروسته پاته والي لوی لامل قرآن کریم وو، چي موږ یې د متمدني نړۍ څخه وروسته کړی یو، (العیاذبالله) په ډېر افسوس سره دغه لویه دردونکې او بوږونکې پیښه په کراره کراره د کورنیو، مشرانو، پوهانو او علماؤو د بې باکی او عدم مسؤلیت د امله په خلګو کي ریښې وغځولې، او فکرونه یې یرغمال کړل، ددې خبري د لا ثبوت لپاره لوی دلیل د اسلامي هیوادونو پر چوکیو ناستو فاسده، ناپوهه او غرب ځپلي واکمنان او مشران دي.

چې د مسلمانانو په کورنیو کې زیږیدلي دي، او ظاهراً نومونه هم اسلامي پر ایښوول سوي دي، مګر ستونزه دا ده چې دوی د غربي افکارو، منحرفو او بې دینو مکاتبو او نصابونو په غېږه کې روزل سوي دي، هیڅکله د خیر او ښیګڼې تمه نه سي ځیني کیدای، د دوی ټول کوښښونه، پروګرامونه او پلانونه د مسلمانانو کمزوري کول او د اسلامي او قرآني تعلیماتو د منځه وړل دي، آیا تاسي فکر کړی دی، چې مصطفی کمال اتاترک، نور محمد ترکي، حفیظ الله آمین، امان الله، محمد رضا پهلوي ایران، نورالدین کیانوري او داسي نور څوک وه؟ کوم جنایات یې په اسلامي هیوادونو کې ترسره کړل؟ د چا له خوا راوستل سوي وه؟ آیا دوی د مسلمانو میندو په شیدو او د مسلمانانو پلارانو په سرمایه رالوی سوي نه وه؟! نو بیا ولې د اسلام او مسلمانانو تر ټولو لوی دښمنان سول او مسلمه اُمت ته تر ټولو لوی ګوزارونه همدوی ورکړل؟ رښتیا هم چې دا یو نوی ارتداد وو، چې زموږ اکثره ناپوهه او د اسلامه لیري پاته سوي ځوانان یې تر خپلي ستوني تیر کړل، نو بیا ددې انحراف او ارتداد وجهې، عوامل او د مخنیوي لاري چاري په کوم ځای کې ولټوو او څنګه یې په مقابل کې مبارزه وکړ؟

همدارنګه موږ پوهیږو، چې نننی استعماري او استکباري نړۍ د ځوانانو فکرونه څومره مخشوش او مسموم کړي دي، او د اسلام په اړه یې څومره کرکه زیاته کړې ده، او څومره یې پر افکارو او ذهنونو واکمني لري؟ د ځوانانو او دیني علماؤو تر منځ یې څومره فاصله پیدا کړې ده، هغوی یې د اسلامي مراکزو، جوماتونو او ټولنو څخه لیري کړي دي، دین یې کم رنګه ورته ښکاره کړی دی، خپلو دې شومو اهدافو ته د رسیدو لپاره یې ځوانان په اخلاقي فساد، مبتلل او عریاني خپرونو، فحاشیو، مخدره موادو او جنایاتو کې اخته کوي، په همدې ترتیب د اسلام سره یې اړیکي پرې کوي او په خپله غېږه کې تر خپل تربیت او نصاب لاندي یې په خپله خوښه روزي، بیا یې د متفکرینو، روڼ اندو او پوهانو په نومونو یې اسلامي هیوادونو ته مهر سوي راستوي، زموږ هغه قیمتي او د کلونو راهیسي کرل سوي نیالګي چې په راتلونکې لنډه موده کې یې په میوو نیولو پیل کاوه، د غرب په غیږه کې پریوت، اوس زما ورور، زما زوی او زما هیوادوال زما پر خلاف کاروي.

په هر ځای کې مسلمانان د همدوی په لاس ټکول کیږي او ځپل کیږي، د غرب همدا روزل سوی توکم، په اسلامي هیوادونو کې هغه ناروا‌وی، ظلمونه او جنایات وکړل، چې قلم یې په لیکلو او ژبه یې په ویلو شرمیږي، تر ټولو مخکې دغه ارتداد چې د خپل کور او کلي څخه ورک نه سي او دې مجرمینو ته عبرتناکه سزا ورنه کړل سي، دا لړۍ به همداسي روانه وي، خدای مه کړه ټوله اسلامي نړۍ به په دې جال کې راګیر کړي، چې بیا به یې هیڅ د خلاصون لاره نه وي، له همدې امله ټولو علماؤو، پوهانو او دردمنو مسلمانانو ته وایم، اوس هم د مخنیوي او خلاصون لاري سته، لازمه ده چې د غرب استعماري او استکباري لورۍ هر وخت تر دقیقي څارني او مطالعې لاندي ونیسو، په مقابل کې یې پاڅون وکړو، او کوم غفلت چې مخکې زموږ څخه سوی دی، پر هغه باید پښیمانه او سر دننه لاس په کار سوو، او زموږ اسلامي دعوتګرانو ته لازمه ده، چې بیرته خپل ډګر ته را ووځي، شپه او ورځ په دې کوښښ وکړو، چې څنګه خپل مخکینی برم او شوکت لاسته راوړو؟

او يو ځل بيا پر تل ابيض، اقصی، اندلس او قرطبې باندي خپل بيرغونه رپانده کړو، د روم، فارس او اروپا نړيوال ترونونه مات او سازمانونه يې د خاورو سره خاوري کړو، غرب او د غرب لاسپوڅو ته دا ثابته کړو، چي اوس هم د صلاح الدين ايوبي، طارق ابن زياد، محمد بن قاسم او سلطان محمد الفاتح ويني په موږ کي چليږي او هماغه احساس مو په زړه کي دي، هيڅکله به د هغوی توري زنګ وهلو ته پري نږدو، الحمد الله اوس هم د هغوی د تورو څخه ويني څاڅي او موږ ته دا الهام راکوي، چي ولاړ سه د خپلو نيکونو پر پل باندي قدم کښيږده او نړۍ د ځان تابع کړه.

ارتداد

د اسلامي شریعت په رڼا کې د ارتداد معنا: یو مسلمان چې د خپل اصلي دین څخه بل دین ته واوړي، یا د یوې عقیدې پر ځای بله عقیده خپله کړي او یا په بل عبارت: ارتداد یعني د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له طرفه د راوړل سوي دین څخه انکار کول.

مخکې که به څوک مرتد کیدی، نو په ښکاره به یې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رسالت څخه انکار کاوه، او د یهودیت یا عیسویت دین به یې ومانه، او یا پوره الحاد او لادیني به یې اختیار کړ، د ټولو آسماني دینونو څخه به یې انکار وکړ، که چیري مسیحیت یې ومانه، نو کلیسا یا هیکل ته به ننوت او که به برهمني دین ته معتقد کیدی، نو د بتانو عبادت به یې کاوه، په هر حال د دوی ارتداد به د هیچا څخه پټ نه پاته کیدی، بلکې ټولو مسلمانانو ته ښکاره معلوم وو، چې نوموړی کس د اسلام څخه وتلی او کافر سوی دی، ځکه نو مسلمانان ددې پیښو څخه په خبرتیا د هغه سره اړیکې او خپلوي پرې کولې، مګر ډیري کمي پیښي به د چا ارتداد د خلګو څخه به پټ پاته سو، مګر نن ورځ نه کلیسا ته ورځي نه هم بتانو سجدې کوي، او په ارتداد کې اخته سوی وی، دغه نوی ارتداد د ټولو هغو وړاندنیو عقیدوي ارتدادونو څخه ډیر توپیر لري او دومره پراخ او وسیع دی، چې د اسلام او مسلمانانو راتلونکی ته هم ننګوونکی دی، اسلامي اُمت د ارتداد مختلفي پیښي او واقعات لیدلي دي، چې تر ټولو لویه او دردونکې پیښه یې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وفات سره جوخت د ځینو عربو قبیلو ارتداد وو، چې د خلیفة الرسول (صلی الله علیه وسلم) حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) په فولادي عزم او ایماني ولولو یې په لومړیو ورځو کې د سر پورته کولو سره له منځه ولاړی.

دوهمه پیښه په اسپانیا یا اندلس کې رامنځته سوه، وروسته تر هغه چې مسلمانان د خپلو کورونو څخه وویستل سول او ډیر زیات خلګ عیسویت دین منلو ته اړ ایستل سول، د همدې امله کوم هیوادونه چې د مسیحیت تر واک لاندي وه، د عیسوي دعوتګرو لپاره د تبلغاتو او فعالیتونو ته لاره خلاصه کړه، ددې پرته داسي پیښي هم سوي دي، چې ځیني ناپوهه او بې همته مسلمانان په هندوستان کې د اسلام د دین څخه واوښتل او کفر یې غوره کړ، مګر داسي پیښي ډیري کمي رامنځته سوي دي، که په اسپانیه کې دا ارتداد پر ځای پریږدو، نو د تاریخ پوهانو د څرګندونو څخه دا دعوه کولای سو، چې اسلامي تاریخ داسي یو ارتداد ددې مخکې لیدلی نه دی، ددې ارتدادونو په وړاندي اسلامي ټولني څه عکس العملونه وښوول؟ هر کله چې داسي پیښي رامنځته کیدلې، نو د مسلمانانو له خوا د دوه (۲) ډول عکس العمل سره مخامخ کیده. ۱: د نفرت او بیزاري څرګندول. ۲: د اړیکو پری کول. څوک چې به د دین څخه اوښتی، مسلمانانو به هغه ډیر سخت وغندی، او د هغه څخه به یې برائت او بیزاري څرګندوله، چې ددې سره به پر هغه د ژوند کړی راتنګه سوه، د ټولو خپلوانو اړیکي به ورسره پرې سوې، ګواکي د ارتداد معنی دا وه، چې نوموړی شخص د یوې ټولني څخه بلې ټولني اوښتی دی، نو ځکه د هغه کورنی د مرتد سره ملګریتوب، خپلوي او د وراثت ټولي اړیکې به یې ورسره پرې کولې.

هر کله چي په د ارتدار لړۍ زیاتیده، نو د دواړه مذاهبو د پیروانو تر منځ نښتې او جګړې هم رامنځته کیدې، او په مسلمانانو کي د مبارزې او مقاومت روحیه راژوندۍ کیده، کله چي په ځینو اسلامي هیوادونو کي داسي پیښي کیدې، نو د هغه هیواد علماء، لیکوالان او دعوتګران به د مبارزې ډګر ته راوړاندي سول، د هغې پیښي عوامل به یې د اسلام د اصولو برابر وڅیړل او د هغه کس د مجازاتو غوښتنه به یې وکړه، نو ددې لاري به یې د ارتداد مخه ونیول، اسلامي ټولنه د ارتداد ددې پیښو سره ډیر زیانمن کیده، داسي بریښیده چي د بغض او غوسې څپې د اسلامي ټولني بنسټونه او اساسات خوځولي دي، پر دې حالاتو نه یوازي د فکر او پوهي خاوندان ډیر غمجن وه، بلکي عام مسلمانان هم ددې ناخوالو څخه زوریدل، دا وو ددې پیښو په وړاندي د اسلامي ټولنو او عامو مسلمانانو غبرګون، چي ټول مسلمانان یې دردولي وه، په داسي حال کي چي د ارتداد پیښي په عمومي توګه دومره زیاتي نه وې، چي د خلګو پر ژوند باندي مستقیماً اغیز وکړي.

بلکي کله کله به رامنځته کیدې، په ډیر افسوس سره باید ووایو: اسلامي نړۍ په دې وروستیو کلونو کي نسبتاً د یو لوی ارتداد سره مخ سوه، چي د ټولو وړاندنیو ارتدادي حرکتونو څخه یې ساری نه لیدل کیدی، د یوه ورانوونکي طوفان په څیر راڅرګند سوی دی، داسي ډیر لږ ځایونه او کورونه پاته دي، چي ددې دردونکي حالت څخه په آمن کي پاته وي، او دا وژونکي زهر دي ورسیدلي نه وي، ددې ارتدادي یرغل تر شا د اروپا سیاسي او فرهنګي فعالیت ډیر په زور او ځوګ سره په اسلامي هیوادونو کي راڅرګند سو، او خپل ټول دعوتي پروګرامونه، مؤسسات او وسایل په کار واچول، چي دغه ارتداد د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وخت څخه تر ننه پوري یو بې ساري او لوی ارتداد دی.

معاصر ارتداد: اوسني مرتدین یا اروپا یو ډول نوې فلسفه او دین ختیځ ته را وارد کړ، چي بنسټ یې د الله سبحانه وتعالی او ماوراء الطبیعت اشیاؤ څخه پر انکار کولو ولاړ وو، او د هغه فلسفې څخه چي د اسلام د اساسي اصولو څخه وو، لکه: وحیې، نبوت، آخرت او د نړۍ د ستر پیداکوونکي څخه انکار وو، او وروسته مختلف نظریات په مختلفو موضوعګانو کي لکه: د ژوند او چاپیریال پیژندنه، اخلاق او ارواه پوهنه، فرهنګ، کلتور، سیاست، اقتصاد او نورو نظریاتو په ډول یې را وړاندي کړل، چي ټول پر یوه ټکي راڅرخیده، انسان یې یوازي د مادیاتو د نظره تر بحث او څیړني لاندي نیوی او هره څرګندونه چي انسان پوري به یې اړه درلوده، نو مادي توجي به یې ځیني کوله، دغه سیکولر افکار او نظریات د خپریدو سره سم د مشرق اسلامي هیوادونو فکرونه تر یرغل لاندي راوستل، چي ددې زهرجنو افکارو او ظاهري ښایست د امله په اسلامي ټولنه کي ننوتل، یو ډول نوي فکرونه، پروګرامونه او پروسې یې رامنځته کړي وې، په ډیرو مختلفو او پرمختللو وسایلو سره یې خپلې شومي موخې او په زهرو لړلي نظریات په خلګو کي وشیندل، نو د همدې امله باسواده او روڼ انده خلګ چي د علم او پوهي په ګانه سمبال خلګ وه، د غرب تر فکري یرغل لاندي راغلل، د ملګریتوب لاس یې ور وړاندی کړ، د هغوی په مفکورو یعني ایډیالوژیو یې داسي ایمان راوړ، لکه یو مسلمان چي پر اسلام او یا یو عیسوي چي پر مسیحیت ایمان لري.

دغه ډله په دې افکارو دومره معتقده ده، چې په دې لاره کې د سرونو قربانۍ ته هم چمتو ده، او خپل دغه لاره یوه سپیڅلې او مقدسه لاره بولي، خپل رهبران او ملګري په ویاړ سره لمانځي، د هغوی ستاینه کوي، په خپلو لیکنو کې خلګ دې ته را دعوتوي، څوک چې د دوی مخالف وي، هغوی به یې سپک، ناپوهه او د تمدن څخه وروسته پاته بولي، یوازې خپل د فکر او لارې تمدن او علانیت لاره بولي او یوازې د خپلو ملګرو او همفکرو سره دوستې او ورورولي پالي، هغه ناروغي چې درملنه نه لري، د شکه پرته ویلای سو، چې د ارتداد دغه وژونکې ناروغۍ او د بې دیني تخریبوونکی طوفان د ټولو ورانکاریو سره تر اوسه هم مسلمانان د ناخبرې په درانه خوب بیده دي، ضمیرونه یې مړه او ذهنونه یې د مخالفت څخه مینځل سوي دي، ځکه څوک چې ددې ارتداد په دام کې راګیر سوی وي، هغه بیا هیڅکله د اسلام په خوند پوه نه دی، دوی هیڅکله د کلیسا او جوماټ په لاره نه دي تللي او نه د اسلام څخه د سرغړوني او ارتداد د امله بل دین منلی، نو له همدې امله کورنۍ یې هم د ځانه نه لیرې کوي، او نه نور مسلمان یې په مقابل کې عکس العمل ښکاره کوي، بلکې داسې ملحد انسانان د مسلمانانو په ټولنه کې ښه آزاده او خپلواکه ژوند کوي، د خلګو تر منځ نفوذ هم لري، چې هیڅوک یې مخالفت او مخنیوی نه سي کولای، د اسلامي نړۍ تر ټولو لویه غمیزه همدا عصري ارتداد دی، چې ورځ تر بلې د پراخیدو په حال کې دی، د علماؤو څخه یې هم د مخنیوي او درملني لاره ورکه کړې ده.

مخکې چې به داسې کومه پیښه رامنځته کیده، نو خلګو به ویل: ستونزه راپیښه سوې ده، مګر ابوالحسن علي (رضي الله عنه) یې د حل لپاره نسته، خو نن ددې ارتداد د درملنې په اړه زه وایم: ارتداد راغلی دی، مګر د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) په شان شخصیت نسته ورته!

په دې باید ځان پوه کړو، چې ددې غربي تاړاک مخنیوی او د حل لاره یوازې په نظامي توګه نه سي کیدای او نه د خلګو د پارولو، پاڅونونو او مظاهرو د لارې حل کیدای سي، ځکه د غوسې او شدت سره نه یوازې مخه یې نه نیول کیږي، بلکې نوره هم پراختیا ته یې لاره هواریږي، کفر او ارتداد نور هم زور اخلي، اسلام نه د عقیدوي محکمو او ځیړنو پلوی کوی، او نه زور زیاتی قبلوي، بلکې هر انسان یې خپلې خوښې او عمل ته پرې ایښی دی، چې کومه لاره خپلوي، ځکه ایمان د زړه، اعمالو او اقرار مجموعې ته ویل کیږي، او د هر چا تر عقیدوي قوته پورې اړه لري، مګر د سرغړوني په صورت کې د دنیا، آخرت ذلت او رسوایي به یې په برخه وي، اوس نو ددې ستونزو د حل یوازینۍ لاره په قاطع تصمیم، صبر، استقامت او د مسلمان اُمت پر فکري او عملي کمزورتیا باندې ژور کار کولو کې دی، چې د اسلام او ایمان په اړه څومره شکوک او اندېښنې وراچول سوي وي، په ډېر حکمت، پوهې او زیرکتیا سره یې د ذهن څخه وایستل سي، او د اسلام حقیقي مفهوم وروپیژندل سي، هو! ارتداد او د دین څخه بغاوت، د همدې لارې په اسلامي هیوادونو کې خپور سو، ډېر په خفي او پټه توګه، پرته له دې چې څوک په پوه سي، دا نظریات د مځکې لاندې مزل کوی، چې نه پلارانو کوم مخالفت وکړ، نه روزونکې، د فکر او پوهې خاوندان دې لورې ته د پام وړ اقدام وکړ.

ځکه دا ارتداد ډیر په آرام د پوهي، علم، تمدن، ټکنالوژي او نوي عصري نصابونو د لاري رانوتی وو، دوی نه د کلیسا د لاري دې ته راغلل او نه د کوم نوي معبد د لاري دې ارتداد ته راننوتل او نه د چا په مخکي یې سجده وکړه، ځکه په وړاندنیو پیړیو کي ارتداد همدې ته ویل کیده، چي څوک کلیسا، معبد او یا بت خانې ته ننوځي، د اسلام څخه ښکاره بغاوت وکړي، په همدې ډول به هغه مرتد او د اسلامه خارج ګڼل کیدی، مګر دلته په دې نوي ارتداد کي ددې معبودانو هیڅ یو هم نه ښکاري، په ځان خبر نه وي د اسلام څخه وتلی وي.

سیکولریزم

د بې دیني مذهب یا سیکولریزم ددې مذهب اصلیت څه شي دی؟ که څه هم دوی پر ځان دا نوم نه دی ایښی، مګر ددې مذهب د اساس او عقیدې څخه دا څرګندیږي، چې د قادر او قاهر ذالجلال رب څخه پر انکار کولو ولاړ دی، دغه نظریه د مرګ څخه وروسته ژوند، جنت او دوزخ، ثواب او عذاب، نبوت او رسالت، آسماني دینونه او پر شرعي حدودو او احکاماتو هیڅ باور نه لري، او دا عقیده نه لري، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وروستی پیغمبر او اطاعت یې په هر مسلمان، عاقل او بالغ واجب دی، چې د ټول انسانیت نیکمرغي، سرلوړي او کامیابي یوازې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په اطاعت او تابعداري پورې خاص دي. اسلام د کامیاب او پرمختللي ژوند لپاره تر ټولو اوچت او کره قانون دی، چې د دنیا او آخرت پت، عزت، نیکمرغي، سرلوړي، بریالیتوب په همدې دین کې رانغښتي دي، الله سبحانه وتعالی د اسلام څخه پرته نور یو دین هم نه مني، نو دا د لادیني یا سیکولریزم عقیده خو په هیڅ دلیل سره نه مني.

ویرجنه پیښه تر ټولو لویه او ویرجنه پیښه دا ده، چې نن د اسلامي هیوادونو واګې د داسې کسانو په لاسونو کې دي، چې فکرونه یې په الحادي او لاديني زهرجنو نظریاتو خړوب سوي دي، غرب ته ډیر وفادار او نږدې خلګ دي، په عقیدوي لحاظ ټول د غرب په فکر رنګ سوي دي، په مادیت او لادینیت کې تر پولو هم اوښتي دي، دوی په خپلو فعالیتونو کې سره توپیر لري، مګر په اهدافو، نظریاتو او ارتدادونو کې یو بل ته نژدې دي، دا یو ډیر لوی او اوږد مهاله ارتداد دی، چې اسلامي نړۍ یې د شرقه څخه تر غربه پورې تر خپل تاثیر لاندې راوستلې ده، هیڅ یو ځای په آمن کې نه دی ځیني پاته، کلي، کورونه، پوهنتونونه، مکتبونه، د پوهې او زده کړې مرکزونه ددې فکري یرغل څخه زیانمن سوي دي.

داسې ډېرې لږ کورنۍ به وي، چې په دې سیلاب کې لاهو سوی نه وي، او یا ځیني اغیزمنې سوي نه وي، که چیرې دغه د الله سبحانه وتعالی څخه منکرو ملحدو سکولرانو او ډیموکراتانو سره مخ سې او یا د دوی د پټو رازونو پرده پورته کړې، نو ډیر ژر به دربښکاره سي، چې دوی نه الله سبحانه وتعالی مني، نه د آخرت پر ورځ ایمان لري، نه حساب کتاب مني، نه د ټول بشریت ستر لاربښود حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د یو ستر لاربښود په توګه مني، نه قرآن عظیم الشان د ژوند د یوه پوره او کره قانون په توګه مني، په دوی کې تر ټولو ښه سړی هغه وي، چې وایي: موږ ددې عقایدو او پخوانیو کیسو په اړه هیڅ فکر نه کوو او نه کوم آهمیت ورکوو.

د سیکولریزم ریښې: څه وجه وه، چې دغه نوی دین سیکولریزم یا لادینیت د مذهب څخه آزادي ډیر ژر په نړۍ کې خپور سو، او ولې دغه په زهرو لړلي او ویجاړونکي مفکوره پر مسلمانانو یرغل وکړ؟ او څنګه ډیر ژر یې پر فکرونو او عقلونو واکمنه سوه؟ ددې پوښتنو د کره جوابولو لپاره ژوره څیړنه او پراخې مطالعې ته اړتیا ده، تر څو ددې نوو دینونو په حقایقو ځان او نور مسلمانان پوره خبر کړو.

لنډه دا چي په نوولسمه (۱۹) پیړۍ کي اسلامي نړۍ او مسلمانان د عقیدې، دعوت، علم او فکر د امله ډېر زیانمن سول او د کمزورتیا نښې په کښې راښکاره سوي وې، مګر اسلام هیڅکله نه کمزورۍ کیږي او نه یې په حقانیت کي څه کمي راځي، هره ورځ نړۍ او طبیعت ته یو نوی ژوند او روح وربخښي، اسلام تل سرلوړی وي، ددې مثال د لمر په شان دی، چي د پیدایښت څخه یې ډېر کلونه کیږي، مګر زړښت نه لري، تل روښان، پوره او ځلیدونکی وي، ددې له منځه تلل، د مسلمانانو په له منځه تللو پوري تړلی دی، یعني تر څو چي یوه کلمه ویوونکی مسلمان په دنیا کي پاته وي، نو الله سبحانه وتعالی به دا نړۍ نه ختموي، مګر نن ورځ مسلمان اُمت د علم او پوهي، د اختراع او نوښت، د فکر او عقل، د دعوت او بلني، د سرښندنو او جهادونو په ډګر کي پاته راغلی دی، مخ په ځوړتیا او ناهیلي روان دی، ځکه دوی اسلام د یوه قانون او تګلاري په توګه په خپل ژوند کي عملي کړی نه دی، دوی اسلام د لمونځ او روژې تر پولي پیژندلی دی.

نو له همدې امله مسلمانان په دې پیړۍ کي د ستونزو، کړاونو او ناخوالو سره مخ سول، د غلامۍ او ناچاري زولني یې په غاړو کي ولویدلې، مسلمانان په دې کي هم پاته راغلل، چي د اسلام حقیقي معنا او د ژوند یوه سپیڅلې نمونه نړیوالو ته وړاندي کړي، تر څو خپلو ځوانانو او نړیوالو ته استدلال په وکولای سي، بله دا چي د ځوان نسل سره د علماؤو، پوهانو، د فکر او عقل خاوندانو اړیکي ډېري کمزوري سوې، ځوانان خپل سر ته پرېښوول سول، چي هر څه وکړي، هر څه ووایي او هر څه ومني، چا یې مخه ونه نیوله، د دوی د زړونو او دماغو څخه غربي شیندل سوي افکار ونه ایستل سول او دا ډاډ یې ورنه کړ، چي یوازي اسلام او قرآن کریم تلپاته قانون او د ټول بشریت د نیکمرغۍ او بریالیتوب لامل دی، د اسلام داسي غوټۍ ده چي هیڅکله نه رژیږي، تل تروتازه او زرغونه وي، داسي باغ دی، چي هر څومره ګلان ځیني وشکوي، خزان نه په کښې راځي، بلکي نور هم ګلان او غوټۍ راټوکوي او د سیلانیانو د خوښۍ او سکون لامل ګرځي.

زموږ ستر لارښود رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د غوره اخلاقو، سپیڅلو عاداتو او کردارو یوه لویه معجزه ده، د ټولو قومونو لپاره پیغمبر، د ټول بشریت او ټولو پیړیو لپاره قائد او رهبر دی، او اسلام یوازینۍ آسماني دین دی، چي د انسان د هر دور او هر نسل سره اوږه په اوږه حرکت کوي، د انسان د ژوند په هره برخه او هر پړاو کي څارنه کوي، هو! دا سمه خبره ده، چي د ځوان نسل په فکري برخه کي هیڅ کار نه دی سوی، چي د دوی زبیښنل سوي ذهنونه په خلاص سوي وای، او د غرب د فکري یرغل په مقابل کي مبارزه او مقاومت یې کړی وای، ځکه د ټولني بنسټ او اساس باید پر ایمان، سپیڅلي عقیدې او معنوي آرزښتونو باندي ولاړ وي، نوی توکم پر دې پوهول سوی نه دی، چي اوسني غربي بلاک د تمدن، بیان، فکر او مذهب آزادي، د حقوق، مساواتو، پرمختګ او داسي نور... غوږ زیر نومونه د یوې غولوونکي وسیلې په توګه کاروي، بلکي د غوره اخلاقو، حقیقي سرلوړۍ، پرمختګ او تمدن یوازنۍ سرچینه د انبیاء (علیهم السلام) تعلیمات او دینونه دي.

چي یوازي ددې سپيڅلو اهدافو او عصري اسبابو د يو ځای کولو سره کولای سو يو پرمختللی او د اصولو سره برابر تمدن رامنځته کړو، ددې حالاتو څخه په ګټې اخيستو سره اروپا په اسلامي نړۍ کي د نويو فکرونو، فلسفو، نظرياتو او پروګرامونو سره په ډير شدت او سختي سره يرغل وکړ، دغه په زهرو لړلي فکرونه د اروپايي فلاسفو د کوښښو او سترياو پايله وه، چي په ډير زيرکتيا او پوهي سره پلان سوي وه، دومره ژور کار يې کړی وو، ټولو خلګو دا فکر کاوه، چي د انسان د ټول کوښښ، څيړني، تصور، خيال او علم وروستی پايله همدا ده او بس، ددې مخکي د انسان ذهن عاجزه دی، سره له دې چي ددې علمونو، فکرونو او فلسفو اساس په ګمان او اټکلياتو ولاړ وو، او تر دې مخکي بل څه حقيقت يې نه درلود، ډير لږ به يې د صحيح تجربو او عملي ليد لورو سره برابر وو، دا ډول فلسفې او نظريات په حقيقت کي د حق او باطل، عقلياتو او ناپوهيو سره ګډ واقيعتونه هم وه، مګر په دې ټولو کي شاعرانه خيالات موجود وه، تاسي داسي فکر مه کوئ، چي شعري تصورات او خيالات يوازي په قافيه او بيت کي وي، بلکي په علمي او فلسفي برخو کي هم وي.

دا ټولي فلسفې د اروپا څخه شرقي مځکو ته د يو فاتح او سالار په ډول راننوتل او په ډير شوق او جزبه ټول مشرق د زړه له کومي اروپايي فکر واردونکو فاتحانو ته ښه راغلاست ووايه او د هغوی د اطاعت لپاره لاس په نامه ودريدل، چي په دوی کي باسواده او تعليم يافته ډله تر ټولو مخکي په لومړي صف کي ودريدل، البته د دوی اکثريت په ناپوهي، جهالت او ددې افکارو د ناخبرتيا له امله منلي وه، مګر ځينو د پوهي، شعور او حقيقت موندلو سره بيا هم غاړه ورته کښيښوول، هر چا به چي دې ته ته غاړه کښيښوده او يا د دوی پر نظرياتو يې ايمان راوړ، نو دومره به ځيني متاثره کيدل، چي د برياليتوب، پرمختګ، عزت او سرلوړی يوازنی لامل به همدا نظريات ګڼل، چي هر څوک دي بايد د دوی په شان پر دې فاسدو عقيدو ايمان راوړي، او د دوی اهداف خپل شعار وګرځوي.

د سيکولريزم د پيل عوامل:- په اروپا کي د سيکولريزم د پيل اسباب په لاندي ډول دي

۱ :- د ژوند په بيلا بيلو برخو کي د کليسا بغاوت. الف: ديني بغاوت. ب: سياسي بغاوت. ج: اقتصادي بغاوت.

۲: د پوهي او پوهانو سره د کليسا جګړه. الف: د نورو اختراعاتو او تجربوي منهج سره جګړه. ب: د نوي انکشافاتو او پرمختګ سره جګړه. ج: د افکارو او علمي نظرياتو سره جګړه.

۳: په ۱۷۸۹م کال کي په فرانس کي صنعتي انقلاب. الف: د بې دينه فکر پيل او د کليسا دورې پای. ب: دين د سياست څخه جلا کول. ج: د آزادۍ، وروروولی او مساوات شعار تر شا د يهودو پټ پلان.

۴: په ۱۸۵۹م کال کي په اروپا کي د داروين نظريات خپريدل. الف: د پرمختګ نظريه او د داروين کتاب د ډولونو اصل نظريات خپرول. ب: د ديني عقيدې له منځه تلل او پر ځای يې

د طبيعت منځته راتلل. ج: د انسان ژوند د اصلي مقصد فکر له منځه تلل. د: انسان مادي کيدل، حيواني او بې حدوده آزاد ژوند اختيارول. هـ: مطلق پرمختګ.

د همدې پر اساس اروپا په حيرانوونکي ډول د کليسا او پاپانو د طغيان څخه خلاصه سوه او د بې دينۍ يوې پراخه کندي ته ور ولويده، چي په دې سره دين څخه اروپا د بې علم په بې دينه سيکولريزم بدله سوه.

سيکولريزم د لويديځ په خدمت کي: کله چي پر اسلامي خاورو د لويديځ مستقيم عسکري استعمار پای ته ورسيد، نو د دغو ټولنو واک هغو فکري سيکولر ډلګيو ته وسپارل سو، چي هدف او موخه يې د ښووني، کلتور، سياست، اقتصاد، او ټولنيزه برخه کي د دغو ټولنو غربي کول وه، دا کار په تصادفي توګه سرته ونه رسيدی، بلکي د کله څخه چي استعمار په دې پوه سو چي اسلامي ټولني کرار کرار راويښيږي، نور د نظامي شتون او استعمار لپاره پلمه او بهانه نه پاته کيږي، په لويديځ کي يې د دغو سيکولر عناصرو د روزني لپاره ځانګړي مراکز پرانستل چي مستشرقينو يې مشري کوله او د داسي افرادو او ډلګيو په روزنه يې پيل وکړ چي نومونه يې اسلامي او فکرونه يې آن د لويديځوالو هم مزخرف او تند وو، په دې اړه تر ټولو زياته پاملرنه يې مصر ته وکړه، ځکه چي په اسلامي ټولنو کي مصر په علمي لحاظ مخکښ وو، او د ازهر له برکته يې پر شا وخوا ټولو اسلامي هيوادونو يې ځانګړی اغيز پروت وو، دغو ډلګيو څو لسيزي په اسلامي هيوادو واکمني درلوده، چي عمومي لاسته راوړني يې استبداد، ټولنيز فقر، علمي او د تکنالوژۍ په ډګر کي وروسته پاته والی، د ژوند په هر اړخ کي پر لويديځ اعتماد او داسي نوري په لسګونو ستونزي او ناخوالي وې.

د لويديځي مشروع تر ټولو ستره بريا په رسنيز ډګر کي وه، چي د تل لپاره به يې ولسونو ته په ډيره سپين سترګۍ درواغ ويل او دنده يې په درو (۳) ټکو کي خلاصه کيده، لومړی به يې دغو سيکولر عناصرو ته د آزادۍ د اتلانو په نامه تقدس ورکاوه او هغوی به يې په کاذبو او جعلي اتلوليو ستايل، دوهم کار يې د لويديځ د لويي، بشردوستۍ او رحم دلۍ ډنډوره ړغول وه، او دريمه وظيفه يې بيا ولسونو ته د خيالي جنتونو درواغجني وعدې وې، دا هغه مهال وو چي خپله په لويديځو ټولنو کي نور د دوی بدرنګه څهره بربنډه سوې وه، هلته يې په مقابل کي د کمونيزم په بڼه قوي غبرګون راپورته سوی وو، له همدې کبله يو شمير اسلامي هيوادونه د دغه بلاک سره ودريدل او د اسلامي ټولنو لپاره يو بل داخلي سرخوږی پيدا سو، مګر کله چي کمونيزم د ظلم آوازه په نړۍ کي خپره کړه، د ساړه جنګ پر مهال لويديځ هم ځيني په بيره کي سو، نو په يو شمير اسلامي هيوادونو کي اسلامي خوځښتونو لږه ساه واخيسته چي په دې سره په ټولنو کي اسلامي روح راژوندی سو، کرار کرار ولسونو اسلامي خوځښتونه وپيژندل او باور يې پر زيات سو، مګر د ساړه جنګ پای ته رسيدو سره سم يو ځل بيا لويديځ اسلامي نړۍ ته مخ کړ، او په خپل بشپړ ځواک يې د اسلامپالو په ځپلو پيل وکړ، دا هغه مهال وو چي ولسونو د اسلامي حرکتونو سره تړاو پيدا کړی وو، له دې کبله د لويديځ سيکولران د اسلامي ولسونو سره لاس او ګريوان سول، پاڅونونه وسول او د استبداد يو شمير څلي او بُتان را وپرځيدل، مګر يو ځل بيا لويديځ چي په سر کي يې امريکا ده، په ډيره سپين سترګۍ خپل ټول شعارونه تر پښو لاندي کړل، بشري حقوق، ډيموکراسي او ولسواکي، د بيان آزادي او دې ته ورته شعارونه يې دړي وړي کړل.

الحاد

منافقت او د دين څخه بغاوت يعني الحاد لکه څنګه چې مو مخکې يادونه وکړه، مخکې به مرتدين مکمل د اسلام څخه ځانونه خالي ګڼل او هيڅ تړاو به يې نه ورسره درلودی، يوې نوې ټولنې او عقيدې پورې به يې ځان منسوبوه، دا عقيدوي بدلون به يې په ډېر جرئت او په وروستيو پيړيو کې د اروپا او غربي نړۍ علمي او تکتيکي پرمختګونه ددې لامل سوي، تر څو ساده لوحه خلګ ګومان وکړي، چې پرمختګ يوازې د دوی په لوړو زده کړو پورې تړلې دی، په افتخار سره يې ښکاره کاوه او خپلو ټولو مشکلاتو او ستونزو لپاره د حل لاره يوازې په همدې نوي مذهب سيکولريزم کې ليده، نور يې نه غوښتل چې په اسلام کې پاته سي، مګر نن ورځ داسې نه ده، نننی مرتدين خپلې ټولې اړيکې د اسلام څخه پرې کړي، مګر دا نه غواړي چې د مسلمانانو د ټولنې څخه هم ځان جلا کړي، په حقيقت کې يوازې اسلامي ټولنه ده، چې د کلکې عقيدې او عملي ژوند څخه پرته په کښې پاته کيدل هيڅ امکان نه لري، سره له دې بيا هم دا ډول خلګ د مسلمانانو په منځ کې ځانونه ځای کړي دي، او په ډېر ډاډ او آرامې سره ژوند کوي.

تر دې پورې چې د خلګو اعتماد يې هم تر لاسه کړی دی او د اسلام د ټولو حقوقو څخه برخمن دی، يقيناً چې په اسلامي تاريخ کې داسې ارتداد هيڅ ساری نه لري، د جاهليت شخړې او نژادي بدبيني غربي افکار د يوې خوا عقيدوي مقدسات او اخلاقي پولې تر بريد لاندې نيسي او د بلې خوا د جاهليت او ناپوهي احساسات راپاروي، خلګ يو ځل بيا د تورو تيارو په لورې راکاږي او اسلام دا ډول احساسات په پوره توګه ردوي، هيڅوک تر نژادي پولو او ژبني محدوديتونو پورې نه راټولوي، مګر غربيان او د هغوی لارويان بيا وحدت د وطن پرستې، ملتونو او نژادونو په اساس ګڼي او د جاهليت ددې ټولو تعصباتو څخه دفاع کوي او په دې لاره کې جنګيږي، همدا ژبني او نژادي تعصبات د ژوند پر ټولو برخو اغيزه اچوي او تر بريد لاندې يې نيسي، نو د همدې لارې د نژاد پرستې حس د خپل نفوذ او قوت د امله په ټولو مذاهبو کې ريښې ځغلوي.

کله چې دا حس په ټولنه کې منګولې ښخې کړي، نو خلګ او ټولنې رالاندې کوي ، د پيغمبرانو (عليهم السلام) کوښښونه، دعوتونه او اسلامي عقيدې چې د بشريت د سرلوړی، برياليتوب او نيکمرغۍ لپاره يې راوړې دي او هغوی يې د جهالت د تورو تيارو څخه د رڼا په لور رايستلې دي، ټول د خاورو سره خاورې کوي، د خالق او مخلوق تر منځ اړيکه پرې کوي،هو! بيا همدا د جاهليت حس دومره پراختيا ومومي، تر دې پورې چې د ژوند په ټولو برخو کې واکمن سي، دين د عبادت يوه برخه او د رواج په ډول وګرځوي، چې په پايله کې نړۍ په مختلفو عقيدوي او جګړيزو ډلو وويشي، داسې اُمت دوی غواړي چې پر ډلو باندې يې وويشي.

د رسنيو د لارې د الحاد يعني بې دينۍ خپرول: په تعليم کې علمانيت مخکنۍ او خطرناک دی او په رسنيو کې ملحديت عام او شامل دی، نو ځکه تر هغه يې هم خطر زيات دی، ځکه د تعليم نصاب زرګونو خلګو ته وړاندې کيږي، مګر رسنۍ ميليونو خلګو ته وړاندې کيږي، چې تاثير يې هم زيات وي، ځکه د اوريدو، لوستلو او ليدو وړ وي، نو که چيرې پاک او د خير څيزونه وړاندې کړي، دا لوی اجر دی او که چيرې خرافات خپروي مثال يې د خبيثې ونې دی، متاسفانه په ډاډ سره ويلی سو: اوس مهال هم د رسنيو مختلف وسائل که کتاب اخبار

او مجلې دي، که تلويزيون دی، يوازي د فحشاء خپرولو په خدمت کي اخته دي د جرايمو خواته بلنه کوي، پر مځکه کي فساد خپروي د خلګو عقايد، اخلاق او آرزښتونه له منځه وړي، عقيده او اخلاق د اسلام بناوي او بنسټ دی، نو کله چي بنسټ ونړې دی، ساختمان به څنګه ودريږي؟ هغه څه چي زموږ په هيوادونو کي د رسنيو له خوا په خاص توګه د تلويزونو او راډيو له خوا خپريږي په ښکاره توګه غواړي د خلګو عقايد او اخلاق ونړوي، چي د هغوی د مسلسلو سريالونو، فلمونو، ډرامو او نورو پروګرامونو کي شوم اهداف پراته دي، ځيني يې بيانوم:

۱: په خلګو کي د بيګانه نارينه او ښځو کډ ژوند، بې حجابي، فحشاء او موسيقي رواجول.

۲: خلګ په کوچنيو مسائلو مصروف ساتل او د سترو مسئوليتونو څخه يې مخ ګرځول، خلګ د درس او تعليم څخه غافله کول، مثلاً: لوبو او ورزش ته دومره وده او تبليغات کول چي بالاخره ټول باندي مصروفه سي، د تعليمي، اقتصادي روزنيز ستورو پر ځای د موسيقۍ ستورۍ ټاکل، تر څو مسلمانان په عبثو ناروا فاحشو اعمالو اخته کړي او د اصلي هدف څخه يې مخ واړوي.

۳: ټول وخت د فکر مشغول ساتل ځکه ځيني ډرامې او سريالونه ډير وخت نيسي، د هغه د مسلسل ليدلو او تعقيب په فکر کي وي په دې توګه پخپلو واجباتو او مسئوليتونو کي پاته راتلل.

۴: د انجونو او ځوانانو د راتلونکي ژوند په اړه سوچونه او تشويشونه پيدا کيدل، په رسنيو کي د نارينه او ښځي تر منځ لهو لعب او خرافاتي مکالمې خبري چي ځوان نسل په ټولنه کي ناروا اړيکوته دعوت کوي.

۵: منکراتو، ګناهونو او فساد ته رسمي بڼه ورکول، عام خلګ داسي فکر کوي چي څه د تلويزيون او راډيو د شيطاني صفحو خپريږي، کيدای سي هغه مباح وي څه باک ونه لري العياذبالله ځکه هغوی ګمان کوي چي دا شيان خو د وخت د رژيم د واک لاندي ترسره کيږي، مګر هغوی خبر نه دي چي د دغو رسنيو هدف په ټولنه کي د فساد خپرول دي.

۶: په اخبارو کي درواغ ويل، پر خلګو بهتان لګول، په ځينو ډرامو او پروګرامونو کي پر خلګو باندي ټوکي کول.

۷: د صحي، تعليمي او ګټورو پروګرامونو پر ځای د لهو لعبو او عبثو شيانو خپرول، د بيګانه نارينه او ښځو تر منځ د عشقي کيسو بيانول، انجونو او ځوانانو ته د واده مخکي د عشق، اختلاط، د بيګانه سره ملګرتيا او ارتباط درس ورکول، د ذهن څخه يې د پاک اسلامي باعفطه او پاک لمني ژوند ايستل.

۹: د عامو خلګو د خطاء ايستلو لپاره د ځينو مذهبي پروګرامونو ځای پر ځای کول، تر څو عام خلګ باندي خطاء ايستل سي، چي په دغه تلويزيون او راډيو کي ديني خپروني لکه: د قرآن کريم تلاوت، د ديني پوښتنو جوابول او داسي نور څه خپرول، تر څو ددې په وسيله د خلګو غبرګون او مخالفت کم کړي.

کمونیزم

په شلمه (۲۰) سلیزه کي یو ډېر شمېر تعلیم یافته مسلمانانو کمیونیزم ډېر باب کړی وو، د دغو مسلمانانو لپاره کمونیزم د عدل او انصاف تر ټولو غوره نمونه وه، همداسي دوی ته کمونیزم د تمدن تر ټولو لویه لاسته راوړنه وه، دا نو هغه وخت وو، چي روسیه د وخت غالب او نړیوال قوت وو، دغو مسلمانانو په پوره شوق او ذوق سره په دې اړه لیکل پیل کړه، چي څنګه او ولي مسلمانان د کمونیزم منلو ته ضرورت لري او دا چي اسلام په اصل کي څومره ډېر کمونیستي فکره دئ، دوی قرآن کریم او احادیث هم د کمونیزم په رڼا کي تعبیرول، خصوصاً بیا د ذکات او صدقې آیاتونه چي وای د شخصي سرمایې پر ضد لاربښوني دي، واضح خبره ده چي په اسلام کي د شخصي سرمایې درلودلو اړخونه هم سته، مګر هغه د کمونیزم د مفکورې سره په ټکر کي وه، مسلمان کمونیستان فقهي ته په قهر سوه، هغه یې شاپاته، بې انصافه او بل څه نه، بلکي د الله سبحانه وتعالی د اصلي دین سرمایدارانه (کیپټلسټي) انحراف وبلی.

د دوی په فکر، پخوانیو علماؤو فقط خپل شخصي سرمایې او ګټو ته کار کوی، نو ځکه دوی فقهه اختراع کړه، تر څو خپل نظریات په خوندي کړي، کاري طبقه استعمال او وځپي، نور مسلمانان ددې دریځ پر وړاندي مبارز سوه، د دوی د استدلال خامیاني یې ورپه ګوته کړې او د علماؤو د تورنولو او بدنامولو دفاع یې وکړه، کله چي په علمي او اجتماعي محضر کي مات سوه، دغه کمونیستي مسلمانان کرار کرار نور هم افراطیان کیدل، تر هغو پوري چي اخیر به یې ټوله اسلام پرېښوی، ممکن په ذهن کي یې دغه پوښتني ګرځیدلي: آیا مارکس دعوه نه کول چي دین د رعایت نشه یعني دوا ده؟ ولي دغه سم روایتي مسلمانان د کمونیزم ښکاره عدلي نظام او تاریخي ماده پالني ته غاړه نه ږدي؟ په اصل کي به اسلام ستونزه وي.

مرتدین سوه، د اسلام غندل او ترټل یې شروع کړه، مسلمانان یې پسونه بلل، وایي دین یې په پټو سترګو منلی دی، سربیره پر دې دوی خورا لوړي آرزوګاني درلودې، چي په نږدې راتلونکي کښي به د کمونیزم رڼا پر اسلامي مروج لید لوري برلاسی سي، ټوله مسلمانان به د تنویر او نیکمرغی په لور رهي کړي، مګر د هغه وروسته د کمونیزم بازار ډېر ژر سوړ سو، روسیې سقوط وکړ، د شلمي (۲۰) پیړی په پای کي دا خلګ یا دا چي د څه په اړه یې لیکل او مبارزه کول، هیڅ چا په یاد لا نه راوړه، خوځښت یې لولپه د تاریخ په لښتي کي تیر سو، د نن عصر په ټولنیز عدل کي بیا لبرل مسلمان یعني غربي آزاد پاله یا په افغاني اصطلاح روښن فکر عیني برخورد لري، په ښکاره او ډېر تعارضي توګه خلګ فحشاء او سرکښی ته دعوتوي، په پوره سپین سترګی د علماؤو حیثیت تورنوي، د مسلمانانو په زړونو کي د سرګردانی او ګډوډی تخم پاشي، دوی هم عیناً د مسلمان کمیونسټانو پر تګلاره روان دي، الله سبحانه وتعالی دي دوی ته هدایت وکړي.

موډرنيزم

عصر پرستي يعني موډرنيزم اسلام ته ګواښ دی، عصر پرستي انساني نوعي او اصل ته ګواښ دی، مګر ددې د پوهيدو لپاره بايد لږ پخوا وخت ته ولاړ سو، په عمومي توګه مورخين شپاړسم (۱۶) پير د عصريت پيل رامعرفي کوي، په دې سليزي کي اروپا د ډيرو ګډوډيو شاهده تيره سوې ده، ځکه چي دا وخت ريفورميشن (مذهبي تجديدي انقلاب) په ډير شدت سره د عيسوي فرقو تر منځ اختلافات ټکنده کړه او بالاخره د دغو اختلافاتو څخه زيږنده، سيکولر دور رامنځته سو، جګړو، قبيله ګيری، ډيرو وينو او مرګونو د وخت پوهان د دين او کتاب څخه په منکره کولو کي پوره رول ودرلودی، نور دين ته د جهالت او عذاب د منبعې په توګه کتل کيدل، مګر د الله سبحانه وتعالی او کتاب تشه به څه شي ونيسي؟ د اخلاقياتو د تعين رول به څوک او څه شي اجراء کړي؟ د هستۍ او د انساني سرنويشت د علم اصلي منبع بل کوم شی کيدای سي؟ اولني عصر پالانو د دغه ماورالطبيي يعني غيري فزيکي او دنياوي صلاحيت لپاره خپلو دماغونو ته رايه ورکړه، استدلال يې کوی چي فقط مغزو چورت انسانيت ته هدايت کولای سي.

په عيني حال کي د رياضيکي علومو او د ائزيک نيوټن تجربوي فلسفي لاسته راوړنو مخکينۍ استدلال نور هم حمايه کوی، وايي: د فکر او تجربوي مشاهداتو په کار اچولو سره انساني دماغ خپله خدای جوړيدای سي، د دوی په نزد فکر د عقل، محاسبې او سپړلو نامحدوده لياقت درلود، وايي: د کاينات او انساني طبعيت رازونه به هم د يو معادلې په شان تعينيږي، فقط د وخت موضوع ده، العياذبالله، مګر د علم صلاحيت فقط انساني دماغ ټاکل د کيسې نيمه برخه وه، کوم څه چي فاني انسان د الله (جل جلاله) څخه جلا کوي فقط علم نه، بلکي ځواک او اقتدار هم دی، او ځواک هغه وخت وي چي خپل د اختيار د عمليتوب وړتيا وي، تر څو نړۍ د عيني اختيار مطابقه کړو. وايي: ددې کار د حصول لپاره مسلسله پرمختګ کوونکي او پيچلي ټيکنالوجي ښه کانديد دی. عصر پالو ته ټيکنالوجي د نامحدوده ځواک او اختيار په معنا وه او هم د خدای سره مشابه. بالاخره، وايي: هغه وخت رارسيدلی دی چي انسان خپل ځان خپل د عکس مطابق جوړ کړي. العياذبالله

دغه ناپايانه ځواک لاسته راوړل هم وايي: فقط د وخت موضوع ده، پر وخت باندي ټينګار د عصريت پالني مرکزي نښه ده او هم يې اصلي ځانګړتيا ده، دغه ځانګړتيا د دوامداره بدلون پالني يعني پرمختګ پالني څخه مراد دی، ددې اند له مخي څنګه چي وخت تيريږي، انسانيت د علم او ځواک له پلوه نور هم ښه او اصلاح کيږي، تمدن عقلانيت او اخلاقيات نور هم وده کوي، بالاخره هغه هر اړخيز بشپړ حالت او وضعيت ته ځان رسوي لکه ديندار چي يې د جنت په اړه تصور لري. د دوی په قول د سبا ورځي انسانيت د نن ورځي د انسانيت څخه غوره دی، د نن انسانيت د پرون يعني پخوا د انسانيت څخه غوره دی، دغه باور د ټولو موډرن افکارو د اساسي مادي بنه واخيسته او د عادي فرد او هم د روښن فکرو لپاره بلا شک و شبهې حقيقت وو.

دلته نو موږ د عصریت پرستۍ د ګواښونکي ماهیت اصلیت لیدلای سو، دوامداره بدلون او پرمختګ دا معنا لري چي بدلون خپل په ځان کي یو ښیګنه ده، برعکس ثابت حالتي بیا لویه بدکاري ده، که د بدلون پر وړاندي مقاومت وکړو، پر انسانیت یرغل دی، په همدې خاطر د موډرن پالۍ لومړی دښمن روایت دی، ځکه چي روایت ته ژمنتیا بدلون ته د مقاومت په معنا ده، هر ډول روایت د وخت په تیریدو ثابت پاته کیدل لازموي، روایت ته ژمنتیا دا معنا لري چي ددې روایت ځیني اصول د وخت څخه خپلواکه او همیشني دي، او دا چي ځیني آرزښتونه د تجدید یعني د وخت سره نوي کول نه دي، یو روایت ته د ژمن اوسیدلو لپاره پر تیر وخت تکیه کول حتمي دي، او دغه لازمیت په ذات کي روایت د عصرپالۍ سره په ټکر کي راولي، کلتوري، ژبني او خصوصاً دیني روایات په دوامداره توګه د موډرنیزم د نوښتونو او تجدید له امله د محوه کیدو تر ګواښونو لاندي دي، په موډرنه نړۍ کي دیني روایت ته هیڅ ځای نسته، عصري یا عصري سوي دینونه بیله دې چي د موډرنیزم سره بیعت وکړي، بل هیڅ آرزښت نه لري، تر هغه وخته چي چاري اغیزمني نه کړي، موډرنیزم همدغو دینونو ته زغم لري، مګر که چا موډرنیزم ته لږ بد هم وکتل او دین ته یې ترجیح ورکړه، بیا نو کفر دی.

اسلام ولي ددې تعصباتو سره مبارزه کوي؟

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پرته له کوم حکمت او مصلحت څخه د خپل ټول قوت سره ددې تعصباتو د مخنيوي لپاره په مبارزه لاس پوري کړ، او د هغه زياتيدو لاري يې په شدت سره بندي کړې، څکه داسي يو نړيوال او متحد دين ددې تعصباتو سره هيڅکله پاته کيدای نه سي، که چيري اسلامي کتابونو او سرچينو ته ځير سوو، ډير داسي دلائل مو مخ ته راځي، چي دا ډول تعصبات يې محکوم کړي، په ډيري سختي سره يې رد کړي دي، او اسلام خپله بيزاري ځيني اعلان کړې ده، که د اسلامي نړۍ تاريخ په هر اړخيزه توګه تعصبي او سياسي برخه يې تر مطالعې لاندي ونيسو، نو ښکاره به سي چي د جاهليت دا ډول تعصبات د بشريت د فساد او بربادۍ لوی لامل دی، څکه انسان ددې لپاره نړۍ ته راغلی دی، چي په عقيدوي لحاظ د ټولو انسانانو څخه يو متحد اُمت رامنځته کړي او ټول بشريت تر يو قيادت لاندي يو داسي قوت او لښکر ځيني جوړ کړي، چي پر الله سبحانه وتعالی ايمان او د يو بل سره پر ميني او محبت ولاړ وي.

که چيري رښتيا د انسانانو موخه همدا وي، نو د ازغنو بوټو پر ځای د امنيت او آرامي ګلبڼ وکري او د ټولو انسانانو تر منځ د ميني او الفت فضا رامنځته کړي، خپلو مينځو کي يې دومره سره خواږه کړي، چي هر يو يې د بل په درد دردمند سي، د بل په غم غمجن سي، او هيڅکله د تعصب پولي ته نژدې نه سي، تل به دا کوښښ کوي، چي ددې تعصب اثر له منځه يو سي، په اسلامي هيوادونو کي نژادي شخړي په ډير افسوس سره اسلامي نړۍ د اروپا د سياسي او فرهنګي يرغل له امله ددې پر ځای چي د جاهليت د نژاد پرستو په وړاندي مبارزه وکړي، د زړه له کومي يې ومنل، ځانونه يې وبايلل او غربي فکر يې د يوې عقيدې او تګلاري په توګه ومانه، نن ورځ په اسلامي هيوادونو کي مختلف ملتونه او توکمونه ددې زهرجنو او نجسو افکارو د پرمختيا او بيا راژوندي کولو په کوښښ کي دي، چي د اسلام سپيڅلي دين يې د وړاندي ډير سخت ترديد کړی وو، ټول هغه پوچ افکار چي غرب يې خپرول غوښتل له منځه وړي وه، او داسي يې نابود کړي وه، چي تر ننه يې هيڅ نښي او نښاني هم ښکاري نه دي.

تر ټولو لويه انديښنه دا ده، چي ځيني پريوتي او ذليله عناصر د نژادي روحياتو د بيا راژوندي کولو او د جاهليت د شعارونو په خپرولو کي ډير فعاليتونه کوي، دا خبره دومره په زور او ځوږ سره کوي، ګويا دوی غواړي چي د جاهليت د زماني بت پرستي بيرته راژوندی کړي او يو نوی رنګ ورکړي، اسلام د جاهليت د کلمې سره دومره نفرت او حساسيت لري، چي د کفر او شرک نومونه يې ورکړي دي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زمانې څخه مخکي دور ته د جاهليت زمانه ويل کيده، چا به د ډيره غمه نه سوای يادولای، مګر نن ورځ يې غرب ځيني جاهلان په ډير وياړ او افتخار سره يادوي او هر ملت غواړي، چي ځان د رڼا او پوهي څخه د تورو تيارو او جهالت يا د جهالت د تمدن په لور روان کړي، هغه جهالت چي د اسلام مبارک دين د هغه څخه خلاصون ته يې نعمت ويلی دی، او مسلمانانو ته يې لارښوونه کړې ده، چي ددې نعمت شکر پر ځای کړې.

په اسلامي هیوادونو کي د جاهلیت د زماني تاثیرات په ډیر تاسف سره باید ووایو: نن ورځ اکثره اسلامي هیوادونه او مسلمان ملتونه د غرب د فکري استعمار تر تاثیر لاندي راغلي دي، د اسلام څخه مخکي د جاهلیت زمانه لمانځي او هغه پخواني ناروا رواجونه او عادات بیرته راژوندي کوي او دا کوښښ کوي، چي د جاهلیت د مشرانو او پاچاهانو څخه د تاریخي شخصیتونو او مفکرینو په نامه یادونه وکړي، د دوی په اند د جاهلیت زمانه یوه طلایي دوره وه، چي اسلام دغه هیوادونه او ملتونه ځیني محرومه کړي دي. العیاذ بالله

درنو لوستونکو لږ فکر وکړی! او د انصاف څخه کار واخلی، آیا دا ډول انګیرنه او فکر د طبیعت خلاف نه دی؟ آیا دا ډول غلط استدلال د اسلام څخه د ناخبرتیا او ناپوهی دلیل نه دی؟ آیا دا د پیغمبر (علیه السلام) په سپیڅلي حریم کي بې احترامي نه ده؟ ربښتیا چي همدا ډول فکرونه ددې ښکاروندویي کوي، چي د کفر او جهالت بدي او قباحت مکمل د زړونو څخه وتلی نه دی، کفر هیڅ کفر نه ورته ښکاري او جهل هیڅ جهل نه ورته ښکاري، حقیقت دا دی چي داسي بې بنسټه او بې بنیاده خبري د خولې څخه راوځي، چي د یوه دیندراه مسلمان څخه یې هیڅکله تمه نه کیږي، د انسان زړه لړزوي او په بیره کي یې اچوي، داسي نه چي د دغه زهرجنو افکارو له امله د اسلام او ایمان د سپیڅلي نعمت څخه بې برخي نه سم او د قادر رب د قهر او غضب وړ ونه ګرځم، دنیا او آخرت به مي برباد سي.

په دین او اخلاقو کي بې غوري د کومو خبرو څخه چي پورته یادونه وسوه، د هغو پرته یوه بله فتنه چي اسلامي نړۍ په اخته سوې ده، هغه دا ده چي مسلمانان نن ورځ د مادیاتو او غربي تمدن د لاسته راوړو لپاره دومره کوښښ کوي، چي د دین او اخلاقو د ټولو پولو څخه پر تیریدلو هم دریغ نه کوي، یا په بله معنا دوی دنیا د آخرت په بدل کي غوره کړې ده، د دنیا په ژوند غولیدلي، د شیطان او خواهشاتو په جال کي راګیر دي، د همدې انحراف او بې لارۍ له امله ماده پرست او هوسا غوښتونکي خلګ په ګناهونو، فحشاؤ، فسادونو، شرابونو او زناوو کي ډیر په تیزي اخته سوي دي، د اسلام ټول حدودو یې مات کړي دي، او د خپل رب څخه بغاوت یې اعلان کړی دی، دوی د اسلام سره هیڅ اړیکه نه لري او یا دا چي آسماني احکامات هسي پخوانۍ کیسې او خبري بولي، د خپل ژوند د یو قانون او تګلاري په توګه یې نه مني، ددې فکر څخه موږ ته دا خبره راڅرګندیږي، چي دوی د اسلام د حقایقو او سپیڅلو احکامو څخه هیڅ خبر نه دي او د اسلام څخه مکمل پردي سوي دي.

په اسلامي نړۍ کي د جاهلیت ځینو ځپي د اسلامي نړۍ دې دردونکي حالت ته په کتو ویلا سو: د جاهلیت د شور او زوږ څخه ډکي ځپې دومره هیبتناکه دي، چي ټوله اسلامي هیوادونه یې په بې ساري توګه تر تهدید لاندي راوستلي دي، ځکه اسلامي نړۍ ددې څخه مخکي د داسي یوې قضیې سره مخ سوې نه وه، مصیبت دا دی چي دې لوی خطر ته ډیر لږ خلګ متوجه دي، دوی باید ددې وژونکي او وحشتناک طوفان په مقابل کي خپل ټول استعدادونه، قوتونه او وړتیاوي په کار واچوي او د مبارزې ډګر ته را ووځي.

که تیر تاریخ ته یوه کتنه وکړو، نو را ته څرګندیږي چي پر اسلامي نړۍ د بې دیني او الحاد (سیکولریزم) دغه طوفان د یوناني فلسفې د لاري یرغل کړی دی، په هماغه وخت کي د اسلامي فکر پوهان، د علم او پوهي څخه غني اشخاص، پیاوړي او په دیني احکامو کي پرمختللي علماء د دوی په مقابل کي د مبارزې او مقاومت میدان ته را ووتل، کله چي د باطنیه او ملاحده فتنې د مسلمانانو په منځ کي سر راښکاره کړ، نو د علم او حکمت په زغرو او وسلو سمبال علماء د دلایلو میدان ته راودانګل، د علمي دلایلو او منطقي جوابونو جګړه پیل سوه، غربي الحادي نظریات یې په نطفه کي خنثی او غابښ ماتوونکي جوابونه یې ورکړل، په هر حال اسلامي نړۍ په هغه وخت کي په علمي او عقلي لحاظ دومره قوي وه، چي د ګمراهیو، فتنو او بې دینیو په مقابل کي د مقاومت لپاره پوره چمتو وه، او کولای یې سول، چي د پیل ځای یې وروستی ځای وګرځوي او ساه اخیستلو ته یې پرې نږدي، نننۍ ستونزه اوس مهال تر ټولو مهمه مسئله دا ده، چي اسلامي عبادات، اخلاق او شعائر په لوی خطر کي قرار لري او د پردیو کلتور، عادات او رواجونه مخ په ډیریدو دي.

که څه هم ددې مخنیوۍ ضرور دی، مګر تر دې ټولو زیات مهم لا دا دي چي د دین بنسټونه او اساسات (شعائر الله) په خطر کي واقع دي، نن ورځ د ایمان او کفر خبر د بحث وړ دی، د الحاد او د توحید موضوع ښکاره کول په کار دي، بلـه دا چي آیا اسلامي نړۍ په اسلامي اصولو به همداسي پاته سي او که اسلام به ځیني ختم سي؟ اوسنۍ اصلي جګړه د اسلام، غربي فلسفې او مادیاتو جګړه، د ایمان او د فولاد، د شریعت او شهوانیت د حزب الرحمن او حزب الشیطان تر منځ جګړه ده، چي غربي ښکیلاګر او استعمارګر به دغه جګړه په مختلفو بڼو پر مخ بیا یې لکه: د غربي فکر کتابونو، مجلو، مقالاتو او ورځپاڼو خپرول، ځوانان د میني او عشق په نامه په زنا او فحاشي کي اخته کول، په نوي باسواده طبقه کي مادي او غربي تعلیم رواجول، د اسلامي د سپیڅلو احکامو او ارشاداتو څخه هغوی لیري ساتل، هیڅ آرزښت ورته نه ورکول، اسلامي مقدسات او شعائر بې مفهومه ورته ښکاره کول، د دیني علم او علماؤو سپک ګڼل او داسي نور... هلاکوونکي عادات راڅرګند سوي دي.

په اوسني وخت کي تر ټولو لوی جهاد: ای مخلصو سربښندنکو دعوتګرانو**!** د نن ورځي تر ټولو لوی او اړین جهاد دا دی، چي ددې فتنو او زهرجنو افکارو مخه ونیول سي، اسلام ته تر ټولو لوی خدمت دا دی، چي د نوي ځوان او باسواده نسل مینځل سوي ذهنونه، د اسلام، عقیدې، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رسالت، حقانیت او اسلامي نظام په اړه مطمئن کړي، داډمن جوابونه ورکړي، ټول هغه شکونه او شبهات چي ځوانان یې تر یرغل لاندي نیولي دي د منځه یو سی، په فکري او فرهنګي لحاظ اسلامي تربیت ورکړی، او په اسلام کي یې مکمل داخل کړی، د ټولو هغو افکارو، تصوراتو او خیالاتو په مقابل کي چي د جګړې لپاره را ولاړ سی، چي د خلګو په زړونو او عقلونو کي یې ځای نیولی دی، او پر ذهنونو یې واکمن سوی دی، او د هغو پر ځای اسلامي فکر او تصور ورکړی، ایماني احساسات یې راوپاروی.

پوره يوه پيړۍ تيريږي، چي اروپا زموږ ځوانان ښکار کړي او فکرونه يې ور تخريب کړي دي، د هغوی په ذهنونو کي يې د ارتداد، الحاد، په غيبو، آخرت او قيامت د نه ايمان لړلو تخم شيندلی او د خپلو سيکولر، سياسي او اقتصادي نظامونو په لوري يې رابللي دي، مګر دلته يو څه اندازه موږ هم بې توجهي کړې ده، د خپلو ځوانانو څخه غافله سوي يو او پر هماغو پخوانيو علمي ذخيرو، اسلوبو او تګلارو مو بسنه کړې ده، د نويو اختراعاتو، توليداتو او علمي څيړنو د وخت د اړتيا سره سم مو ګامونه نه دي پورته کړي، ددې پر وړاندي مو صحيح او د دين سره سم قواعد نه دي ايښي، په دې ټولو کي زموږ څخه غفلت او بې پرواهي سوې ده، تر اوسه په دې نه يو توانيدلي چي د سيکولريزم او نور غربي وارداتي فلسفې پوره تر څيړني لاندي ونيسو، تر څو منفي او مثبت اړخونه يې د ټولو خلګو په مخ کي څرګند سي، چي ساده لوحه او ناپوهه خلګ په خطاء نه ايستل سي، بله دا چي زموږ اکثره وختونه په بې ځايه بحثونو او مناقشو کي تيريږي، له همدې مسؤليتونو د نه احساسولو د امله زموږ اسلامي نړۍ د غرب غيږي ته پريوته.

د ايمان او سپيڅلي عقيدې بنسټونه مو په تزلزل کي سوه، نن ورځ د اسلامي هيوادونو واک د هغو نااهلو کسانو په لاسونو کي دی چي د ايمان او اسلامي عقيدې سره هيڅ اړيکه يې نسته، د اسلام او مسلمانانو په اړه پوره بې آرزښته او بې احساسه دي، يوازي ددې امله يوه اړيکه يې د مسلمانانو سره سته، چي هغوی هم د همدې ملت څخه دي، د همدې ملت په غيره کي را لوی سوی دی، د هغوی سياسي او اقتصادي ګټي يې دې ته اړ باسي، چي ځان بايد د خلګو په منځ کي مسلمان ښکاره کړي، د بې ديني غربي افکار، عادات، رواجونه د ادبياتو، ښووني او روزني، کلتور او رسنيو د لاري په ټولو خلګو کي نفوذ کړی دی، او ټول مسلمانان يې سخت زيانمن کړي دي، زه دا بيره لرم، چي هغه ورځ رانه سي، کوم چي د مسلمانانو اړيکي مکمل د اسلام څخه پرې سي.

د ايمان په لوري بيرته راګرځيدل په اوسني وخت کي د اسلامي نړۍ ډير ضرورت دا دی، چي نوی او عصري دعوت پيل سي او ددې نوي دعوت اساسي موخه به دا وي: راځئ چي نوی د ايمان په لور وګرځو، مګر يوازي پر دې شعار بسنه نه کوو، بلکي بايد پريکنده تصميم ونيسو او داسي فکر وکړو، چي په کومه موثره او دقيقه طريقه باسواده، پر حالاتو واکمن او نوی نسل د اسلام غيږي ته راوګرځوو، د غرب د نوي فکري يرغلونو د غلامي او محکوميت څخه يې راخلاص کړو، او هغوی د اسلامي ژوند د سپيڅليو اهدافو سره آشنا کړو، د اسلام دښمنان په خپلو نويو او پرمختللو وسايلو سره په نړيواله سطحه پلانونه او پروګرامونه برابروي، تر څو خلګو ته اسلام کم رنګه او وروسته پاته دين معرفي کړي، او مسلمانان ځيني زړه بدي کړي، بايد خپل ځوانان او باسواده ډله ددې ټولو پروګرامونو څخه خبره کړو، او د اسلام برم شان او شوکت وروپيژنو.

پنځم فصل

فکري جګړه

فکري جګړه هغه جګړه ده چي کفار يې د مسلمانانو د تسخيرولو او د هغوی د شريعت، عقيدې، فکر، عرفونو او عنعناتو، سلوک، اخلاقو او د ژوند د اسلامي بڼي د له منځه وړلو لپاره د ناپوځي وسايلو د لاري ددې لپاره پر مخ بيايي چي مسلمانان د خپل ځانګړي تشخص او پيژندګلوئ څخه محروم او په هر څه کي يې د غرب په تقليد اخته کړي، تر څو د کفارو په خلاف د جګړې تصور هم په ذهن کي ونه لري، په فکري جګړه کي د مسلمانانو فزيکي وجود هدف نه ګرځول کيږي، بلکي د هغوی دين، فکر، ټولنيز عنعنات، شخصي او اجتماعي اخلاق او رواني، روحي کيفيت د هدف په حيث تر ضربې لاندي نيول کيږي، ځکه دا هغه عوامل دي چي د ټولني افراد د خپل فزيکي او معنوي وجود څخه د دفاع او د يرغلګرو په مقابل کي د مقاومت لپاره د جګړې په صف کي دروي، مګر هر کله چي دغه عوامل په تدريج سره په سستماتيک ډول له منځه يوړل سي، بيا نو د دښمن په مقابل کي مقاومت په خپله له منځه ځي، چي په نتيجه کي دښمن د هر ډول مالي او ځاني تلفاتو څخه خوندي پاتي کيږي او هدف هم د جګړې پرته لاسته ورځي.

د تاريخ په اوږدو کي باطل هميشه د حق په ضد کي د فکري جګړې څخه کار اخيستی دی، چي څو بيلګي يې درته وړاندي کوم:

ابليس عليه لعنه د جنت څخه د حضرت آدم (عليه السلام) او بي بي حوا (عليه السلام) د ايستلو لپاره د فکري جګړې څخه کار واخيست، حضرت آدم (عليه السلام) ته يې ځان خواخوږی ښکاره کړ، قسمونه يې ورکړل، وسوسه يې پرې وکړه او خطاء يې باسل.

د باطل پلويانو هميشه د انبياؤو (عليه السلام) پر ضد د نظامي جګړې تر څنګ د فکري جګړې څخه هم کار اخيستی دی، معاذالله انبياء (عليه السلام) ته به يې پوچ ويل، د ليونتوب، کم عقلئ او ساحرتوب نسبت به يې ورته کاوه، د الله (جل جلاله) د لوري ورته را نازل سوي کتابونه، صحيفې او وحي به يې سحر، د ځانه جوړي سوي خبري او د مخکنيو زمانو نقلونه ګڼل.

په مکه معظمه کي د اسلامي دعوت د مخنوي په موخه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه د خلګو د ليري کولو په هدف د مکې د مشرکانو د لوري رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته د ليوني، ساحر، کاهن او مسحور ويل، د قرآن کريم د تعليم ممانعت، د قرآن کريم د لوستلو پر مهال شور ماشور، قرآن کريم د تيرو زمانو نقلونه او د ځانه جوړي سوي خبري ګڼل د دوی د فکري جګړې څخه وه، همدارنګه په مدينه منوره کي د يهودانو د لوري د مسلمانانو د تشکيک په خاطر د ورځي په سر کي مسلمانيدل او د ورځي په پای کي د اسلام څخه ګرځيدل.

همدا راز د صليبي جګړو د ماتي وروسته په عقيدوي ډول د مسلمانانو د ماتولو لپاره د صليبيانو د لوري د استشراق، تبشير او تنصير په نامه فعاليتونه د اسلام په ضد د دوی د فکري جګړې څخه وه، چي تر نن ورځي پوري روان دي، د اسلام او مسلمانانو لپاره د صليبيانو د عسکري جګړې په پرتله د دوی د فکري جګړې خطر خورا زيات دی، ځکه عسکري جګړه ښکاره وي، خو فکري جګړه پټه روانه وي، عسکري جګړه مځکه اشغالوي، خو فکري جګړه عقل، فکر او فرهنګ اشغالوي، عسکري جګړه جنګي وسائل، او ودانۍ له منځه وړي، خو فکري جګړه ايمان، عقيده عزم او اراده له منځه وړي، د عسکري جګړې د ورانۍ بيا ودانول لږ وخت غواړي، خو د فکري جګړې د ورانۍ بيا ودانول پيړۍ پيړۍ وخت غواړي، که عسکري جګړه د ټوپک، ماشندار د اوړې څخه د ويشتونکي توغندی، جنګي الوتکو او جنګي بيړيو په مټ مخته وړل کيږي، خو فکري جګړه د هغو وسايلو پر مټ ترسره کيږي کوم چي د انسان پر فکر اغيز کوي او فکر ته يې تغير ورکوي، صليبيان د فکر د تغير او تسخير لپاره زيات کار د رسنيو څخه اخلي، کفار د عسکري جګړې په پرتله د فکري جګړې څخه زياته استفاده او ګټه اخلي.

ځوانانو! د يو ځوان په صفت تاسو ځوانانو ته دا پيغام لرم چي نن وخت موږ الله سبحانه وتعالی په يو لوی امتحان کي راګير کړي يو، چي موږ د الله سبحانه وتعالی او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د پلويانو په صف کي دريږو او که د کفارو په صف کي دريږو، د کفارو ددې فکري جګړې په مقابل کي سپر سی، ددې مقابله په فکري جګړه سره وکړئ او داسي غاښ ماتونکی ګذار ورکړئ چي په راتلونکي کي هم د دوی آينده نسل عبرت ځيني واخلي او په دې وپوهيږي چي مسلمانان د عسکري جګړې تر څنګ په فکري جګړه کي هم نه ناکامه کيږي، د مسلمانانو خلاف د غرب لخوا د نظامي جګړې تر څنګ يوه بله پټه جګړه هم روانه ده چي خطر يې د نظامي جګړې څخه څو چنده زيات دی او هغه فکري جګړه ده، نو راځئ چي د غرب د فکري جګړې او يرغل څخه ځانونه خبر او د مقابلې لپاره يې ځانونه چمتو کړو.

د معاصر فکري جګړي تاريخ: د فرانس نهم (۹) بادشاه لويس يو څه وخت د مصر د المنصوره په زندان کي بندي وو، کله چي د پيسو په بدل کي آزاد کړل سو، نو د زندان په موده کي د يو سوچ وروسته يوه نوې لاره پيدا کړه، او هغه دا چي ده ويل: پر مسلمانانو باندي موږ د نظامي لاري هيڅ کله نه سو برلاسه کيدای، موږ بايد د مسلمانانو سره د عقيدې او د افکارو جنګ وکړو، کله چي آزاد سو، نو پاريس ته د ستنيدو وروسته يې خپل ملت ته وويل: که غواړی چي مسلمانانو ته ماته ورکړی، نو د مسلمانانو سره يوازي په اوسپنيزو اسلحو مه جنګيږئ، ځکه د مسلمانانو په وړاندي موږ ماته خوړلې ده، کيدای سي چي د عقيدې او د مذهب په جنګ کي تاسو بريالي سی، نو فکري جګړه د وخت مهمه اړتيا ده.

د فکري جګړې خطر: د غرب له طرفه فکري جګړه د غرب تر عسکري جګړې ډېره خطرناکه ده ځکه چې غربیانو په خپلو عسکري استعماري جګړو کې یوازې زیرمې غلا کولې، کورونه یې ورانول او خلک یې وژل، چې دې هر څه به د مسلمانانو په زړونو کې نوره هم د دوی په اړه کرکه زیاتوله، پر خپل اسلام به نور هم ټینګېدل، او د مقاومت لپاره به تیارېدل، که څه هم چې جګړه به په پېړیو پېړیو اوږده سوه، مګر د فکري جګړې خطر په دې کې دی چې دې جګړې مسلمانان د غرب په زهرجن تمدن ولړل په مسلمانانو کې یې الحادي نظریات، بې دینه فرهنګ او لویدیلي اخلاق خپاره کړل، نوی نسل یې د اسلامي مفاهیمو سره داسي ناآشنا کړ چې د اسلام شریعت، عقائد، تاریخ او تمدن هر څه ورته پردي ښکاري په هر څه کې د غرب په فلسفه او معیارونو باندي باور لري او تقلید یې کوي فکري جګړې یې وجدان او ضمیر ته داسي ماته ورکړې ده چې اوس د غرب هر څه حق او صحیح ورته ښکاري، د هغه خپلول ترقي، تمدن ګڼي او هر څه چې د غرب خلاف دي هغه ته ارتجاع، حماقت او بیرته پاته والی وایي. غرب د فکري جګړې په نتیجه کې په اسلامي هیوادونو کې داسي یو نسل رامنځته کړ، چې حکومتونه او د چارو واګې یې وروسپارل، د غرب د استعمار ښه ځای ناستي ثابت سول، د دغه نسل افکار، نظریات د ژوند اخلاقي، اجتماعي، سیاسي او اقتصادي فلسفه یې د مستعمرینو څخه هیڅ فرق نه لري، د مسلمانو پرګنو په ځپلو او تعذیبولو کي تر مستعمرینو هم ډېر سخت زړه دي، په فکري جګړه کې د مسلمانو هیوادونو دغه ماتي خوړلي نسل اسلام او اسلامي نړۍ ته دومره تاوان وروړساوه چې د چنګیز تر غمیزي وروسته هیڅکله هم په دې پیمانه نه وو ورته رسیدلی، دغه ماتي خوړلی نسل د مسلمانانو د ژوند ټول معیارونه پردي کړل.

د فکري یرغل یا د فکري جګړې وسایل: لکه څرنګه چې په فوځي جګړه کې فوځي وسایل لکه: فوځیان، ټانک، طیاره، بم، بارود، ګولی، ټوپک، فوځي استحکام، د ماهرو او روزل سویو فوځي افسرانو لخوا کاریږي، همداسي فکري جګړه کې فکري وسایل، لکه: معلم، کتاب، مکتب، پوهنتون، علمي تحقیقات، کتاب خانې، مجلې، اخبارونه، ژورنالیزم، اجتماعي علوم، ادبیات. صحي خدمات لکه: روغتونونه او کلینکونه. تفریحي وسایل، لکه: پارکونه، کلبونه، لامبو ځایونه، د سمندر ساحلونه او داسي نور... رسنۍ لکه: راډیو، تلویزیون، سینماوي، تیاترونه، انټرنت، سټلایت او د فلم جوړوني کمپنۍ. سیاست او سیاسي شخصیتونه او سیاسي احزاب، جنس او په هر څه کې د ښځي استعمال او دې ته ورته نور وسایل د ماهرو او روزل سویو خلګو لخوا په سیسټماټیک ډول کاریږي، دا ټول هغه وسایل دي چې فکر متاثره کوي، د ملتونو د فکرونو مسیر وربدلوي، او د کفارو لخوا په پوره مهارت سره د مسلمانانو په خلاف استعمالیږي، د اسلام او مسلمانانو په خلاف د فکري جګړې میدان دومره پراخ دی، چې د انساني ژوند ټول اړخونه یې نیولي دي او د غرب زرګونه موسیسې په کښي اخته دي.

د فکري جګړې اهداف: دغه پورته اهدافو د پوره کولو لپاره ډیر ډګرونه موجود دي، چې د هغوی د ډلي څخه ځیني عبارت دي له: دیني، سیاسي، فوځي، فکري، او اجتماعي ډګرونو څخه.

۱:ـ دیني ډګر: په دې ډګر کي مخلص علماء، مفتیان، اجتماعي دعوتګران یا شهیدان وي یا یې تاثیر له منځه وړي او په مقابل کي یې درباري ملایان، خطیبان چې د غرب د اهدافو لپاره کار کوي او رسنۍ هم په واک کي ورکوي، رامخته کوي یې، تر څو حقیقي اسلام د خلګو څخه پټ او هغه اسلام څرګند کړي، چې غرب او امریکا تشریح کړی وي.

۲:ـ سیاسي ډګر: په دې ډګر کي صحي مسلمانان چې د الله (جل جلاله) پر مځکه د الله (جل جلاله) قانون د الله (جل جلاله) په مخلوقاتو تطبیقول غواړي، مخه یې نیسي او په مقابل کي یې خاینین ایمان پلورنکي خرڅ سوي منافق خلګ رامخته کوي، تر څو د الله (جل جلاله) د نظام د قیام مخه ونیسي.

۳:ـ فوځي ډګر: په فوځي ډګر کي هغه بې وجدانه فوځیان رامخته کوي، چې ذهن او فکر یې د اسلام خلاف جوړ سوی وي، او ورسته د همدغه مسلطو فوځیانو په لاس اسلامي حرکات او هغه خلګ چې اسلامي فکر ولري، د همدوی پواسطه له منځه وړي.

۴:ـ فکري ډګر: په دې ډګر کي هم غرب د هغه اشخاصو او جهتونو تر شا دریږي چې د غربي ډیموکراسۍ، لبرالیزم، سیکولریزم او هیمونیزم لپاره کار کوي، تقویه کوي یې، سیاسي احزاب ورته جوړوي، واک ته یې رسوي او بالاخره د اسلامي مفکرینو مخه باندي نیسي.

۵:ـ اجتماعي ډګر: په دې ډګر کي غرب غواړي فلمي اداکاران، د ټولني لنډغر، کرکیټران، فوټبالران او داسي نور د ټولني لپاره نموني وګرځوي، تر څو نور خلګ د هغوی تقلید وکړي، همدا ډول هغه شکمنو بې هویته دخیلو اشخاصو ته اجتماعي موسیسې ورکوي، تر څو خلګ پر اسلامي موسیساتو بې باوره کړي، چې دا د غرب د لویو اهدافو څخه دي.

۶:ـ په غربي ملتونو کي د اسلام مخه نیول: ددې هدف د حصول لپاره کفري نړۍ د قرآن کریم پوهه د ټولني څخه ختمول غواړي، او په دې باندي یې ډیر خلګ په اسلامي جامه کي په کار اچولي دي، لکه څنګه چې د مکې کافرانو سره دا بیره وه او ویل به یې: قرآن کریم ته غوږ مه نیسئ.

۷:ـ د اُمت مسلمه په تاریخ کي شک پیدا کول: دا خو یا د تاریخ په کتابونو کي د ځانه لیکل کول، کوم چې د صلیبي دعوت کوونکو او د مستشرقینو کړني او کارونه دي، چې په دې سره راتلونکي نسل ته د اُمت مسلمه د عدل او د میراني تاریخ د جبر او ظلم تاریخ وړاندي کوي، او د اروپا تاریخ ته ښکلا ورکول، د اورپا د بریالیتوب نقطې ذکر کول، او یا د میډیا په ذریعه د خلګو ذهن ته د تیر تاریخ په اړه اشتباهات اچول.

۸: د موجوده اسلامي اُمت په اړه شک پیدا کول: زموږ موجوده حالت هم د مستشرقینو تر غشو لاندي دی.

د فکري جګړي ډګر:- د فکري او نظرياتي يرغل او جګړي ډګرونه په اصل کي ډېر دي، خو مهم يې دا څلور (۴) دي:- ۱: ختيځ پالنه / الاستشراق ۲: امپراتوريزم / الاستعمار. ۳: نړيوالزم/ العولمة. ۴: مسيحيت / التنصير.

۱:- استشراق:- د استشراق لفظ د شرق څخه اخيستل سوی دی، د اروپايانو په نيز شرق د دوو (۲) معناوو لپاره کاريږي:- ۱: هغه لور چي لمر څيني راخيږي. ۲: د روم د سمندر هغه خوا ميشت هيوادونه. و اولنۍ معنا ته په کتلو سره د شرق معنا هغه هيوادونه چي د اروپا په ختيځ کي پراته دي، نو په دې کي فقط آسيايي هيوادونو داخل سول، او دوهمه معنا ته په کتولو سره د اروپا په جنوب کي پراته افريقايي هيوادونه هم په کښي داخل سول.

اصطلاحي پيژندلګلوي يې عرب علماؤو داسي بيان کړې ده: د غربيانو د ختيځ اسلامي نړۍ تهذيب، مذهب، ادب، لغت، تاريخ، ثقافت او د عادتونو لوستنه استشراق بلل کيږي.

مستشرقين (ختيځ پاله): کوم څوک چي دغه لوړ ياد سوي کارونه کوي هغه مستشرق بلل کيږي، يا په بل عبارت مستشرق هغه غربي پوه ته ويل کيږي چي د خپل مذهبي تعصب او حسد پر بناء د ختيځ اسلامي علوم مطالعه کوي، ددې لپاره چي د دين و اصلي سرچينو ته لاس رسۍ ولري او دا دين پر خلکو باندي ګډوډ مشتبه کړي، د دين په عظمت او لويي باندي ګوتي پورته کړل سي.

د فکري او نظرياتي جګړو تاريخ دومره زوړ دی، څومره چي د حق او باطل تاريخ زوړ دی، يعنی له کومي ورځي څخه چي حق او باطل سره مقابل او مخامخ سوي دي، د هغې ورځي څخه د عکسري جګړو سره سم فکري جګړې هم پيل سوې، مطلب د الله سبحانه وتعالی بندګان د خپل پروردګار د لاري څخه د ګمراه کولو لپاره دسيسې او پلانونه د حضرت آدم (عليه السلام) د پيدايښت سره سم پيل سول او د هر نبي مخالفين په بيلا بيلو لارو او دسيسو د نبي په دعوت او بلنه کي خنډونه اچول، او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د نبوت سره سم دې کشمکش د يوې منظمي جګړي جامه واچول.

د مکې مکرمې دوران:- د مکې مکرمې کفارو د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د دعوت په مخکي د خنډونو اچولو لپاره د فکري جګړې په باب کي ډيري ناوړه کړني ترسره کړې، مطلب لکه:- ۱: د يو منظم شورا تشکيل. ۲: د الله (جل جلاله) په حق پيغام کي وسوسې او شبهات څرګندول. ۳: فاسد او بې ځايه تاويلونه کول. ۴: پروپاګند خپرول. ۵: پيغورونه ورکول. ۶: استهزاء يا ريشخند وهل. ۷: ذهني او بدني تکليفونه ور رسول. ۸: اخطارونه ورکول. ۹: کورنۍ فشار اچول. ۱۰: د منصب مال او د ښکلو انجونو طمع ورکول. ۱۱: ټولنيز خوابدتيا.

همدا راز هغه ټولي دسيسې او پلانونه وکارول سول چي باطل يې د حق په مخکي خنډ جوړوي، که فکر وکړو نو دا خبره به موږ ته څرګنده سي چي باطل تل د حق په مقابل کي دغه پورته يادي سوي کړني په نويو نويو شکلونو کي آزمايلي دي، په دې دوران کي د مسلمانانو له خوا جواب پر درو (۳) برخو ويشل سوی وو:- ۱: د الله سبحانه وتعالی سره

ژوري اړيکي او تعلق. ۲: د مخلوق خيرخواهي او نيک چلند. ۳: خپل علمي او عملي تربيت او روزنه جاري ساتل.

د مديني منورې دوران: په مدينه منوره کي د کافرانو د لوري فکري جګړه پر څلور (۴) ډوله ترسره سوې ده:- ۱: ټولنيزي شبکې کارول، چي په هغه وخت کي دا کار د شعرونو او تقريرونو د لاري مخته بيول کيدی. ۲: بحثونه کول. ۳: منافقت، نفاق يا دوه مخي کول. ۴: جاسوسي کول. په دې دوران کي مسلمانانو د هري دسيسې جواب ښه په کلکه توګه ويلی دی.

د خلفاء راشدينو په دور کي فکري يرغل: د دنيا څخه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د کوچيدو وروسته د اسلام پر ضد يوه نوې او تازه فکري جګړه پيل سوه، چي لامله يې ارتداد خپور سو، د ختم نبوت د عقيدې انکار وسو، ځيني قومونو د زکات ورکولو څخه ډډه وکړه، نو سيدنا حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) په کلک توکل استقامت او په ايماني جزبه سمبال عزم سره ددې فتنو د محو کولو لپاره ملا وتړل چي په ليږ وخت کي يې ټولي فتنې محوه کړې، د سيدنا حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په دور کي د اسلام دښمان په يوه برخه کي هم پرمختګ ونه کړای سو، نو حضرت عمر (رضي الله عنه) يې په شهادت ورسوی، د سيدنا حضرت عثمان (رضي الله عنه) دور په آخيري کلونو کي يو سخت ګمراه کوونکې فکري جګړه پيل سوه، چي د حضرت عثمان (رضي الله عنه) پر کردار او سيرت ګوتي پورته کړل سوې، په آخير کي دې فتنه ګرو په شهادت ورسوی، د سيدنا حضرت علي (کرم الله وجه) په دور کي چي د جمل او د صفين په نوم کوم جنګونه وسول لامل يې ددې فکري يرغل څخه متاثره خلګ وه، حضرت حسن (رضي الله عنه) د خپل فکر او تدبر په برکت مسلمانان يو ځل بيا پر يو امير سره را ټول کړل او د فتوحاتو نوې دروازه پرانيستل سوه.

د بنو اميه او بنو عباس دوران :- د حضرت امير معاويه (رضي الله عنه) د کوچيدو روسته د يزيد په دور کي د سيدنا حضرت حسين (رضي الله عنه) د شهادت پيښه رامنځته سوه، چي لامل يې د واکمنانو د بې تدبيري سره سره يو سازش او دسيسه هم وه، ددې پيښي لامله مسلمانان په کورني جنګ بوخت سول، او په اسلامي ټولنه کي د بيلا بيلو فرقو د رامنځته کيدو لامل سوه، د بنو اميه په دور کي پر قرآن کريم، سيرت طيبه، او پر احاديثو د عيسوي ملايانو د لوري ډير اعتراضات کيدل، مګر مسلمانان قطعاً ځيني متاثر نه سول، د بنو عباس په دور کي په شرعي علومو عقلي علوم را ګډ سول ځکه چي مامون الرشيد په خپل خلافت کي د يوناني فلسفې ګڼ شمير کتابونه راوغوښتل او په حکومتي سرپرستي کي ژباړه او نشر کړل، چي لامله يې ګڼ شمير مسلمانان اهل علم ددې فلسفې څخه د تاثر په بنسټ ګمراه سول، او معتزله ډله ځيني ويرېدل، مګر امام احمد بن حنبل، امام ابو الحسن اشعري، امام غزالي او نورو ګڼ شمير بزرګانو (رحمهم الله) ددې عقليت پرسته ډلي سخته مقابله وکړه او په علمي ډګر کي يې ماته ورکړه.

د فکري يرغلګرو د ناکامي اسباب:- که موږ تاريخ ته يو ځغلنده کتنه وکړو، نو موږ ويلای سو: په هغه وخت کي ځيني داسي اسباب شتون لرل چي د يرغلګرو د ماتي او د مسلمانانو د بريا لامل سول، لکه: د مسلمانانو د الله سبحانه وتعالی، رسول الله (صلی الله عليه وسلم)، کتاب الله او د نبي د سنت سره اړيکه ټينګه وه. فکري يرغلګر په علمي لحاظ کمزوره او بې نظمه وه، مسلمانان په ژور علمي وسله سمبال او منظم وه، مسلمانانو ته پر ټوله نړۍ سياسي غلبه حاصله وه، د هغه دور اکثره واکمنان په ديني غيرت او حميت ښايسته او د خپل دين په هکله ډير حساس وه، د مسلمانانو د کردار اخلاق او دلايل څخه خپله اشغالګر متاثره سول او د اسلام په دايره کي به داخل سول.

د صليبيانو د تاريخ هره پاڼه د مسلمانانو پر خلاف د دسيسو، جګړو، ورانيو او زړه بوږنيونکو جيناياتو څخه ډکه ده، موخه يې د استعماري او استکباري اهدافو د تحقيق لپاره د مځکي څخه د مسلمانانو ورکول، کفر ته اړول او يا تش په نامه مسلمانان ځيني جوړول، صليبيانو له مخکي څخه دا درک کړې ده چي د جګړو او بشر بوږنيونکو پلونو د لاري خپلو موخو ته نه رسيدلي يو او نه رسيدلای سو، نو ځکه يې د جګړې ناپوځي خطرناک ډول ته مخه کړې ده، د تاريخ په اوږدو کي باطل تل د حق په مقابل د فکري جګړې څخه کار اخيستی دی.

د فکري جګړې مهم هدف د ټولني ځوان نسل دی، غربيان غواړي ځوان نسل څنګه فحاشي ته مخ کړي، ددې لپاره دوی په ميلونونو پيسې د مدلينک په پروژه مصرفوي، تر څو ځوان نسل په شهوت پرستۍ اخته کړي، او د قوم پرستی چي د اُمت مسلمه لپاره د سرطاني ناروغۍ څخه خطرناکه ده اخته کړي، چي بدبختانه تاسو وليدل چي دوی په دغه برخه کي زيات ځوانان عادت کړل، حتی ځيني ځوانان دومره سرکښه سول چي الحاد ته يې مخه کړه دا د فکري جګړې هغه مرموز نقصان دی، چي ډير وخت وروسته به عام خلګ په خبر سي، د يو ځوان په صفت تاسو ځوانانو ته دا پيغام لرم نن موږ د الله (جل جلاله) په يو لوی امتحان کي راګير يو طرف دجال لښکر دی او بل طرف ته رحماني لښکر دی راځئ د رحمان د لښکر طرفدارن سو چي دنيا او اخرت مو ښايسته سي.

د فکري جګړې لومړنۍ ټارګيټ ځوانان دي، د اسلام او مسلمانانو خلاف د فکري جګړې لومړنۍ هدف مسلمان ځوانان دي، په همدې خاطر بايد ځوانانو ته ديني فکر ورکړل سي، په ديني روحيه وروزل سي، او د فکري جګړې د خطرونو څخه خبر کړل سي، که داسي ونه سي نو د مسلمان ځوانانو څخه به نر ښځيان جوړ کړي او فکر به يې داسي ور خراب کړي چي نه به د دين په درد وخوړل سي، نه به د دنيا درد وخوړل سي، نه به د خپلي کورنۍ، نه د خپلي ټولني او هيواد په درد به وخوړل سي، داسي نسل به ځيني جوړ کړي چي د حلالو او حرامو په نوم به څه نه پيژني او که يې پيژني هم نو هيڅ آرزښت به نه ورکوي، د ژوند هدف به يې يوازي عياشي، د ميني تر عنوان لاندي نامشروع اړيکي، شهرت او په هره طريقه پيسي ډيرول وي، دا که د دين، ناموس، وجدان او هيواد په قيمت هم وي.

ناست به دلته وي، مګر فکر او خواخوږي به يې د لندن، واشنګټن، پاريس، مسکو او تل ابيب سره وي، د آزادۍ، غيرت، ناموس، کلتور، حياء او حجاب په نوم به هيڅ نه پيژني، د قرآن کريم او حديث شريف تر خبري به ساينسي موضوعاتو ته ډير آهميت ورکوي، که څه هم ساينس په خپل ذات او حد کي مفيد او ګټور علم دی. د امام ابو حنيفه، امام بخاري، امام ابن کثير (رحمة الله عليهم) او داسي نورو تر وينا وو به د جان لاک، ايمانويل کانټ، سپينوزا، ژان ژاک روسو انشټياين، سټيفن هاوکينګ خبري ته ډير آرزښت ورکوي. د امانت، اخلاص، تقواء، تعهد او ديانت په نوم به څه نه پيژني، د خپل تاريخ، قهرمانانو، او مبارزينو څخه به سخت ناخبره وي، په خپل دين او کلتور به ملنډي وهي او په شرميږي به، د هر ظالم، طاغوت، اشغالګر په وړاندي به په سلامي ولاړ وي، د غرب د هر څه به دومره سخت مقلد وي، که چيري په غرب کي د لباس ايستل رواج سي او بيا غربي رسنۍ کمپاين ورته وکړي، نو دغه ځوانان به يې په ډير خوند خوړل شروع کړي.

شپږم فصل

نشنلیزم یا ملتپالنه

د نیشنلیزم تعریف: خپل قوم پر نورو قومونو غوره بلل او د قیادت حق د خپل ځان لپاره راخپلول.

د نیشنلیزم تاریخ: نیشنلیزم د جاهلیت د وخت په عربو کي موجود وو، مګر د معاصر نیشنلیزم بنسټ د المان نازي حکومت په ۱۹۲۹م کال کي چي مشر یې ادولف هټلر کوله کښیښود، چي تر دوو (۲) لکو پوري یهود یې ووژل.

اسلامي نړۍ ته نیشنلیزم په شلمه (۲۰) مه پیړۍ کي د یو نوي دین په حیث را داخل سو، د اسلامي نړۍ یو لوی مدافع عثماني خلافت یې له منځه یو وړ، نیشنلیزم په افغانستان، پاکستان، عربي هیوادونو او نورو ټولو اسلامي مملکتونو کي په سپیڅلتیا قایل سوو.

د نیشنلیزم اصول یا ارکان:- نیشنلیزم پنځه (۵) بنسټونه لري:- ۱: مشترکه ژبه. ۲: وطن یا خاوره. ۳: مشترک تاریخ. ۴: مشترکي ګټي. ۵: مشترکه وینه. مفصله تشریح یې په لاندي ډول ده:

۱:- مشترکه ژبه: نیشنلیستان په دې باور دي که هر څوک زما په ژبه غږیږي هغه زما دوست او زما ورور دی او د هغه مصلحتونه ماته تر هر چا مقدم دي، هغه که مسلمان، یهودي، عیسوي یا که هندو وي او په مقابل کي که هر څوک وي چي زموږ په ژبه نه غږیږي د هغوی سره کوم تړاو نه لرو هغه که مسلمانان هم نه وي.

۲:- وطن یا خاوره: په دې معنا په کومه مځکه کي چي زه اوسیږم که په دې مځکه کي هر څوک اوسیږي هغه که هندو وي، عیسایي یا مجوسي وي، هغه زموږ ورور دی او هغه څوک چي ددې قلمرو څخه بهر وي، هغه که مسلمان ان اهل بیت هم وي هغه زموږ هیڅ نه دی، تر دې پوري چي نیشنلیستان وطن یا خاوري ته د یو معبود او خدای په حیث ګوري او وایي: دا وطن مي لیلا ده، سرحدات یې مقدس شمیرل کیږي او د سرحد هغې خوا ته مسلمانان پردي حسابوي.

۳:- مشترک تاریخ: نیشنلیستان وایي: هغه څوک چي موږ سره یې تاریخ شریک وي، هغه زموږ ورونه دي، خیر دی که اوس په یو او بل نوم یادیږي او یا په بله خاوره کي اوسیږي، دغه مشترک تاریخ که د اسلام له مخه وي یا وروسته دوی ته محترم دی.

۴:- مشترکي ګټي: نیشنلیستان وایي: خیر که یو څوک داسي دی چي ژبه، تاریخ او خاوره یې زموږ سره شریکه نه ده، خو موږ یو د بل سره متبادلي او ستراتیژیکي ګټي لرو، نو هغه زموږ دوستان دي که څه هم هغه پر نورو مسلمانانو د ظلم اور بل کړی وي، ځکه نو اوس د اسلامي نړۍ حاکمان وایي: دا غربي ځواکونه چي زموږ هیوادو ته راغلي دي، دوی زموږ دوستان دي ځکه چي موږ یو د بل سره ستراتیژیکي سیاسي، اجتماعي او اقتصادي ګډي ګټي لرو او هغه څوک چي مبارزه ورسره کوي، دوی پردي، ددې خاوري دښمنان او خاینین دي اګر که دین یې هم زما سره یو وي.

۵:ـ مشترکه وینه: دوی وايي: که د يو چا سره د دوی وينه په تاريخي لحاظ ګډه وي هغه دوستان بولي، هغه که د جرمني، يهودي يا شوروي وي، حال دا چي زموږ خوږ نبي حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د اسلام په خاطر د خپلو اکا زامنو او خپلوانو سره جنګيدلی دی.

نتيجه: د نيشنليزم په دغو اصولو کي دين نه ځايېږي، ځکه که چيري په دې کي دين او عقيده داخل سي، نو دا اصول بيا په خپله له منځه ځي ځکه چي په دين کي مساوات او يو يوالی دی.

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د حجة الوداع په خطبه کي وفرمايل: هيڅ عرب پر عجم او عجم پر عرب سپين پر تور او تور پر سپين کوم فضيلت او لوړوالی نه لري، مګر په تقوا سره.

نو له همدې امله نيشنليزم د اسلام سره اړخ نه لګوي دا يوه اسلام ضد مفکوره ده چي دا لوی اُمت يې ټوټه ټوټه کړی دی، که نشنليزم منې، نو د الله سبحانه وتعالی پر ډيرو حکمونو او د اسلام د ولاء او براء پر عقيده به پښې ايږدې. همدا د استقلال مفهوم وو، چي اُمت يې په سياسي، جغرافيوي او احساساتي شکل سره وويشه، د دولت ملت هغه مفهوم چي په اروپا کي زيږيدلی وو، هلته يې رشد کړی وو، هماغه يې پر اسلامي خاوره ور وتپی، د اسلامي خاوري هري کوچنۍ ټوټې ته يې ځانګړې جغرافيه، قوانين، افتخارونه، بيرغ او ملي ګټي تعريف کړې، د هماغه له امله يې د نور اُمت څخه جلا او آن پر اسلامي خاوره هر ملي دولت يې د بل ملي دولت سره په ستونزو اخته کړ، همدې ښکلاکګرو کفارو ته ددې زمينه برابره کړه چي د اسلامي خاوري پر هره ټوټه داسي لوبي وکړي، چي زړه يې غواړي، نور بايد نشنليزم، ملتپالني او ملي وطنپالني ته نه ووايو.

هغوی چي د وطن پالني فکر لري، د مسلمه اُمت د خير تمه نه سي ځيني کيدای، همدوی د مسلمانانو د يووالي لپاره ستر خنډ دي، لطفاً د اُمت په سطحه فکر وکړئ، نه د ملت که د اسلام سياسي ترمينالوژي ته سر ورښکاره کړی، هيڅکله به هم د ملتپالني آرزښتونه په کښي پيدا نه کړی، زموږ هويت اسلام دی، زموږ سرحد يوازي د کفر سره دی.

اصلي سرحد د عقيدې تر منځ وي: صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه) به ويل: اصلي سرحد د عقيدې تر منځ وي، نه په خاورو او منطقو کښي، پر کومه خاوره چي د مسلمانانو واکمني وي، هغه اسلامي خاوره ده، او کومه خاوره چي د مسلمانانو د واکمني څخه وتلې وي، هغه بهرنۍ خاوره بلل کيږي.

ملتپالنه او قومپالنه د اُمت لپاره خواږه زهر دی، زه ولي تر (زه) يعني خپل وطن، خپل قوم، خپلي ژبي، خپلي خاوري او داسي نور څه پوري محدود يم؟ زما په څير بل مسلمان هم همدا احساس لري او تر ځانه محدود دی، ولي هغو سيمو ته چي بايد آزادانه ورتللای نه سو ورتلای؟ آن هغي خاوري ته چي د مقدس اسلام وړانګي ځيني راپورته سوي دي، هم بې اجازې نه سو ورتلای، مسلمانان ولي په افغاني، ايراني، عرب، پاکستاني، سوريايي، ترکي او داسي نورو... نومونو جلا سوي دي، حال دا چي د وحدت پريمانه ګډ ټکي هم لري؟

نشنلیزم حرام دی، مګر زموږ عوام او ځیني دیني علماء نشنلیزم څخه ابتدایه تصویر لري، نشنلیزم د پښتون او د تاجک تفرقه نه ده، نشنلیزم د اسلامي اُمت تفرقه ده چي په ملتونو او هیوادونو ویشل سوې ده، نشنلیزم ملتپالنه ده چي مظاهر یې: ملي دولت، ملي پولي، ملي سرود، ملي منافع، ملي بیرغ او داسي نور... دي. خپل عقل ته مو فیصله پریږدئ، آیا موږ مسلمان اُمت باید هغه ۱۳۴۰ هـ ق کلونه هیر کړو چي په هغه کي موږ یو موټی او یو متحد ملت وو او په هغو سلو (۱۰۰) کلونو باور وکړو چي د غرب لخوا په خیالي پولو او سرحدونو ویشل سوي یو؟ هو! دا د شعور او عقیدې جګړه ده. دا زموږ عقیده ده چي مسلمانان ټول سره ورونه دي، کله چي وروروګلوي سوه، بیا فرضي او جغرافیوي کرښي/ حدود معیار نه سي ګرځیدای، د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۴ او ۲۰۱۸ میلادي کلونو پوري د سوریې، عراق، یمن، سومالیا او نورو افریقایي اسلامي هیوادونو وضعیت مطالعه کوو، که موږ نور واقعي مؤمنان هم د خپل ځان او بدن اجزا ګڼو، نو هغوی سره د مرستي په موخه باید خپله پالیسي داسي تنظیمه کړو، چي نه د پخوانیو ستونزو د تکرار شاهدان واوسو او نه د یوه اتحاد د نشتون خلا په عملي توګه حس کړو، شرایط پیچلي دي، نړۍ او اسلامي هیوادونه ټول یوې خوا ته دي او د نړۍ ظالم کفار بلي خوا ته دي.

د وطن مروج کاذب تعریف د غرب د لوري سوی دی او په اسلامي هیوادونو کي پیچکارۍ سوی دی، چي په بیلا بیلو ټوټو ویشل سوی دی، مګر اسلام یې د دارالسلام د زاویې څخه تشریح کوي، چي سرحدات یې یوازي د کفر او اسلام تر منځ ټاکلي دي، مسلمان ته دوست او دوښمن د ده عقیده ټاکي، ټولنه، رسنۍ، غربي ثقافت او احساسات یې نه ټاکی. عقیدې موږ ته مسلمان دوست او کافر دوښمن معرفی کړی دی، مګر دا نور موږ ته کافر دوست او دوست راته دوښمن معرفي کوي، په همدې خاطر نن ورځ په نړیواله کچه عرب، عجم، عجم، عرب، افغانۍ، پاکستانۍ، ایرانۍ او ترکۍ بیا مصرۍ د ځان دوښمن بولي، دا ټوله هغه وخت د یوه اُمت غړي جوړیږي چي یو ځل بیا یو نړیوال اسلامي دولت یا خلافت ایجاد سي.

نن چي د اسلامي اُمت یادونه کیږي، په داسي یو حالت کي کیږي چي اصلاً محتوا او واقیعت یې چاته نه معلومیږي، ځکه د دغه اُمت بچیان په هره ملي جغرافیه کي په یو داسي ثقافت سره تربیه کیږي چي د اسلام سره یو سلو اتیا (۱۸۰) درجې په ټکر کي راځي، موډرنیزم، لیبرالیزم او نشنلزم د پرمختګ معیار نه سي کیدلای، بلکي موډرنیزم د فحاشۍ، بربنډتوب او بې لارۍ معیار دی، د پرمختګ اصلي معیار حجاب او حیاء، تعیلم او تعلُم، کار او تجربه، او کار و اهل کار ته سپارل دي، اکثره نوي ځوانان خارج ته د همدې مقصد لپاره ځي چي هلته پرمختګ، تعلیم او زده کړي وکړي، مګر بالاخره په سلو کي اته نوي (۹۸) سلنه یې د الحاد، نشنلزم، سوشلزم او موډرنیزم ښکار وګرځي، الله سبحانه وتعالی دي زموږ د ځوانانو حفاظت وکړي، ملت پالنه او قوم پالنه د هر انسان لپاره زهر دي، کفر تل هڅه کوي چي مسلمانان پخپل منځ کي وجنګوي، د مسلمانانو په زړونو او فکرونو کي د اسلام له منځه وړل غواړي، په همدې خاطر د هر هیواد لپاره یې یو جلا او رقم په رقم بیرغ پالنه، قوم پالنه او ملت پالنه رامنځته کړې ده، تر څو مسلمانان یو د بل څخه لیري اوسي، یو د بل په حال ناخبره اوسي.

اسلام د اولي ورځي څخه يوازي نه د عربو وو او نه دی، اسلام زموږ ټولو مشترک دين دی او موږ يو واحد اُمت يو، نشنليزم او ملت ګرايي د اُمت د جدايي اساسي عوامل دي، که خبره د وطن، قوم او کورنۍ وای، نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) به هجرت نه کولای، نه به يې مکه فتحه کولای او نه به د ابولهب څخه جلا سوی وای، دا دين د اوله څخه نړيوال وو، نړيوال دی او دوباره به بيا هم نړيوال کيږي. انشاءالله، حضرت بلال (رضي الله عنه) حبشي يو غلام وو، مګر جنتي دی، ابو جهل په عربو کي سردار وو، مګر جهنم ته ځي، مطلب دا چي نسب آهميت نه لري. حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) عرب وو، محمد الفاتح (رحمة الله عليه) ترک وو، او صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه) کردی وو، ذکر سوي اشخاص د اُمت د تير برم اتلان او قهرمانان دي، مطلب دا چي اسلام د ټولو مشترک دين دی. امام بخاري د بخارا، امام مسلم د نيشاپور، امام ابن حبان د بوست، ترمذي د ازبکستان او نسايي د ترکمنستان وو، ذکر سوي اشخاص د حديثو د علم متخصيصين او لوی علماء بلل کيږي، مطلب دا چي مسلمانان سرحد نه لري.

نن ورځ د اُمت نوی نسل په هره ملي جغرافيه کي په داسي ثقافت تربيه سوي دي او تربيه کيږي چي د نور اُمت سره يې اړيکه پرې سوې ده، د اسلامي اُمت واقعيت يوازي د تاريخ په توګه ورياديږي، همدا وضعيت ددې سبب سوی دی، چي نسل پر نسل د اُمت مفهوم، د اُمت د مرګ او ژوند قضيه، د اُمت بنسټيزه او برخليک ټاکوونکې ستونزه اصلاً ونه پيژني. خپلي ټولي چاري بايد اسلام ته وسپارو، که خپلي ټولي چاري د اسلامي سرچينو پر بنسټ تنظيم کړو، نو ډير ژر به پياوړي، ځواکمن او مفکر اُمت سو، د فاسدو او غلطو مفکورو يعني نشنليزم، ملي فکر، ملي بيرغ، بشر حقوق، ملګري ملتونه او د داسي نورو د امله به نه بې لاري کيږو، په بدل کي به يې يو ايډيولوژيک بديل او حل لاره ولرو او له دې لاري به وکولای سو حاکم نظريات، مفکورې، باورونه او نظامونه ونګوو، ځکه اسلام ددې لپاره راغلی دی، چي د نړۍ حالت بدل کړي او پر واکمن سي، نه ددې لپاره چي اسلام بدل سي او محکوم سي.

د شريعت له مخي ملي بيرغ، ملي هويت او ملي سرود حرام دی، او د تاريخ له مخي د استعمار نښې دي، همدا د دولت ملت مفکورې نتيجه ده چي نن ورځ افغانستان ته اسلامي ممالک لاس نه سي ورکولای، د يغور مسلمان ته ترکي مسلمان، د فلسطين مسلمان ته مصري مسلمان يعني يو مسلمان بل مسلمان ته لاس نه سي ورکولای، د سلطان عبدالحميد په وخت کي په روم شرقي کي د يوې مسلماني ښځي څخه پوړنۍ کشيږي، د همدې قضيې له امله ټول شرقي روم فتح کيږي، مګر نن ورځ د داکتره عايفه صديقې مسلماني زنداني خور په هکله مسلمان دولتونه پوښتنه نه سي کولای، دا ځکه چي په همدغو استعماري هويتونو کي چي ملي بيرغ، ملي ګټي، ملي جغرافيه او داسي نورو... کي راګير دي، د ملي هويتونو لاندي هره قرباني، هر زحمت او هر کوښښ کول حرام دی، او ګبيره ګناه ده.

فکري پانګه د يو اُمت لپاره څومره آرزښت لري؟ د يو اُمت تر ټولو لويه شتمني د هغه فکر يا ايډيالوژي ده چې په خپل ژوند کي يې لاسته راوړي او راتلونکو نسلونو ته يې د خورا لويې او آرزښتمني ډالۍ په توګه پريږدي، که هره ټولنه داسي حالت ولري، نو ويلای سو چې دا ټولنه په روښانه فکر سمباله ده، فکر د مادي پانګي، علمي اکتشافونو او صنعتي نوښتونو بنسټ دی او دا نوښتونه د فکر ځای نه سي نيولای، حتی دغو پديدو ته رسيدل او ساتنه يې فکر ته اړتيا لري، هره مفکوره او نظم چې د اسلامي اُمت تر منځ د تفرقې سبب کيږي، هغه حرام او مردود دی، چې په اوس وخت کي ملي مفکوره، ملي آرزښتونه او نړيوال دولت يا ملت نظم، واحد اسلامي اُمت يې په سياسي او جغرافيوي لحاظ ويشلی دی، نو اړينه ده چې اسلامي اُمت او د اُمت د ځواک او زور خاوندان ددې خطرناکي مفکورې او نظم په درک سره په اسلامي خاوره کي موجودي سرطاني کرښي او سرحدونه مات کړي، دا مفکوره رد کړي، د يووالي او د نړۍ د قيادت په طرف ولاړ سي، تر څو يې عملاً پر الهي رسۍ منګولي لګولي وي، او پر موږ ټولو لازمه ده تر څو ددې ناوړه چل او ﭘريب څخه ځان وژغورو او د اسلام په پرمختګ کي فعاله ونډه واخلو، همدارنګه اسلام دوه (۲) بيرغه لري چې يو يې تور او بل يې سپين دی، بايد ټول مسلمانان له همدې دوو (۲) بيرغونو څخه استفاده وکړي او دا غربي مفکورې د خپل ذهن څخه وباسي.

دغو درو (۳) کسانو هر يو لکه: سايکس د انګلستان څخه، پيکو د فرانسې څخه او شاه عبدالعزيز د انګلس مزدور د سعودي څخه اسلامي خاوري پر څو کوچنيو هيوادونو تقسيم کړې، هر هيواد ته يې ځانګړی بيرغ او پولي يعني سرحدونه وټاکل.

په ۱۹۱۶م کال برتانوي نماينده سايکس او فرانسوي نماينده پيکو د روسې په خوښه عثماني خلافت ړنګ او په مختلفو برخو يې تجزيه کړ، چې په نتيجه کي يې هر هيواد ځان ته ملي بيرغ، ملي جغرافيه يا پولې، ملي سرود، ملي ګټياو داسي نور رامنځته کړل، يعني ددې مفکورو بنسټ ايښودونکي دوه (۲) کافرانو سايکس او پيکو وه، اوس د يو مسلمان په توګه ووايئ: موږ بايد د کومو هويتونو څخه دفاع وکړو، هغه چې دوو (۲) کافرانو سايکس او پيکو راته رسم کړي او که يا هغه چې الله (جل جلاله) او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې راته راښوولي دي.

زموږ د وطن پولې او سرحدات د سايکس پيکو پر لاس ترسيم سوي دي، مځکنۍ پولي او سرحدات نه دي، چيري چي د توحيد کليمه ويل کيږي هغه زموږ وطن دی، که د نشنليزم څخه متاثره تش په نوم علماء، نشنليان او داسي نورو... چې د وطن کوم تعريف کړی دی، د همدې تعريف پر اساس ته ورسه په ترکيه، تاجکستان، ازبکستان او داسي نورو هيوادونو کي بغير له پاسپورټ څخه وګرځه، بيا موږ منو چي حقيقت وايي. زموږ د وطن سرحد زموږ د کلمې طيبې سرحد دی، مګر دا چي نن موږ پورته يادو خاورو کي بغير د هغه هيواد د ډيموکراټيکو نظامونو د پاسپورټ څخه نه سو ګرځيدلای، دا پر دې دلالت نه کوي چي موږ دي نعوذبالله د (لااله الاالله محمد رسول الله) سرحد مات کړو، بلکي د همدې مبارکي کلمې غوښتنه دا ده چي هلته د ډيموکراسۍ، جمهوريت، کفر او شرک نوري حاکمي فتنې بايد ماتي سي، مګر

کم همته او بې همته خلک تل د نورو باطلو عقایدو او افکارو ته تسلیمیږي، هغوی چې کوم اصول او قواعد ورته وضعه کوي د الله سبحانه وتعالی د لوري ورته د وضعه کړو اصولو او قواعدو خلاف یې پیروي او اطاعت کوي.

د مسلمان ژوند او د ټولو کفري او باطلو عقایدو او افکارو سره مقابله داسي سره تړلې ده چې هیڅ بیلتون یې نسته، نو پر همدې اساس وایو: د هر ډول باطل خلاف مبارزه زموږ دیني مسوولیت دی او باطل ته تسلمیدل د اسلام د مبارک او غیرتي دین د اساساتو سره اړخ نه لګوي، غرب یو رنځور أمت غواړي تر څو چې خپلي دواوي پر وپلوري، فقیر او بیوزلي أُمت غواړي، تر څو خپل خواړه پرې خرڅ کړي په جګړو او شخړو کي اخته أُمت غواړي تر څو خپل وسایل او وسلې پر وپلوري، یو تیت او پرک أُمت غواړي، تر څو خپله بقا یې تضمین کړي.

څوک چي د سایکس او پیکو، ډیورنډ او مکمهان په سرحداتو ایمان لري، هغوی دي د اسلام دعوه نه کوي، موږ هغه واحد أُمت یو چي ابوبکر یې عربي، بلال یې حبشي، سلمان یې فارسي او صهیب (رضي الله عنهم) یې رومي دی، موږ به یو ځل بیا راټولیږو، خپلي لښکري به منسجموو، خپل آسونه به د فرانسې پر سرحداتو کي په دمه کولو سره په ښیرازه اندلس کي پیایو، د ققفاز زمری به د خراسان د شاهین سره جوړه د فلسطین پر لور یون کړي، د صلاح الدین بتاري توره به د حطین یادګار په تازه کولو پر اقصی د زنګي ممبر او اسلام توغ نصبوي، د اقصی ویالي به د یهودو په وینو خړوبوو او حریت تاج به ور په سر کوو، د صلیبي نړۍ څخه به بیرته خپلي خاوري نیسو، یو ځل به بیا د بربري ګوربت لښکرو پر مټ د مدیترانې څخه په تیریدو خپلي کښتۍ سوځوو، د جبل الطارق څخه پر یون به د قرطبې د لوړو منارو د تکبیر ملکوتي انګازې اوچتوو، د عقبه بن نافع آس به بیا د انتلانتیک څپې څیري کوي، پر کاشغر به د اسلام سپیځلی توغ خپلي وزري غوړوي، د هندي راجه ګانو څخه به د خپلي ناهیدې، او د صلیبیانو څخه به د خپلي عافیې خور د هر آه په بدل کي د دوی سرونه د بدنونو جلا او دنګ دنګ برجونه یې پرې رانړوو، د عثماني بحري ځواک پر مټ به اروپایي اتحادیه نړوو، د اسلام د آسمانه به هیڅ یوه طیاره او د اسلام د بحره به هیڅ کومه کښتۍ بې اجازې قدم نه سي اخیستلای، بیا به د مدیترانې او اتلانتیک طوفاني څپې د باربروسا فاتحو کښتیو تابع وي، رهبران به مو د وریځو سره خبري کوي، سویز، هرمز، باب المندب او درد نیل نړۍ وصلونکي کانالونه به د اسلام په واک او عایدات به یې بیت المال ته راځي، موږ به د پیاوړي حربي صنعت په لرلو سره د نړۍ برلاسی ځواک یو، هوایي او بحري قوتونه به مو د أُمت آمنیت تأمینوي، نړیوال اقتصاد به مو د اسلامي شریعت پر اساس د عروج، پراوونه وهي، او بانکي سیستم به د اسلام تابع وي، موږ به په خپله اسلامي نړۍ کي پرمختللي او پر عصري وسایلو د سمبالو پوهنتونونو، تحقیقاتي مراکزو او روغتونونو په لرلو أُمت ته داسي نخبه اشخاص وړاندي کوو، چي أُمت مو پر ځان بسیا او غربي منافعو پر وړاندي فولادي دیوالونه وي، امریکایي مسلمان به مو نژدې ورور مګر کافر عرب به مو سرسخت دښمن وي، سپین به پر تور، ترکی به پر افغان او عرب به پر عجم بهتر نه وي، بلکي هر څه به د تقوا او استعداد په تله تلو، اسلامي نړۍ به مو هیواد وي، تذکیره او نشنلیټي به مو (لا اله الا الله) وي، معیار به راسخه عقیده، تقوا او ایماني هوډ وي، د اندونیزیا تر مراکشه او د شرقي ترکستانه تر هندوستان به یو خلافت او واحده رهبري وي، د الله سبحانه وتعالی پر مځکه به د الله قانون پلي وي، دا ټول هغه وخت شوني دي چي ټول اسلامي أُمت د یوه جسد په شان واوسي، او ټول سره متحد سي.

اووم فصل

بشريت ته چا زيان رسولی؟

که د نړۍ د انقلابونو پر تاريخ نظر واچول سي او تر دقيقي څيړني لاندي ونيول سي، نو يو ريښتنۍ بشر دوست انسان به ددې پرته پاته نه سي، چي ووايي: هو! مسلمانان دي، چي د خپلو انقلابونو په برکت يې بشريت ته رڼا، آرام او سکون راوړی دی، بشريت ته يې پرمختيايي بدلون ور په برخه کړی دی، او يوازي همدا د مسلمانانو انقلابونه دي، چي هر اړخيز په پټه او ښکاره پياوړي او ټول شموله دي، يقيناً په هر وخت کي چي مسلمانان د اقتدار پر سر راغلي او د انقلاب هڅه يې کړې ده، نو په پوره توګه په دې خبره بريالي سوي دي، چي د خپل انقلاب په برکت، بشريت د ناخوالو څخه وژغوري او د يوه روښانه، ځلانده او هوسا ژوند څخه يې برخمن کړي، مګر ددې بر خلاف په نړۍ کي چي کله د انقلابونو هڅه سوې ده، او واګي يې د مسلمانانو په لاسونو کي نه وي، نو نړۍ ستر زيانونه ګاللي دي، داسي زيانونه چي تر قيامته به يې جبيره ونه سي، او ددې سره سره بشريت د داسي ناورين زغملو سره مخ سوی دی، چي تلپاته تريخوالی به يې هيڅکله تاريخ هير نه کړي.

اوس به دلته د بشريت د ستر لارښود، د عالمينو د رحمت، د مسلمانانو د انقلابونو بنسټګر او د الله (جل جلاله) د لوري د راليږل سوي استازي خوږ پيغمبر حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د انقلاب هغه نقشه وړاندي کړو، چي تاريخ ليکونکو د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) او د ده مبارک د مخالفينو د افرادو تلفاتو په هکله ايستلې ده، او همدا شان د هغه انقلابونو د تلفاتو نقشه هم وړاندي کړو، چي واګي يې د مسلمانانو پر ځای د دوی يعني کفارو په لاسونو کي وه، په پای کي به تاسو درنو لوستونکو ته د دغه دواړو نقشو څخه ددې پوښتني جواب په ډېره آسانۍ تر لاسه سي، چي بشريت ته چا زيان رسولی دی؟ د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) انقلاب په درويشت (۲۳) کالو کي بشپړ سو، چي د هغه لپاره يې د اتو (۸) کالونو په موده کي اوه ويشت (۲۷) غزاوي وکړې، چي تقريبا هر کال څلور (۴) غزاوي راځي او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ددې انقلاب لپاره د خپلو ملګرو پنځه پنځوس (۵۵) جهادي لښکري هم وليږلې.

انسان به حتماً دا فکر کوي، چي په دې شمير جنګ جګړو کي به څومره خلک وژل سوي وي؟ څومره لويه تباهي او بربادي به يې رامنځته کړي وي؟ او څومره خلک به تبا او برباد سوي وي؟ مګر تاريخ ليکونکو د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د ملګرو او د هغوی د مخالفينو د جګړو په هکله لاندي نقشه ايستلې ده، چي د دغو جنګونو تلفات داسي ښايي: کافران: (۶۵۶۴) بنديان (۴۵۹) وژل سوي او ټپيان مسلمانان: (۱۱) بنديان (۱۲۷) تنه زخميان (۴۵۹) تنه شهيدان سوي دي، مګر ددې بر خالف په هغو انقلابونو کي چي واګي يې زموږ يعني مسلمانانو په لاسونو کي نه وې، او د دوی يعني کافرانو په لاسونو کي وې، نړۍ په لاندي توګه بشري، مادي او روحاني زيان وليد.

په لومړي نړیوال جنګ کې: چې په ۱۹۱۴م کې پیل او په ۱۹۱۸م کال کې پای ته ورسید، شاوخوا د څلورو (۴) کلونو په لنډه موده کې اولس (۱۷) لکه کسان د روسیې، شپاړس (۱۶) لکه خلګ د جرمني، دیارلس لکه اویازره (۱۳۷۰۰۰۰) خلګ د فرانسې، څلور لکه شپیته زره (۴۶۰۰۰۰) خلګ د ایټالیا، اته (۸) لکه خلګ د استرالیا، اوه لکه او شپږ زره (۷۰۶۰۰۰۰) خلګ د برتانیې، دوه نیم لکه (۲.۵) خلګ د ترکیې، یولک او دوه زره (۲۰۰۰) عسکر د بلجیم، یو لک (۱۰۰۰۰۰) عسکر د رومانیا او پنځوس زره (۵۰۰۰۰) عسکر د امریکا په دغه جګړه کې ووژل سول، چې په کولي ډول په دغه جګړه کې هغه کسان چې جګړې ته ورتیل وهل سوي وه، او په کښې ووژل سول شمیر یې پنځه شپیته (۶۵) میلونو ته رسیږي، په یاده جګړه کې درې (۳) میلیونه عسکر بیخي ورک سول، درې (۳) میلیونه بندیان سول، نه (۹) میلیونه خلګ یتیمان، شل (۲۰) میلیونه (۵) خلګ ټپیان، پنځه (۵) میلیونه ښځې کونډې او لس (۱۰) میلیونه خلګ بې کوره سول او هغه مادي زیانونه، چې نړۍ ولیدل د زرګونو میلیارده ډالرو څخه زیات وه.

دوهم نړیوال جنګ: چې په ۱۹۳۹م کال کې پیل او په ۱۹۴۵م کې پای ته ورسید، شاو خوا د شپږو (۶) کالو په موده کې یوازي اوه (۷) لکه پنځوس زره (۵۰۰۰۰) نظامیان د روسیې، درې (۳) لکه د امریکا، پنځه نیم (۵.۵) لکه د انګلستان، دوه (۲) لکه د فرانسې، اته ویشت (۲۸) لکه او پنځوس زره (۵۰۰۰۰) د جرمني، درې (۳) لکه د اټالیا، دوه ویشت (۲۲) لکه د چین او پنځلس (۱۵) لکه کسان د جاپان ووژل سول او ددې سره سره ټول ټال اتلس (۱۸) میلیونه عام خلګ هم په دغه جګړه کې خپل ژوند د لاسه ورکړ.

د ۱۹۴۵م کال د اګست په شپږمه (۶) امریکایانو د هیروشیما پر ښار اټوم بم واچوی، چې د دغه ښار د اوسیدونکو خلګو شمیر درې (۳) میلیونه او پنځه دیرش زرو (۳۵۰۰۰) ته رسیدی، او په همدې توګه یې د اګست پر اتمه (۸) یې بل بم پر ناګاسا استعمال کړ، چې لکونه خلګ په کښې ووژل سول، شل (۲۰) لکه خلګ د اروپا په مذهبي جګړو کې له منځه ولاړل، چې درې (۳) لکه او څلویښت زره (۴۰۰۰۰) خلګ د اسپانیې په کښې ووژل سول او دوو دیرش زره (۳۲۰۰۰) نور یې ژوندي وسوځول سول، چې د دوی په منځ کې یوازي درې (۳) لکه او پنځه دیرش زره (۳۵۰۰۰) ساینس پوهان د کلیسا د مشرانو له خوا ووژل سول، چې ځیني یې آن ژوندي په اور وسوځول سول.

لس (۱۰) میلیونه خلګ د امریکا په کورنۍ خپلمنځي نښتو کې له منځه ولاړل، دا ډول د ویتنام په جګړه کې لس (۱۰) لکه او پنځوس زره (۵۰۰۰۰) خلګو خپل ژوند د لاسه ورکړ، چې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) یې یوازي امریکایان وه، وروسته تر هغه چې د فرانسې انقلاب بري ته ورسید او ددې لپاره چې خپل مخالفین ښه وټکوي، نو انقلابیانو د ټول وژني په خاطر د ګوئټین ماشینونه نصب کړل، چې ددې ماشینونو پواسطه یې شل (۲۰) لکه انسانان ذبحه کړل، روسانو په ۱۹۳۱م کال کې د کریمیا په جمهوریت کې شل زره (۲۰۰۰۰) خلګ ووژل، پنځوس زره (۵۰۰۰۰) خلګ یې د هیواد څخه وشړل او یو زر او پنځه سوه څلور (۱۵۰۴)

جماتونه يې په شرابخانو بدل کړل، د هغې احصايې له مخې چې روسيې ترسره کړې دي، يولس زره (۱۱۰۰۰) خلک چې ټول يې مسلمانان وه، يوازې ستالين په شهادت رسولي دي او د بخارا او خيوه د جماتونو پرته په کال ۱۹۱۳م کې د روسيې د جماتونو شمير (۲۳۲۷۹) وو، چې ټول يې په شرابخانو بدل کړل، د هغه مسلمانانو شمير څلور څلويښت (۴۴) ميليونه اټکل سوی وو، چې په ختيځ او لويديځ ترکستان کې هستوګن وه، مګر د هغوی شميره شپږويشت (۲۶) ميليونو ته راټيټه سو، څکه چې اتلس (۱۸) ميليونه مسلمانان په شهادت ورسيدل.

د تاريخ تر ټولو د درد ناکه د مرګ صحنه د غوا د لاري تشدد او د ظلم کومه طريقه چې نن تاسي ته وړاندی کوم، دا په انساني تاريخ کې ساری نه لري، دا طريقه د هسپانيې کليسا د تحقيقاتو د ادارې له خوا د مسلمانانو د نسل کشی لپاره په کار واچوله، چې په اوريدلو يې د انسان بدن لړزيږي، په دې کې به يې د اوسپني څخه د جوړي سوي غوا په نس کې د پورته دروازې څخه مسلمان ورواچول، او بيا به يې د غوا تر نس لاندي اور بل کړ، څومره به چې اور ګرميدی، هغومره به دننه مسلمان د ګرمۍ څخه چغې پيل کړې، چې دې چيغو ته دوی د (bellow Bull) نوم ورکړ، د غوا په دننه کې به مسلمان چغې وهلې، تر دې پوري چې ټول بدن به يې د بخاراتو د لاري په هوا کې ختم سو، دې تشدد او ظلم پنځه (۵) مرحلې درلودې، چې په لاندي ډول دي. ۱:- ښکار: مسلمان به يې پورته برخه کې د شته دروازې د لاري د غوا نس ته ننباسل او د پورته خوا څخه به يې دروازه پر بنده کړه. ۲: د پورته دروازې د بندولو وروسته به يې د غوا د نس تر لاندي به يې اور بل کړ. ۳: د غوا څخه تنور جوړيدل او د غوا دننه د بند مسلمان چغې پورته کيدل تر دې پوري چې بدن به يې په بخاراتو کې ختم سو. ۴: ددې وروسته به د غوا په پزه کې د موجوده سورني يا نلکی څخه آوازونه پورته کيدل کوم ته چې دوی د (bellow Bull) نوم ورکوی، دا چغې به د غوا د پزې د سوري څخه وتلې. ۵: کله چې به چغې ډيري او تيزې سوې، نو آواز به لکه د يو پيري په شان ډيري بيرونکی سوو، تر هغو به چې روح به يې د بدن څخه رخصت واخيست. دا طريقه د هسپانيې د کاتوليک فرقې د تحقيقاتو د ادارې له خوا سر ته رسيدله، او د هسپانيې صليبي بادشاهانو به ډير خوند څيني اخيستی.

د انګليسي ښکيلاکګرو اشغالونه، د روسيانو په جګړه کې چې پر افغانستان باندي يې حمله وکړه، څومره خلک ووژل سول؟ د بوسنيا وژني، د لبيا او سوريې وژني او همداسي نور... يو (۱) ميليون او دوه لکه (۲) خلک د عراق په جګړه کې د امريکايانو د طرفه ووژل سول، څومره خلک په افغانستان، فلسطين، چيچنيا، يمن، برما او نورو اسلامي هيوادونو کې ووژل سول، امريکا په افغانستان، عراق او نوره اسلامي نړۍ کې دومره ظلمونه وکړل چې انسانانو ته يې د حيوان حقوق هم ورنه کړل، بيلګې يې د ګوانتنامو، ابوغريب، بګرام او داسي نور... زندانونه کيدلای سي، په دغه زندانونو کې بنديان ته داسي شکنجه ورکول کيدلې، چې زما قلم يې د ليکلو څخه ناتوانه دی، او پر مسلمانانو يې د مور بم او B52 څخه نيولې تر پلار بم پوري استعمال کړل.

په اسلامي هيوادونو کي د بشري حقوقو او انسانيت تر شعار لاندي د کفارو وحشت حامد خلف العقيلي د عراق مسلمان اټومي ساينسپوه پروفيسر د عراق په لارو او کوڅو کي ببر سر ليون حاله ګرځي، حامد خلف العقيلي د کيمسټري په اټومي څانګه کي د عراق په کچه د لوړ استعداد جائزه تر لاسه کړه، نن هم د عراقي پوهنتون محصلين د دغه ساينسپوه څخه د فزکس او کيمسټري په باب نيمګړي علمي جوابونه او پوښتني تر لاسه کوي، خبر دي ياست د عراق په اشغال کي د امريکايي بليک واټر ځانګړي ځواکونو په يوه خونړۍ چاپه کي دغه مسلمان ساينسپوه ژوندۍ ونيوی، امريکايانو لومړی د العقيلي د کور ټول غړي ښځي او کوچنيان يې د ده په مخکي شهيدان کړل، بيا يې د ده کور په ډايناميټ بمونو باندي تخريب کړ، بالاخره د عراق په خفيه امريکايي تعذيب خانو کي د برقي کرنټونو، تعذيب او شکنجو له کبله دغه مسلمان ساينسپوه العقيلي خپله حافظه د لاسه ورکړه.

چي د دغه ټولو جګړو پيلونکي دوی يعني کفار او موږ يعني مسلمانان يې يوازي قربانيان يو، د پورته څيړني او وينو توييولو څخه په څرګنده توګه معلوميږي، چي بشريت ته چا زيان رسولی دی؟ بشر دوستان څوک دي؟ که څوک لږ شعور هم ولري، نو ددې پرته به پاته نه سي، چي ووايي: دوی يعني کفار دي چي بشريت تلپاته زيانونه ځيني ليدلي دي، دوی وحشيان دي، دوی دي چي ټوله نړۍ په وحشت کي ده ځيني او دا شان نوري ډيري خبري دي، چي د ځانه سره به يې فيصله کړی.

زه د يوه سلامي اُمت په حيث مسلمه اُمت ته او په ځانګړې توګه ځوانانو ته وايم: ای د مسلمه اُمت ځوانانو د امريکا او نړيوالي ټولني د بشر حقوق او ډيموکراسۍ اصلي څهره په نړۍ کي وګورئ، بيا به دقيقاً درته څرګنده سي چي امريکا او د هغوی ايتلافيان څوک دي؟ حقوق او قوانين څه دي؟ بيا به د بشر حقوقو، نړيوالو قوانينو، ډيموکراسۍ وغيره غولوونکو ډرامو نه غوليږی، آيا دوی هغه پخواني صليبيان نه دي چي ټول مسلمانان او د اسلام مقدس دين د له منځه وړلو لپاره متي رابډوهلي او دا يې لوی هدف دی؟

اتم فصل

یهودیان (صهیونستان)

صهیونست تر ټولو خطرناک سیاسي او دیني مذهب دی، کوم چې بشریت د هغه د سیاسي تاوتریخوالي، فکري زور قهر، نژادي او قومي تبعیض څخه رنج وړي، په ساده کچه یې د فکري او مادي قوو احتکار کړی، همیشه یې په انسانانو کې نفرت او بغض خپور کړی دی، د ځان پرته د بل هر چا سختي او بدبختي غواړي، او غواړي د نړۍ څخه انساني لارښووني پټې او ټول هغه اخلاقي آرزښتونه له پامه وغورځوي چې په آسماني ادیانو، فکري مذاهبو او بشري فطرت کې یو شان آهمیت لري، هغوی یوازې په فلسطین کې د یهودي دولت جوړول نه غواړي، بلکې هدف یې دا دی چې ټوله نړۍ تر خپل واک لاندې راولي او د یهودیانو د قانون تابع یې وګرځوي، د صهیونست بنسټ او ځانګړتیا دا ده چې دیني عقیده یې خپل افراطي نظریات دي او بیا د هغې تابعداري کوي، د شعور او آزادۍ پرته په زور سره نژادي تعصب او غرور کول او ددې ادعا لپاره د تورات تعلیم په ګوته کوي.

چې ګواکې پرته د نورو خلکو یوازي دوی ته الله سبحانه وتعالی پر مځکه د حکم چلولو واک ورکړی دی، د صهیونیست نوم د صهیون څخه اخیستل سوی دی، صهیون په بیت المقدس کې د څلورو (۴) غرونو څخه د یو غره نوم دی، کوم چې پر هغه باندې د یهودو دولت قایم سوی وو، یهودیان دا عقیده لري چې مسیح مخلص به په همدې غره کې ظهور کوي کوم چې یهودیان یې انتظار کوي او دوی ته به د الله سبحانه وتعالی د لوري څخه د بخښني او د دوی د توبې زیرۍ ورکوي، صهیونیست یو سیاسي، نژادي او متعصب یهودي حرکت دی چې مقصد یې په فلسطین کې د یهودي حکومت جوړول او د هغه ځای څخه پر ټوله نړۍ باندې واک لرل دي، تر څو د نړۍ سیاسي نظام کمزورۍ او د خپل یهودي حکومت تر واک لاندې یې راولي.

د یهودو پټې تعلیمات: د یهودو د تحریف سوي کتاب (تورات) پرته دوه (۲) نور کتابونه دي چې د (تلمود او کبال) په نوم یادیږي، یهودیان یې د تورات وروسته سپیڅلي کتابونه ګڼي، دغه کتابونه د یهودو د کاهنانو له خوا ترتیب سوي دي، دا کتابونه ده درواغو، تحریفاتو، سحر او د یهودو پټو خطرناکو رازونو، پټو ټرونونو څخه ډک دي او دغه کتابونه دوی د ځانونو سره پټ ساتلي دي.

یهودیان د خپلي سیاسي استعماري پالیسۍ د پلي کولو لپاره ارکان لري:

سیاسي کنترول: د دوی یوه لاره دا ده چې په سیاسي برخو کې ورننوتل، دولتي او سیاسي حمایت تر لاسه کول، د خپلو لیکو سره په هر ډول لارو د سیاسي مشرانو او مسئولینو یو ځای کول، د پانګوني په هیوادونو کې خپل د پانګوني مشران د ستنو په توګه وردننه او ځای پر ځای کول، لکه: پـه شوروي یا روسیه کې همدوی وه، چې د شوروي سور انقلاب تر شایې لاس وو او د هغوی مالي ملاتړ یې وکړ، تر څو خپل اهداف تر لاسه کړي.

يهود هڅه کوي تر څو د نورو څخه سياسي او اقتصادي ژوند واخلي، يوازې دوی په سياسي، مالي او اقتصادي برخو کې فعاليت وکړي، يوازې د دوی لپاره خاص وي، دوی خپل واک ساتي او دوی په عامه دولتي چارو کې خپل ځانونه نه ځرگندوي، تر څو دوی خپلو اهدافو ته ورسيږي، يهوديان د خپل آرام او مطمئن ژوند ساتلو لپاره نور دولتونه تسخيروي او په ټولنه کې فساد خپروي، دوی ددې هيڅ پروا نه کوي يوازې د خپل واک ساتلو لپاره دا هر څه تر سره کوي، دوی د اوږدې مودې راهيسې د دولتونو په لوړو دندو او معتبرو سياسي مرکزونو کې په پټه نفوذ کړی دی، او خپل کسان يې ځای پر ځای کړي دي، هغه که په اسلامي هيوادونو کې دي او يا هم په مسيحي هيوادونو کې يا په ختيځ کې دي او يا په لويديځ کې، يهودو د طبيبانو ځانگړتيا غوره کړې وه، چې د پاچاهانو او اميرانو تر قصرونو او مجلسونو پورې يې ځانونه رسولي دي، چې ځيني به يې مشاورين، سياستوال او ځيني مالي ماهران دي.

يهود وتوانيدل چې د خپلو کسانو د لارې مهم (بين المللي) پوستونه تر لاسه کړي، دا ددې سبب سو چې برطانيې د هغوی سره د فلسطين د قومي وطن په حيث د ورسپارلو وعده وکړه، هماغه وو چې دوی د برطانيې لخوا فلسطين تر فوځې، سياسي او اقتصادي اشغل لاندې او د ځان لپاره اسرائيلي دولت جوړ کړ، بيا هغوی د خپلو کسانو په وسيله وتوانيدل چې د خپلو ټولو سياستونو او پروژو لپاره د متحده ايالاتو يعني امريکا حمايت تر لاسه کړي، په ملل متحد کې يې ډير غړي پخپلو رأيو قدرت ته ورسول او د هغوی څخه يې د غاصب دولت (اسرائيلو) په رسيمت پيژندلو کې کار واخيست.

اصلي تروريستان يهوديان دي: د يهوديانو موجوديت د مسلمانانو په وينو پايي، پر کفري نړيوال جال يعني ملگري ملتونه، IMF، نړيوال بانک او داسي نورو کې بنده اسلامي نړۍ بايد آزاده سي، په اوسني نړيوال نظم کې د شريعت تطبيق او حمل اصلاً ممکن نه دی، بايد موږ نوی بديل نظم مسلمانانو ته د نمونې په حيث وړاندې کړو، تر څو ټول اُمت ته د الهام وسيله سي.

يهوديان د خپلو اهدافو لپاره څه کوي؟: يهود د خپلو موخو او اهدافو د تر لاسه کولو لپاره پراخ او طولاني تدبيرونه نيسي او مختلف اسباب په کار اچوي، چې ځيني يې په لاندې ډول دي:

۱: په اسلامي هيوادونو کې د حکومتونو او ملتونو تر منځ د جگړې اور بلول، دغه کار دوی په دوه طريقو سره کوي، لومړی حکومتونه هڅوي او ملاتړ يې کوي، تر څو پر ملتونو ظلم وکړي، دوهم ملتونه هڅوي تر څو د حکومتونو په وړاندې بغاوت وکړي، همدارنگه يهود هڅه کوي چې د حکومتونو او ملتونو دواړو واک وسائل سي، تر څو دښمني دوامداره سي.

۲: د اسلامي هيوادونو واکدارانو، وزيرانو او مشرانو ته دا احساس ورکول چې تاسي پر ټولو خلکو غوره ياست، همدارنگه دوی غواړي د مسلمانانو مشران د ښځو، شرابو، خمار، رشوت، چوکيو، سازونو او فتنو د لارې په فساد، بد اخلاقۍ او بې حيايي کې ښکيل کړي.

۳: د اسلامي نړۍ په واکمنۍ کې د تاوتريخوالي او ترهگرۍ څخه کار اخيستل، لکه دوی چې په خپلو پروتوکولونو کې دا خبره په پوره وضاحت سره کوي، چې د اسلامي نړۍ په واکمنۍ کې ښې پايلې هغه دي چې د تاوتريخوالي څخه رايستل کيږي.

۴: ګډوډي، خيانت او فريب خپرول، تر څو د ټولي نړۍ واک د دوی لاسته ولويږي.

۵: د سولي په نوم د مسلمانانو په زړونو کي د وفادارۍ او د يهوديانو د ښه نيت لپاره کار کول، تر څو د مسلمانانو له خوا د تعرض او حملې فکره شنډه او فلج کړي.

۶: د رسنيو څخه ناوړه ګټه اخيستل، رسنۍ په داسي توګه کارول او ملاتړ يې کول چي په اسلامي ټولنه کي د اخلاقي فساد لپاره کار وکړي، همدارنګه سياسي مخالفتونو او ايډيالوژيکي بې ثباتۍ ته زمينه برابره کړي.

۷: د نړيوال اقتصاد کنټرول، لکه د لوی شمير شرکتونو، ادارو او بانکونو مالکيت د سرو زرو انحصار، د سود سوداګرۍ دوچنده کول او د سود پر بنسټ د پانګوال نظام ملاتړ.

۸: د وران کارو اصولو خپرول، د پټو جاسوسي ټولنو، انقلابي حرکتونو او افراطي ګوندونو جوړول، همدارنګه د اختطافي او اجرتي قاتلانو د ډلو ملاتړ.

۹: د اسلامي، مسيحي او کمونستي دولتونو کنټرول چي دولتونه د يوي کارول سوي وسيلې په توګه چي د دوی د اهدافو او د اسرائيلو د ساتني لپاره خدمت وکړي.

دا هغه څه دي چي يهودو په ډيری اسلامي هيوادونو کي کار ورته کړی دی، او ډير څه يې تر لاسه کړي هم دي، لامل يې دا دی چي مسلمانان د غفلت په سخت ناکاره خوب بيده دي، مګر کله چي مسلمانان خپل برم او هوش ته راوګرځيدل او الله (جل جلاله) ته يې رجوع وکړه انشاءالله يهود به د زوال کندي ته لويږي.

هغه مسلمان عالمان چي د يهودو له خوا ترور سوي دي، د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۶م کال پوري صهيونيستانو پنځه سوه ديرش (۵۳۰) عراقي عالمان او دوه سوه (۲۰۰) پوهنتون استادان ترور کړي دي، کله چي عراق د امريکا له خوا اشغال سو، نو اسرائيلو د امريکا په همکاري دوو پنځوس (۵۲) عراقي اټومي او بيولوژيکي عالمان شهيدان کړل، او د مسلمانو هيوادونو عالمانو ترور کولو لړۍ لا هم دوام لري، چي ځيني يې په لاندي ډول دي:

۱: ډاکټر يحيی المشد مصري عالم د اسکندريه الکټريک پوهنتون څخه په ۱۸۵۶م کال کي فارغ سو، هغه د انور سادات په وخت کي د عراق هستوي پروګرام کي ګډون وکړ، مګر په ۱۹۸۰م کال کي په فرانسه کي ترور او مړی يې په يو هوټل کي پيدا سو.

۲: سميره موسی مصري عالمه د اټوم انجينره وه، سميره موسی د فزيک اټومي انجينري څخه فارغه وه، امريکا وړانديز ورته وکړ: موږ تابعت درکوو، زموږ سره کار وکړه. مګر سميرې ونه منله، هغه مصر ته راغله، د اټومي ټولني بنسټ يې کښيښود، په ۱۹۵۲م کال کي امريکا ته په سفر تللې وه، چي د امريکا په کلفورنيا ښار کي په موټر ووهل سوه.

۳: جمال حمدان مصری مورخ په ۱۹۹۳م کال په مصر کي آپارتمان ته يې اور واچول سو شهيد سو، ورور يې رسنيو ته وويل: پر سر يې داسي نښه وه، لکه په تيره شي باندي چي

وهل سوى وي، جمال حمدان درې (۳) کتابونه تالیف کړې وه، چې مهم کتاب یې الیهود و الصهیونیه و بنواسرائیل وه، د مرګ څخه وروسته یې په همدې بلاک کې په لاندې پوړ کې یوه بهرنۍ ښځې او سړي ژوند کوی، دوې (۲) میاشتې کیدې چې دوی دلته اوسیدل، مګر د پیښې څخه وروسته دوی دواړه نادرکه سول.

۴: رمان حسن رمال لبناني عالم په فرانسه کې ترور سو، یو فرانسوي اخبار د لوبون په نوم رمان حسن ته د فزیک په برخه کې د عصر د ستر عالم لقب ورکړی وو.

۵: نبیل فلیفل د هستوي انرژۍ عالم چې دیرش (۳۰) کاله عمر یې درلود، ژوندۍ نادرکه سو، چې وروسته یې بیا په ۱۹۸۴م کال کې مړی په بیت العور علاقه کې پیدا سو.

۶: سمیر نجیب د مصر هستوي عالم او د امریکا ډیټرویټ پوهنتون استاد د مصر او اسرائیلو د جنګ څخه وروسته یې پریکړه وکړه، مصر ته په لاره کې یې په موټر کې أه ټیلر ووهل سو.

۷: ابراهیم الظاهري عراقي هستوي عالم چې د کاناډا څخه یې په هستوي علومو کې دکتورا لرله، په ۲۰۰۳م کال کې خپله د موټر ډریوري کوله، چې د یوې ټکسي څخه په اسلحه په نښه سو او شهید کړل سو.

۸: جاسم الذهبي عراقي پروفیسور او د بغداد پوهنتون د اقتصاد پوهنځی رئیس وو، په ۲۰۰۶م کال پوهنتون ته پر لار په اسلحه ترور سو.

۹: سعید السید بدیر مصری عالم او د سپوږمکۍ متخصص په ۱۹۸۹م کال په سکندریه کې ووژل سو.

۱۰: فادي البطش فلسطیني عالم چې د برق په انجینري کې د مالیزیا څخه د بهترین Research کوونکي جایزه ګټلې وه، په ۲۰۱۸م کال کې ترور سو.

۱۱: سلوي حبیب څو کتابونه اسرائیلو او صهیونیزم په اړه لیکلي وه، آخیرنۍ کتاب یې د صهیونستانو نفوس په افریقا کې تر نامه لاندې ولیکی، استاد سلوي حبیب د افریقا مطالعاتو مرکز غړۍ هم وو، په خپل آپارتمان کې ترور سو.

۱۲: ابوبکر عبدالمنعم مصری عالم په مراکش کې په علمي غونډه کې ترور سو، دا غونډه د نړیوالي اټومي انرژۍ اژانس له خوا مراکش کې دایره سوې وه، یو چا په غونډه کې شربت ورته راوړه، هغه شربتو کې زهر وه، چې له منځه په یوړل سو.

۱۳: دکتور علی مصطفی مشرف مشهوره فزیک پوه په ۱۹۵۰م کال کې مسموم او په سکندریه کې ترور سو.

۱۴: محمد الزواري د طیارو تونسي انجینر په تونس کې د ویشتلو په وسیله ترور سو.

۱۵: حسن کامل الصباح لبنانی عالم او مخترع په امریکا کې ترور سو.

کفري سياست اختلاف واچوه حکومت کوه، د اسلام د دښمنانو د لوري خپل هدف ته رسيدل يوه له هغو ښو طريقو څخه هغوی يې کاروي د مسلمانانو تر منځ د داخلي جګړو ايجادول او تفريقه اچونه ده، په نني عصر کي ډير کم کسانان چي وجدانونه يې ويښ دي وبه نه سي کولای چي د دغه اختلاف ايجاد دي درک نه کړي، هغه اختلاف چي د اصلي دښمنانو څخه د افکارو د ليري والي لامل ګرځيدلی دی، هم هغه اختلاف چي د يو بل سره د مسلمانانو د اخته کيدلو سبب سوی دی، هغه اختلاف چي د مسلمانانو د اموالو د غارت باعث سوی دی، هغه اختلاف چي د کفارو لپاره امنيت او مسلمانانو ته در په دري او بيچاره ګي راوړي، هغه اختلاف چي باعث کيږي حتی د هيڅ مسلمان په سر کي د اتحاد فکر هم رانه سي، نو بيا پوه سئ چي د يهودو او مشرکانو مشران د مسلمانانو څخه پخپلو زړونو کي سخته کينه لري، نو ای مسلمانه**!** حقيقت ومومه چي د کافرانو سياست ډير ناولی او کثيف دی، د مسلمانانو تر منځ قتال د يهودو غوښتنه ده.

بشري حقوقو څوک تر پښو لاندي کوي؟: د فرانسې په جماجم موزيم کي څه ساتل کيږي؟**!** موږ ته څوک د بشر حقوق را زده کوي او څوک يې تر پښو لاندي کوي؟؟ جماجم (د کوپړيو موزيم) په فرانسه کي موقعيت لري، په ياد موزيم کي د څلور سوو (۴۰۰) هغو مسلمانو عالمانو د سر کوپړی ساتل کيږي، چي د فرانسوي ښکيلاک يا استعمار په دور کي په ۱۹۱۷م کال کي په الجزاير، تونس، المغرب او موريتريا کي لومړي شهيدان سوي او بيا يې سرونه د افتخار په بڼه فرانسې ته وړل سوي او هلته يې ستر موزيم ځيني جوړ کړی دی.

په ۱۸۵۲م کال کي د فرانسي عسکر د الجزاير الأغواط سيمي ته ورننوتل، د يادي سميي دريمه برخه وګړي چي زياتره عالمان په کښي کي وه، په يوه شپه په اور کي واچول او ويې سوځل، په ياد هيواد کي د ۱۹۶۰ او ۱۹۶۶م کلونو تر منځ د فرانسوي يرغلګرو له خوا نولس (۱۹) اټومي بريدونه ترسره سول اوويشتو (۲۷) څخه تر سلو (۱۰۰) زرو پوري کسان په خاورو کي ورک او د شهيدانو تعداد له حسابه وتلی وو.

په ۱۹۶۲م کال کي کله چي فرانسوي عسکر د الجزاير څخه ووتل يوولس (۱۱) تونلونه يې تر شا پريښوول، ياد تونلونه د مسلمانو شهيدانو د جسدونه څخه ډک وه، الجزاير يو سلو دوو ديرش (۱۳۲) کاله تر فرانسوي استعمار لاندي وو، د ۱۸۳۰ تر ۱۹۶۲م کال پوري دوه نيم (۵.۲) ميليونه الجزايري مسلمانان شهيدان سول، چي ډير يې د يرغل په لومړيو او ورستيو کلونو کي شهيدان کړل.

همدا شان تونس پنځه اويا (۷۵) کاله، المغرب څلور څلويښت (۴۴) او مورتيريا شپيته (۶۰) کاله تر فرانسوي استعمار لاندي د ظلم او وحشت ترخه دوره تيره کړه، همدا شان کله چي فرانسوي عسکر مصر ته ننوتل، د خپلو آسونو سره يو ځای مسجدونو ته ننوتل، په مسجدونو کي يې شراب څښل او مسلماني ښځي به يې د خپلو اولادو او ميرونو په مخ کي بې پته کولې او دا شعار به يې زمزمه کوی (الاسلام دين الارهاب).

د يو فرانسوي تاريخ ليكونكي جاك جورکي د قوله: فرانسې د ۱۸۳۰ څخه تر ۱۹۶۲م کال پوري په يادو هيوادونو کي لس (۱۰) ميليونه مسلمانان په شهادت رسولي دي، دا د يهودو انصاف دئ هم مظلوم او هم تروريستان ياديږو، ان شاء الله مسلمانان به ستاسو ټول تاريخي جنايتونه ياد ساتي او د هر جنايت بدل به در څخه واخلي.

يوه يهودي کورنۍ په ۱۹۵۱م کال کي د مراکش څخه اسرائيلو ته راغله، ددې کورنۍ يوه ځوانه انجلۍ د تيتاني په نوم همزمان د مراکش څخه د اسراييلو پر ځای مصر ته وليږل سوه، تيتاني په ۱۹۵۳م کال د سعيد حسين خليل سره واده وکړ، يو کال وروسته د تيتاني او سعيد حسين زوی پيدا سو، په ۱۹۵۸م کال تيتاني ته د مراکش د تابعيت تر څنګ مصري تابعيت هم ورکړل سو، مصر کي دې يهودۍ ښځي د سعاد په نوم شهرت پيدا کړ، نوره نو چا د تيتاني په نوم نه پيژنده، په ۱۹۷۳م کال دې يهودۍ ښځي خپل زوی د مصر په فوځ کي شامل کړ، او د خپل مراکشي تابعيت څخه تيره سوه، د تيتاني سکه ماما عوري صباغ د اسراييلو د قيام وروسته د ۱۹۵۲م کال څخه تر ۱۹۶۸م کال پوري په اسراييلو کي د معارف د وزارت تر څنګ نوري مهمي دندي ترسره کړې، مګر په مصر کي يې د خور لمسي ورځ تر بلي ترقي کوله، په ډير کم وخت کي د مصر د فوځ ځواکمن جنرال سو، دغه ظاهري مسلمان او ديندار جنرال د مرسي سره ښې اړيکي جوړي کړي وې او مرسي هم د يو متعهد مسلمان جنرال په سترګه ورته کتل ځيني مشورې به يې هم ورسره کولې، کله چي مرسي د مصر رئيس جمهور سو د ۲۰۱۲م کال د اګست پر شلمه (۲۰) نيټه يې دغه جنرال د مصر دفاع وزير وټاکی، تاسو پوهيږی دغه جنرال څوک وو؟ دا جنرال همدغه سيسي وو، چي د مرسي دولت يې راوپرځاوه او د اخوان المسلمين ټول کدرونه يې په شهادت ورسول، د مصر په اساسي قانون کي يې ډير تغيرات راوستل چي د دغه تغيراتو په اساس به هيڅکله اسلام پال ګوندونه په انتخاباتو کي ګډون ونه کړای سي، د يهودو اويا (۷۰) کلن پلان په مصر کي ډير ښه تطبيق سو، ددې وروسته به د مصر د پلوه اسرائيلو ته هيڅ ډول تهديد او خطر نه وي له همدې کبله اسراييليان جنرال سيسي ته د يو قهرمان په سترګه ګوري. يهود او نصارا هيڅکله د مسلمانانو دوستان نه سي کيدای.

دا موضوع (CNN) مشهور امريکايي ټلويزيون چي ويب پاڼه هم لري، خپره کړې وه، چي وروسته بيا پرې د عربو ورځپاڼو هم ډيري تبصرې ليکلي دي.

هټلر پر لار روان وو، چي د يو ښه باغ پوښتنه به يې وکړه: دا د چا دی؟ وای د فلاني يهودي دی. دا د زرګرۍ دوکان د چا دی؟ د فلاني يهودي دی. دا مانۍ د چا ده؟ د فلاني يهودي ده. نو يې اعصاب ورته خراب سول چي هر ښه شی د يهودي دی؟ د يهودو په وژلو يې پيل وکړ، شپږ (۶) لکه يهودان يې ووژل.

فلسطين کي د معاصر یهودي دولت جوړیدني پس منظر

یهود د نړۍ تر ټولو پست فطرته، مکار او فریبکاره نسل دی، په رګونو کي یې د وینو پر ځای حسد او کینه موجونه وهي، د تاریخ په اوږدو کي یې تل ملتونه سره پاشلي دي، همدا یهود دي چي نعوذبالله من ذالک د عیسی (علیه السلام) د شهیدولو دعوه لري، همدا یهود وه چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه مخکي یې سلګونه کلونه اوس او خزرج قبیلې سره وجنګولې، همدا یهود وه، چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د شهادت توطئې یې جوړي کړلې، د صحابه کرامو تر منځ یې د نفاق شیندلو هڅې وکړې، د حضرت عثمان بن عفان (رضی الله عنه) په وړاندي یې د خوارجو یو ستر حرکت ایجاد او رهبري کړ، تر دې پوري چي د همدې فتنې ښکار سو، کله چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مدینې منورې څخه وشړل، د خپل مبارک وفات په وخت کي یې په یو موزونه موقع کي د جزیرة العرب څخه د دوی د ایستلو وصیت وکړ، چي بیا فاروق اعظم حضرت عمر (رضی الله عنه) دا وصیت عملي او عربي خاوره یې د دوی د ناولو قدمونو څخه پاکه کړه.

یهود په نړۍ کي پراګنده سول، د اردن، شام شاوخوا او اروپا ته وکوچیدل، ځانګړې خاوره او هیواد یې نه درلودی، هر چیري چي به دوی وه هلته به فتنې وې، سودي کاروبار به وو، ملتونه به یې یو د بل په مقابل کي راپارول، کله به یې یو ملت حمایه کاوه او کله به یې بل ملت حمایه، خپل تجارت یې پرې روان ساتلی وو، دا چي یهود د مکارۍ تر څنګ ډیر هوښیار هم دي، نو په هره زمانه کي صنعتي ځواک او تجارت د دوی په لاس کي وي، نړیوالو په دې فکر وکړ چي باید د نړۍ یهود یو محدودي جغرافیې ته راټول کړل سي، د ډیر فکر وروسته یې فلسطین د دوی لپاره موزون ولیده، چي یو به غربي نړۍ کي د دوی د مکر او شره په آمن کي وي او بل به په اسلامي نړۍ کي یوه سرطاني غده راشنه کړي، یهودو هم فلسطین ته د تګ لپاره ډیره دلچسپي درلوده، ځکه دوی په دې عقیده لري هر کله چي مو اقصی ونړوله او پر ځای مو هیکل سلیماني جوړ کړ، هغه وخت به پر نړۍ زموږ راج او پاچاهي پیلیږي.

د همدې هدف د تحقیق لپاره همدا اوس یې په سلګونو پټ سازمانونه په کار بوخت دي، فکري روزنه او زمین سازي ورته کوي، نسلونه روزي، د نړۍ ستري کمپنۍ یې په مستقیم او غیري مستقم ډول تر واک لاندي راوستلي دي، د مسجد اقصی لاندي یې ستر ستر تونلونه ایستلي دي، د نړۍ پر اقتصاد واکمن دي، د دوی په نظر دوی خپل هدف ته ډیر نژدې سوي دي، نو شپه او ورځ په کار او هڅو بوخت دي، لومړۍ ځل یهودو خپل یوه شخص چي په دوی کي ډیر منل سوی کس وو، ډاکتر او تکړه لیکوال ټراسو د عثماني خلافت آخري خلیفه سلطان عبدالحمید الثاني (رحمة الله علیه) ته ورولیږی، په دې وخت کي عثماني خلافت د سترو ننګونو سره مخ وو، اقتصادي مشکلات وه، نړیواله جګړه پیښیدونکې وه، عثماني بحري ځواک کمزورۍ سوی وو، پورونه وربادي وه، د اروپایي صلیبیانو سره ستري ستري جګړې رواني وې، اسلامي نړۍ د پاشل کیدو په حال کي وه.

دا چي ډاکتر ټراسو ډېره خوږه ژبه درلوده لومړی د عثماني خلافت او خليفه پر وصف پيل وکړ، بيا يې خليفه ته وويل: پوروونه به مو در خلاص کړو، پوروونه به درکړو، پوهنتونونه به درته جوړ کړو، خپل تکړه استادان به ستاسو په خدمت کي حاضر کړو، بحري ځواک به مو پياوړی کړو، د اسلحو صنعت به در زده کړو او داسي ډېر نور وړانديزونه يې ورته وکړل، لکه څرنګه چي فلسطين ستاسو د خلافت يوه برخه ده، تاسو دومره وکړی چي په فلسطين کي لږ مځکه پر موږ وپلورئ، دا چي سلطان عبدالحميد ثاني (رحمة الله عليه) دا مکار ګيدړ يهود ډېر ښه پيژندل، د دوی د اهدافو څخه باخبر وو، د اُمت يو غمخوار او د اسلام په روح يو پوه شخص وو، ټراسو يې د خپل درباره وشړی او د دوی دا وړانديزونه يې په کلکه رد کړل، هماغه وو چي يهودو دا ځل د عثماني خلافت په نړولو پيل وکړ او په ۱۹۲۴م کال کي ترکي الاصله يهودي مصطفی کمال اتاترک شپږ سوه (۶۰۰) کلن اسلامي خلافت ونړاوه، د خلافت د نړيدو وروسته انګريزانو فلسطين اشغال کړ، تئودر هرتسل د اسرائيلي دولت په نوم يو کتاب وليکی، چي يو کال وروسته يې بيا د صهيونيزم حرکت ايجاد کړ.

د انګريزي استعمار په دوران کي فلسطين ته د يهودو مهاجرتونه د يو طرحه سوي پلان په اساس پيل سول، د نړی د ګوټ ګوټ څخه اسرائيل ډلي ډلي په ځانګړو طيارو او وسايلو کي راوړل کيدل، په يو کال کي شپږ (۶) لکه يهود د نړی د هر کونج څخه راوړل سول، د فلسطين هغې برخي ته به منتقل کيدل چي هغه زراعتي او د ښې آب او هوا درلودونکي مځکه وه، مځکي يې واخيستې، په کرنه يې پيل وکړ، کله چي لږ ځواکمن سول د فلسطينيانو څخه يې د مځکو په غصب پيل وکړ، د مظلومو فلسطينيانو کورونه يې په زور نيول او يا به يې ويجاړول، د انګريزانو د وتلو څخه څو ساعته وروسته په ۱۹۴۸م کال د مې په څوارلسمه (۱۴) يهودي دولت اعلان کړل سو، چي سمدلاسه د امريکا او شوروي اتحاد لخوا په رسميت وپيژندل سو، د عربي ممالکو لکه: مصر، سوريه، عراق اردن او لبنان ځواکونه د اسرائيلو سره د جګړې لپاره متحد سول.

ستري جګړې وسوې اسرائيل ضعيف سول، ډيري ساحې بيرته ځيني فتحه سوې، چي په همدې وخت کي ملل متحد د اوربند غوښتنه وکړه او په ۱۹۴۹م کال کي د اوربند هوکړه وسوه، په دې موده کي ټول غرب او امريکا د اسرائيلو تر څنګ ودريده، قوي يې کړل، حربي ځواک يې ورته په يوه پرمختللي او معاصر ځواک بدل کړ، ويې روزل او تقويه يې کړل، بيا يې جګړه پيل کړه، چي دا ځل يې عربي ځواک ته داسي ماتي ورکړه چي تر ننه ځيني په بيره کي دی، وروسته کرار کرار عربي ممالک د فلسطين د قضيې څخه پر شا کيدل او د اسرائيلو سره يې اړيکي جوړولې، لومړی اسلامي هيواد چي د اسرائيلو سره يې په ۱۹۷۹م کال صلحه وکړه، هغه مصر وو، په ۱۹۹۴م کال کي اردن صلحه ورسره وکړه او کرار کرار نورو اسلامي هيوادونو د اسرائيلو سره د هوکړي مزي غزول، تر دې پوري چي عربستان هم دا پست عمل وکړ او د اُمت قضيه، د عمر او صلاح الدين څخه را پاته اقصی يې پر يهودو وپلورله، مظلوم فلسطينيان يې د وحشي درنده ګانو پنجو کي بند پريښوول.

نن یهود د ټول صلیب په حمایت فلسطین بمباروي، ښځې او ماشومان شهیدانوي، زندانونه یې د ځوانانو او انجونو څخه ډک کړي دي، کورونه یې ویجاړوي، مځکې یې غصبوي، د خپل هیواد او کلي څخه یې شړي، مګر په (۱,۸) ملیارده اسلامي اُمت کي او د اووه پنځوس (۵۷) اسلامي هیوادو حکامو کي دا غیرت نه سو پیدا چي د خپلي مسلماني خور اوښکي پاکي کړي، آسویلي یې واوري، زندانونه یې مات کړي، دا ځوریدلی ملت د اسارت څخه خلاص او د حریت په نعمت یې ونازوي.

په ۱۹۴۵ او ۱۹۴۶م کلونو کي د فلسطین مسلمانانو د یهودو لوی وزیر (Menachem Begin) د فلسطین په یوه کلي کي د جاسوسۍ پر مهال ونیوی، او بندي یې کړی، نوموړي ډیر ژړل او فریاد یې کوی، ویل: زه غریب اشپز یم، ښځه مي ناروغه ده، د هغې د علاج د پیسو لپاره په مزدورۍ پسي راوتلی یم.

فلسطینیانو رحم پر وکړی، پیسي او خواړه یې ورکړل، په عزت یې آزاد او رخصت کړی، پوهیږئ دې یهودي جاسوس ددې ښیګڼي په بدل کي د فلسطینیانو سره څه وکړل؟ دې شیطان او جاسوس په (Deir Yassin) نومې سمیه باندي بمبار وکړی، په زرګونو فلسطینیان مسلمانان یې شهیدان کړل، دا تلموي قوم هیڅکله د ښیګڼي، دوستۍ او باور خلګ نه دي، ځکه د دوی څخه خپل پیغمبران (علیهم السلام) په مات زړه تللي دي، د دوی سره دښمني کامیابي ده، او دوستي ورسره کول ناکامي ده.

په ویلچیر کي ناست فلسطیني سپینږیرۍ او ورسره ولاړه سپین سرې خپل هغه کور ته ګوري، چي دوی په زوره ځیني ایستل سوي دي، د دوی په کور کي د نیویارک څخه را کډه سوې یهودي فامیلي اوسیږي، د یهودي فامیلي څخه خبریال پوښتنه وکوي، دوی ته وایي: شعور او احساس مو څه دی چي د بل په کور کي اوسیږئ؟ دغه یهودي فامیل ورته وایي: ډیر خوند کوي. د کفارو څخه انساني عاطفې هم کډه کړې ده، هیڅکله کافران د مسلمانانو دوستان نه سي کیدائ.

د فلسطین قضیه د ټول اُمت قضیه ده: فلسطین هیواد چي د مسلمانانو لومړی قبله بیت المقدس او مسجد اقصی په کښي موجود دي، د آسیا په غرب کي د لبنان، سوریه، اردن او مصر هیوادونو تر منځ موقیعت لري، نوموړی هیواد په تاریخي لحاظ هر وخت د مسلمانانو او کفارو تر منځ د جګړې تود ډګر ګرځیدلی دی، او په هر وخت کي د اسلامي اُمت کامیابي او د کفري نړۍ مغلوبیت د فلسطین په آزادۍ سره رامنځته سوی دی، په وروستیو پیړیو کي چي یهود د فلسطین څخه ایستل سوي وه او دا هیواد د مسلمانانو هستوګن ګرځیدلی وه، نو یهودو په نړۍ کي د ځان لپاره د اوسیدلو رسمي خاوره او هیواد نه درلودی، تر څو چي د غربي

نړۍ په مرسته په ۱۸۹۷م کال کي محدود يهود فلسطين ته د مهاجرينو په شکل ولاړل او هلته يې د عام المنفعه ځايونو په جوړولو سره د فلسطيني مسلمانانو په زړونو کي ځانونه د دوی خواخوږي څرګند کړل او په فلسطين کي يې د پلان مطابق ځانونه ځای پر ځای کړل.

کله چي يهود په فلسطين کي د پنځوس (۵۰) کلونو په جريان کي ځای پر ځای سول او خپل ځان يې قوي کړی، نو په ۱۹۴۸م کال کي يې د غربي نړۍ خصوصاً د امريکا په کومک پر فلسطين يرغل وکړی او د مسلمانانو مځکه يې اشغال کړل، په زرګونو مسلمانان شهيدان، ټپيان او بنديان سول، د مسلمانانو ښځي بې عفته سوې، د فلسطين لوی ښارونه په بمباريو کي ويجاړ سول، مسلمانان د خپلو کورونو څخه ايستلو ته مجبوره سول، بيلا بيلو سيمو او هيوادونو ته يې هجرت وکړی، حتی چي اوس په فلسطين کي مسلمانان په اقليت کي حسابيږي، د مهاجرينو په شکل په نورو هيوادونو کي ګرځي، يهودو د فلسطين تر نيمی ډيره مځکه تر خپل رسمي تسلط لاندي راوستل او د اسرائيلو د هيواد نوم يې ورکړی چي نړيوال دا غضب سوی هيواد په رسميت پيژني او د غرب په مرسته اوس اسرائيل هيواد د اټوم خاوند او د نړۍ د يوولسو (۱۱) سوپر هيوادونو څخه يو هيواد بلل کيږي.

حالانکي يو وخت داسي وو، چي يو يهودي هم په فلسطين کي رسمي وجود نه درلودی، مځکه او سيمي خو يې بيخي موجودي نه وې، د فلسطين د اشغال څخه وروسته بيا تر نن پوري د پنځه اوويا (۷۵) کلونو په جريان کي د مظلومو فلسطيني مسلمانانو او مغروره يهودو تر منځ ډيري نښتي رامنځته سوې، د يهودو له خوا مسلمانان سخت وځوريدل، مالونه يې چور سول او د مسلمانو خويندو عفتونه د منځه ولاړل، خو په ټوله اسلامي نړۍ کي داسي اسلامي هيواد پيدا نه سو، چي د مظلومو فلسطينانو دفاع وکړي او په اسلامي اُمت کي د سلطان صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه) د نشتون له کبله بيت المقدس تر اوسه د يهودو په ځنځيرانو تړلی بندي دی.

کله چي د محمد اسامه بن لادن (رحمة الله عليه) په مشرۍ د القاعده جهادي تنظيم له خوا نړيوال عمليات اعلان سول، نو هغوی اسرائيل خپل لومړی او مهم هدف وکرځول، د بيت المقدس آزادول او د مظلومو فلسطيني مسلمانانو دفاع يې لومړيتوب وو، محمد اسامه بن لادن (رحمة الله عليه) ويل: په هغه ذات (جل جلاله) دي مي قسم وي چي آسمانونه يې بيله پايو درولي دي، تر هغو پوري به امريکايان په امريکا کي د خوشحالۍ ژوند راڅخه ونه کړی، تر څو پوري چي زموږ مسلمانانو وړونو په فلسطين کي د خوشحالۍ ژوند نه وي کړی. مګر د غربي نړۍ خصوصاً د ناټو په اتحاد سره القاعده جهادي تنظيم رامهار کړل سو او د اسلامي هيوادونو د نه حمايې او نه لاس نيوني په خاطر القاعده جهادي تنظيم د خپلو لويو اهدافو په پوره کولو کي د ځنډ او خنډ سره مخ سو.

د مسجدالاقصی او قدس په آزادولو کښي د مسلمانانو مسوولیت څه دی!؟

د مسجد الاقصی لومړی فتحه د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په وخت کي وسوه، چي په دغه فتحه کي غوره صحابه کرامو حضور درلودی، لکه: ابوعبیده بن جراح، شرحبیل بن حسنه، عمرو بن العاص او خالد بن ولید (رضي الله عنهم)، چي په پایله کي یې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وصیت سره سم د حضرت اسامه (رضي الله عنه) د لښکر سره مرسته وسوه او وروسته کله چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وفات مخکي د خپلي وروستۍ ناروغی په بستر پروت وو، نو حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د مدیني منورې څخه د دغه مسجد او چاپیریال په خاطر او همدارنګه د قدس د کلیانو د تر لاسه کولو لپاره راغلی، دا مسجد په بشپړه ډول آزاد سو، څرنګه چي د کعبې بیت العتیق د شرک د بُتانو، چټلیو او نصرانیانو د خرافاتو څخه پاک سوی وو.

د حضرت عمرو بن العاص (رضي الله عنه) په مشرۍ د اسلام لښکر د فلسطین پر لوري حرکت وکړ، په دغه لښکر کي پر نورو سرتیرو سربیره څلور زره (۴۰۰۰) صحابه کرام هم وه، او د فلسطین د سواحلو د لویي برخي د فتحي وروسته یې د قدس ښار محاصره کړ، دغه پیښه د یرموک برخلیک ټاکونکي جګړې څخه وروسته رامنځته سوه، په داسي بڼه چي د رومیانو دبدبه یې ختمه او د یوې خطرناکي ماتي سره یې مخ کړل، د یرموک جګړې د شام پاته برخو د فتحي لپاره لار هواره کړه، په داسي ډول لکه د قدس فتحي ته چي یې لار هواره کړې وه، د قدس کلابندي څلورو (۴) میاشتو ته وغځیده، کله چي د قدس محاصرې ډیر وخت ونیوی، نو حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) حضرت ابوعبیده (رضي الله عنه) ته لیک ولیکه او هغه یې د قدس لوري ته راوغوښت، په لیک کي لیکل سوي وو: د الله بنده عمر بن خطاب د لوري خپل مامور حضرت ابو عبیده (رضي الله عنه) ته په شام کي! د الله سبحانه وتعالی حمد او پر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) درود وایم. په لیک کي راغلي وه: پر کوم لوري حرکت وکړې، ما وروسته له هغې چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اکا د زوی حضرت علي (رضي الله عنه) سره مي مشوره وکړه او نوموړي مشوره راکړه: ته باید د بیت المقدس پر لوري حرکت وکړې او الله سبحانه وتعالی هغه ستا په لاسونو فتحه کوي، والسلام.

وروسته تر هغه چي حضرت ابوعبیده (رضي الله عنه) ته لیک ورسید او د لښکر مشري یې په خپل لاس کي واخیسته، مسیحیان د ښار په دننه کي تسلیم سول، ځکه په یرموک کي د رومیانو تر ماتي وروسته یې کوم ملاتړی نه درلود، په پایله کي د ۱۵هـ ق کال د روژې پر دیارلسمه (۱۳) مه قدس فتح سو او کیلیاني یې حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د هغوی د قومندان صفرینیوس کبیر مسیحي څخه واخیستلې، د بیت المقدس لویه فتحه وسوه، بیت المقدس د اسلام په لویو ښارونو کي شامل سو او پر لوري یې د ټولو اسلامي هیوادونو څخه خلګو د سفر نیت کاوه، مسلمانانو مسجدالاقصی ودان کړ، د کفر او شرک ټولي نښي او چټلۍ یې ځیني پاکي کړې او پخپله حضرت عمر (رضي الله عنه) په دغه کار کي ونده واخیسته.

مسلمانانو د صحابه کرامو د وخت په لومړیو کلونو کي د فتحي وروسته په قدس کي ژوند پیل کړ او د هغو کسانو په پله یې پل کښیښود چي ددې خاوري د آزادولو لپاره د شهادت لوړي مرتبې ته ورسیدل او د خپلو وینو په قیمت یې هغه ځای آزاد کړ، همدا راز شپه او ورځ د قدس په شاوخوا کي د الاسراء سورت آیاتونه لوستل کیدل او د ټولو خاورو څخه ډلي ډلي مسلمانان هلته ورتلل، حالت په همدې ډول روان وو، چي بالاخره مسلمانان د صلیبیانو پر وړاندي د لومړۍ ماتي سره مخ سول، مسجدالاقصی د عثماني خلافت د سقوط وروسته تل د غربي صهیونیستانو د ګډو طرحو او پروګرامونو سره مخ دی، چي موخه یې د فلسطین نیول او په دغه برکتناکه خاوره کي د یهودیانو ځای پر ځای کول دي، د خلافت د سقوط وروسته یادو طرحو زور واخیست، چي یوه برخه یې په ۱۹۴۸م او نوري یې په ۱۹۶۷م کلونو کي د عملي کولو ډګر ته را ووتلې، دغه برید او اشغال ددې لپاره مقدمه وه چي جنایت کوونکي صهیونیستان خپلو موخو ته نږدې او پر فلسطین واکمن سي.

همدا راز په دې سره د یهودیت د ناسمو او تحریف سویو باورونو پر اساس د فلسطین د یهودي کول لپاره خپلي طرحي او پلانونه عملي کړي، په اسلامي عقیده کي د مسجدالاقصی او د هغه د چاپیریال مقام د مسجدالاقصی د لومړۍ فحتي زیری پر بیت المقدس او د هغه پر چاپیریال د صلیبیانو او مغولو بریدونه د عثماني خلافت پر مهال د فلسطین د نیولو لپاره د صهیونیستانو لیوالتیاوي د خلافت له سقوط وروسته د انګلیس په دوران کي د فلسطین پر وړاندي غربي او صهیونیستي توطیې د انګلیس د واکمنیدو وروسته د یهودانو د دسیسو دوام او د فلسطین نیول پر فلسطین د پرلپسې توطیو پر وړاندي د مسلمانو حکامو دریځ د فلسطین د یهودي کولو او مسلمانانو ته د یهودي رژیم د ښه ښوولو په برخه کي د غرب او یهودیانو د هڅو ناکامي اقصی تل د تحول د پیل ټکی وو، اوس مهال یې آزادي د مسلمانانو مسوولیت او مکلفیت دی، نو اسلامي اُمت پاک، اصیل او مبدا لرونکی اُمت دی، کله چي لږ ستونزي په کښي پیدا هم سي، بیرته ډیر ژر ځان ځیني پاکوي.

همدا راز ځیني وختونه د ښکیلاک سره مخ وي، خو بیرته ډیر ژر قیام کوي او په پښو دریږي، یرغلګر شړي او بیرته ځان خپل موقف ته رسوي، دا یې د نورو قومونو په پرتله یوه ځانګړنه ده، ځکه کله چي نور قومونه وځپل سي، بیرته د راپورته کیدو او قیام توان نه لري، لکه: د مصر فرعونیان، رومیان، یونانیان او داسي نور پخواني تمدنونه، مګر ددې اُمت ځانګړنه دا ده چي د مځکي پر مخ د خپل رب هغه دین لیږدوي چي اصل یې ثابت دی. اسلامي اُمت په تیرو څلورسوه (۱۴۰۰) کلونو کي په ډیرو کمو او ابتدایي امکاناتو په ډیرو وسلو سمبال یرغلګرو پر وړاندي جګړې کړي دي او بری یې تر لاسه کړی دی، د دغه بري ستر دلیل یوه اساسي او د نورو سره په توپیر کي مبدأ ده، چي د نړۍ پر ټولو دینونو او ایډیولوژیو غوره والی لري، دا مبدأ اسلام او د خپل خالق سره یې د مخلوق اړیکه ده، یعني هغه مبدأ چي اُمت یې پخپلو فتوحاتو کي د ځا نه سره لیږدوي، خلګ یې مني، ایمان پرې راوړي او آرامتیا ورسره پیدا کوي، همدا راز د فاتحینو ملاتړ کوي، تر څو نوي فتحي تر لاسه سي.

د مسجد الاقصی او قدس مبارکي خاوري موقف دومره لوړ دی، چي الله سبحانه وتعالی د قرآن کريم يو سورت په هغه نومولی او پيل کړی دی، د سورت د نومول کيدو لامل د مسجدالاحرام څخه د مسجد الاقصی پر لور د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سفر ياد سوی دی، چي د دعوت د تاريخ په سخت پړاو کي سوی دی، کله چي مسجد اقصی د کفارو لاسته ولويږي او د مسلمانانو د واک څخه ووځي، نو مسلمانان به يې د بيا آزادولو لپاره په قوي عزم سره راپورته کيږي، آزادوي به يې او خپل هغه موقف ته به يې رسوي چي الله سبحانه وتعالی ورکړی دی، دا هغه څه دي چي د صليبيانو، مغولو او بيا د صليبيانو په وخت کي وسول، د اسلامي اُمت د تاريخ يوه سخت پړاو، هغه پړاو چي صليبيانو پر اسلامي خاورو، په ځانګړي ډول شام او مسجد الاقصی بريدونه وکړل، د شام او مسجد الاقصی په مبارکه خاوره کي کابو نوي (۹۰) کاله پرلپسې نه د آذان ږغ واوريدل سو او نه لمونځ په کښي ادا سو، ټول مسلمانان دې خاوري ته د راتګ څخه منع او ټول ترسره کيدونکي عبادات او احکام په کښي ځنډيدلي وه.

د مسجد الاقصی پر وړاندي د تاريخ په اوږدو کي په ځانګړي ډول د صليبي جګړو پر مهال د شرقي او غربي کفارو دښمني او فساد ښکاره وو او لا هم روان دی، پر مسجد الاقصی باندي ددې امله چي دا ځای د اُمت په زړه کي ځانګړی ځای لري، هدف مندانه او پرلپسې جګړې سوي دي، دښمن تل هڅه کړې ده چي د اسلام، مسلمانانو، اسلامي افکارو او شعائرو پر وړاندي دسيسې جوړي کړي، پر مسجد الاقصی بريدونه يې يوه برخه ده، مسجد الاقصی چي صليبيانو ونيول، غوښتل يې ويې نړوي او لمونځ يې په کښي منع کړ، مګر مسلمانانو فتح کړل، هيڅ مسيحي يې په کليساوو او عبادت ځايونو کي د عبادت څخه منع نه کړ، په حقيقت کي د مسلمانانو دا کار د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د مسلمانانو عادل خليفه د عمري عصر پر ژمنه وفا وه، دا د قيامت تر ورځي د اسلامي اُمت لپاره عبرت دی، چي د بيلا بيلو نړيوالو سازمانونو او هوکړو د لاري د مسجد الاقصی پر ضد د مسيحيانو تلپاتې دښمني ده.

د اصحاب کرامو په وخت کي د اقصی د آزادولو انګيزه او ليوالتيا د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د وصيت له کبله وه او د اقصی سره مينه او آزادول يې د اُمت په عقيده پوري تړلي دي، د کفارو څخه د اقصی آزادول د مسلمانانو د يووالي لامل سو، کله چي مسجد الاقصی اشغال وه، مسلمانانو هيڅ وخت جهاد ونه دراوه، تر دې پوري چي د حطين د برخليک ټاکونکي جګړې وروسته يې د آزادۍ تاج ور پرسر کړ، اوس مهال يې هم بايد د آزادولو محرک او انګيزه قومي او ملي نه، بلکي ايماني او عقيدوي وي، ځکه دا ډول عقيدې ټولي ناکامي سوي دي، اقصی يوازي هغه کسان آزادولی سي، چي د الله سبحانه وتعالی سره يې د صدق او اخلاص تړون کړی وي، لکه: نورالدين زنګي، ظاهر بيبرس او صلاح الدين ايوبي.

د اسلامي اُمت ماهيت او صفتونه اسلامي اُمت يوه معتبره سرچينه او اساسي ماهيت لري، چي اصل يې ثابت دی او هر وخت د خپل رب آمر ته غاړه ږدي، عالمانو د اُمت د يووالي او د يوې واحدي رهبرۍ تر چتر لاندي راوستلو په برخه کي ګټور رول لوبولی دی او د نور الدين زنګي په وخت کي اُمت متحد سو، دغه فضل او غوره والی د متقي عالمانو د زيار او هڅو د امله دی، چي د مقدساتو او خاورو د آزادولو په برخه کي يې اُمت او د اُمت رهبران هڅولي دي، د نور الدين زنګي او صلاح الدين ايوبي (رحمة عليهم) په شان لويو رهبرانو د جهاد په دوران کي د عالمانو سره نږدې اړيکي او ناسته پاسته لرله او سرلښکر يې وه، که به لښکر کامیابیده او که به ناکامیده، په دې کي د اوسنيو عالمانو لپاره ښکاره عبرت دی، ځکه اوس هم د صليبيانو د وخت په څير د مسجد الاقصی په حق کي سستي او ناغيړي کيږي، نو دا د عالمانو لپاره يو درس دی چي يو ځل بيا اُمت متحد کړي او د دوی دا کار د اُمت د عزت بيرته را ګرځولو او مقدساتو د آزادولو پيلامه سي.

عالمان د انبياوو (عليهم السلام) وارثان دي، د انبياوو (عليهم السلام) څخه دينار او درهم په ميراث نه دي پاته، بلکي د هغوی څخه علم په ميراث پاته دی، څوک چي هغه زده کړي، په حقيقت کي يې لوی کار کړی دی. (صحيح بن حبان)

د تاريخ په اوږدو کي کفار پر خپلو ژمنو نه دي درېدلي، قرآن کريم او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سنت ددې موضوع غوره شاهدان دي، کفارو تل د مسلمانانو سره خپل تړونونه مات کړي دي، د بيلګي په ډول: په الرها، معرة النعمان او قدس کي د صليبيانو او په سمرقند او بخارا کي د مغولو تړون ماتولو ته اشاره کولای سو، چي د مسلمانانو پر وړاندي يې د خيانت توره وچلوله، کفار به اوس هم د مسلمانانو سره پر کومه ژمنه ونه دريږي او د خپلو ګټو لپاره به هر ډول نړيوالي هوکړي او تړونونه تر پښو لاندي کړي، نو دلته د مسلمانانو لپاره يو عبرت دی چي خپله وينه، دين او ناموس د کفارو څخه په آمن کي ونه بولي، الله سبحانه وتعالی د ټولو هوکړو او نړيوالو تړونونو څخه زيات صادق دی او مسلمانان بايد د کفارو پر وړاندي د جهاد اراده وکړي، تر څو د هغوی څخه اسلامي خاوري آزادي کړي. داسي انګيرل کيږي چي کفار متحد دي، په داسي حال کي چي سره ويشل سوي او يو د بل سره دښمنۍ لري، مګر بيا هم د اسلامي اُمت پر وړاندي د جګړې لپاره يو موټی وي، دا مسئله د اسلامي اُمت پر وړاندي د صليبيانو په جګړو کي ښکاره ده، د بيلګي په ډول: د ختيځ روم (قسطنطيني) کليسا او لويديځ روم (اروپا) کليسا سره له دې چي په خپل منځ کي يې ډېر وخت جګړې کړي وې، مګر د مسلمانانو پر وړاندي سره يو سوي دي، د اروپا پاچاهان هم همداسي قياس کړی، د اسلامي اُمت لپاره په دې کي درس دا دی چي کفار که يو د بل سره دښمنان هم وي، خو د اسلامي اُمت پر وړاندي يو کيږي، همداسي امريکا او اروپايي هيوادونه سره له دې چي د يو بل سره دښمنۍ لري، مګر د اسلام پر وړاندي جګړه کي يو موټی دي، نو په ټوله کي چي خبره د اسلام پر وړاندي د جګړې او شر رسولو وي، د کفارو تر منځ هيڅ توپير نسته. دا د اسلامي اُمت او مسجد الاقصی پر وړاندي د صليبي جګړو د وخت ډېر ښکاره درسونه وه، حقيقت دا دی چي د اسلامي اُمت او مسجد الاقصی پر وړاندي د صلبيانو دسيسي او پلانونه پای ته نه دي رسيدلي، د اسلامي اُمت د تاريخ مهمي پيښي او درسونه او په خاص ډول د مسجد الاقصی پيښي څيرل راتلونکو نسلونو ته ډېر عبرتونه او درسونه لري، اوسنۍ توره دوره هم د اسلام پر وړاندي د همغو صليبي اربابانو او د هغوی د مزدورانو د جګړو دوام دی.

يهوديان د دجال په لټه کي دي

دجالي تمدن خپله برخه کار به ښه توګه سر ته ورسوی، انساني ژوند ته يې مينونه کيښوول، د خيال، مکر او جادو زور يې تمام کړ، چي بيخي ډير وو، هغه د بولۍ د دريزه راکوزيږي، د شيطاني نظام مامورينو ته سر ټيټوي او حکم ته يې غوږ نيسي.

ټول امکانات حتی خپل ځان هم د هغوی په واک کي ورکوي، تر څو د انساني نړۍ او په ځانګړي ډول سره زموږ د نړۍ په باره کي شيطاني پريکړي منظمي او ګړندۍ کړي، او د احتمالي غبرګون د مخنيوي داسي لاري چاري ولټوي چي يا غبرګون رامنځته نه سي او يا ډير کم څواکه اووسي، د شيطان مامورينو پر ډيرو لارو چارو غور وکړ، خو پريکړه يې دا را وايستله: ټوله نړۍ او په ځانګړي ډول سره اسلامي نړۍ بايد په هر لحاظ ستړې، په ستونزو کي راګيره، مصروفه، د وينو او ور، لوږو تندو، جهل، ناروغيو، پاشلتوب، په منځ کي وساتل سي، تر څو د غبرګون فکر يې د سره ووځي، موږ په آرامه څه چي غواړو سر ته يې ورسوو.

خو له بده مرغه نن ټوله نړۍ او په ځانګړي ډول زموږ نړۍ د تنخوا خورو او کرايي واکوالو د شرارت او پردي پالني په پايله کي لاهم هغسي درد او غم سره مخ او کړاؤنو کي را ګيرده.

د شيطان مامورينو د خپلو ذمه واريو لومړۍ مرحله په ښه توګه سرته ورسوله، او د دوهمي مرحلې لپاره چي له مخي يې روان ۲۰۲۷م کال مهم کال ياد سوی دی، چي د خطرناکو پيښو د پيښيدو وړاندويني او سترګو ليدلی بد حال انځورونه يې لاس پر لاس کيږي، او کټونکي يې د پيښيدو لاري څاري. هغه دا چي صهيوني اداره د ژړي سخوندرې (ژړي غوا) د حلاليدو پوخ هوډ لري، او له هغې وروسته به د سليماني هيکل د تعمير کار پيليږي، چي همدغه د نوي نړيوال شيطاني نظام سريزه ده، د ياد شيطاني هيکل لومړی چاري سرته رسيدلي دي، يوازي د پيلامې مسئله پاته ده، تر څو ټول انسانيت او په ځانګړي ډول مسلمان اُمت ته د شيطاني نيواک يا قبضې د پراخوالي او واکوالي شيطاني پيل په سترګو په ووينې، مګر د هيکل تر تعمير له مخه چي دوی ته ډير آرزښت لري، هغه د اسلامي اُمت په شتون کي د مسجد الاقصی د ړنګيدو مسئله ده، چي د مسلمانانو لومړۍ او د وحيي په نزول وياړلې قبلـه د خاورو سره خاوري کړي، دوی چي کله دغه لوی جرم وکړي، نو تر هغه وروسته به يې پر ځای شيطاني هيکل جوړوي.

مسيحي نړۍ خو لا مخکي د دوی په والکه کي وه، دا هر څه چي کيږي هغـه لـد دوی سره په تفاهم کي کيږي، او وروسته به د شيطاني نظام د قيام په لاره کي خنډونه کم او يا بيخي له منځه ولاړ سي، او په ۲۰۲۵م کال کي به په رسمي ډول د نړيوال شيطاني نظام د اعلان حکم صادر او په ۲۰۳۰م کال کي به نړيوال شيطاني نظام په کار پيل وکړي، تر څو ۲۰۵۰م کال کي د نوي شيطاني نظام د قيام لپاره د بشپړ انفاذ لاره هواره او نوی شيطاني نظام د ټولي مځکي د نظام په ښه کي را ښکاره سي. د يهودانو د عقيدې له مخي بايد مسجد الاقصی ونړول سي او په هغه ځای کي د يهودانو لپاره د سليمان د معبد په نوم يو نوی معبد جوړ سي، چي د هغوی د نجات ورکوونکي حضرت عيسی (عليه السلام) د ظهور لپاره شرايط برابر سي. ددې معبد جوړول د يهودي مذهب د ظهور لپاره يو له اړينو شرايطو څخه دی. د اسلامي نړۍ ډير واکمنان خو د شيطاني نظام د شيطاني عزائمو د سرته رسيدو معاش خواره دي، د هيلو سترګي يوازي مسلمانو ولسونو ته ورکړې دي، چي څنګه او کله به يې د يوې هوښياري، چټکي، رغنده، کوټلي او مجاهدي پريکړي ليدونکي ؤاوسي.

نهم فصل

خفیه ټولني او سازمانونه

۱:- ایلومناتي Illuminati: دا فتنې او فسادونه، جنګونه، مفلسي او فحشا پر اسلامي نړۍ جنګي تعروضونه د چا په وسیله انجامیږي، هغه څوک دي چي نړۍ یې په فکري ډول فلج کړې ده؟ ایلومناتي نومي خفیه تنظیم چا رامنځته کړی؟ کوم اهداف لري؟ دا خبره نوره پټه نه ده پاته چي یو څو ډلي سته چي د نړۍ ټول نظامونه یې په خپل لاس کي اخیستي دي، د هغه ټولنو څخه د ایلومناتي نومي خورا یو پخوانۍ مهمه او خطرناکه ټولنه ده، ایلومناتي رڼا یا د پوهني رڼا ته ویل کیږي، دوی دا باور لري چي دوی په داسي یو علم منور دي چي په ټوله دنیا کي د بل چا سره نسته، ددې علم په مکمل ډول چاته معلومات نسته، خو ځیني علماؤو وایي: دا قیباله نومي جادو دی، ایلومناتي د فریمیسن ټولني څخه زیږدلې ټولنه ده، دا ټولنه هغه وخت لا رامنځته سوې وه، چي شیطان د آسمانو څخه وشړل سو، نو ځکه د دوی ټول کارونه شیطاني دي، ددې ټولنو غړیتوب خورا خوفناکه شرایط لري.

هغه دا چي ددې ټولني سره چي څوک یو ځای کیږي هغه به د رازونو حلف اخلي، پر شیطان به خپل روح خرڅوي، دوی د شیطان د خوشحاله کولو لپاره حیوانات او حتی د قرباني په نوم انسانان حلالوي، دا خفیه ټولنه دیارلس (۱۳) نسلونه لري چي یو یې د راک چایلډ او بل یې ډیویډ راک فیلر دی، د دوی په لاس کي د ټولي دنیا تعلیمي او صحي برخي نړیوال بانک، ملل متحد انساني ارتقاع انسانیت تر مذهب پورته دی او داسي نوري داعوې لري، دوی خپل کتاب لري، چي مقدس (illuminati) یې ګڼي، دوی شیطاني کلیساوي هم لري، او د دوی د خدایانو مجسمې په کښني کي دي، د دوی تر ټولو زورور خدای (Lucifer) نومیږي چي په اغلب ګمان دا به شیطان وي او داسي وایي: دی د دریاب تر ټولو زورور خدای دی. العیاذ بالله

او داسي احادیث هم موندل کیږي چي شیطان خپل تخت پر سمندر هواروي، بل خدای یې بیا (Bapomit) نومیږي چي د بوزې شکل لري او ددې خورا بیرونکي شکلونه هم سته، د دوی ټولو مذهب پر یوې کلمې ولاړ دی، هغه دا چي دوی وایي: مذهب انسان د مادي طریقې څخه راګرځوی، دوی دوې (۲) طریقې لري چي خپل اهداف په پوره کوي.

۱: دا چي زیات خلګ نن د نړۍ پر لویو چوکیو باندي ناست دي، هغه ایلومناتیان دي او د فریمیسن غړي په ښکاره خو فریمیسن وي، مګر کار د ایلومناتیانو لپاره کوي.

۲: بله طریقه یې معاهدات دي، دوی د خپل کار خلګ په پیسو رانیسي هغه خلګ چي د پیسو او شهرت خواهش لري، دوی یې ور پوره کوي او په بدل کي خپل کار ځیني اخلی.

د لېډي ګاګا، جیسټن بیبر او ګینګ اویس په اړه مشهور دي چي دوی ایلومناتیان دي.

دوی تر ټولو غټ دوښمنان چي دي هغه مسلمانان دي ځکه مسلمانان د نورو خلګو په پرتله خپل مذهب ته ټینګ دي او د اسلام حکومتي او معاشي نظام هم د دوی لپاره سرخوږی دی، موږ باید مسلمانان د دوی د فتنو په اړه خبر کړو، دا زموږ او ستاسو وظیفه ده.

۱:ـ فریمیسن: د فرانسې انقلاب، په لومړي نړیوال جنګ او بلوشویک انقلاب کي هم د فریمیسن ډلي غټ لاس وو، تاریخي واقعیتونه ښیي، په داسي حال کي چي د فرانسې انقلاب د ټولني له منځه را پیل سوی وو، مګر ډیرو مشرانو او مخکښانو یې د فریمیسنانو سره اړیکه لرله او ددې انقلابونو پایله چي وروسته یې بې خدای توب او غربي سیکولرتوب راوړ، د فریمیسنانو پلانونه وه، فریمیسنري د امریکا په ځوانو متحده ایالاتو او په اتلسمي (۱۸) پیړۍ کي په اروپا کي مهم رول ولوباوه، ځکه چي د فرانسي د انقلاب په لومړیو نظریو کي د ځینو فریمیسنانو لاسوهنه څرګنده وه، د فریمیسنیانو یوه پروژه چي اوس هم دوی کار پر کوي هغه (Novus Ordo Seclorum) ده، یعني د نړۍ سیکولر کول یا نړۍ د دیني عقایدو څخه خالي کول، یو سیکولر نظم رامنځته کول او یوه دنیا پاله ټولنه جوړول.

دا ټول د دوی اهداف دي چي پیل یې د فرانسې د انقلاب څخه وو، د فرانسې په انقلاب کي انقلابیان د شاه څخه د اصلاحاتو غوښتونکي وه، چي تر ټولو مهمه غوښتنه یې کلیسا د سیاست څخه لیري کول وه، دوی نور د کلیسا د کړنو څخه نفس تنګي سوي وه، هغه وو چي د سیکولر نظام بنسټ یې کېښېښود. د یهودو او فریمیسن د اجنډاوو د تطبیق او عملي کولو او هغه ته د نړۍ د تیارولو لپاره په هغه وخت کي دوې (۲) ستري امپراتورۍ وې، چي دوی ته غټ خنډ او د اجنډاوو د تطبیق لپاره دیوال ګڼل کیدی، یو یې د عثماني خلافت وو او بل یې د ارتودوکس مسیحي امپراتوري (تزار) وه، چي دواړو په یوازیني خدای (جل جلاله) عقیده درلودله، ځکه یې نو ددې دوو (۲) امپراتوریو د له منځه وړلو لپاره نړیوال پلانونه ونیول، په روسیه کي یهودیانو د ولادیمیر لینین په مشرۍ د بلوشویک په نوم کمونیستي انقلاب نظریې په روزني لاس پوري کړ، لینین د مور له خوا یهود وو، او یهودیانو د هغه په لومړني سیاسي دفتر باندي واک لاره او د بلوشویک په انقلاب کي دوهم مهم سړی چي لیئون تروتسکي نومیدی، ډیره هڅه یې کوله چي د یهودو په ګټه خپل هویت او لیوالتیا پټه کړي.

یهودیانو په عثماني قلمرو کي هم د نفوذ په فکر کي وه، او خپلو لاسپوڅو ته یې په دې مځکو کي روزنه ورکوله، په ترکیه کي یې مصطفی کمال اتاترک او د عربو په جزیره کي یې د حجاز حکمران شریف حسین او عبدالعزیز ابن سعود وټاکل، خو دا دوې (۲) امپراتورۍ دومره هم کمزوري نه وې، چي د څو تنو او یا یو عادي سیاسي حرکت په بغاوت سره له منځه ولاړي سي، ددې دوو (۲) امپراتوریو د کمزورتیا لپاره دوی باید په یوې ستري جګړې کي برخه اخیستې وای، نو له همدې امله یهودیانو یعني صهیونیستانو لومړۍ نړیواله جګړه پیل کړه، په ۱۹۱۴م کال کي یهودیانو د اتریش مجارستان ولیعهد فرانتس فردیناند وواژه او په دې کار یې د

صربيا هيواد تورن کړ، د روسيې امپراتورۍ د صربيا د دوديز متحد په توګه خپلو ځواکونو ته د چمتوالي آعلان وکړ، اتريش مجارستان هم د صربيا او روسيې سره د جګړې آعلان وکړ.

ډاکتر هنري مکو وايي: د پټو فريميسني ناستو پواسطه د اتريش وليعهد فرديناند وژل کيدل، چي وروسته په لومړۍ نړيواله جګړه واوښته، د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر يوولسمي (۱۱) ته ورته يوه پلان سوې پيښه وه.

کله چي لومړۍ نړيواله جګړه پيل سوه، د همدې جګړې په جريان کي په ۱۹۱۷م کال کي لينين په دې وتوانيدی، چي بلوشويکي انقلاب کامياب او تزار روسيه په جماهير شوروي باندي واړوي، همدا شان د همدې جګړې په پای ته رسيدو سره عثماني خلافت هم ونړيدی، او دوی يعني يهودو او فريميسنيانو خپل اهداف تر لاسه کړل.

فريميسن نړيوال يهودي تنظيم دی، په هر هيواد کي ددې تنظيم مرکزونه سته، په دې تنظيم کي د رکنيت حاصلولو ډير مدارج دي چي د ډګري په نوم ياديږي، د هر ډګري لپاره ځانګړي شرائط وي او د هر ډګري غړي يوازي د خپل ډګري والاو سره تعلق ساتلای سي، په دې درجه بندي په داسي سخته توګه عمل کيږي، چي د يوې ډګري غړی د بل ډګري د غړي د مقصد او پټو منصوبو څخه نه سي خبريدلای، د لوړو درجو غړيو مقاصد نورو ارکانو ته، که هغوي ټول عمر په فريميسن کي تير کړی وي، د هغوی مقاصد هم هغه رقم پټ او په راز کي پاته کيږي، ددې تنظيم طريقه کار خو دومره پټ دی چي ددې په هکله معلومات حاصلول تقريباً ناممکنه دي.

د لاجونو روئدادونه په غيري معمولي طريقه پټ او په راز کي ساتل کيږي، يوازي د هغه لاج نه علاوه نورو ته ددې خبرو په هکله هيڅ معلومات هم نه وي او نه ورکول کيږي، د ډير تحقيق پس چي کوم معلومات زموږ لاسونو ته راغلي دي، د هغو معلوماتو پر بنسټ د دغه لاجونو ارکان د يو بل سره په شفر کي خبري کوي، هغوی يو بل په خپلو پټو اشارو او الفاظو پيژني، دوی که د نړۍ کومي حصې ته هم ولاړ سي، نو دوی يو بل ډير په آسانۍ سره پيژندلای سي، که کوم فريميسن بهرني هيواد ته په سفر ولاړ سي، نو هغه خپل ملګري سره د پيژندلګلوي هيڅ ضرورت نسته، په اجتماع، جلسو او يا که دوی کوم بل هيواد ته ولاړ سي، نو دوی بغير د يو لفظ ويلو څخه، يوازي د خپل لاس او يا د خپل جسم په کومي مخصوصي اشارې سره يو بل پيژني.

د مثال په توګه: د دوی يوه عامه اشاره د مثلث نبنان دی، کوم ته چي سترګه ويل کيږي، که کوم اجنبي ماحول کي کوم فريميسن دا معلومول وغواړي چي دلته د هغه د تنظيم څومره غړي موجود دي، نو هغه خپل لاس د کوټ په تکمو (بټنی) په منځ کي ايږدي، تر څو يو مثلث جوړ کړي، نو بيا د هغه لاج فريميسن ټول غړي چي هلته موجود وي، هغه به يې وپيژني، او هغوی به هغه بغير د کوم لفظ ويلو څخه وپيژني.

فریمیسن د هیواد افسران خپل غړي جوړول غواړي او یا د بهرني هیوادونو د لویو کمپنیو تجارتي شرکتونو مالکان او داسي نور... د غړي جوړیدلو لپاره د کوم خاص رنګ، مذهب، نسل او یا قومیت ضرورت نسته، بلکي هر څوک تشویقیږي او ددې څخه وروسته بیا هغوی د خپلو پروګرامونو لپاره استعمالیږي، د صهیوني مشرانو د دستاویزاتو د مطالعې څخه معلومیږي، چي ددې تنظیم قیادت یوازي د یهودو په لاس کي دی، دا دستاویزات د ډیرو حقایقو څخه پرده پورته کوي.

مثال: ددې تنظیم ریښې د سرطان د مرض په شان په هر هیواد کي خپریږي، او د دوی لاسونه خو دومره اوږده دي چي اندازه لګول یې مشکله ده.! کاتولیک، پاپ فرانسیس.

فریمیسن په عام ډول دي خلګ دا عامه ټولنه وګڼي او ددې تنظیم غړي سي، په اول کي د هغوی په ساده توب هغوی ته دا احساس هم نه سي کیدلای چي هغوی د کوم مقصد لپاره استعمالیږي. الله (جل جلاله) جنات هم د حضرت سلیمان (علیه السلام) تابع ګرځولي وه، یهودیانو چي هر ځای ډیر معنوي او لفظي تحریفونه وکړل، دوی بدبختو حضرت سلیمان (علیه السلام) ته د جادوګر لفظ ولیکه او د شیطان تابع کولو جواز یې هم پیدا کړ، ددې عقیدې پر بناء هغوی په ټوله نړۍ کي د فریمیسن جال خپور کړی، فریمیسن ته په همدې وجه جادوګر هم ویل کیږي. د یهودیانو ددې تنظیم څخه اصل مقصد په مختلفو هیوادونو کي طوطیې او جاسوسي کول دي، مګر هغوی دا مشهوروي چي دوی یو ټولنیزه او تفریحي کلب دی، ددې تنظیم غړي د یو بل ډیر خیال ساتي او مرسته یې کوي، دا بیا د عامو خلګو لپاره د راجذبولو کشش لري او په خصوصي توګه ددې تنظیم غړي بادشاه، نواب، اعلی فوځي افسر او داسي نور... ښاري حکام وي، ځکه نو خلګ هم ددې تنظیم غړۍ سي.

په ټولنه کي هم دا کسان د خپلو هیوادونو د رازونو څخه خبر وي، د مثال په توګه: د انګلستان جارج پنځم (۵) سپریم د خپل لاج ماسټر وو. د لاج غړي خصوصاً د شرابو د استعمال پلو ته مایل کوي، ځکه د نشې په حالت کي د یو شخص څخه رازونه ښه ویل کیږي، ددې تنظیم غړیو او یا لوړه درجه لرونکو غړیو ته ورشیفول ماسټر، د پرستش قابل آقا او داسي نور... ویل کیږي.

د فریمیسن مقصد په نړۍ کي د دجال ریاست لپاره هلي ځلي کول دي، په دې تنظیم کي شلو (۲۰) کلنو څخه زیات عمر لرونکي خلګ غړیتوب تر لاسه کولای سي، د ظاهري جوړښت څخه خو دا یو خیراتي، د روغتونونو، یتیمانو او تعلیمي ادارو یو تنظیم دی، مګر په حقیقت کي دا د همدې خیراتي کارونو په جامه کي د مسلمانانو خلاف دښمني ده او دوی ټل دا هڅه کوي چي مسلمانانو ته لا زیات نقصانات ور ورسوي، همدا مقصد ددې تنظیم لومړنی مقصد دی.

د امریکا استخباراتي اداره (CIA) کي یهودیان او په خصوصي توګه د فریمیسن غړیو اکثریت ډیر دی، هغه امریکایي فوځونو چي په ځینو هیوادونو کي تعین سوي دي، لکه: سوریه، عراق، بوسنیا، چیچنیا او پاکستان کي هم د فریمیسن اکثریت زیات ډیر دی، موږ بلکي ټوله نړۍ دا ویني چي په همدې هیوادونو کي څه روان دي او دوي اخته دي، چي لا څه کوي.

د فریمیسن په هکله یو کوچنی کتاب (PROTOCOLS OF THE ELDERS OF ZION) په لومړي ځل په ۱۹۰۵م کال کي یو روسي پرفیسر سر جي نارائیس لیکلی دی، ددي کتاب یوه نسخه بریټیش کتابتون ته په ۱۹۰۶م کال کي ورکړل سوه، ددې کتاب څخه د پروفیسر دا مطلب وو، تر څو د صهیونیزم ټولو مقاصدو څخه پرده پورته کړل سي، دا کتاب نړۍ ته د روسي کمونستي انقلاب څخه وروسته ورسیدی، کله چي روسي مهاجرینو دا کتاب ځان سره اروپا ته ورسوه، ددې کتاب آهمیت هغه وخت لا ډیر سي، کله چي په کمونیستي انقلاب کي هغه خبري ریښتیا سوې، کوم چي دې کتاب کي بیان سوي وې، بیا په روس او نورو هیوادونو کي ددې کتاب یو چا سره پیدا کیدل یو جرم ګڼل کیدی، ددې کتاب لوستل سړی دې ته آماده کوي، چي وايي: بین الملل، نړیوال بانک، او داسي نوري اداري د یهودیانو په لاس کي دي.

۳:- برموډا یا شیطاني مثلث: برموډا ټرینګل چي د شیطاني مثلث په نوم هم یادیږي، د اطلس سمندر په سهیل ختیځ څنده کي پروت دی، چي ددې قسماً مثلث ته ورته شکل دري (۳) راسونه د فلوریډا، برموډا او پورتوریکو سره مښلول سوي دي، که څه هم دا سیمه منظم مثلثي شکل نه لري اما د دریو (۳) راسونو په خاطر یې غالباً د مثلث په نوم یادوي. په لومړي ځل د وینسټ ګاډیس لخوا په ۱۹۶۴م کال کي د آرګوزي په نوم مجله کي د برموډا ټرینګل جغرافیوي حدودو معرفي سول، نوموړي خپل تحقیق د برموډا وژونکې ده تر نوم لاندي دومره وغځاوه، چي د یو کتاب په بڼه یې خپور کړ، نوموړي د برموډا مثلث جغرافیوي موقعیت داسي تعریف کړی دی: یوه کرښه د فلوریډا څخه تر برموډا، بله کرښه د برموډا څخه تر پورټوریکو او دریمه کرښه د باهاما تیریږي چي په فلوریډا ورګډیږي.

د برموډا مثلث نومي سیمه د خپل جیوپولټیک او ستراتیژیک موقعیت له مخي د سمندري او هوایي ټرافیک له اړخه د نړۍ یو له مزدحمو سیمو ګڼل څخه کیږي، د دوهمي نړیوالي جګړې په درشل کي امریکایي هوایي پوځونو د خپلو پوځي تمرینونو په لړ کي د (۱۹) نمبر پرواز (TBM) ډوله بم اچوونکي پنځه (۵) الوتکي په ناڅاپي ډول په همدې سیمه برموډا ټرینګل کي د لاسه ورکړې، د دوی ترې تم کیدلو امریکایان په دې خاطر په حیرت کي واچول چي په دې ورځ جوي حالات په بشپړ ډول نورمال وو، الوتکي په هر لحاظ سمبال وې او په نوموړې سیمه کي له مخکي د سونامي یا سمندري طوفانونو په اړه کوم خبر هم نه وو ورکړل سوی. څیړونکي وايي: یوازي په وروستیو سلو (۱۰۰) کلونو کي برموډا د کابو (۲۰) مختلف النوع الوتکو او تر (۵۰) زیاتو سمندري بیړیو د هضم مسوولیت په غاړه لري.

همدارنګه د ۱۹۶۳م کال د فبروري په څلورمه (۴) نیټه د امریکا د سمندري پوځونو اړوند لویه بیړۍ (Sulpher Queen) په همدې سیمه کي د تل لپاره لا درکه سوه، سیمه ته لیږدول سوي ټیم د څو اونیو پرلپسې پلټنو سره سره ددې ستري سمندري بیړۍ په اړه هیڅ داسي مدارک تر لاسه نه کړل چي په اړه یې تحقیق ترسره سي.

د لادرکه یویو بېړیو د موندلو لپاره توظیف سوي هیأتونو د برموډا ټرینګل د وحشتناکي سیمي په اړه ګڼه نظرونه او فرضیې وړاندي کړې، په برموډا نومي سیمه کي تر ډېره غیرمترقبه او وحشتناک طوفانونه رامنځته کیږي، ددې هر څه سره سره د برموډا ټرینګل مثلث موضوع تر اوسه د خپل عصر پخپل ذات کي تر ټولوستره لاینحل معما ده، د برموډا مثلث هیبت ناکي اغیزې یوازي تر مثلث باندي را محدود هم نه دي، بلکي ډېر کله یې اغیزې د خپلي حیطې ور ها خوا هم تر سترګو سوي دي، مګر تر ټولو ډېر ګمانونه بیا د برموډا د پېښنو تر شا د شیطاني فعالیتونو شتون په ګوته کوي، په تیرو سلو (۱۰۰) کي هلته تر (۱۰۰۰) زیات انسان لا درکه سوي او په اوسط ډول هر کال (۴) الوتکي او تر (۲۰) ډېري بېړۍ په کښني ورکیږي.

لومړنی کس چي د برموډا په اړه یې خبرداری ورکړ، کرستف کولمب وو، نوموړي له همدې سیمي څخه د تیریدو سره خپل لیدلی حال پخپل یو ژورنال کي لیکلی: د برموډا په سیمه کي د سمندري بېړیو قطب نما خپل کار پرېږدي او دا هغه وخت وو چي موږ په آسمان کي د اور د جنس څخه ځلیدونکي ستورو ته ورته اجسام ولیدل، برموډا هغه سیمه ده چیري چي د بېړیو قطب نما خپل مقناطیسي شمالي قطب پرېږدي او حقیقي شمالي قطب ته انحراف کوي چي دا د بېړیو د ناڅاپي ناهنجاریو سبب کیږي. د برموډا سیمه داسي ښکاري چي دا سیمه تر دې مخکي هم د ویر او بیري سیمي په نوم پیژندل کیده او ددې سیمي د کشف مخکي هم دې سیمي د هیبت او بیري نوم درلود، د برموډا ټرینګل سیمه د قبرونو سیند، د شیطان مثلث، د مرګ او هلاکت مثلث، د بدمرغی مثلث، د اټلانټیک هدیرې او د انسانانو د هلاکت جغرافیې په نومونو په تاریخي افسانو کي یاده سوې ده.

دلته د برموډا یا شیطاني مثلث د ذکر کولو څخه مي هداف دا دی چي یهودو او اسرائیلو ددې مثلث څخه داسي یو شی جوړ کړی دی، چي ټولي نړی ته یې د ستوري په شکل معرفي کړی

دی، مګر په اصل کي دا ستوری نه دی، دوی دغه شیطاني مثلث د یوه خفیه یا شیفر په حیث استفاده کوي یا استعمالوي، که تاسي وګورئ د فوځ د لوړ رتبه اشخاصو لپاره یې کار کړی وي، چي د دوی پر اوږو باندي لګیدلی وي، د محمکې په ټاپه کي یې کار کړی وي، په ډالر کي هم استعمال سوی دی او داسي نورو... ځایو کي یې هم کار کړی وي، دوی وایي: په دې شیطاني مثلث کي دجال دی، او دجال به د دغه څخه راځي، او یا هم دوی وایي: دلته شیطان موجود دی.

د ځینو اسلامي علماؤو په نظر د برموډا مثلث په ساحه کي د شیطانانو د باچا (ابلیس) تخت موجود دی، نور نو په دې اړه الله (جل جلاله) ښه پوهیږي، خو دلته به موږ د یوه اسلامي عالم وینا را واخلو. نوموړی اسلامي عالم وایي: د ابلیس تخت په او بو کي دی او نوموړی د پیریانو د لاري خپل مرستندویانو ته مشورې ورکوي. آیا دا نو دا معنا لري چي شاید د شیطان تخت هم دلته په برموډا مثلث کي موجود وي؟ الله (جل جلاله) ښه پوهیږي، مګر کیدای سي.

۴:- شیطانیزم: شیطان د ایډیالوژیکي او فلسفي عقیدې یوه ډله ده چي د شیطان پر بنسټ ولاړه ده، د شیطانیزم معاصر مذهبي عمل په ۱۹۶۶م مال په متحده ایالاتو کي د انتون لاوي له خوا د شیطان ملحد کلیسا په تاسیس سره پیل سو، د هغه وخت له مخه شیطانیزم اساساً د ځان پیژندني یا څرګند سوي مذهبي عقیدې پر ځای د پیژندل سوي ایډیالوژیکي مخالفینو په وړاندي د مختلف عیسوی ډلو له خوا د تورونو موضوع په توګه شتون درلود، شیطانیزم او د شیطان مفهوم، د هنرمندانو او ساتیرانو له خوا د سمبولیک بیان لپاره هم کارول سوی دی، د مینځنۍ پیړۍ په جریان کي د کاتولیک کلیسا په مشرۍ انقیکشن ادعا وکړه: بیلا بیل مذهبي عیسوي فرقې او ډلي لکه: نایټس ټیمپلر او کاتار پټ شیطاني مراسم ترسره کړي دي.

په وروستي عصري دوره کي د جادوګرانو په پراخه شیطاني سازش باور په ټوله اروپا او شمالي امریکا مستعمرو کي د ادعا سوې جادوګرانو ډله ایز محاکمې پایله وه، شیطاني توطیې فعالي وې او د پیښو تر شا لکه د پروټسټنټیزم پرمختګ او برعکس پروټسټنټ ادعا کوي چي پاپ د مسیح ضد وو، او د فرانسي انقلاب په اتلسمه (۱۸) پیړۍ کي په مسیحیت کي رامنځته سوی، د پراخه شیطاني توطیې مفکوره په ۱۸۹۰م کال په موهو کي د فرانسې د نفوذ لرونکي ټیکسیل هیک سره نوی لوړوالی ته ورسیده، کوم چي ادعا یې وکړه: فریمیسنري په خپلو مراسمو کي د شیطان، لوسیفر او یا بافومټ عبادت کوي، په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰م کلونو کي د شیطاني دودیز ناوړه ګټه اخیستني هیستیریا په متحده ایالاتو او انګلستان کي خپره سوه، ځکه بیره شتون چي د شیطانانو ډلي په منظم ډول په خپلو مراسمو کي د ماشومانو څخه جنسي ناوړه ګټه اخلي او وژني یې.

د نوولسمي (۱۹) پیړۍ راهیسي مختلف کوچنی مذهبي ډلي راپورته سوې چي د شیطاني په توګه پیژندل سوي یا د شیطاني عکس العمل کاروي، شیطاني ډلي چي د ۱۹۶۰م کال وروسته راڅرګندې سوې په پراخه کچه توپیر لري، اوسنی مذهبي شیطانیزم په عمده توګه د امریکا پدیده ده، په بل ځای کي د نظرونو خپرول د نړیوال کیدو او انټرنیټ اغیزه ده، انټرنیټ د ګروپ دننه اړیکو ته اجازه ورکړې ده، او د شیطاني شخړو لپاره د جګړې اصلي ډګر هم دی، شیطانیزم مرکزي او ختیځي اروپا ته رسیدو پیل وکړ، د کمونیست بلاک د رانسکوریدو سره او په ځانګړې توګه په پولینډ او لیتوانیا کي چي ډیری یې رومن کاتولیک هیوادونه دي.

یوجین ګالګیر وایي: شیطانیزم معمولاً یو جنجالي اصطلاح وه، نه تشریح کوونکې اصطلاح.

د شیطانیزم کلمه په انګلیسي کي د فرانسوي شیطانیزم څخه منل سوې کلمه ده، د شیطانیزم اصطلاحات د لومړي ځل لپاره د شپاړسمي (۱۶) پیړۍ په جریان کي په انګلیسي او فرانسوي ژبو کي ثبت سوي دي، کله چي دا د عیسوي ډلو لخوا د نورو سیالو مسیحي ډلو باندي د برید لپاره کارول کیده، هغه عیسوي ډلي چي د رومن کاتولیک کلیسا لخوا مرتد ګڼل کیږي په مختلف ډول چلنج سوي دي، د الهیاتو پوهانو سره استدلال کوي چي دوی په قصدي ډول د شیطان عبادت کوي، دا ډول اشخاص په جنسي سازمانونو کي بوخت وي، ماشومان وژني، د لویدیځ عیسویت په دننه کي د ورته تورونو لومړنی ثبت سوې چي دوه (۲) عالمان د شیطان د احترام په تور محاکمه سول، د مینځنی پیړۍ په اوږدو کي دا تور به د عیسوي مرتد ګروپونو پراخه لړۍ باندي پلي سول.

په شمول د پاولیسیانو، بوګومیلز، کاتار او والډینسیانواو د نایټس ټیمپلر د بافومټ په نوم پیژندل سوي بت عبادت کولو تورن سوي وه، د عیسوي فکر په دننه کي مفکوره رامنځته سوه، چي ځیني خلګ کولای سي د شیطان سره تړون وکړي، د مینځنۍ پیړۍ ناوخته عصري دورې ته لاره ورکړه، د اروپا سلطنت د تاسیس سوي رومن کاتولیک کلیسا او جلا سوي پروټسټنټ غورځنګ تر منځ توپیر تجربه کړ، ورپسې اصلاحاتو او د اصلاحاتو پر ضد، دواړه کاتولیکانو او پروټسټنټانو یو بل تورن کړ چي په قصدي ډول د شیطان سره په اتحاد کي دي، دا په داسي حال کي وه چي په دې برخه کي د شیطاني او شیطاني اصطلاحات راپورته سوي وه. هغه تورونه چي په مینځنۍ پیړۍ کي د مرتدانو په منځ کي لګول سوي وه، د دوی په منځ کي د شیطان عبادت، د جادوګر یا د ناوړه جادو تمرین کوونکي په وړاندي پلي سوي وه، د شیطاني جادوګرانو د توطیې مفکوره د تعلیم یافته اشرافو له خوا رامنځته سوه.

د شیطان عبادت کوونکي: په اوسني وخت کي یوه منظمه ډله ده چي مستقیماً د ابلیس عبادت کوي، دا ډله په امریکا او انګلستان کي ډیره قوي ده او ډیر پیروان هم لري، د امریکا پخوانی مرستیال وزیر ډیک چیني هم ددې ډلي په مشرانو کي راځي، د امریکا پخوانی وزیره کنډالیزا رایس، ایراني ولسمشر محمود احمدي نژاد او ولادیمیر پوتین چي د روسیې ولسمشر دی هم ددې ډلي سره اړیکي لري، او داسي نور... مشهوره خلګ هم ددې ډلي سره اړیکي لري، دا خلګ ابلیس خپل خدای ګڼي، د یهودي پټ تحریک فریمیسن هم په حقیقت کي دجال خپل مشر ګڼي او د شیطان عبادت کوي، د شیطان عبادت کوونکي نړدې په ټوله نړۍ کي سته، چي د لویو ښارونو او ښتمنو سیمو څخه شروع کیږي.

د دوی د عبادت طریقه داسي ده: د شپې ټول ښځه او نر تور کالي اغوندي، پر دې لباس د شیطان نښه او عکس جوړ وي، په غاړه کي ځانګړي ځنځیرونه او نښانونه ځړیدلي وي، په منځ کي د انسان کوپړۍ ږدي، اور بلوي، په لوړ آواز موسیقي ږغول کیږي، د نشې ګولي خوري، د یو بل لاسونه پورته کوي او د اور شاوخوا ډانس شروع کوي، وروسته په عملي

ډول د شیطان د رضا کولو لړۍ پیلیږي، دوی په دې عقیده دي چي د شرابو او زنا په زیاتوالي شیطان رضا کیږي او داسي... خمار، سود، وژني، زنا، شراب، چور او داسي... دا ټولي خبري د شیطاني مذهب برخه ده، ددې ډلي اصلي موخه د ټولي نړۍ څخه دیني او انساني اقدار ختمول او په شیطاني رسم، رواج او کارونو کي د انسانانو غرقیدل دي.

۵:ـ ملګري ملتونه یا د دجال ملګري: لږ فکر به وکړو په داسي یو حالت کي چي فقر او بیکاري ددې وخت یوه تر ټولو جدي او لویه ستونزه ده، میلیونونه خلګ د ناروغیو څخه مري او په سلګونو ډوله ناروغۍ بشریت او د حیواناتو عالم ته لوی ګواښ جوړ کړی دی، دا ټولي ستونزي نړیوال او بیا غربي هیوادونه ګوري، مګر ددې ستونزو د ختمولو لپاره هیڅ نه په

کار کیږي، مګر بل خوا د ښځو د حقوقو په نوم د ښځو څخه د ناروا ګټي اخیستني، شرابو، مبایلونو، انټرنیټ، کیبل نیټورک او داسي نورو... قیمتونه ورځ تر بلي را لویږي او لا هم غربي قوتونه دغه ورځ تر بلي لویدونکو قیمتونو ته د جدي ستونزي په نظر ګوري او هڅه یې دا ده چي که دغه په ظاهره جسمي آراموونکي شیان بیخي وړیا سي، نو هر څه به ګل او ګلزار سي.

دا د تعجب وړ نه ده؟ دغه سازمان او ددې سازمان اړوندي اداري ولي د میلیونونو غریبو خلګو لپاره د لومړنیو مرستو او د بې روزګاره خلګو لپاره د کارونو پیدا کولو ښیګڼه نه کوي؟ ځکه په دې سره خو فحاشي نه ډیریږي، د دجال اهداف نه ځیني تر لاسه کیږي، فکر وکړئ او وګورئ چي دجالي قوتونه څه ډول بشریت د دجال په لومو کي را ایساروي، د فحشا، لوږي او ناروغیو مهلکي بلاوي یې په بشریت ور ایله کړي دي او میلیونه خلګ یې غربي هیدادونو ته د سوال په لاس نیولو مجبوره کړي دي، راځئ یو بل حقیقت ته هم لږ نظر وکړو، هغه دا چي د حق او د باطل تر منځ همیشه کشکمش دوام لري، د باطلو قوتونو حربې په ظاهره بدلیږي خو په حقیقت کي هماغه زړې حربې دي، لکه د موسی (علیه السلام) پر وړاندي چي فرعون د وخت لوی جادوګران راوستل، نن هم وګورئ دجالي قوتونه څه ډول د بشریت په سترګو کي خاوري اچوي، د مرستو په نوم دښمني ورسره کوي، د بشریت د سترګو بندول د دوی پخوانۍ حربه ده.

ملګري ملتونه یعني یهودي فریمیسن: د نړۍ د نظام د بربادۍ لپاره د دجال ملګرو په هیڅ یوه عمل صرفه ونه کړه، یوازي دې برخي ته یې ځیر سئ چي د بشر د حقوقو اداره یې څومره د بشریت سره دښمني لري، د اسلامي نظام سره دښمني خو یې د هیچا څخه پټه نه ده، دوی پر اسلامي شرعي نظام ځکه اعتراض کوي چي په هغه کي به شرعي حدود وي.

مثلاً دوی وایي: د غله لاس پرې کول د بشري حقوقو سره تضاد دی. په کورونو کي د ښځو ساتل د کوره دباندي د آزاد کاروبار او د نورو خلګو سره د اړیکو ممانعت د ښځو د حقوقو خلاف کار دی، د حیواناتو حلالول د حیواناتو سره ظلم دی او داسي نور...

یهودي فریمیسن، صهیونیستانو او دجالي امریکا څه ډول د انسانانو پر اذهانو جادو کړی دی، د میډیا او تبلیغاتو په مرسته یې د هغوی ذهنونه ګډوډ او افکار مستعمره کړي دي، که دوی شرعي حدود ظلم ګڼي، حال دا چي هغه د بشریت د فلاح او بهبود لپاره د مطمئن ژوند د ضمانت یوه چاره ده، غل به د لاس د پرې کیدو له بیري غلا نه کوي، زناکار به د رجم د بیري زنا او قاتل به د قصاص، ظالم به د انتقام د بیري خپل بد عادتونه پریږدي، نو دا د نړۍ زبر ځواکونه ګي اټومي او هایډروجني وسلې جوړوي دا بیا کوم حقوق دي؟

دا پوښتنه به څوک ځیني وکړي، چي امریکا، انګلستان او اروپا کي د یو سپي د ژوند آهمیت سته، دا به ستاسو خیر خواهي وګڼو، مګر د اسلامي نړۍ په میلیونونه وګړي چي د نړیوالو قدرتونو په توسط وژل کیږي دغلته بیا د حقوقو خبري څه معنا لري او که یا؟ د غله څخه لاس پرې کول ظلم دی، مګر په کیمیاوي، بیولوژیکي او په ټوله کي په اټومي وسلو د پوره هیوادونو د منځه وړلو چاري ته بیا کوم نوم ورکوئ؟؟ هلته چي انسانان، حیوانات وژل کیږي،

ځنګلونه يې سوځي او اوبه يې زهرجني کيږي، ولي د بشر د حقوقو اداره ګونګه خوله وي؟؟ د بشريت د هلاکت لپاره ملګرو ملتونه د اسلامي نظام نوم او نشان له منځه يوړ او له منځه وړل يې غواړي، ځکه چي په اسلامي نظام کي نه يوازي د مسلمانانو، بلکي د هر دين او مذهب د پلويانو او حتى حيواناتو حقوقو ته هم پوره درناوی کيږي، د کورونو ښځه د ښځو په رايستلو سره ملګرو ملتونو وکولای سول چي د ګټي وټې آساني لاري پيدا کړي، د سويتزرلنډ هيواد هر کال د زنا د درکه د خپلي کلنی اقتصادي بوديجې څلويښت (۴۰٪) برخه برابروي دغه سوداګري ولي کوم عيب نه ګڼل کيږي؟

خبره ټوله په دې ځای کي ده چي امريکا او متحدين يې د ملګرو ملتونو د اداري په مرسته د اروپا او امريکا ښځه وروسته د اسلامي نړۍ د بربادۍ هڅي کوي، دوی د کور دننه د ښځي اوسيدو ته ظلم وايي، مګر د کوره د انجونو وتلو او بيا د لسګونو او سلګونو تنو سره زنا کولو او حراميانو زيږولو ته د عادي چاري په نظر ګوري او عيب يې نه ګڼي، دغه سازمان په نړۍ کي د هوا د توديدو په هکله اعتراض کوي او نړيوالو ته وايي: د فابريکو، موټرانو او خلګو زياتوالی د هوا درجه نوره هم ګرمه کړې ده، مګر د اټومي او هايدروجني بمونو تجربې نه يادوي، چي ددې ستونزي اصلي سبب دی، تر دې پوري چي د نړۍ د تودوخې د درجې په لوړيدو سره يهودو ګټه وکړه، خلګو په بارانونو پسي ړنديږي، په ۲۰۱۶م کال کي متحده عرب اماراتو د مصنوعي باران لپاره يهودي شرکت ته اتلس (۱۸) ميليونه ډالر ورکړل، فکر وکړئ د موسم په خرابيدو سره ګټه چاته ورسيده؟ د پرمختللي ټيکنالوژۍ په دې عصر کي د دنيا د نظام ګډوډ کيدل يو قصدي عمل دی او د انساني ژوند د تعادل له منځه وړل يوه له مخکي تياره سوې شيطاني پروسه ده.

لسم فصل

په اسلامي نړۍ کښې امریکایي پوهنتونونه

په هر اسلامي هیواد کي امریکایي پوهنتون یو مسیحي پوهنتون وي، چي په نیویارک کي د پروټستنټ عیسایي فرقې د لویې کلیسا (Presbyterian) له خوا تاسیس او اداره کیږي د دغو پوهنتونو اعلی مشورتي بورډ یو دی، چي غړي یې د پروټسنټ عیسایانو لوی مشران، د لویو کمپنیو مالکان، ملی تاجران، د تعلیم او اجتماعي علومو متخصصان تشکیلوي، په اسلامي هیوادونو کي هر امریکایي پوهنتون اساساً د مسیحیت د خپراوي لپاره جوړیږي، او دا نور هر څه د وسایلو په حیث په کښي کارول کیږي.

کله چي په ۱۸۶۲م کال کي د لومړي ځل لپاره فیصله وسوه، چي په بیروت کي د سوریې انجیلي فاکولتـه په امریکایي پوهنتون ونومول سي، د دغه نوي پوهنتون لپاره امریکایي لوی مسیحي مبلغ (Denial Bliss) د لومړي رئیس په توګه وټاکل سو، تر ټاکل کیدو وروسته یې په ۱۸۶۳م کال کي د لویو مسیحي مشرانو سره د مشورې لپاره نیویارک ته ولاړی، هلته یې په مرکزي لویه کلیسا (Presbyterian) کي یوه وینا واوروله چي په یوه برخه کي یې راغلي وه: شرق زموږ دیني تعلیماتو ته اړتیا لري، هلته باید تورات او انجیل یعني بایبل یو دائمي تدریسي کتاب وګرځول سي.

په ۱۹۰۹م کال کي چي کله د پوهنتون یوې ډلي مسلمانو محصلینو د پوهنتون کلیسا ته په اجباري شکل د مسلمانو محصلینو د وروستلو په خلاف احتجاج وکړ، او د پوهنتون د ادارې څخه یې غوښـتنه وکړه: مسلمان محصلین باید په زوره د پوهنتون په مذهبي مراسمو کي شریک نه کړل سي. په جواب کي یې د پوهنتون ادارې یوه اعلامیه صادره کړه، چي په څلورمه (۴) ماده کي یې راغلي وه: د بیروت امریکایي پوهنتون یو مسیحي پوهنتون دی، د مسیحي ملت په مصاریفو جوړ سوی دی، او ددې لپاره جوړ سوی دی، چي انجیل یې په تعلیمي نصاب کي شامل وي، تر څو د مسیحي دین منافع او ښیګڼي د هر زده کوونکي مخته کیږدي، هر څوک چي پوهنتون کي شاملیږي، هغه باید تر شاملیدو مخکي پر هر څه غور وکړي، چي په پوهنتون کي به څه ځیني غوښتل کیږي.

همدا ډول د پوهنتون مشورتي بورډ اعلان وکړ: امریکایي پوهنتون خلګو ته د تورات او انجیل د حقایقو د زده کړي لپاره جوړ سوی دی، تر څو په دې کار سره پوهنتون د مسیحیت د رڼا مرکز وګرځي او ددې رڼا په خپلولو خلګو ته وصیت وکړي.

په همدغه اساس د ۱۹۲۲م کال پوري تورات (عهد قدیم) رسماً د پوهنتون په نصاب کي شامل وو او طلباو ته به تدریسیده.

۱:ـ بیروت امریکایي پوهنتون: بیروت امریکایي پوهنتون په اسلامي نړۍ کي تر ټولو لومړی پوهنتون دی، دغه پوهنتون په تیرو یوسلو درو څلویښتو (۱۴۳) کلونو کي اسلامي نړۍ ته د خطرناکو پیښو په بهیر کي عمده نقش لرلی دی، د مسیحیت د خپرولو تر څنګ یې په غربي او اسلامي نړۍ کي د سیکولریزم د خپراوي او حاکمولو په لاره کي هم ډیر کار کړی دی، په غربي نړۍ کي د عثماني خلافت د راپرځولو لپاره د (عربي نشنلیزم) هڅي هم له همدې ځایه پیل سوې، د همدې پوهنتون فارغان وه، چي عربي نړۍ ته یې د غرب د افکارو او نظریانو د را واردولو چاري ترسره کړې، د دغه پوهنتون تاثیرات یوازي په عربي نړۍ کي منحصر پاته نه سولې، بلکي د سیمي نورو هیوادونو ته یې هم سرایت وکړی، ان تر دې پوري چي په افغانستان کي هم په لس ګونو افغانان چي اووه (۷) تنه یې د افغانسان په کابینه کي وزیران وه، دوی هم له همدې پوهنتون څخه فارغ سوي وه، د امریکا له خوا د افغانستان په نیولو کي چي د چا تر ټولو لوی لاس وو، او تر اشغال وروسته یې ټولي چاري هم د هغه له خوا پر مخ بیول کیدې.

دغه پوهنتون د سیمي د نورو امریکایي پوهنتونونو لپاره د مور حیثیت لري، د آسیا او افریقا په اسلامي هیوادونو کي د پروټستنټ مسیحي فعالیت لپاره تعلیمي او اکاډیمیک پلانونه هم په کښې جوړیږي، د دغه پوهنتون لپاره زمینه سازي په ۱۸۳۵م کال کي هغه وخت شروع سوه، چي امریکایي مسیحي مبلغ سیمون کالهون په بیروت کي د انجونو او هلکانو لپاره یو عصري مکتب جوړ کړ، دغه مسیحي مکتب د سیمه یزو مسیحیانو د اولادونو تر څنګ د مسلمانانو اولادونه هم جذب کړل، د اوسني عربي نړۍ ډیر چارواکي چي خپل هیوادونه او ولسونه یې د امریکا په غلامي باندي مجبوره کړي دي، د همدغه پوهنتون فارغان دي، همدوی دي چي په ټوله عربي نړۍ کي یې د شریعت د تطبیق مخه نیولې ده او هر هغه څوک چي د غرب د تسلط څخه د آزادۍ او د اسلام د حاکمیت خبره کوي، د همدغه چارواکو او د هغوی د جوړ سوي قانون پر بناء اعدامیږي، بندي کیږي او د وطن پریښوولو ته مجبوره کیږي.

۲:ـ استنبول امریکایي پوهنتون: د ترکیې د استانبول څخه تقریباً پنځه سوه (۵۰۰) کاله عثماني ترکانو په اسلامي نړۍ کي لوی اسلامي عثماني خلافت اداره کاوه، چي د غرب لپاره د منلو وړ نه وو، اروپایانو په ترکیه کي د اسلامي خلافت د له منځه وړلو لپاره د سلګونو کلونو لپاره هڅي وکړې، د شرقي اروپا د فتحه سو ولایتونو خلګ یې د بغاوت لپاره راوپارول، مسیحي ارمنیان یې د جنګ لپاره وهڅول، او ډیر څه یې وکړل چي خلافت له منځه یو سي، مګر تر هغه یې هڅي کامیابه نه سوې تر څو چي یې د ترکیې د ولس او نظام په داخل کي داسي خلګ تیار نه کړل چي د حقیقي اسلام څخه یې کرکه درلوده، په ترکیه کي د خلافت د راپرځولو اصلي مجرمین ټول هغه کسان وه، چي یا خو یې په غرب کي زده کړي کړي وې، او یا په ترکیه کي د غربي افکارو او نظریاتو څخه چي غربي مکاتبو او تعلیمي ادارو خپاره کړي وه، متاثره سوي وه، دغو مجرمینو ترکیه د اسلام څخه محرومه کړه، اسلامي خلافت یې لغو اعلان کړ، او د هغه پر ځای یې سیکولر ترکیه رامنځته کړه، په اسلامي شعایرو یې بندیز ولګوی، څلرویشت (۲۴) کاله ترکیه کي آذان ونه سو، بالاخره د ۱۹۲۴م کال څخه تر اوسه د ترکیې واکمن په مسلسل ډول یو په بل پسې هڅه کوي، چي ترکیه په سیاسي او نظامي

لحاظ د اروپایانو جز وګرځوي، مګر اروپایان یې لا تر اوسه ورسره نه مني، هغوی وايي: په ترکیه کې تر اوسه پوري لا اسلام سته، په ترکیه کې د دغه ډول وضیعت د رامنځته کولو لپاره چې کومو جهتونو کار کړی وو، په هغو کې یو هم د استانبول امریکايي پوهنتون دی، د دغه پوهنتون لپاره امریکايي مسیحي مبلغینو د ډیره پخوا راهیسي کار پیل کړی وو، کله چې په ۱۸۳۱م کال کې د امریکايي مسیحي مبلیغینو لومړی ډله ترکیې ته راغله، نو د دغه ډلې د مشر په کور کې یو زوی پیدا سو، نوم یې قسطنطین واشنګټن باندي کښېښود.

تر څو د استنبول او واشنګټن تر منځ د رابطې، وحدت د سمبول په حیث تلقین کړي، دې ډلې په ترکیه کې ډیر وخت تیر کړ چې په استنبول کې یې د یوې مسیحي تعلیمي ادارې لپاره زمینه برابره کړه، په ۱۸۶۳م کال کې مشهور امریکايي مسیحي مبلغ هاملین د نیویارک د لوی سرمایه دار روشیلډ یهودي سره مشوره وکړه او ویې ویل: ترکانو د استانبول د نیولو لپاره تر جنګ د مخه د استنبول تر څنګ په روملي کې خپله پوځي قرارګاه او عسکري کلا جوړه کړې وه، چې وروسته یې بیا د هماغه ځایه د قسطنطنیې مسیحي امپراطوری ونړوله. زه هم په همدغه ځای روملي کې یو ثانوي مکتب جوړوم، تر څو له همدې ځایه عثماني خلافت ونړوم. روشیلډ هم ورسره ومنله، هماغه وو چې لومړی هلته یو ثانوي مکتب جوړ سو، چې وروسته بیا د استنبول د رابرټ په کالج تبدیل سو، او په پای کې د اوسني ترکیې امریکايي پوهنتون ځیني جوړ سو.

د دغه امریکايي پوهنتون د دیني هویت په اړه مشهوره مسیحي مبلغ او د بیروت امریکايي پوهنتون لومړی رئیس Denial Bliss وايي: د ترکیې د رابرټ کالج یعني اوسني امریکايي پوهنتون یو مسیحي کالج دی، تعلیم، نصاب او تعلیمي محیط یې په ښکاره ډول مسیحي دی، مسیحي مبلغینو جوړ کړی دی او د هر وخت لپاره به یې رئیس یو مسیحي مبلغ وو، او وي.

۳: د مصر الأزهر پوهنتون: پخوا د حقیقي اسلام د زده کړې مرکز، د اسلام ستره کلا او د الله (جل جلاله) څخه د بیردونکو علماؤو د روزنې ځای وو، مګر اوس الأزهر د مصر د سیکولر حکومت یوه سیکولر تعلیمي مؤسسه ده، چې یو مسخ سوی اسلام تقدیموي، د الأزهر اوسني مدرسین داسي خلګ دي چې ږیري یې خریيلي وي، سګریت څکوي، تدین یې کمزوری وي، هر څه چې حکومت ورته وايي هماغه تدریسوي، په نږدې ماضي کې چې څومره ازهریان جمهور رئیسان او یا وزیران او د لوړو رتبو خاوندان سوي دي ټولو یې ښه تاریخ نه دی پرې ایښی. د مثال په ډول: په اندونیزیا کي عبدالرحمن وحید، پـه مالدیف کي مامون عبدالقیوم او داسي نورو اسلامي هیوادونو کي.

په اوسنیو ازهریانو کې د ټولي اسلامي نړۍ په سطحه یوه مشترکه نظریه موجوده ده، او هغه دا چې د غرب په خلاف هر ډول مسلح جد او جهد باید جهاد ونه بللي سي، هغه ته باید تروریزم، افراطي توب، او خارجیت وویل سي، باید د هغه مخالفت وسي، او ځوانان ځیني

واړول سي، چي همدغه د غرب هدفونه دي، امريکا اوس په ټولو اسلامي هيوادونو کي د ازهر د پوهنتون د ځانګي د لاري د امريکايي ډيموکراتيک اسلام علماء روزل غواړي، تر څو په مستقبل کي د دغه ډول امريکايي اسلام لپاره کار او دعوت وکړي، او په سيمه کي هم د رښتنيو او مخلصو مسلمانو علماؤو په مقابل کي يوه داخلي جبهه خلاصه کړي، الله رب العزت دي موږ په حقيقي اسلام ثابت قدمه وساتي آمين يارب العالمين.

۴:ـ د قاهرې امريکايي پوهنتون: قاهرې پوهنتون هم په عربي نړۍ کي د مسيحي يا پروټسټنټ مبلغينو (Missionary) د فکر زيږنده دی، د دغه پوهنتون نظريه په لومړي ځل په مصر کي امريکايي مسيحي مبلغ چارلز واټسن چي په مصر کي د مشهور امريکايي مبلغ اندرواټسن زوی وو، په ذهن کي راوټوکيده، چارلزواټسن چي لا د مخه يې په مصر کي د کوچينانو او ځوانانو د مسيحي کولو تعليمي فعاليتونه شروع کړي وه، د دغه پوهنتون لپاره پلان جوړ کړ، دغه پلان يې بيا په ۱۹۱۴م د ځانه سره نيويارک ته يو وړ، تر څو هلته په لويه کليسا کي د امريکايي پوهنتونونو په مشورتي بورډ کښي غور او بحث پر وکړي، د همدې کال د دسمبر د مياشتي پر ديرشم (۳۰) تاريخ د کليسا د کلنۍ اجتماع په ترڅ کي د دغه پوهنتون موضوع هم وڅيړل سوه، د بحث په جريان کي د خپلو وړانديزونو په سلسله کي چارلز واټسن د لويي کليسا د (Presbyterian) د مشرانو څخه وغوښتل: د پوهنتون د تاسيس په لـومړی مرحله کي بايد په محصيلينو مسيحي مراسم او عبادت لازمي ونه ګرځول سي، تر څو خپل کارونه د مسلمانانو د حساسيتونو د پارولو پرته په اطمنان سره ترسره کړای سو.

او د ۱۹۲۰م کال د اکتوبر پر پنځلسم (۱۵) تاريخ امريکايي پوهنتون لومړی د لنکولن د شرقي زده کړو کالج په نامه پرانستل سو، چي وروسته يې نوم د قاهرې امريکايي پوهنتون سو، د قاهرې امريکايي پوهنتون په هغه وخت کي يوازي د امريکا د کليساوو په مرسته چليدی، مګر اوس يې د نړيوالو مسيحي مؤسسو په مرسته خپل کارونه پر مخ بيايي، امريکا په مصر کي خپل پوهنتون ته تر ټولو زياته توجه کوي، ځکه چي په مصر کي د يوې خوا د الازهر پوهنتون وجود لري، چي ډير کلونه يې اسلامي علومو ته خدمت کړی دی، که څه هم اوس د نورو تعليمي ادارو په څير د يو سيکولر حکومت تر کنترول لاندي دی، خو بيا هم د اسلامي علومو تر ټولو لويه مؤسسه ګڼل کيږي، د بلي خوا د معاصرو اسلامي حرکتونو پيل هم د شلمي (۲۰) پيړۍ د اوايلو څخه د امام حسن البناء د الاخوان المسلمون په شکل کي سوی وو، چي وروسـته بيا په بيلا بيلو فکري او جهادي بهيرنو کي سره خواره سول، مګر په مجموع کي ټولو يې دا هڅه کوله چي شرق د غرب د تسلط څخه خـلاص کړي، د اسلام د حاکميت لپاره زمينه برابره کړي، مصر ته د امريکا د جدي توجه يو بل سبب ښائي د القاعدې په جهادي تنظيم کي د مصري مجاهدينو لويه ونده وي، چي تقريباً د قيادت چاري هم همـدوی سمبالوي يا سمبالولې، دا ټول ددې عامل ګرځي چي امريکا تر بل هر عربي هيواد دې مصر ته ډير پام وکړي.

يوولسم فصل

دجال څوک دی؟

خپل عظیم ترین دښمن وپیژنی، دجال یا زموږ او ستاسي د سیمو په لهجه (خرجدال) د حضرت آدم (علیه السلام) د اولادې څخه دی، په ختېه یهودي دی، سور رنګی ځوان دی، لنډه ونه، ګوړګوتي وریښتان، پلن یعني اوږد تندی او پلن غټ ورمیږ لري، په راسته سترګه ړوند دی، پر تندي یې کفر لیکل سوی دی، چي هر یو مسلمان لوستونکی او نه لوستونکی به یې لوستلای سي، هغه به شنډ وي یعني اولاد به یې نه کیږي، دجال ته مسیح الدجال ځکه وایل کیږي، چي سترګه یې مسخ سوې ده او دجال ځکه ورته ویل کیږي، چي هغه به باطل د حق په نوم او شکل کي خلګو ته وړاندي کوي، یعني دجال عربي لفظ دی او معنا یې په ظاهره یو شی او په باطن کي بل شي ته ویل کیږي.

دجال به هغه وخت راوځي کله چي لمونځ پرېښوول سي، په امانت کي خیانت وسي، په شریعت حکم کول کمزوری سي، ظلم او تیری فخر وګرځیږي، واکمنان بدکرداره بدسلوکه خلګ سي، قاریان فاسقان سي، زنا او بدکاري عامه سي، د سود کاروبار کول عام سي، خپلولي له منځه ولاړه سي، سندرغاړي او نڅا کوونکي ښځي راڅرګندي سي، شراب چیښل، درواغ ویل او رشوت اخیستل پیل سي، د وینو تویدل بې پروا سي، دین په دنیا خرڅ کړل سي، ښځه د میړه سره یو ځای سوداګري پیل کړي، نارینه د ښځو سره او ښځي د نارینه وو سره یو رقم والی غوره کړي، زړونه د مروت او میراني څخه خالي سي، معروف منکر او منکر معروف سي، هلته به نو دجال را ووځي او په نړۍ کي به فتنې خپري کړي. د دجال د فتنو څخه به یوه دا هم وي، چي آسمان ته به آمر وکړي: آورښت وکړه نو هغه به آورښت وکړي، مځکي ته به آمر وکړي: زرغونول وکړه هغه به زرغونول وکړي.

مسلمانانو وروڼو! که هر څوک هره جمعه سورة الکهف تلاوت کړي، نو ددې فتنې څخه به په آمن کي وي، چي ددې او بلي جمعې تر منځ راځي، او که د دجال فتنه هم په کښي وي، الله سبحانه وتعالی به یې ځیني وساتي، نو الله سبحانه وتعالی دي ټول مسلمانان ورونه او خویندي هغه که په هر ځای کي استوګن وي، د دجال او نورو فتنو څخه وساتي.

دجال څه ډول نړۍ غواړي؟: د حضرت محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) د اُمت په خلاف دجال د ابلیس وروستۍ هیله ده، ابلیس د هغه په وسیله محمدي دین له منځه وړل او خپل ابلیسي مذهب نافذول غواړي، په داسي حال کي چي دجال د بې حده ځواک سربیره د شک مجسم وجود دی، هغه د خپل راتګ مخکي هر هغه ځواک ختمول غواړي چي د ده په لاره کي لږ خنډ هم جوړولای سي، د ټولي نړۍ په ځواک، خوراکي موادو، د اوبو نظام، نظامي ځواک، غرض دا چي په ټولو وسایلو خپل واک غواړي، د نظامي اړخه باید د هغه په لاره کي کوم خنډ نه وي.

د ټولو هیوادونو حکومتونو به د هغه جوړ کړی نوی نړیوال نظام په عملي توګه په خپلو هیوادونو کي نافذ کړی وي، ټول هیوادونه به د هغه د جوړ کړي سوداګریز نظام او د هغه د ادارو نړیوال بانک (IMF)، نړیواله سوداګریزه اداره (W.T.O) سره معاملات کوي او په نظریاتي شکل ټوله نړۍ د هغه په نظام ایمان راوړی وي، غربي نړۍ د هغه خپله ده، ابلیسي نظام که هر څه وي، سوسیالزم وي، یا پانګوال نظام کپیټالیزم وي، نړۍ یو قطبي وي، که دوه قطبه، هغه ته توپیر نه کوي، مګر دواړه باید د هغه وي.

د امریکا پخواني ولسمشر نیکسن په خپل کتاب (without War Victory) کي لیکلي دي: تر ۱۹۹۹م کال پوري به امریکا د ټولي نړۍ واکمنه وي، دا بری به دوی د جګړې پرته تر لاسه کړي، بیا به د مملکت چاري مسیح (دجال) سنبالوي، ممکن تر یاد کال پوري د مسیح چمتووالی بشپړ سوی وي او د امریکایانو مسؤولیت ددې چمتووالي تر بشپړیدو پوري دی، له دې وروسته به د هیواد چاري خپله مسیح سنبالوي. (له جګړې پرته بری)

دجال به څوک وي؟ دا خو به د هغه د خدایۍ له دعوې وروسته څرګنده سي، البته په ۱۹۹۹م کي چي کوم کس پر امریکا حکومت کړی دی، د هغه نوم ډیک چیني دی، د حکومت په ټوله موده کي ټولي پریکړي، هغه که کورنۍ وې او که بهرنۍ وې، پر هیوادونو یرغل وو، او که په امریکا کي د کوم غل ژغورل، د ټولو د مخالفت سره سره به د بوش قلم پر هغې پریکړي لاسلیک کاوه، چي د ډیک چیني د خولې به وتلې، تر دې پوري چي ځیني وختونه خو د (FBI) رئیس د استعفاء ګواښ هم کاوه، مګر ډیک چیني خپلي خبري پرې ومنلې، د لویو لویو زندانونو جوړولو او د خلګو شکنجه کولو پریکړي هم د ډیک چیني له طرفه وې، د روښان فکري او آزادۍ علمبرداري امریکا قانون وګرځید. باشعوره امریکایي عوام لا څه چي کولن پاول او کنډالیزا رایس هم دوه (۲) کاله وروسته د ورځپاڼي په وسیله له دې خبري خبر سول، دواړه ډیر په غوسه سول، مګر د ډیک چیني په وړاندي یې د څه ویلو جرأت ونه کړ، ټوله پړه پر بوش ولویده، ځکه هغه یوازي مهر وو، د ډیک چیني په اړه د اسرار عالم دعوه ده چي هغه د دجال سره لیدلي دي او دجال خپله هغه ته لارښووني ورکوي.

د نوي نړیوال مذهب لپاره ځنګه لاره هواره سوه او د دجال راتلو لپاره څه ډول چمتوالی سوی دی، ویې لولئ: د امریکا دنده دا ده چي د ملګرو ملتونو تر نګرانۍ لاندي د داسي فوځ په جوړولو کي مرسته وکړي چي چټک حرکت وکړای سي، په لومړۍ مرحله کي ددې فوځ شمیر شپیته (۶۰) زره او په تشکیل کي یې (۱۲) هیوادونه وي.

د امریکا د بهرنیو چارو پخواني وزیر مرستیال مقاله لیکوونکی جوزف نای، نیویارک ټایمز ته په ۱۹۹۲م کال کي وویل: که رښتینۍ آمن راوستل غواړئ، نو نه سور فوځ اړتیا سته او نه د امریکا فوځ ته اړتیا سته، موږ د ابي خولیو درلودونکي د ګڼو هیوادونو څخه جوړ بین المللي فوځ ته اړتیا لرو، همدا فوځ نړیوال آمن راوستی سي. (نیویارک ټایمز ۱۱ فبروري ۱۹۹۲م) څرګنده دي وي چي یهودان ابي رنګ د دجال د نړیوال حکومت نښه ګڼي.

یو کس اعتراض کوي وايي: یو خو ته دا دجال دجال کوې، موږ مو له ژونده وایستلو، بیره مو خپره کړې، دجال نسته دا څه کیسه ده؟ هغه ته ډیر وخت پاته دی. هغه کس ته به داسي جواب ور کول سي: همدا ستا سُسته عقیده، د دنیا د ژونده بې رغبتي نه قبلول، د اسلامي علومو او مفاهیمو سره نه بلدتیا یو د هغو دجالي چالونو څخه ده چي دجال به خلګ په خطاء باسي، که په خپل شاوخوا کي وګورو چي نړۍ پر کومه خوا روانه ده؟ انسانیت کوم حد ته رسیدلی دی؟ د انسان او حیوان تر منځ څه توپیر دی؟ د انساني ژوند هدف او د اسلامي نړۍ حالت پر کومه خوا روان دی؟ نړۍ د بشپړي تباهۍ پر کنده ولاړه ده، اسلامي اُمت د یهودو تر بشپړ تسلط لاندي دی، تر دې پوري چي د نړۍ د اوبو، تیلو، سرو زرو، بانکونو او طبیعي حاصلاتو واک هم د دجال د مشاورینو (فریمیسن یا ایلومیناتي) یهودیانو په لاسو کي دی، یهودي کمپنۍ وسلې جوړوي پر اسلامي هیوادونو یې استعمالوي، د نړۍ ټوله ماشینري یې په خپل واک کي اخیستې ده، د نړۍ د تودوخي درجه کال په کال په قصدي ډول پورته بیول کیږي، د جنوبي قطب د یخ کنګلونه ویلي سول.

د دنیا نظام مخ پر ګډوډۍ دی، د یوه یهودي ژوند د نړۍ تر ټولو غیري یهودي وګړو د ژوند څخه ګران دی، ټوله نړۍ په شمول د امریکا او ټوله اسلامي نړۍ د یوه اسرائیل په پښنو کي لوبیږي، د اسلامي اُمت وضعیت بیخي خواشینوونکۍ او ګډوډ دی، په اُمت کي د سر سړی نه پریښوول کیږي، هغه چي اسلام، هیواد او ولس ته کار کوي یا وژل کیږي یا یې د منصب څخه لاندي راغوځوي، د ټولي نړۍ د نقدي او کریډیټ حساب کوډونه د یهودو په لاس کي دي، ټیکنالوژي د یهودو سره ده، زما مسلمان ځوان او پیغله قرار د کوټې په کونج کي ناست یا په ګیم، یا د مزخرفو سریالونو، بیهوده او مصروفوونکو لوبو په کتلو او یا په نورو لهو لعبو اخته او د یهودو کوچنیو کوچنیو ماشومان د ټیکنالوژۍ سره لوبي کوي، د ځوانۍ مخکي د هر ډول وسلې د کارولو مهارت ور زده کوي، دوی ټول اخته دي اټومي او هایډروجني بمونه جوړوي، مګر زموږ ځوان نسل ته یې د خیالي سولي او خیالي پرمختګ سندري په غوږونو کي ږغولي دي.

زموږ ځوان نسل آن له دې هم نه دی خبر چي مشران یې د چا له خوا او په کوم معیار ټاکل کیږي؟ ښه نوره نړۍ هلته پریږده، په دې نه دی خبر چي غرب یې بیخ کاږي او که مرستي ته یې وسله وال پوځونه رالیږلي، یهودي نړۍ په خورا مهارت د اسلامي اُمت د تنکي او ځوان نسل د دماغو څخه د اسلامي فکر او اسلامي علومو اثرات زایل کړي دي، د مدرسو بدنامول یهود په خورا مهارت سره کوي، په مسجدونو، مدارسو کي چاودني کوي، په کاذبو شعارونو یې اسلامي ځوان نسل د دنیا د پرمختګونو څخه یې پیرۍ، پیرۍ شاته ساتلی دی، او حالت دومره نازک دی، که چیري په اسلامي ټولنه کي د شرعي نظام د راوستلو ږغ پورته کړې، نو اول مخالفت به دي د مسلمانانو له خوا کیږي، دا څه وجه ده د دجال پر وړاندي دا محمدي اُمت څومره بیده او کمزورۍ سو.

دجال به په داسي حال کي د خلګو منځته راځي، چي د هغه د راتګ لپاره به مخکي لا يهوديانو او د يهودو غلامانو لاره برابره کړې وي، د يهودو نړيوال سازمان يا (فريميسن) همدغه دنده په غاړه لري، که نن ورځ د مسلمانانو ځوانانو او مشرانو، نارينه وو او ښځينه وو څخه پوښتنه وکړو: دجال يعني څوک؟ په سلو (٪۱۰۰) کي به اتيا (٪۸۰) بلکي تر دې به لا هم زيات ځوانان به يې په اړه کافي څه چي معمولي او لومړني معلومات دي په ياد ونه لري، واعظان او خطيبان مو د يو بل په تکفير اخته دي، او يا يې د ځانونو څخه کيسه ويونکي جوړ کړي دي، د يوسف او زليخا د واقعې څخه يې د عشق داستان جوړ کړی دی، بس عام مسلمانان مصرفه په ساتي، پر ممبرونو يې د دجال تذکره پرې ايښې ده، هدف مي ټول علماء کران نه دي، نو په خلګو کي به د دجال په اړه پوهاوی څنګه پيدا او عام سي؟ شايد څوک ووايي: دجال کله راوځي؟ نو دا خو کيدای سي ډير وخت په منځ کي تير سي، نو بيا څه وجه ده چي په خلګو کي بيره خپروئ؟

جواب: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څوارلس نيم سوه (۱۴۵۰) کاله مخکي يادؤنه کوله، نو ته دا ومنه چي د دجال په اړه پوهاوی څومره مهم دی، اصل هدف د دجال خپله موجوديت نه دی، بلکي هداف دا دی چي خلګ دجاليت وپيژني، د دجال فتنې وپيژني، دجال خو خپل کار د خپل راتګ څخه مخکي کوي او کړی يې هم دی، بلکي د دجال اويا (٪۷۰) فيصده کارونه ترسره سوي دي، يا ترسره کيږي او دا پاته (٪۳۰) فيصده به هغه د خپل راتګ څخه وروسته ترسره کوي، د ځينو رواياتو په اساس د دجال ټوله دوره به څلويښت (۴۰) ورځي وي، نو له حقيقته به ليري نه وي، اوس مهمه دا ده چي دجالي فتنې وپيژنو، موږ به يا دجال ووينو يا نه، تر موږ مخکي مسلمانانو هم دجال ونه ليدی، مګر د دجال په اړه ډير محتاط وه، حال دا چي هغه وخت دجالي فتنې د نن ورځي په نسبت بيخي کمي او کمزوري وې، مګر داسي چي د دجال د راتګ څخه مخکي موږ د دجال په فتنو کي اخته او په همدې حال کي مرګ راته راسي، په دې پوهيدل په کار دي چي سودي کاروبار، فحشا، د کفارو مرسته او غلامي، ولو که په هر نوم او هر ډول وي.

د اسلام، اسلامي شعايرو، اسلامي حدودو، اسلامي فکر او اسلامي مرکزونو يا شخصيتونو په دښمنۍ کي دريدل، په رسنيو کي ساز او سرود نشرول چي دا د شيطاني موسيقۍ ترويج دی، په اسلامي مقدساتو ملنډې وهل يعني مسخرې پر کول، ګلوبلايزيشن يعني نړيوالتوب، ډيموکراسي او ډيموکراتيک فکرونه، حرام کاروبار، د مسلمانانو په ذلت خوښي کول، د مسلمانانو په منځ کي نفاق، غربي فکر، بدبيني، تعصب، جهالت او داسي نور... خپرول، ډمتوب لنډه دا چي دا او دې ته ورته زرګونه، بلکي لکونه داسي فتنې دي، چي هغه ښکاره سوي دي، که څوک د دغو فتنو څخه په يوه فتنه کي هم اخته وي، نو دی د دجال په فتنه کي را ګير دی، او د ايمان خطره يې بيخي ډيره ده، الله سبحانه وتعالی دي موږ د دجالي فتنو څخه وساتي. آمين

مسلمان د دجال په وړاندي، په اسلامي اُمت کي د تلویزیون، مبایل او انټرنیټ لیونۍ مینه ورځ تر بلي زیاتیږي یا خپریږي.

۱:- ټي وي یا تلویزیون: د هري هغه فتنې ناوړه اخلاقو، لهو لعب استقبال کوي، کوم چي د مصنوعي سیارې څخه تلویزون ته رارسیږي، حتی نن سبا خو په ځنګلونو او دښتو کي خیمې هم ددې فتنې څخه محفوظي نه دي، معلومه خبره ده چي نن سبا پر هر کور د شیطان بیرغ (ټي وي) او کیبل آنتن ولاړ دی، دا چي ددې فتنو لاندي کوم فسادونه ترسره کیږي، دا نو اوس وخت کي هر چاته ښه معلوم دي، تلویزیون زموږ څخه لمونځونه پاته کړل، د کورنیو تر منځ د میني او محبت فضا یې بدله کړه، ماشومان، نوي ځوانان او پیغلي انجوني یې بې لاري کړې، په کورونو کي مو غربي موډ او فیشن د همدې دجالي سترګي په مرسته عادت او رواج سول، دا یوه سترګه یعني تلویزیون دی چي د اخلاقي فساد په ترویج کي تر ټولو مؤثره وسیله ثابته سوې ده، مګر مسلمان د خپل دین او اخرت څخه ناخبره په ډیره خوشحالۍ په پور پیسې پیدا کوي، خو دا یوه سترګه په کور کي ایږدي او شیطاني جنډه (د تلویزیون او کیبل آنتن) په ډیره سپین سترګۍ د خپل کور پر بام پورته کوي، دا چي نن سبا په کورونو کي راحت نسته او د فساد مرکزونه ځیني جوړ دي، اوس خو د نیټ او کیبل فتنه دومره عامه ده چي پر هر دوهم کور د کیبل آنتن نصب سوی دی او خلګ په ډیر فخر سره ددې ګناه په ترسره کولو اخته دي، حال دا چي په ګناه فخر انسان کفر ته رسوي.

۲:- ټیلیفون: د مبایل یا تلیفونونو زیاتوالی او آرزاني موږ ته دا راښیي چي دجال هر یوه د یوې سترګي درلودونکي فتنه به د مخکنۍ فتنې څخه میدان ګټي، نن سبا ډیر خلګ د حج په مراسمو کي هم د هرې شیبې او لحظې عکس او ویډیو اخلي بیا یې خلګو ته ښکاره کوي، ځکه خو د عبادت څخه هم اوس څوک خوند نه سي اخیستلای، ځوانان او پیغلي مو وګورئ دعوه د اسلام کوي، مګر د اسلام څخه ناخبره دا فساد ځپلی نسل ټوله ورځ په لهو لعب اخته وي، یا په لوبو، ګیمونو او ساعت تیرۍ اخته وي او یا یې په غوږونو کي ګوشکي ایښي وي ټوله ورځ او شپه موسیقي اوري، دا په دې معنا چي موسیقي یې د ژوند یوه مهمه برخه جوړه سوې ده.

نن سبا چي څومره په تیزۍ سره د دجال د راتګ لپاره لاره جوړونه کیږي، تر دې مخکي داسي حالت نه وو راغلی، لکه څرنګه چي د باچا د راتګ څخه مخکي د باچا نوکران خلګو ته خبر ورکوي، شور جوړوي او خلګو ته د باچا د هرکلي ترغیب ورکوي، په همدې ډول د دجال د راتګ په هکله د دجال ملګري او د دجال همکاران دنیاوالو ته له مخکي په شور او زور سره خبر ورکوي، یعني نښي او علامې را ښکاره کوي په عملي توګه خلګو ته د دجال راتګ ور په زړه کوي، زیرۍ ورکوي، داسي چي خلګو ته دجال یوه فتنه نه، بلکي یو ناجي یعني لارښود ورپیژني، ځکه خو نن ورځ موږ ګورو چي اکثریت خلګ د دجال په فتنو کي خبر او ناخبر اخته او لویدلي دي، د ړوند دجال د راتګ زیرۍ د کمپیوټر، مبایل، کیبل، سنیما، ویډیو، کیمرې او ویډیو ګیم پواسطه نړۍ او نړیوالو ته ورکول کیږي، دا ټول د یوې سترګي درلودونکي وسایل دي او ددې ټولو په توسط هڅه کیږي چي دجال نړۍ ته د یوه ژغورونکي په حیث ور وپیژندل سي.

د امریکا د تر ټولو ستر فلمي شرکت Times Warner ټایمز وارنر انتخابي نښه یا Logo یوه سترګه ده، همدا ډول د امریکا د مشهور تلویزیون CBS نښه یا Logo هم یوه سترګه ده چې د دجال سره د مینې ښوولو او همغږۍ په معنا ټاکل سوې ده، امریکایي ډالر د ډیر وخت راهیسي همداسي چاپیږي، د امریکایي ډالر چپه اړخ ته وګورئ چي یو اهرام جوړ دی، او اهرام پر سر په واضح ډول د یوې سترګي نښان جوړ دی، اهرام نیمایي تر سترګي لاندي پاته دی، دا په دې معنا چي د دجال د راتګ په لاره کي لا څه کارونه پاته دي، پر ډالر د اهرام لاندي په کوم کي چي د یوې سترګي نښه ده، لیکل سوي دي: Novs ordo Seclorum یعني د نړۍ لپاره نوی نظام. ددې یوې سترګي لاندي د لیکل سوي عبارت څخه موږ ته په ښه ډول معلومیږي چي د نوي نظام څخه مطلب دجالي نظام دی، پر دنیا د نظر ساتلو لپاره یوه سترګه ټاکل کیږي دا ډیره سرسري او سطحي موضوع ده په دې معنا چي د لیدلو او ښه دقیق نظر لپاره خو الله (جل جلاله) انسان ته دوې (۲) سترګي ورکړي دي.

موږ ټول د انسانانو په حیث د روح او جسم دواړو څخه مرکب یو، مګر د یو سترګي دجال او د هغه د بنده ګانو نظر یوازې د اجسامو پر ظاهري جوړښت وي، موږ او تاسو که خپل شاوخوا ته وګورو د جسمي سکون ډیر زیات او ډول ډول وسایل به راته ښکاره سي، مګر د روحي سکون لپاره په دغه پرمختللو وسایلو کي څه نسته او د دنیا په بازارونو کي د روحي سکون وسایل نه خرڅیږي، لمونځ قایم کړئ، زکات ورکړئ، د الله سبحانه وتعالی او د الله سبحانه وتعالی د رسول (صلی الله علیه وسلم) اطاعت وکړئ. نن ورځ که وګورو یقیناً د ایمان او وجدان خاوندان پریشان او خفه دي، مګر د شیطان پیروان خوشحاله او پر نړۍ غالبه دي، د دغه حالت په خپله ګټه اړولو کي په تیزۍ سره کار کوي او د دجال د راتګ لپاره لاره پاکوي.

ددې لپاره چي نړۍ په بشپړ ډول د دجال تر واک لاندي راسي، یهودي قوتونه څه ډول دغه چاره ترسره کوي؟ دوی پوهیږي چي د دجال په مخکي به ستر خنډ جهادي حرکتونه وي، کوم چي د اسلامي هیوادونو څخه را پورته کیږي، همدغه حقیقت ته په کتو سره یهودي کړۍ او استخباراتي سازمانونه د اسلامي هیوادونو د کنترول د تر لاسه کولو لپاره هره ممکنه لاره استعمالوي، اسلامي هیوادونو ته سودي پورونه ورکوي، په اسلامي هیوادونو کي صنعتي پروژې اخلي، تعلیمي، روغتیایي او اقتصادي برخو کي یې خپل مشاورین او جاسوسان داخلوي او بلاخره خبره دې ځای ته رسیږي، چي د یادو هیوادونو واکمنان خپل مخلص غلامان جوړ کړي او بیا هر هغه څه چي دوی ورته وایي، هغوی یې مني او پر خپل ولس یې عملي کوي، چي نن ورځ موږ ددې حقیقت شاهدان یو، په دغه برخه کي هم یهودي سازمانونه د هغوی هر ډول ملاتړ کوي، تر څو د خپلو ولسونو د مقاومت سره مخ نه سي، دا چي روانه پیړی د ټیکنالوژۍ پیړۍ ده، نو په قصدي ډول اسلامي اُمت پرمختګ ته نه پریښوول کیږي، په اسلامي هیوادونو کي یهودي سازشونو دومره کار کړی دی، چي اوس یې پخپله همدغه هیوادونه یو د بل پر وړاندي درولي دي او د انګلیس هغه زوړ فرمول چي جلا یې کړه، ایل یې کړه، څخه ګټه اخلي، په یو اسلامي هیواد کي د حکومت او په بل کي د اپوزیسیون ملاتړ کوي، یا داسي کوي چي یهودي فریمیسن په اسلامي هیوادونو کي په یو نوم د حکومت

او په بل نوم د اپوزيسيون ملاتړ کوي، په دې ترتيب په داخل کي ستونزي ورته پيدا کوي او نه پرېږدي چي پرمختګ وکړي، کله چي په داخل کي ستونزي ډېري سي، د منځګړيتوب لپاره بيا هم يهودي فريميسن لاسونه را اوږدوي او په همدې ترتيب په داخل د اسلامي هيوادونو کي خپل مرکزونه جوړوي، په خپل نوم د سفارتونو، قونصلګريو او مؤسسو لپاره هلته ځای نيسي او بيا خپلې دجالي پروژې عملي کوي. مثال: امنيت شورای د ملګرو ملتونو د عدالت او مساوات کاذبه داعيه دلته هم معلوميږي، چي د ټولي نړۍ واک يې د پنځو (۵) کفري هيوادونو پواسطه تر واک لاندي راوستلی دی، امريکا، روسيه، چين، فرانسه او برتانيا، هغه هيوادونه دي چي که ټوله نړۍ يوه فيصله وکړي او يو د دغو پنځو (۵) هيوادونو هغه ونه مني، نو دغه فيصله نه عملي کيږي، تاسو فکر وکړئ يو اسلامي هيواد هم په امنيت شورا کي ځای نه لري، که چي اووه پنځوس (۵۷) اسلامي هيوادونه يوه فيصله وکړي، او يو د دغو پنځو (۵) قوتونو څخه هغه فيصله رد کړي، نو په عمل کي دغه کار نه سي پلي کيدای.

نړيوال بانک: د ټولي نړۍ اقتصادي نظام يې په سودي بڼه اړولی دی، اسلامي هيوادونه يې د درنو پورونو پواسطه مهار يعني تر خپل واک لاندي راوستلي دي، تاسو وينئ چي د کاغذي پيسو او کريډيټ سيستم ټول واک د دغه يهودي بانک په واک کي دی، اسلامي هيوادونه چي د تيلو، سرو زرو د پلوه غني هيوادونه وو، اوس ددې شتمنئ څخه خلاص دي، پخوا به خلګو د سروزرو سکې کارولې، هغه به په هر وخت کي د چلند وړ وې، مګر اوس د سروزرو سکې نسته، ځای يې کاغذي پيسو، کريډيټ سيستم نيولی دی او دا داسي بې اعتباره سيستم دی، چي هر وخت يهوديان وغواړي دا دواړه سيستمونه د کاره لويدلي اعلانولای سي، بيا به هغه اسلامي هيوادونه څه کوي چي خپل سره زر او سپين زر يې نړيوال بانک ته د کاغذي پيسو په بدل کي ورکړي دي؟ معلومه خبره ده هغه وخت به بيا هم د يهودو هره غوښتنه مني.

ښځو ته د دجال خطر: نن ورځ دجال د مسلمانانو د غفلت څخه په ګټه اخيستو خپل جاسوسان د ټي وي، کيبل، ډش، انټرنيټ او مبايل په شکل د دوی کورونو ته دنن ايستلي دي، مسلمانان يې په شارګ کي نيولي دي، همدا جاسوسان د مسلمانانو ښځينه طبقه برين واش کوي يعني اذهان يې ور مينځي، د غربي تهذيب لوري ته دعوتوي.

برتانوی ښځينه خبرياله او د اروا پوهني استاده ډينيس وين په خپل کتاب **(The Manipulated Mind)** کي ليکي: د اذهانو يا ماغزو پريمينځلو لپاره درې (۳) طرحي ډيري مهمي او مؤثري دي:- ۱: په روحي او بدني توګه د انسان متوجه کول. ۲: د پروګرام يا پيغام بار بار تکرارول. ۳: د پيغام مختصر وړاندي کول يا په تصويري بڼه او يا هم د شعر په شکل، لکه نن سبا چي تلوزيونونه همدا فورمول کاروي.

اوس په کورنيو کي همدا حالت دی چي د کور ميرمنه د کور د کارونو څخه ستړې سي، نو ددې لپاره چي استراحت وکړي، راسي تلويزيون ته کښيني، په داسي يو حالت کي د تلويزيون د لاري د خپريدونکي پروګرام زهرجن اثرات په ښه توګه اثر کوي، ځکه مخکي چي کومي درې (۳) طرحي ذکر سوې، هغه درې (۳) سره دلته په کار لويږي.

ماشوم لپاره د مور شیدې: د مور شیدې د ماشوم لپاره د اساس او بنسټ په توګه مؤثري، ضروري دي، که د یو دیوال د جوړولو پر مهال لومړنۍ خښته کږه کښیښوول سي، نو دا دیوال به تر پایه ناسم او خطرناک وي، یعني د ورانیدو د خطر سره به مخ وي، همداسي که د ماشوم لومړنۍ غذا چي د مور شیدې دي، د ماشوم څخه وسپمول سي، نو ددې ماشوم وده او نمو به د نارمل حالت په څیر نه وي او نسبت هغو ماشومانو ته چي د مور شیدې یې څیښلي وي، د ده د بدن او حافظې حالت به ډیر د اندیښنې وړ او ګډوډ وي.

د پوهانو په نظر یوه څیړنه وایي: د ماشوم (۷۵٪) فیصده شخصیت په لومړنیو درو (۳) کالو کي جوړیږي. د کیمبرج پوهنتون یوه څیړنه وایي: د هغو ماشومانو ذهانت او د حافظې قوت چي د مور شیدې یې خوړلي وي، د هغو ماشومانو په نسبت چي بازاري شیدي خوړونکي وي، څو ځله زیات او قوي دی.

همدې ته په کتو نن ورځ په اسرائیلو کي دې خبري ته ډیر تبلیغ کیږي، چي میندي باید خپلو ماشومانو ته خپلي شیدې ورکړي او بازاري جوړي سوي شیدې باید ورنه کړي.

ماشوم ته شیدې ورکولو سره میندو ته هم ډیره ګټه رسیږي:

۱: هغه میندي چي ماشوم ته شیدې ورکوي د رحم د زیاتو ناروغیو محفوظې وي.

۲: شیدو ورکوونکو میندو ته د وزن کمولو اړتیا نه پیښیږي، یا بیخي کمه پیښیږي.

۳: په امریکا کي یوې څیړني په ډاګه کړه چي د تیانو کینسر په هغو میندو کي زیات وي چي ماشوم ته شیدې نه ورکوي.

۴: پوډري شیدې ډیري ناروغۍ لري، په اخیستلو یې پیسې مصرفیږي، وروسته بیا د دغو شیدو څخه د رامنځته سویو ناروغیو په علاج هم ډیر مصارف کیږي.

د ماشوم لپاره د مور شیدې ورکول ماشوم او مور ته یې ډیري نوري ګټي هم لري.

د پوډري شیدو یهودي شرکتونه څه ډول خلک دغه بازاري شیدو ته مجبوروي؟ په افریقا کي چي ډیری خلک یې د لوږي او فقر سره مخ دي، دجالي مؤسسات هلته د مرستو په نوم ماشومانو لپاره د پوډري شیدو پاکټونه په وړیا ډول ویشي، وروسته تر دې چي څو ځله دا شیدې وویشي، ځایي خلک همدا شیدې خپلو ماشومانو ته ورکوي، نو دوې (۲) عمده ستونزي رامنځته کیږي، یو دا کومي میندي چي ماشومانو ته دا شیدې ورکوي او خپلي پر بندي کړي، نو قرار یې خپلي شیدې وچیږي، او دوهم دا چي ماشومان په پوډري شیدو عادت سي، دغه دوې (۲) ستونزي بیا جدي شکل نیسي او خلک د غربي مرستندویه ټولنو څخه د نورو پوډري شیدو غوښتنه کوي، مګر دغه شیطاني ټولني بیا وړیا یعني مفتي شیدې نه ورکوي، او په بدل کي د پیسو طلب ځیني کوي، هلته چي خلک د لوږي او فقر تر کرښي هم کښته په سختو کړاوونو کي ژوند کوي دومره پیسې نه سي برابرولای، نو پایله یې د ماشوم او مور د دواړو په زیان تمامیږي.

متأسفانه چي غربي مؤسسات دغه بشري جنايت په قصدي او منظمه توګه ترسره کوي، پوډري شيدو ته تر هغو ښه بازار نه پيدا کيږي، تر څو چې د ماشوم لپاره د مور خپلي شيدې وي، نو همدې ټکي ته په پام سره يهودي شرکتونه د مور د شيدو په نسبت پوډري بازاري شيدو ته ډير کمپاين کوي، زهر د شاتو په ډول پر خلګو پلوري.

پر نړۍ د ابليس جال هر مسلمان بايد د ځانه پوښتنه وکړي: آيا زه د ابليس دښمن يم؟ آيا د خپل دښمن د پرځولو لپاره مي څه تدابير نيولی دی؟ ابليس الله (جل جلاله) ته تر ټولو غوره او د ټولو ملائيکو او فرشتو مشر وو، په خلګو کي داسي مفکوره ده، کله چي الله (جل جلاله) ابليس ته آمر وکړ: حضرت آدم (عليه السلام) ته سجده وکړه، مګر ابليس انکار وکړ، نو دی لعين او ابليس سو. نه! مخکي تر دې چي الله (جل جلاله) حضرت آدم (عليه السلام) پيدا کړي، په ابليس کي تر دې مخکي تکبر پيدا سوی وو، چي حضرت آدم (عليه السلام) ته د سجدې پر مهال الله (جل جلاله) دا هر څه څرګند يعني معلوم کړل، دا د فرشتو سردار د خپل تکبر د امله ابليس او لعين وګرځول سو، د ابليس لغوي معنا هم مايوسه او ناهيلي ده، ابليس ژمنه او قسم کړی دی، چي د الله (جل جلاله) بنده ګان به د ځان ملګري کوي او د سمي لار څخه به يې بې لاري کوي.

د انسانيت تاريخ په دې باندي ګواه دی چي زموږ دښمن ډير ستر زيان کړی دی، مګر زموږ لپاره ښه خبر دا دی چي زموږ دا دښمن مادي يعني فزيکي دنيا کي هيڅ کار نه سي درلودای، نه يوه غوماشه پيدا کولای سي او نه يې وژلای سي، ژوند، مرګ، روغتيا او داسي نور... هيڅ هم د ده په لاس کي نه دي، څه چي دی کولای سي هغه دا دي: زموږ په زړونو کي شک يا وسوسه اچوي او زموږ د فطرت منفي عوامل زموږ په خلاف کاروي، يعني د دنيا تمه، اولاد، شتمني، قدرت، ځواک، جنسي تقاضا او داسي نور... فطري عوامل منفي خوا ته بيول غواړي، د ابليس موخه او هدف زموږ عقل او شعور دی چي غواړي تر خپل تاثير لاندي يې راولي، هغه زموږ فکر او هوښ په خپل کنټرول کي راوستل غواړي چي زموږ څخه ربوټ يا ماشيني انسانان جوړ کړي، دی خپلي موخي ته د رسيدو لپاره د وسوسې تر څنګ د بيري څخه هم ګټه اخلي، د لوږي، ناروغۍ او مرګ څخه مو بيره وي.

دا چي ابليس د دنيا پر وسايلو باندي واک او اختيار نه سي درلودای، نو د دغو وسيلو د کنټرول او استعمال لپاره يې په موږ انسانانو کي هغه د چټل فکر خاوندان خپل ملګري او خدمتګاران کړي دي، يعني يهوديان او صهيونستان، يهوديان د خپل اوږد مهاله پلانونو او مالي سرچينو يا اقتصادي پلانونو د لاري غواړي، نړۍ استثمار کړي او د نړۍ د قدرت واګي د دوی لاسته ورسي، د انسانانو تر منځ راکړه وکړه به پخوا د توکو او جنسونو په تبادله سره کيدل، ابليس ددې راکړي ورکړي لپاره سره او سپين زر دود کړل، بيا يې دغه سره او سپين په کاغذي پيسو واړول، مګر اوس مهال يې ټوله راکړه وکړه په الکترونيکي ماشينونو بدله کړې ده، يعني کريډيټ کارټ، چي زموږ د ژوند يا هم زموږ د مالي حسابونه ټول کنټرول د ابليس د ملګرو په لاسونو کي دی، دوی دا نظام په تيره سليزه کي د انګلستان بانک او بيا د امريکايي بانکونو په جوړولو سره پيل کړ، همدا ډول دوی د مالي سرچينو لپاره هم سيستمونه جوړ کړل، لکه: نړيوال بانک (IMF)، نړيوال تجارتي شبکه (WTO)، د اسهامو مارکيټونه يا د استعمار د تبادلې بازارونه.

ددې تر څنګ ابلیس د خپلو پلانونو د پرمختګ لپاره د هیوادونو په منځ کي د جنګ جګړو څخه هم ګټه اخلي، موږ نن په دې باندي پوره باور لرو چي لومړۍ او دوهمه نړیواله جګړه او د ۲۰۱۱ د سپتمبر پیښه هم د یهودیانو له خوا پلان سوې وه، دوی د ملتونو او هیوادونو تر منځ جګړې جوړوي، لکه: عراق او ایران، د کوریاګانو تر منځ جګړه، د ویتنام جګړه او داسي نوري... د جنګ جګړو په جریان کي د نړیوالو قوانینو او نړیوالو موسئسو په رامنځته کولو سره د ښکیلو هیوادونو ټولي سیاسي او اقتصادي چاري په لاس کي اخلي، هیوادونه په دا ډول تر خپل استثمار لاندي راولي، ددې تر څنګ دوی د نړۍ پر مبطوعاتو هم پوره کنټرول لري، چي ستره بیلګه یې د هالیووډ کېمنۍ ده، چي د ابلیس ډیر پلانونه د فلمونو د لاري د خلګو کورونو ته رسوي، په مخکنیو پیړیو کي ابلیس پـه ډیره آرامۍ او حوصلې سره خپلې چاري مخته بیولې، مګر دا چي نن سبا د قیامت ډیر نښي نښانې ښکاره سوي دي، او ابلیس هم پوه دی چي د ده وروستۍ سلګۍ دي، نو د ډیري بیړي څخه کار اخلي، د پستۍ او لعینۍ وروستي پړاو ته رسیدلی دی.

زموږ خوږ پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) موږ ته په ډاګه ویلي دي: د دوی دوستان به هیڅ کله زموږ دوستان او ملګري نه سي.

دوولسم فصل

جهاد

د ډېر پخوا څخه یې شرحه او توضیح په داسي عباراتو صورت موندلې ده چي اوس مهال یې د اسلام دښمن ځواکونه د لیونتوب جوش بولي، ددې خبري په اوریدلو سره سړی بل فکر کوي او یوه داسي نقشه سترګو ته انځوریږي، هغه دا چي یوه ډله خلک چي د ګڼو ږیرو، ببرو وریښتانو او د سرو سترګو څښتنان دي، توري یې رایستلي د الله اکبر ناره وهي او مخته درومي، هر چیري چي کافر ویني پر غاړه یې توره ایږدي او ورته وایي: ژر کوه کلمه ووایه کنې نو سر دي پرې کوم.

د اسلام دښمنان یعني یهود، نصارا او صلیبیان داسي کارتونونه رسموي او لاندي یې په څرګندو الفاظو داسي لیکي: بیا ددې ملت د تیرو افسانو څخه د ویني بوی راځي. ډیره د حیرانتیا خبره ده چي د دغو کارتونونو رسامان او نقاشان هغه خلک دي چي په پرله پسې توګه څو پیړۍ په لوړه کچه په دغه نامقدس جنګ اخته دي دا پخپله د هغه چا تصویر دی چي د اقتدار او پیسو وږي دي، هر رقم وسلې ته لاس وروړي، دوی هغه داړه ماران او غله دي چي د نړۍ د بیوسه ملتونو پر شتمنیو یرغل کوي د هغوی مارکیټونه، خام مواد، کانونه او ځمکي تر خپلي ولکې لاندي راولي، د هغوی جنګ او جګړه د الله (جل جلاله) په لار کي نه، بلکي د خیټي او هوس لپاره ده، د هغوی په نزد پر یو ملت د حملي او تعرض د جواز په خاطر همدومره بس ده چي د هغوی په خاوره کي کانونه، زیاتي غلې دانې، نعمتونه، ګاز، تیل او یا د پخو موادو د خرڅلاو لپاره بهترین بازارونه دي، نو د زور، فریب او دوکې د لاري یې تسخیروي او تر خپل واک لاندي یې راولي او که چیري نور هیڅ بهانه نه وي د دوی لپاره همدومره کفایت کوي چي ووایي: دغه هیواد زموږ د مستعمرې په څنګ کي پروت دی اوس غواړو چي تر خپلي ولکې لاندي یې راولو.

البته د ښکیلاکګرو کړه وړه چي د نړیوالو تر سترګو تیریږي، د آسیا، افریقا، اروپا او امریکا تر دې پوري چي د ځمکي داسي هیڅ برخه نه ده پاته چي د دغو خونړیو ناپاکو جګړو څخه خوندي پاته وي، البته ښکیلاکګرو په خپل بد پروپاګند او چالاکۍ سره د اسلام او مسلمانانو تصویر خراب ترسیم کړی دی، او پخپله د پردې تر شا ولاړ دي، د بشري حقونو، عدالت او انسانیت ناره وهي، د بلي خوا موږ هم دومره ساده ګان یو، کله چي مو د دښمن په لاس زموږ جوړ سوی خونړۍ تصویر ولید دومره وارخطا سوو، ددې پر ځای چي د تصویر جوړونکو څهره وګورو، ددې برعکس مو د هغوی څخه د معذرت په غوښتلو پیل وکړ: صیب! موږ په جنګ او جګړې څه پوهیږو، موږ خو د عیسوي پاپانو او کشیشانو په څیر سوله غوښتونکي خلک یو، او د یو څو مذهبي مراسمو لوري ته بلنه کوو، زموږ د توري، توپ او ټوپک سره څه کار دی؟ موږ یوازي دومره نیمګړتیا لرو، که چیري یو څوک پر موږ تعرض وکړي، موږ د هغوی په جواب کي لاس پورته کوو، او اوس مو توبه ځیني ایستلې ده، ستاسو د لازیات ډاډ په خاطر مو جهاد او توره رسماً منسوخه اعلان کړې ده، اوس د جهاد مفهوم یوازي د ژبي او قلم د کوښښ څخه عبارت دی، د توپ او ټوپک استعمال د حکومت کار دی، د ژبي او قلم استعمال زموږ دنده او مسؤولیت دی.

د جهاد حقیقت

اسلام د کوم مذهب او ملت نوم نه دی، په اصل کي اسلام یوه عقیده او انقلابي تګلاره ده، چي غواړي د ټولي نړۍ وضعیت ته بدلون ور وبخښي، د خپلي عقیدې او کړنلاري پر برابر یې د سره ودان کړي، اسلام د یو انقلابي او نړیوال خوځښت نوم دی، جهاد انقلابي مبارزه او د الله (جل جلاله) په لار کي د ټولو ځواکونو مصرفول دي، چي هدف ته د رسیدلو په لار کي اسلامي جماعت کار ځیني اخلي، اسلام هم د انقلابي خوځښتونو په شان د تیرو مروجو عباراتو څخه یوه ځانګړې اصطلاح خپل ځان ته غوره کوي، تر څو انقلابي عقیده یې د نورو عقایدو څخه امتیاز حاصل کړي.

د جهاد عبارت هم ددې ژبي ځانګړې اصطلاح ده، د اسلام سپیڅلی دین د حرب او ددې په څیر نور الفاظ چي د جنګ مفهوم افاده کړي، په قصدي توګه پرې ایښی دی، د هغې په عوض یې د جهاد لفظ چي د مبارزې د مفهوم سره ترادف لیري کارولی دی، او ددې څخه مخکي یې دغه مفهوم داسي ګڼلی دی، د خپل هدف د حصول په خاطر د ټولو کوښښونو په کار اچول.

دلته یوه پوښتنه راولاړیږي: اسلام څنګه پخوانۍ عبارت پرې ایښی او دغه اصطلاح یې غوره کړې ده؟ جواب: د جنګ اصطلاح د ملتونو، قومونو او دولتونو د کار لپاره تر ننه پوري په کار وړل کیږي، هغه خلګ او ډلي چي د خپلو ځاني اهدافو د تحقیق په خاطر په جګړې لاس پوري کوي، د داسي جګړو اصلي محرک یوازي شخصي او ټولنیزي ګټي وي، چي هلته د هیڅ عقیدې او اصولو د ساتني نښه په سترګو نه لیدل کیږي.

دا چي د اسلام شخړه داسي نه ده، له همدې کبله یې د داسي الفاظو د استعمال څخه ډډه کړې ده، د اسلام په وړاندي د یو قوم او ملت ګټي په نظر کي نه دي نیول سوي او د هغوی سره یې هیڅ اړیکه نسته، چي یو سلطنت دي پر مځکه واکمن واوسي، اسلام د بشریت د فلاح او خلاصون په خاطر یوه ځانګړې عقیده او کړنلاره ده، ددې عقیدې مخالفین چي هر چیري وي د پښو څخه یې غورځوي، معلومه خبره ده چي یو ملت وي او که کوم هیواد، د اسلام هدف د خپلي عقیدې او مسلک پر برابر د حکومت تشکیلول دي، پرته ددې څخه چي دا په نظر کي وساتل سي، چي توغ یې څوک پورته کوي او د چا واکمنی ته د پای ټکی ایږدي.

ددې پاڅون هدف دا نه دی چي د مځکي واکمني د یوه لاسه بل لاس ته انتقال کړي، بلکي اصلي موخه یې دا ده چي ملتونو ته آزادي ور په برخه کړي او د ظلم د پنجو څخه یې وژغوري، تر څو انسان بریالی او د اسلام د ځلانده پلوشو څخه ګټه واخلي، دغه مقصد ته د رسیدلو په خاطر د ټولو ځواکونو څخه کار اخلي، چي د اسلامي پاڅون لپاره اغیزمن ثابتیدلای سي، د دغه ځواک څخه د کار اخیستلو په خاطر هر اړخیزه نوم جهاد ورته ورکولای سو، د ژبي او قلم په وسیله په خلګو کي فکري بدلون راوستل جهاد دی، د توري په زور د یو استبدادي ظالمانه نظام د اقتدار ټغر ورټولول، د یو عادلانه نظام ټینګښت، په دغه لار کي د پیسو لګول او ځاني هلي ځلي کول هم په جهاد شمیرل کیږي.

د فی سبیل الله لازمي قید

د اسلام جهاد یوازي جهاد نه، بلکي د فی سبیل الله قید یې لازمي عنصر دی، دغه عبارت هم د اسلام په ځانګړې اصطلاح پورې اړیکه نیسي، ځینو خلګو ته اشتباه پیدا سوې ده، او فکر کوي چي فی سبیل الله جهاد ددې څخه عبارت دی، چي د زور او قوت د لارې خپله عقیده پر خلګو وروتپي، دا ځکه چي د داسي تنګ نظرو خلګو په ذهن او دماغ کي د الله سبحانه وتعالی د لاري مفهوم ددې څخه پرته په بل شان نه ځاییږي، مګر د اسلام په ژبه کي دغه لفظ پراخه مفهوم لري، هر هغه کار چي هدف یې د خلګو فلاح او ټولنیزه ښیګڼه وي او سرته رسونکی یې هیڅ یوه دنیوي ګټه په نظر کي ونه نیسي، بلکي مقصد یې یوازي او یوازي د الله سبحانه وتعالی رضا او خوشالي وي اسلام هغه د فی سبیل الله په نوم یادوي.

د مثال په توګه: تاسو په دې نیت په خیرات لاس پوري کوی چي هدف مو ځیني مادي او اخلاقي استفاده وي ستاسو دغه خیرات فی سبیل الله نه شمیرل کیږي، البته که چیري ستاسو نیت د یو بیوزله انسان سره مرسته او د الله سبحانه وتعالی رضا حاصلول وي، فی سبیل الله ګڼل کیږي، نو په دې اساس دغه اصطلاح د هغو کړو وړو لپاره استعمالیږي، چي په اخلاص او د ټولو نفساني اغراضو څخه پاکه او سپیڅلې اوسي.

د انساني ژوند وروستی هدف د کائیناتو د ښتن د خوښی څخه پرته بل څه نه دی، د جهاد لپاره د فی سبیل الله قید ددې په خاطر انتخاب سوی دی، چي یو څوک د ژوند په ډګر کي د بدلون او د یو نوي نظام د ټینګښت په مقصد په پاڅون لاس پوري کوي، چي په دغه ستره سرښندنه کي هیڅ نفساني هدف ونه لري هیڅکله یې هدف دا نه وي، چي کسرا او قیصر د واکه ګوښه او پخپله کسرا او قیصر جوړ سي، د هغه د مبارزې په اهدافو کي به د مال، شهرت، د جاه او جلال د لاسته راوړلو هیڅ تصور نه وي، د هغه د ټولو سرښندنو او کوښښونو یوازینی مقصد به دا وي چي د الله سبحانه وتعالی د بنده ګانو په منځ کي یو عادلانه نظام ټینګ او په دغه کار کي یې د الله سبحانه وتعالی د رضا او خوښۍ څخه پرته بل هیڅ مطلب شامل نه وي.

د طاغوت مصدر د طغیان څخه دی، چي د حد څخه د تجاوز او تیري مفهوم افاده کوي، هغه سمندر چي څپې یې د خپلي اندازې څخه راپورته سي، تاسو وایاست سمندر طغیاني سوی دی، په همدې توګه هغه انسان چي د خپل مشروع او روا حد څخه تیری وکړي او د دغه هدف لپاره وسلې ته لاس وغځوي، تر څو د خپلي برخي زیاته ګټه واخلي، د دغه سړي دغه کار د طاغوت عمل او جګړه یې د طاغوت په لاره کي ده، د ده په مقابل کي د الله سبحانه وتعالی په لار کي جنګیدل دا دي چي مقصد یې د قانون او عدالت تامین پخپله هم د الله سبحانه وتعالی اطاعت ته سر کښته کړي او پر نورو خلګو هم د الله سبحانه وتعالی اطاعت ومني، وروستنی برۍ یوازي هغه چاته په برخه کیږي چي د الله سبحانه وتعالی څخه بیریږي.

الله سبحانه وتعالی یوازي د هغه چا عمل قبلوي چي د الله سبحانه وتعالی د رضا په خاطر وي، د هغه ښخه يې هيڅ رقم شخصي او يا ډله ييزي ګټي په نظر کي نه وي، له همدې کبله د فی سبيل الله قيد د جهاد لپاره د اسلام په رڼا کي خاص آرزښت لري، تشي هلي ځلي، محنت او خواري په دنيا کي هر ښوک سرته رسوي او هر يو د خپل هدف په خاطر خپل ځواکونه په کار راولي، البته مسلمان د يوې ډلي نوم دی، چي د هغه انقلابي مفکوره به دا وي چي خپل ځان، مال او هر ښه به په لګښت رسوي او د نړۍ د سرکښو ځواکونو سره به په جګړه لاس پوري کوي، تر ښو مستکبر ځواکونه په ګونډو او د الله سبحانه وتعالی قانون پر مځکه جاري کړای سي.

د جهاد ضرورت او هدف

اسلام یوازي یوه مذهبي عقیده او د څو عباداتو مجموعه نه ده، بلکي اسلام یو ټولنیز نظام هم دی، چي غواړي د نړۍ ټول ظالمانه او د فساد نظامونه له منځه یو سي او پر ځای یې د اسلام اصلاحي پروګرام چي د بشریت د فلاح او بري ضامن دی جاري کړي، اسلام د تخریب او تعمیر، د اصلاح او انقلاب په دغه پروسه کي کومه ډله او یا ځانګړې ملت نه، بلکي ټولي انساني او بشري ټولني ته دعوت ورکوي، په همدې توګه اسلام هغو طبقاتو، ظالمو او خاینو ډلو ته که پادشاهان او که ولس مشران هم دي خپل پیغام ور رسوي چي راسئ د خپلو روا حقوقو په حدودو کي ژوند وکړئ، چي الله سبحانه وتعالی تاسو ته ټاکلي دي، که چیري تاسو د عدل او حق نظام ومنئ، په آمن او سلامتیا کي به ژوند ترسره کړئ.

دلته د هیڅ انسان سره دښمني نه ترسره کیږي، دلته که چیري دښمني ده، د ظلم، تیري، فساد او بداخلاقي سره ده، دلته د هغه چا سره په دښمنۍ لاس پوري کیږي، چي د خپل طبیعي حق څخه تیرئ کوي، هغه څوک چي دغه دعوت ومني، که د هري طبقې، نسل، ملت او هیواد سره اړیکه ولري، د برابرو حقوقو او حیثیت سره د اسلامي ټولګي غړئ ګڼل کیږي، په دې ترتیب یو نړیوال انقلابي ټولګۍ رامنځته کیږي، چي قرآن عظیم الشان یې د الله حزب بولي، او دوهم نوم یې اسلامي جماعت او یا اسلامي اُمت اینوول سوی دی، دغه ټولګۍ رامنځته سوې ده، چي خپل هدف ته د رسیدلو لپاره یې جهاد پیل کړی دی، ددې ټولګۍ د جوړیدو مقصد دا دی چي د غیري اسلامي نظام واکمني ته د پای ټکۍ کښیږدي او پر ځای یې د معتدلو او برابرو اصولو حکومت ټینګ کړي، چي په قرآن کریم کي یې په هر اړخیز لفظ (کلمة الله) سره تعبیر سوی دی، که چیري دغه ټولګۍ د اسلامي حکومت د منځته راوستلو لپاره په هلو ځلو او کوښښونو لاس پوري نه کړي، له شکه پرته د تاسیس هدف یې بابیزه او عبث ګرځي، دا ځکه چي دغه ټولګۍ د بل یو هدف او مقصد په خاطر نه ده رامنځته سوې، د دغه جهاد او هلو ځلو پرته بله لار په مخ کي نه لري.

دغه جماعت یوازي واعظان او د مذهبي چارو د تبلیغ مبشرین نه دي، بلکي د الله سبحانه وتعالی د سرښندونکو لښکرو ټولګۍ ده، ددې ټولګۍ فریضه او رسالت د ظلم، زیاتي، فتنو، فساد بداخلاقۍ تیري او خیانت د ټولو ډولونو له منځه وړل او په همدې توګه د الله سبحانه وتعالی څخه پرته د باطلو اربابانو د اقتدار او واکمنۍ تخت نسکورول، د بدیو پر ځای د نیکیو استقرار او تینګول دي، له همدې امله ددې ټولګۍ لپاره د سیاسي قدرت او د حکومت د چارو د واګو د لاسته راوړلو څخه پرته بله چاره نه لیدل کیږي، دا ځکه چي د تمدن فاسد نظام د فاسد حکومت پر اساساتو ولاړ وي او د تمدن صالح نظام تر هغه پوري تینګیدای نه سي، تر څو د مفسدو او ورانکارو لاس د حکومت د چارو څخه پرې کړي، نیکان او مصلح وګړي د چارو واک په لاس کي واخلي، د نړۍ اوسنی وضعیت د اسلامي ټولګي د مفکورې او هدفونو سره ضدیت لري، که چیري د حکومت نظام د بلي مفکورې او ایډیالوژۍ په محور وڅرخیږي، هغه ټولګۍ چي خپله عقیده او مفکوره رښتینې ګڼي، د نورو مفکورو او نظریاتو د حکومت په سیوري کي د خپلي عقیدې او مفکورې سره یو ځای ژوند نه سي ترسره کولای.

د مثال په توګه: که چیري یو مسلمان د یو غیري اسلامي نظام تر سیوري لاندي ژوند ترسره کړي او غوښتنه یې دا وي چې د ژوندانه ټول اړخونه دي یې د اسلامي اصولو په رڼا کي ښایسته سي، دا کار هیڅکله امکان نه لري، دا ځکه هغه قوانین چې دی یې باطل ګڼي، هغه ټکسونه او مالیات چې دی یې حرام او ناروا بولي، هغه معاملات چې په جواز ورته قایل نه دی، په همدې ډول د ژوند هغه تګلاره چې هلته فساد تر سترګو کیږي، هغه تعلیمي اصلاحات چې د ده له نظره تباه کوونکي په سترګو معلومیږي، دا ټول پرده او د ده پر کورنۍ داسي سیورۍ اچوي، چې په هیڅ صورت کي نه سي ځیني خلاصیدلای.

هغه څوک چې د خپلي ډلي سره پر یوې عقیدې باور لري، د خپلي عقیدې د طبیعي غوښتنو سره سم مکلفیت لري، تر څو د خپلي عقیدې د مخالفي ایدیالوژۍ د حکومت سره په مخالفت لاس پوري کړي او د خپلي مفکورې پر بنسټ د حکومت نظام پر پښو ودروي، دا ځکه که چیري د ده د عقیدې او فکر مخالف حکومت د چارو واګي په لاس کي ولري، په دې صورت کي دی نه سي کولای د خپلي عقیدې پر اصولو او قوانینو عمل وکړي، البته که چیري په دغه لار کي هلي ځلي نه کوي او د غفلت څخه کار اخلي، ښکاره خبره ده چې هغه په حقیقت کي د خپلي عقیدې او مسلک څخه انحراف کړی دی، د یوې ټولګۍ سره د رښتینولۍ او وفادارۍ معیار په شخصي اعتقاد کي دا دی چې د خپلي عقیدې او مفکورې د حاکمیت او واکمنۍ په خاطر په خپل ځان او مال سره په جهاد لاس پوري کړي، البته که چیري د مخالفي ایډلوژۍ حکومت ته په ښه نظر وګوری دا کار ددې خبري دلیل دی چې تاسي په خپله عقیده کي درواغجن یاست.

نتیجه به داسي چې په پای کي به ستاسي تش په نامه عقیده هم له منځه ولاړه سي، په لومړي سر کي که چیري ستاسي د عقیدې او فکر مخالف حکومت په ناخوښه توګه ومنی، او ملاتړ یې وکړی، بیا به کرار کرار ورسره اموخته سی، تر دې پوري چې دغه کراهت او د زړه ناخوښي به مو په میني ورسره واوړي، په پای کي به کار دې نتیجې ته ورسیږي چې تاسي به پخپله د مخالف نظام د حمایې او ملاتړ په خاطر هلي ځلي کوی او د خدمت مصدر به یې وګرځی، ستاسي ځاني او مالي سربښندني به ددې په خاطر ترسره کیږي، تر څو د اسلامي عقیدې پر ځای غیري اسلامي عقیده پر ټولني حاکمه وګرځي، ستاسو ټول ځواک او استعداد به د اسلامي تګلاري په کمزوري کولو په لګښت رسیږي، هر کله چې دغه پړاو ته ورسیږی، ستاسو او د کافرانو تر منځ به د اسلام د منافقانه دعوې څخه پرته بل څه امتیاز نه وي.

د الله سبحانه وتعالی خطاب او وینا انسان ته د انسانیت د امله ده او ورته فرمایي: که تاسي د الله سبحانه وتعالی څخه پرته د بل چا په طاعت او بندګۍ کي بوخت یاست هغه پریږدی، که چیري ستاسو په دماغ او فکر کي پخپله د خدایي ادعاء وي، د خپل دماغ څخه یې لیري کړی، دا ځکه چې پر بل چا د خپلي بندګۍ منل او ستاسو په وړاندي د خلګو د سرونو کښته کول هیڅکله هم ستاسو حق نه دی، تاسي ټول باید د الله سبحانه وتعالی بندګي وکړی او د الله سبحانه وتعالی په بندګۍ کولو کي یو شان اوسی.

د انسان د خلاصون هیله یوازي په همدې ډول کیدای سي، د اسلام د سپیڅلي خطاب بلنه یوازي کاریګرو، کروندګرو، مځکه والو او د فابریکو څښتنانو ته متوجه نه ده، بلکي ټول انسانان یې مخاطب ګرځولي دي.

هیڅوک حق نه لري چي پخپله د انسانانو حکمران سي او د خپلي غوښتني سره سم حکم پرې وچلوي، د آمر او نهي قوانین جاري کړي، د ژوند په چارو کي په مطلق ډول انسان شریکول او هغه ته خپل واک سپارل په حقیقت کي په الوهیت کي د هغه شریکول دي، همدغه خبره په نړۍ کي د فساد اصل او بنسټ دی، د خلګو د انحراف یوازینۍ علت دا دی چي خلګو الله سبحانه وتعالی هیر کړی دی، په نتیجه کي د خپل ځان حقیقت هم هیروي، په پای کي ځیني خلګ، کورنۍ او یا ډلي په پټه او یا په ښکاره توګه د الوهیت دعوه کوي، د وسلې د استعمال په زور د خلګو څخه بده استفاده کوي او د خپل ځان بندګان یې ګرځوي، د بلي خوا ددې خدای هیروني او خپل ځان هیرولو نتیجه دا کیږي، چي ځیني خلګ یې الوهیت او خدایي مني او د هغوی حق یې بولي، چي هغوی فرمان صادر کړي او دوی یې پر وړاندي د اطاعت سرونه کښته کړي، همدغه د ظلم، فساد او د ناروا ګټي اخیستني (استثمار) بنسټ دی، چي په لومړي پړاو کي یې اسلام محکوموي او د له منځه وړلو په خاطر یې ږغ پورته کوي.

د توحید او الله پالني بلنه یوازي کومه مذهبي بلنه نه ده چي په عامه توګه یوازي دیني عقاید بیان سي، بلکي په حقیقت کي دغه د یو ټولنیز انقلاب او اوښتون بلنه او اعلان هم دی، په دغه صورت کي دغه دعوت په مستقیم ډول پر هغو طبقو ګوزار دی، چي د مذهب او دین په جامه کي خپل ځان د راهب او مذهبي پیشوا، د سیاست په جامه کي پادشاه، حکمران، قبیلوي مشر او په اقتصادي لباس کي یې خپل ځان د پانګوال او مځکه وال په توګه مطرح کړی وي او ټول وګړي یې د خپل آمر او فرمان تر ولکې لاندي راوستلي وي، په دې توګه د الله سبحانه وتعالی څخه پرته باطل خدایان ځان راڅرګندوي او د ټولي نړۍ څخه د خپلو طبیعي او طبقاتي حقوقو پر بنسټ د اطاعت او بندګۍ غوښتنه کوي او په ډاګه یې اعلانوي.

په ځینو وختونو کي د خلګو د ناپوهۍ څخه په ګټي اخیستني سره خپل ځانونه مصنوعي خدایان او بوتان جوړ کړي، تر څو په دې توګه د خپل فریب او چل پر بنسټ د الله سبحانه وتعالی د بنده ګانو حقونه غصب کړي او خپلي درواغجني خدایي ته پیاړوتیا ور وبخښي، له همدې امله د اسلام بلنه د کفر، شرک او بت پالني پر خلاف ده، په مستقیم ډول د باطلو ځواکونو د مقاصدو او اهدافو سره په ټکر کي قرار لري. هر کله چي د وخت پیغمبر د ای زما قومه! تاسو ته د الله سبحانه وتعالی څخه پرته بل معبود نسته. آواز پورته کړي، نو بیله ځنډه یې ټول خاین طبقات مخالفت ته تیار سوي دي، دا ځکه چي دغه آواز یوه مابعد الطبیعي قضیه نه وه، بلکي د یو ټولنیز اوښتون او بدلون اعلان وو، او د لومړي وخته یې د سیاسي ولولو بوی احساس کیدی.

د اسلام د انقلابي دعوت ځانګړتیاوي

بیله شکه چي ټول پیغمبران (علیهم السلام) انقلابي شخصیتونه وه او د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ستر انقلابي قائد وو، البته هغه امتیازي کرښه چي د نړۍ د نورو انقلابي زعامتونو او پیغمبرانو تر منځ بیلوونکې کرښه جوړوي، هغه دا ده سره له دې چي د نړۍ نور انقلابي رهبران به هم ښایي ښه نیت ولري، البته هیڅکله یې عدل او برابري نه ده رامنځته کړې.

یا خو یې په خپله د مستضعفو پرګنو له منځه سر راپورته کړی او یا یې ددې طبقې خپله ننګه اعلان کړې او راپورته سوی دی، نتیجه دا سوه چي یوې طبقې ته د حقارت او نفرت په سترګه کتل سوي او د بلي ډلي حمایه او دفاع سوې ده، هغوی چي د ظلم او تیري جواب په ظلم او تیري سره ورکړی دی، هغوی ته د یو ټولنیز معتدل او متوازن نظام تجویز چي د غچ اخیستني، کینې او دښمنۍ څخه پرته وي، ممکن په سترګو نه معلومې دی، چي په هغه کي ټول خلګ آرام او اسوده ژوند ولري.

ددې برعکس پیغمبرانو (علیهم السلام) چي څومره کړاونه ګاللي دي، څومره ظلم او تیری چي د دوی پر پیروانو ترسره سوی دی، ددې سره سره یې هیڅکله په پالیسي کي شخصي احساساتو او اهدافو ته ځای نه دی ورکړی، بلکي د الهي لارښوونو په رڼا کي یې مستقیمه لاره ونیوله، خپلي دندي او مسؤلیتونه یې سرته ورسول، د همدغه واقعیت او الهي لارښوونو په رڼا کي پیغمبران (علیهم السلام) سره له دې چي د ژوند ټولي چاري یې په بشپړ عدالت او انصاف سره پر مخ وړلې، د عامو وګړو رفاه او هوساینه یې هم په نظر کي نیوله، د تل لپاره یې د ټولو انسانانو د فلاح، بري او هوسایني پیغام یې د ځان سره درلودی.

پیغمبرانو (علیهم السلام) غوښتل تر څو په ټولنه کي داسي یو نظام پر پښو ودروي، چي د هغه په سیوري کي هر شخص د خپلو روا حقونو په چوکاټ کي ژوند وکړي، د خپلو قانوني حقوقو څخه برخمن وي او د خلګو خپل منځي اړیکي، د فرد او ټولني د اړیکو تر منځ یوه بشپړه موازنه رامنځته سي، پر همدغه بنسټ د پیغمبرانو (علیهم السلام) انقلابي خوځښتونه هیڅکله هم د طبقاتي شخړو ښکار سوي نه دي، پیغمبرانو (علیهم السلام) د ټولني نوی تشکیل په دې توګه ترتیب نه کړ چي یوه طبقه پر بلي طبقې مسلطه سي، بلکي د دغه کار د سرته رسولو لپاره یې عادلانه لاره غوره کړه، چي په هغه کي ټولو خلګو ته د مادي او روحاني پرمختګ یو شان شرایط برابر سي.

د اسلامي جهاد هدف د غیري اسلامي حکومت د پښو څخه غورځول او د اسلامي نظام ټینګول دي، اسلام د دغه انقلاب په ښنو درول په یو ځانګړي هیواد او یا په څو محدودو هیوادونو کي نه غواړي، بلکي غوښتنه یې دا ده چي د دغه ځلانده پاڅون رڼا د ټولي نړۍ تیارې روښانه کړي، که څه هم په لومړي پړاؤ کي د اسلامي تنظیمونو پر غړو لازمه ده چي د خپلو هیوادونو په حکومتونو کي بدلون رامنځته کړي، مګر وروستی پړاؤ یې د یوه نړیوال انقلاب څخه پرته بل څه نه دی، هغه عقیده او انقلابي مسلک چي د خپل قوم او ملت د ګټو لپاره کوښښ نه کوي، بلکي د ټولي نړۍ د انسانانو د لوړو ګټو او منافعو په خاطر په مبارزې لاس پوري کوي، د هغه فکر، نظر او لوړ نړیوال اهداف یوازي د یو قوم او ملت په چاپیریال کي محصور نه دي، بلکي د ده د مسؤلیتونو طبیعي غوښتنه یو نړیوال انقلاب دی، چي هغه باید په نظر کي ولري، هغه د جغرافیایي پولو حدود نه پیژني، د حق غوښتنه دا ده چي که چیري د یو غره او یا سمندر په څنډه کي پر حق اوسم په بل اړخ کي هم باید حق وجود ولري.

د نړۍ هیڅ برخه او څنډه باید د مسلمان څخه محرومه او بې برخي نه وي، هر چیري چي انسان د ظلم او زیاتي، افراط او تفریط په اور کي سوځي مرسته یې پر مسلمان لازمه او ضروري ده، اوس مهال سره له دې چي هیوادونه جلا پولي لري، د بشري اړیکو تعامل دا دی چي هیڅ یو هیواد خپله عقیده اصول او قوانین تر هغو د عمل ډګر ته نه سي راوستلای، تر څو چي ګاونډۍ هیواد هماغه اصول او کړنلاره د خپلي لاري ډیوه ونه ګرځوي، په دې اساس اسلامي ډلي او حزبونه د عامي اصلاح او د خپل ځان د ساتني په خاطر له دې څخه پرته بله چاره نه لري، چي د اسلامي نظام د ټینګښت په خاطر په یوه ځانګړې سیمه اکتفاء وکړي، بلکي هغه ته به پیاوړتیا بخښي او د نړۍ نورو څنډو ته به هم د خپل دعوت لړۍ خپروي، تر څو دغه مسلک او تګلاره چي د فلاح، بري او نیکمرغۍ ضامن ده قبوله کړای سي، د بلي خوا که چیري ډیر وس ولري، د غیري اسلامي حکومتونو پر خلاف دي توغ پورته کړي، د ښنو څخه دي یې وغورځوي او اسلامي حکومت دي یې پر ځای قایم کړي.

دا هماغه تګلاره ده چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه وروسته راشدینو خلیفه ګانو په مخکي نیولی وو، د عربو خاوره هغه مځکه ده چي د لومړي ځل لپاره اسلامي خوځښت په کښي پیل سو، تر ټولو مخکي یې همدغه سیمه د اسلامي حکومت تر اغیزې لاندي راوستله، تر دې وروسته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ګاونډي هیوادونه د خپلي ریښتني عقیدې اصولو ته دعوت کړل، کله چي د دغو هیوادونو واکمنانو د الله سبحانه وتعالی د رسول (صلی الله علیه وسلم) اصلاحي بلنه رد کړه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هغو سره وسلوال جهاد پیل وکړ، چي د تبوک غزا د دغه سپیڅلي جهاد پیلامه وه، وروسته بیا حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تر رحلت وروسته د خلیفه په توګه وټاکل سو، حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د دوو غیري اسلامي حکومتونو یعني د روم او فارس پر خلاف د جګړې اعلان وکړ، تر حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) وروسته حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) دغه جګړه د خپل خلافت پر مهال د بري تر

درشله ورسوله، د ایران، روم، شام او مصر وګړو په لومړي سر کي دغه اسلامي جهاد د عرب قوم امپریالیستي او استعماري پالیسي وګڼله، هغوی ګومان کوی، چي پخوا به خلګو د بل قوم څخه د غلام ګرځولو په خاطر په پاڅون لاس پوري کوی، اوس هم یو قوم د همدغه هدف په خاطر قیام کړی دی، د همدغه سؤ تفاهم د امله د دغو سیمو خلګ د قیصر او کسرا د بیرغ تر سیوري لاندي د مسلمانانو مقابلې ته تیار سول، مګر کله چي یې د اسلام د انقلابي نهضت په اهدافو پوهه تر لاسه کړه او هغه دا چي دغه غورځنګ کومه قومي غلبه په پام کي نه لري، بلکي د ټولو قومي مصالحو او اهدافو څخه سپیڅلی دی، یوازي او یوازي د یو عادلانه نظام د استقرار لپاره مبارزه کوي، حقیقي مرام او مقصد یې د طبقاتي، استبدادي نظام ړنګول دي، چي د کسرا او قیصر په بنه یې ولسونه راښکیل کړي دي.

په دې اساس خپله همدردي او اخلاقي مرسته یې د اسلامي خوځښت سره پیل کړه، د کسرا او قیصر بیرغونه یې راکښته کړل، که چیري به د زور د لاري د جګړې ډګر ته د مسلمانانو پر خلاف راوستل کیدل، د جګړې سره به یې خپله علاقه نه ښوولی، همدغه واقعیتونه وه، چي مسلمانان په حیرانوونکو فتوحاتو او بریاوو لاس بري سول، دغه کار دغه زمینه او شرایط برابر کړل چي ولسونو د اسلامي حکومت د ټولنیز نظام د عملي څهرې په لیدلو سره په داوطلبانه ډول د دغه نړیوال خوځښت سره په څنګ کي ودریدل او ددې لاري د سالارانو په توګه یې تبارز وکړ، تر څو په نورو هیوادونو کي د اسلامي انقلاب لوړ اهداف خپاره کړي.

الولاء والبراء

الولاء: یعني د الله (جل جلاله) لپاره دوستي. الولاء:- د عقیدې له مخي پر هر مسلمان فرض دي، چي لومړی د الله (جل جلاله)، بیا د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او بیا د ټولو مؤمنانو سره مینه ولري.

والبراء: یعني د الله (جل جلاله) لپاره دښمني. البراء:- د عقیدې له مخي پر هر مسلمان واجب دي، چي د هغو کفارو سره چي د اسلام دښمنان دي، سخته کرکه او بیزاري وکړي او د امکان په صورت کي د هغوی په وړاندي جهاد وکړي د هغوی څخه د زور او ظلم غچ واخلي.

تيري کوونکي او دفاع کوونکي يو تر بله سره متضاد دي

د جنګ او جګړې هغه اصطلاح چې په هجومي او دفاعي سره نومول سوې ده، په اسلامي جهاد يې اطلاق نه کيږي، بلکي د جګړې دغه رقم ويش د قبيلوي او سيمه ئيزو جنګونو سره سمون خوري، دا ځکه چې د تعرض او دفاع کلمات قبيلوي او ملکي جګړو ته استعماليدلای سي، البته کله چې يو بين المللي سازمان يوه نظريه او نړيوال مسلک خلګو ته وړاندي کوي او ټولو ملتونو ته د انساني حيثيت پر بنسټ دعوت ورکوي، د هر ملت او قبيلې افراد د خپل مساوي حيثيت په ساتني سره په خپل تنظيم کي جذبوي، يوازي د بل مسلک حکومت د پښنو څخه غورځوي، د خپلي عقيدې او مفکورې حکومت ټينګوي، په دغه لار کي زياتي هلي ځلي کوي، په دې حالت کي د تعرض او دفاع اصطلاحګانو ته اړتيا نه پيښيږي او پوښتنه هم نه رامنځته کيږي، که چيري د ذکر سويو اصطلاحاتو څخه تير سو، بيا هم د مدافعانه او تجاوزګرانه جنګ ويش په اسلامي جهاد نه تطبيق کيږي.

اسلامي جهاد په خپل وخت کي هم تجاوزګرانه او هم مدافعانه دی، تجاوز ګرانه په دې مفهوم چې اسلامي نظم او جماعت د خپل مسلک په مخالفينو يرغل کوي او مدافعانه په دې خاطر چې د خپلو اعتقادي اهدافو د تطبيق په خاطر د حکومتي قدرت او واک په لاسته راوړلو مکلف دی، د يو تنظيم او جماعت مثال يو کور ته ورته نه دی، چې د هغه څخه دفاع صورت ونيسي، حقيقت دا دی چې اسلامي ټولګې د خپلو اعتقادي اصولو او بنسټونو څخه دفاع کوي، په همدې اساس د خپلو مخالفينو په کورونو يرغل نه کوي، بلکي د هغوی اعتقادي بنسټيز اصول تر يرغل لاندي نيسي او له دې حملې څخه دا نه استنباطيږي، چې د قوت او ځواک په وسيله به د مخالفو ځواکونو اعتقادي اصول هم تر پښنو لاندي سي، بلکي اساسي اهداف يې دا دی چې د ظوابطو او اصولو څخه د ګټي اخيستني په لړ کي د حکومت واګي په لاس کي ونيسي.

د اهل ذمه وو حيثيت

د اسلامي نظام د استقرار په صورت کي به د نورو هيوادونو پيروان او د نورو مسلکونو او عقايدو وګړي څه حيثيت ولري؟ اسلامي جهاد د خلګو په عقيده، مسلک پر عباداتو او ټولنيزو قوانينو تيری نه کوي، هغوی د بشيري خپلواکۍ څخه برخمن دي او کولای سي د خپلي غوښتني سره سم د خپلي عقيدې آزادي ولري، او په شخصي چارو کي د خپل دين تابع واوسي، البته معاملات به يې د اسلام د اصولو په رڼا کي تنظيميږي.

د مثال په ډول: د سود ټول اشکال چې اسلامي حکومت منع کړي دي، په همدې توګه خمار او جواري ته په هيڅ صورت اجازه نه ورکول کيږي، د مالي چارو د اخيستلو او خرڅولو ټولي لاري چاري چې اسلام بنديز پر لګولی دی، نه سي ترسره کولای، د فحاشی او شراب څيښلو ټول مرکزونه به يې بنديږي، په نامسلمانو ښځو به يو څه ناڅه د ستر او پردې قيودات وضع کيږي، په ښارونو کي پر ګرځيدلو او د جاهليت د وخت په شان کړنو به يې بنديز لګول کيږي، پر سينماوو به يې قيودات اينوول کيږي، په دې ترتيب ډير مسايل دي چې اسلامي حکومت يې د غيري اسلامي تمدن تګلارو ته د خپل هيواد په دننه کي اجازه نه ورکوي.

که چیري یو څوک د اسلام پر دغو بندیزونو اعتراض وکړي، چي د خلګو بشپړه آزادي يې سلب کړې ده، هغوی دي پخپله قضاوت وکړي چي د نړی کوم غیري اسلامي هیواد خپلو اوسیدونکو ته مطلقه آزادي ورکړې ده، چي د نوموړي دولت د ایډیالوژی او فکر سره ضدیت ولري؟ څومره چي اسلام نامسلمانو اوسیدونکو ته په خپل قلمرو کي آزادي ورکړې ده، د نړۍ په ډیرو برخو کي به يې وګورې چي د هغو هیوادونو پر اتباعو څه تیریږي، په څومره سختو او تنګو شرایطو کي ژوند ترسره کوي، تر دې پوري چي د هیواد پریښودو ته مجبوره سي، اما اسلام د نورو عقایدو او مسلکونو پیروانو ته د آمنیت او پرمختګ بشپړه ښه فضاء ټینګه کړې ده، چي ساری يې په سترګو نه لیدل کیږي.

د جهاد هدف قیصر او کسرا تر لاسه کول نه دي

جهاد د اسلام په رڼا کي یوازي فی سبیل الله دی، هر کله چي ددې جهاد په نتیجه کي اسلامي حکومت ټینګ سي، مسلمانانو ته روا نه دي، چي قیصر او کسرا له منځه یوسي او پخپله د کسرا او قیصر ځای ونیسي، د مسلمان هدف د جهاد څخه دا نه دی چي شخصي حکومت ټینګ سي او د الله سبحانه وتعالی بنده ګان د انسان غلامان جوړ سي، د خلکو حقوق او د لاس ګټه یې په ناروا لارو چارو غصب او خپل ځان ته په مځکه کي جنت جوړ کړي، دې ته فی سبیل الله جهاد نه وایي، بلکي دا جهاد فی سبیل الطاغوت بلل کیږي، د داسي حکومت د اسلامي حکومت سره هیڅ اړیکه نسته، اسلامي جهاد یو شان هلي ځلي او داسي عمل دی چي په هغه کي د ځان مال او ټولو نفساني غوښتنو د جارولو څخه پرته بل څه نه موندل کیږي، که چیري د جهاد د بریالیتوب په نتیجه کي کوم حکومت رامنځته کیږي، د اسلام په رښتینو مشرانو د مسؤلیتونو دومره لوی بار ایښوول کیږي، چي د شپې او ورځي آرام پرې حراموي، ددې په بدل کي هغه د حکومت او اقتدار څخه هیڅ خوند او لذت نه تر لاسه کوي.

مسلمان واکمن د هیواد د نورو افرادو په نسبت نه امتیازي شخصیت وي او نه د شان او شوکت په تختونو او پالنګونو آرام او اسوده ناست او نه چاپلوس خلګ پر راتاو وي، د شریعت او قانون د پریکړي پرته یوه خښته پر بلي خښتي نه سي ایښوولای او نه د دغه واک څخه استفاده کولای سي، چي پخپله او یا خپلوان د یو غریب او بیچاره شخص په مقابل کي حمایه کړي، په ناروا توګه نه یوه پیسه تر لاسه کولای سي او نه د چا یوه لویشت مځکه نیولای سي، له هغي تنخوا څخه چي د ټولني د یو متوسط وګړي لپاره کفایت وکړي، مستحق ګرځي، له دې څخه پرته د بیت المال څخه یوه پیسه تر لاسه کول پرې حرام دي، مسلمان ولس مشر، نه د خپل ځان لپاره یو پرتمین قصر ودانولای سي او نه د عیش او عشرت، خوراک او ځیښاک سامان آلات ځان ته برابرولای سي، هغه د ټل لپاره له دې څخه بیره لري چي یوه ورځ به د اعمالو محاسبه راسره کیږي، که چیري یې یوه د حرامو پیسه او یوه لویشت مځکه هم غصب کړي او یا په کښي یوه ذره کبر، لویي، فرعونیت، ظلم، بې انصافي او د ځاني غوښتنو احساس په کښي څرګند سي، په سختو مجازاتو به محکوم سي.

که چیري یو څوک په واقعي ډول د مادي او دنیوي ګټو شوق ولري او د اسلامي قانون پر برابر د چوکۍ او منصب د لاسته راوړلو هلي ځلي وکړي، دغه شخص د احمق او ناپوه څخه پرته بل څه نه دی، دا ځکه چي د یو معمولي سوداګر حیثیت د اسلامي حکومت د مشرتابه څخه زیات دی، یو سوداګر هره ورځ د یو اسلامي خلیفه څخه ډیر عواید لري، شپه هم په آرامه تیروي او ورځ هم په آرامه تیروي، معلومه خبره ده چي اسلامي خلیفه او ولس مشر د ده په تناسب نه مادي عایدات لري او نه د شپې آرام خوب کولای سي، همدغه د اسلامي او غیري اسلامي حکومت تر منځ امتیازي کرښه ده، په غیري اسلامي حکومتونو کي د خلکو مشر خپلي فرعوني او باداری ته قوت بخښي او ټول ملي وسایل په خپله ګټه په کار اچوي، البته د ده پر خلاف د اسلامي حکومت مشر یوازي خدمت کوي او د عامو وګړو څخه زیاته ګټه نه لري.

که چیري هغه لږ معاش چي د اسلامي حکومت عادي مامورین یې تر لاسه کوي د امپریالیستي او استعماري هیوادونو د دولتي پرسونل د عوایدو سره پرتله او مقایسه کړل سي دا حقیقت به تاسو ته روښانه سي چي د اسلامي حکومت او د امپریالیستي استعماري ځواکونو په پراختیا غوښتنه کي مادي او معنوي بیلتون څرګند په سترګو ښکاري، په خراسان، شام، عراق او مصر کي د اسلامي حکومت د والیانو معاش د ټیټ رتبه مامورینو سره یو شان په سترګو کیده، حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د اسلام لومړی خلیفه د شلو (۲۰) پیسو په تنخوا سره د یوه عظیم الشانه اسلامي دولت ریاست مخته وړی، په همدې توګه د حضرت عمر فاورق (رضي الله عنه) تنخوا د یوسل او پنځوس (۱۵۰) پیسو څخه نه زیاتیدله، سره له دې چي د اسلامي خلافت بیت المال د دوو (۲) سترو حکومتونو روم او فارس د خزانو او غنیمتونو څخه ډک وو، په ښکاره ډول امپریالیزم یو هیواد راښکیلوي او اسلام په یو ډول یو هیواد تسخیروي، مګر د دواړو په فتوحاتو کي د مځکي او آسمان په شان فرق او بیلتون سته.

دا د جهاد حقیقت دی، چي تاسو به د جهاد په هکله ډیر څه اوریدلي وي، کفارو د مسلمانانو پام د خپل رسالت، حقیقي مسؤلیت، دندي او جهاد څخه لیري ساتلی دی، د فکري جګړې په وسیله یي مسلمان اُمت او ځوانان ځیني غافله کړي دي، حقیقت درکړی، تر څو حق او ناحقه درته څرګند سي.

دیارلسم فصل

نړیوالتوب، العولمة یا (Globalization)

د نړیوالتوب مفهوم: نړیوالتوب د انګریزي ژبې د (Globalization) څخه ژباړل سوی دی، یوه نوې اصطلاح ده، په عربي ژبه کي (العولمة) ورته ویل کیږي، چي د عالَم څخه اخیستل سوې ده او د یو شي نړیوال کولو په معنا ده، غالباً د هغې اصطلاح سره سمون خوري چي وایې: دا نړۍ یو کور دی.

د عولمې د نوي اصطلاح په اړه غربي او اسلامي لیکوالانو بیلا بیل نظرونه وړاندي کړي دي، مګر په عامه معنا دا چي ټوله مځکه د زورواکو قوتونو تر تسلط لاندي ده، یوه نړۍ کیدل او تر یوې واکمنۍ لاندي د یوه تمدن په څیر داسي ژوند په کښې کول چي کمزوري خلګ خپل دین، عقیده، فرهنګ، اقتصاد او ټولنیز ژوند د ځواکمنو هیوادونو تر اغیز لاندي تیر کړي.

عولمه په حقیقت کي د یهودي او امریکایي استعمار، استثمار او استشراق هغه فکري او اقتصادي خوځښت دی، چي د امریکا متحده ایالات یې قیادت کوي او هدف یې په ټوله نړۍ کي اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، ټولنیز، دیني، قومي او وطني امتیازات له منځه وړل، د امریکا او اسرائیلو د اهدافو سره سم نوی پانګه وال نظام پلي کول دي.

د نړیوالتوب پلویان پر رسنیو ډیر تمرکز ساتي، غواړي له همدې لاري په ځانګړې توګه اسلامي ثقافت له منځه یو سي او پر ځای یې غربي فرهنګ پلي کړي، ددې لپاره د نړیوال کلچر اصطلاح هم کارول کیږي، همدې کلچر اوس د لویدیځه تر ختیځه د نړۍ پر ډیرو هیوادونو پراخه اغیز کړی دی.

د نړیوالتوب معنا او مفهوم: نړیوالتوب یوه څو مخي څهره ده، چي علماؤو یې بیلا بیل اړخونه څیړلي دي، معنا یې نړیوال کیدل یا نړیوالتوب دی. د لغت له مخي یې معنا د ځینو په اند د ملتونو، کلتورونو او وطنونو تر منځ د پولو ختمولو ته وایي، او ددې لاري څخه ټوله نړۍ یوې نړیوالي کلتوري او فرهنګي کورنۍ ته سره نږدې کیږي او ځیني بیا نړۍ په یوه نړیوال کلي بدلیدلو نظر ځیني اخلي. مخکي مو وویل: نړیوالتوب زیات اړخونه او مخونه لري، ځیني یې لا تر اوسه اسلامي علماؤو ته څرګند سوي نه دي، مګر کم اړخونه چي یې پیژندل سوي او علماؤو تعریف کړي دي، هغه هم بیلا بیل دي.

ځینو یې اقتصادي اړخ په پام کي نیولی او د نړیوال اقتصاد یا پانګوال نظام په آیینه کي یې ګوري. ځینو یې کلتوري اړخ ته کتلي او دوی یې په ټولنه کي ثقافتي اثرات او بدلونونه د آهمیت وړ بولي، بعضو یې سیاسي اړخ مهم بللی، ځیني نور بیا تخنیکي پرمختګونه په نړیوالتوب پوري تړي، د مخابراتو او ترانسپورت په ډګر کي بدلونونه ددې نتیجه ګڼي. که واقعي نظر او دقت وکړو نړیوالتوب ددې ټولو بدلونونو مجموعه ده، چي د انساني ژوند ټول اړخونه یې متاثره کړي دي.

د نړیوالتوب ډیر مهم اړخ دا دی چې دا د غربي تهذیب او تمدن د پرمختګ او پراختیا یو نوی پړاو دی، غربي تهذیب د تیرو دووسوو (۲۰۰) کلونو راهیسی پر نړۍ د غلبې او نفوذ پر تکل مخ پر وړاندي روان دی، ځکه دا مرحله د لویدیځ د فکر، تمدن، اقتصاد، فرهنګ او نظریې د مختلفو اړخونو د غلبې مرحله ده، دا هغه مرحله ده، چې غربي تهذیب په کښې د نورو تهذیبونو د قربانۍ په بدل کې په وړاندي ځي او لا پسې قوي کیږي.

په اصطلاح کې یې هم ډیر تعریفونه سوي دي، چې ځیني مشهور یې ذکر کوو. د مشهور او نومیالي اقتصاد پوه دکتور جلال آمین په اند د نړیوالتوب لفظ یوه پخوانۍ پدیده ده، چې د انساني ټولني تر منځ د واټنونو د له منځه وړلو په معنا ده، چې بیا په کښې توپیر نسته که هغه لیږدونه او انتقال تر مالونو او ټوکراونو پوري تړاو ولري، یا تر وګړو، فکرونو او معلوماتو پوري وي.

دکتور محمد الجابري یې داسي تعریفوي: نړیوالتوب په نړیواله سطحه د یو څه شي ګرځولو ته وایي، په دې معنا چې یو شی د پولو د محدودي او ټاکني څخه را بهر کول او د لامحدودیت اړخ ته بیول، چې هیڅ څارنه او مراقبت نه وي ورباندي ټاکل سوی.

نړیوالتوب د یو هیواد پر ټولو فرهنګي جریاناتو باندي کار کول چې د یو خاص هیواد د لوري په ترسره کیږي، چې دا چاري د امریکا د متحده ایالاتو د فرهنګي جریانونو د نړیوال کولو د لاري ترسره کیږي او په عین حال کې نړیوالتوب یوه داسي ایډیالوژي ده، چې پر ټوله نړۍ د یوه هیواد د حاکمیت غوښتنه کوي.

جیمس روزانو یو امریکایي سیاست پوه د نړیوالتوب په اړه داسي وایي: نړیوالتوب د یوې ټولني د ټولو آرزښتونو د ځیرني څخه عبارت دی، چې سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ایډیالوژیک اړخونه لري او همدارنګه د هر هیواد تولیدات او صنایع نړیوال بازار ته وړاندي کول او نړیوال بازار په قوي کول دي. فرانسیس فوکو یاما جاپاني الاصل امریکایي د نړیوالتوب په اړه وایي: نړیوالتوب د غربي کلتور او فرهنګ خپریدل او پر ټوله نړۍ د امریکایي تمدن حاکمیت ته وایي. مارتین کور یو غربي سیاست پوه د نړیوالتوب په اړه وایي: نړیوالتوب هغه څه دی، چې موږ د دریمي نړۍ په منځنیو پیړیو کې هغه ته استعمار وایه.

د نړیوالتوب مختلف تعریفونه سوي دي، مګر که په هره بڼه او لاره چې وي، معنا به یې دا وي چې د امریکا پرمختګ لپاره یو بل قدم مخ پر وړاندي اینوول دي، ځکه نړیوالتوب اقتصادي چاري هم د ځان سره لري، چې د همدې اقتصاد بنسټونه نن د امریکا په لاس کې دي.

نړیوالتوب تنها د غربي نړۍ کامیابي ده، البته د نورو د فرهنګ او کلتور له منځه تلو په قیمت به دا کامیابي رامنځته کیږي، همدارنګه نړیوالتوب د غربي نړۍ نوی امپریالیزم دی، مګر نوی رنګ او بڼه غوره یې کړې ده. نړیوالتوب د غربیو هیوادونو اقتصادي آزادۍ ته وده ورکوي، تر څو د نړۍ پرمختللي او قوي هیوادونه خپلې ګټې لاسته ځیني رواړي، چې پر دې بناء نړیوالتوب نه یوازي د امپریالیزم بڼه غوره کړې ده، بلکي لوی استثمار ته یې لاره هواره کړې ده. نړیوالتوب د مخدره موادو او تروریستانو لپاره هم مناسبه زمینه برابروي.

امپریالیزم د استعمار په معنی دی، البته د امپریالیزم کلمه د لاتیني ژبي د امپریو (Imperiu) څخه اخیستل سوې ده، چي د امپراطوري په معنا ده او په ۱۸۹۰م کال په انګلستان کي رامنځته سوه، هغوی د افریقا او نوري نړۍ د مستعمره کولو لپاره دا کلمه استعمالوله، او معاصره معنا یې پر هیوادونو یرغل او د هغو هیوادو سیاسي، اقتصادي او کلتوري چاري په خپل واک کي اخیستل او د خپلو ګټو لپاره دې استعمار ته دوام ورکول که دا یرغل نظامي وي، لکه: د امریکا او متحدینو یې پر عراق او افغانستان، او که غیر نظامي وي، لکه: په منځني ختیځ کي د امریکا نظارت امریکایي امپریالیزم دی، چي امپریالیستي هیوادونه بیا پر مستعمره هیوادو باندي خپلي ارادې تحمیلوي.

د نړیوالتوب تاریخچه

د نړیوالتوب څپه په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰م کلونو کي خصوصاً د سړې جګړې د پای ته رسیدو، وروسته په غرب کي را پورته سوه او د دوهمي نړیوالي جګړې د پایلو او بدلونونو وروسته چي د نړۍ په راتلونکي کي نړیوالتوب ګړندي ګامونه پورته کړل، د ملګرو ملتونو سازمان منځته راغلی او نور بین المللي سازمانونه جوړ سول. همدارنګه په شوروي اتحاد کي د کمونیستي رژیم د ماتي، نړیوالو شرکتونو او کمپنیو پرمختګ کول، په تخنیکي ډګر کي د وسایلو د وړلو راوړلو شیان ایجاد سول، رسنیو خپل هویت په نړۍ کي داسي څرګند کړ، چي نړۍ یې په یوه هیواد بدله کړه، دا د نړیوالتوب د پیلیدو زمانه بللای سو، که څه هم د نړیوالتوب پدیده پخوانۍ ده، کله چي انسان د خپل هیواد څخه دباندي سفر وکړ، د انسانانو تر منځ اجتماعي روابط پیدا سول او د هیوادونو تر منځ اړیکي پیدا سوې دا د نړیوالتوب د پیل زمانه ده، مګر د عمل او کار کولو ډګر ته د دوهمي نړیوالي جګړې وروسته را وړاندي سوه.

د نړیوالتوب یوه برخه د نړیوال نظم په نامه د امریکا د ولسمشر جورج بوش په وخت کي رواج سوه، بوش وتوانیدی چي د دیرشو (۳۰) هیوادونو قوه او نظامي ځواک د نړیوالتوب تر مفکورې لاندي د یوه هیواد په مقابل کي تیار کړي او د هغه پر ضد یې وجنګوي، چي هغه د عراق هیواد وو.

د نړیوال نظم تر عنوان لاندي خبري اترې د یو زورور طوفان په څیر د یو شمیر رسنیو او ورځپاڼو په سریزو کي راتلې، چي اصلي هدف ځیني همدا د نړیوالتوب موضوع وه، او تر هر چا لومړی یې جوړونکو د تائید ټاپې پر لګولې. د تیرو سلو (۱۰۰) کلونو په بهیر کي په اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او تخنیکي ډګرونو کي دومره ګړندي بدلونونه را منځته سول، چي په تیرو وختونو کي یې بیلګه نه لیدل کیږي، د ټولنیزو رسنیو د زیاتو آسانتیاوو د امله د جغرافیایي کرښو تصور له منځه تللی او د رسنیو دې وړتیا په تجارت او مالي چارو کي هم یو بدلون رامنځته کړی دی.

ځینو بیا نړیوالتوب د نوي استعمار یوه بڼه ښوولې ده، چي د صلیبي او نړیوالو جګړو وروسته شروع سوی دی، او نړیوالتوب هغه پخوانی استعمار بولي، مګر په نوې بڼه او نوي عنوان باندي، ځکه چي استعمار د چلپاسکي په څیر د مار رنګ ځان ته اختیار کړی دی او د فلم د لوبغاړو او چل باز په شان ځان په ډول ډول بڼو جوړوي، مګر په حقیقت کي هماغه څه دی کوم چي دی، که هر څومره ځان او عنوان بدل کړي په اصلیت کي یې توپیر نسته، چي همدا نوی استعمار پر نړۍ ولکه راوستل او فساد په کښي خپرول غواړي. دوی یوه ډله او یوه قبیله نه کمزورې کوي، بلکي ټول وګړي او د مځکي د سر ټول اُمتونه د یو لړکي مصلحت او ښیګڼي لپاره کمزوري کوي، تر څو ورباندي همدا لړکي هغه څه وکړي، چي زړه یې غواړي.
د نړیوالتوب یو مثال به وګورو تر څو د غربي نړۍ دا لوبه د حقیقت په هنداره کي راته ښه څرګنده سي، په دې بیلګه کي به د نړیوالتوب سیاسي، عسکري، کلتوري او تبلیغاتي اړخ ښه معلوم سي: کله چي په نولسمه (۱۹) او شلمه (۲۰) پیړۍ کي دوه ستر سوپر طاقتونه موجود وه، په هغه زمانه کي نړۍ دوه قطبي وه، یو د شوروي اتحاد سوسیالیستي او کمونیستي بلاک وو، او بل د غربي نړۍ د کپیټالیزم علمبرداران وه، چي په سر کي یې امریکا قرار درلود.

دوی هر يوه غوښتل چي د دوی فکر، فلسفه او ايډيالوژي نړيواله او ټوله نړۍ د دوی تر تاثير لاندي وي، کله چي شوروي اتحاد په افغانستان کي پوځي يرغل وکړ، نو امريکا ته موقع په لاس ورغله، چي بايد روسان په افغانستان کي د افغانانو په لاس مات يا کمزوري کړي، تر څو په نړۍ کي امريکا ته رقيب پاته نه سي، ځکه غربي نړۍ د افغانستان د جهاد تاييد او ملاتړ وکړ، امريکا ددې لپاره د مجاهدينو سره مرستي کولې، که په دې جنګ کي افغانان وژل کيږي او که روسان د دوی په ګټه دي، يو خوا به مسلمانان وژل کيږي او بل خوا به د دوی کمونيستي رقيب کمزورۍ سي، مګر دا فکر يې نه کوی، چي مجاهدين به کامياب سي، د الله سبحانه وتعالی فيصله داسي سوه، چي د خوارو، غريبو او مجاهدو افغانانو په لاس يې د معاصر قرن ستره امپراطوري ونړوله، د کمونيزم او سوسياليزم مفکوره باتورو افغانانو دړي وړي کړه، او مجاهدين د يو مسلح قوت په څير په سيمه کي راڅرګند سول، چي د افغانانو دې بريا نړۍ ته درې (۳) نتيجې وړاندي کړې.

يوه يې په نړيواله سطحه د سره کمونيسټ فلسفه د خارو سره خاوري کړه، چي د غرب آرزو هم وه، مګر دوهمه او دريمه نتيجه هغه وه، چي غرب او امريکا نه غوښتل، خو په عين وخت کي ورسره مخ او په کښې واقع سول، چي يوه يې په نړۍ کي د جهاد فکر رامنځته کيدل وه، په ټوله نړۍ کي مجاهدين را پورته سول او د باطل پر خلاف يې توري اوچتي کړې، لکه: په صوماليا، فلسطين، چيچنيا، کشمير او فليپين کي مجاهدينو د مستبدو نظامونو او ښکيلاکګرو په مقابل کي وسلواله جګړه پيل کړه، چي دې کار د غرب د دوه سوه (۲۰۰) يا درې سوه (۳۰۰) کلني مبارزې سره ټکر درلود، چي دوی د جهاد په ضد کړي وه او جهادي فکر يې د نړۍ څخه ورک کړی وو، اوس بيا ورسره مخ سول او دريمه دا چي د مجاهدينو بريا د غرب پخوانۍ مفکوره سيکولريزم دړي وړي کړ، غربيانو چي سلګونه کلونه خپله دا مفکوره په اسلامي نړۍ کي عملي کړې وه، د نابودۍ سره مخ سوه، افغانان يوازي د جومات او مدرسې څخه راونه وتل، بلکي د نړۍ يو لوی سوپر طاقت يې پر ګونډو کړ.

امريکا او غرب چي د سيکولريزم لپاره څومره کار کړی وو، چي دين دي په جومات او مدرسه کي بند وي، د دين عالم او ملا دي د جومات او مدرسې څخه دباندي نه راوځي، هلته دي د دين مسئلې خلګو ته بيانوي، د حکومت او سياست سره يې هيڅ کار نسته، مګر اسلام تر مسجد او مدرسې پوري منحصر پاته نه سو، بلکي جهادي ولولو ټوله نړۍ وخوځوله، اسلام د حاکميت او حکومت د دين په څير وپيژندل سو، او په عمل کي اسلام او سياست سره يو ځای سول، د افغانانو ددې ستري بريا وروسته چي کله ملا د ټوپک سره را ښکاره سو او د اسلامي شعائرو د عملي کيدو وخت را ورسيد، اسلام پر ټولنه حاکم سو، نو دا پيښه پر غرب او امريکا خورا درنه تمامه سوه، امريکا دا تحمل نه سوای کړای، چي اسلام دي د حاکميت دين وي، د مسلمان سره دي د نړيوال خلافت فکر وي او جهاد دي د يوې فريضې په حيث ومني، دلته نو امريکا احساس کړه چي په راتلونکي کي يې په دنيا کي يوازينۍ رقيب او حريف اسلام دی او بس، ځکه دوی د خپلو ګټو په مقابل کي يوازي اسلام د لاري خنډ باله او د مسلمان لوړ فکر دوی ناآرامه کړي وه.

لکه علامه اقبال چي د دوی د يو پارلمان او مجلس انځور په خپل شعر کي مسلمانانو ته وړاندي کړی دی، چي کفار د اسلامي اُمت په باره کي څه وايي، اقبال صاحب دا مجلس د ابليس پارلمان بللی او د مجلس مشر يې د لوی ابليس په نوم سره ياد کړی دی، چي دا شعر يې ابوالحسن ندوي (رحمة‌الله عليه) تشريح کړی دی.

علامه اقبال صاحب وايي: د ابليس د پارلمان هر غړي خپله انديښنه او رايه وړاندي کړه، چي په نړۍ کي موږ ته څوک ستر خطر دی؟ د ټولو وروسته د پارلمان مشر (مشر ابليس) خپله رايه داسي وړاندي کړه او مجلس ته يې په خطاب کي وويل: مه وارخطا کيږئ! د نړۍ واک اوس هم زما سره دی د هيچا څخه مه بيريږئ، کمونيزم موږ ته هيڅ خطر هم نه سي پيښولای، که بيره ده بايد د هغه ملت څخه وسي، کوم چي د ژوند اور او لوړ فکر يې تر ايرو لاندي پټ دی او د هغوی په منځ کي داسي کسان موجود دي، چي د شپې په وروستۍ برخه کي د خپلو ګرمو او نرمو بسترو څخه جلا کيږي، د خپل رب سره د راز او نياز په وخت کي يې پر مخ اوښکي بهيږي، نو هوښياران پوهيږي هغه خطر چي زموږ راتلوونکی تهديدوي هغه يوازي اسلام او مسلمانان دي، نه کمونيزم.

ابليس وويل: زه ښه پوهيږم چي دې خلګو پر خپل کتاب قرآن کريم عمل کول پرې ايښی او د نړۍ د نورو قومونو غوندي د دنيا او مال په محبت کي را ګير سوي دي، پوهيږم چي توري شپې د شرق د مځکي آسمان په خپله غيږ کي نيولی دی، د اسلام علماء په اوسني حال کي ددې توان نه لري، چي دا تيارې ليري کړي او نړۍ په خپل علم او عرفان سره روښانه کړي، مګر بيريږم هسي نه چي د زمانې لړزونکي پيښي دوی را بيدار کړي او د محمدي شريعت په لور يې رهبري کړي، زه تاسو د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د قانون څخه بيروم، هغه قانون چي د انسانانو د حقوقو، عزت، ابرو، ناموس او شرف ساتونکی دی. د شرافت او کرامت دين، د امانت او عفت دين، د غيرت او شهامت دين، د جهاد او مبارزې دين، هغه دين چي د انسانانو هر قِسم بندګي او غلامي يې محکومه کړې ده، د غلام او بادار، پاچا او ګدا تر منځ فرق نه کوي او ښوونه کوي چي مال او دارايي د هر رنګه ناپاکيو څخه بايد پاکه وي. اسلام سرمايه دار ته د الله سبحانه وتعالی امانتدار ويلی دی، او وايي: مځکه خاص د الله سبحانه وتعالی مِلک دی نه د پادشاهانو.

نو ډير کوښښ وکړئ! چي دا دين د نړيوالو د سترګو څخه پټ پاته سي. دا د خوشالی ځای دی چي د نن زمانې مسلمان پر خپل پروردګار باندي د ايمان او اعتماد د اړخه کمزوری دی. زموږ په ګټه ده چي مسلمان په علم کلام، فلسفه او خپلمنځيو اختلافاتو اخته وي او د استعمارګرانو په وړاندي غافل وي. د مسلمانانو په غوږونو پردې وغوړوی، چي څه شی وانه وري، ځکه مسلمان کولای سي په آذان او تکبير سره د نړۍ طلسم مات کړي، کوښښ وکړئ چي د مسلمانانو د غفلت خوب نور هم اوږد سي. دوستانو! تاسو بايد مسلمان د کار او سختيو څخه منع کړی، تر څو د نړۍ د رقابت په ميدان کي ناکام سي، زموږ په ګټه ده، چي مسلمان نورو ته محتاج او غلام وي، د فعاليت، تخنيک او تکنالوژۍ د دنيا څخه ليري واوسي او صحنه نورو ته پاته سي. افسوس! زموږ پر حال که دا اُمت چي دين يې دوی د نړۍ د حاکميت او نظارت پر لوري بولي را ويښ سي او پر خپله وظيفه عمل وکړي.

دا د علامه اقبال صاحب انځور وو، چي د غرب د پارلمان څخه یې د اسلامي اُمت بچیانو ته وړاندي کړی دی او دا سل په سلو کي حقیقت هم وو، ځکه د سوسیالیزم، کمونیزم، مارکسیزم او لیننیزم مفکوره او ایډیالوژي په نړۍ کي د ماتي سره مخ سوه او خپله غرب داسي مفکوره نه درلوده، چي د ژوند ټول اړخونه باندي جوړ کړي، ځکه د غرب فلسفه خو په الحاد، مادیت، عیاشۍ او فحاشۍ باندي ولاړه ده، که څه هم د تخنیک په ډګر کي یې پرمختګ کړی دی، مګر بیا هم غربي نړۍ د اخلاقي ځوړتیا سره مخ وه.

لکه یوه غربي وګړي یو هندوستاني فیلسوف ته د خپل تخنیکي پرمختګ ستاینه وکړه، هغه په جواب کي ورته وویل: سمه خبره ده تاسو په هوا کي د مرغانو په شان الوتلای سی او په اوبو کي د ماهیانو په څیر تللای سی، مګر تر اوسه مو پر مځکه د انسانانو په څیر تګ زده نه کړ.

نو دلته یوازي د دوی رقیب اسلام پاته سو، د اسلام د نړیوالتوب څخه وبیریدل، ویل هسي نه چي نور قومونه دې دین ته مخه کړي، نو دوی هم د یوه نړیوال فکر او فلسفې په جوړولو کار وکړ، چي هغه بیا د نړیوالتوب په بڼه را ښکاره سوه، دوی د اسلام په مقابل کي د هر رقم استخباراتي او تبلیغاتي جنګ څخه کار واخیستی، مګر ګټه یې ورته ونه کړه، بالاخره یې عسکري جنګ ته ملا وتړله، دې جګړې د دوی د پخوانیو جګړو او استعمار سره فرق درلود، ځکه د صلیبي جګړو په دوران کي به هر اروپایي هیواد جلا جلا مستعمرې درلودې او اسلامي نړۍ به یې په خپلو مینځو کي سره ویشلې وه.

مثلاً: افریقایي هیوادونه لکه: الجزایر، تونس، مراکش، المغرب، مالي، کیمیرون، نیجر، چاد او همدارنګه شام د فرانسې مستعمره وه. مصر، هندوستان، سنګال، نایجریا، عراق، فلسطین، سوډان، اردن، قبرص او داسي نور... د برطانیې مستعمرات وه. عمان، بحرین، فلیپین، پرتګال، صومالیا او لیبیا د ایټالیا مستعمرات وه. د منځنۍ آسیا هیوادونه د روسیې مستعمرات وه، چي په دې ډول ټوله اسلامي نړۍ تر استعمار لاندي وه، ماسیوا د حجاز او افغانستان څخه.

ځکه حجاز ته الله سبحانه وتعالی عزت ورکړی دی، او افغانستان د خپل غیرت او جهاد له وجهي چي د انګریزانو په مقابل کي یې وکړ، د استعماره څخه وساتل سوو، مګر ددې ټولو صلیبي او استعماري جګړو اخیري پایله ناکامي وه، ځکه نو غربي نړۍ وروسته د نړیوالو او صلیبي جګړو خپله سیاسي مشري او رهبري امریکا ته وسپارله، امریکا د اسلام او نړۍ پر ضد بیا داسي پلانونه جوړ کړل چي پخوانۍ د صلیبي جګړو تجربې یې سره شریکي کړې او دا ځل یې خپل استعمار ته نوې بڼه ورکړه، ټولو په شریکه سره د درییمي نړۍ او خصوصاً د اسلامي نړۍ په مقابل کي جګړه شروع کړه، چي دا هر اړخیزه جګړه په یوه اتفاق او اتحاد سره پر مخ بیایي، په دې جګړه کي نوی استعمار د نړیوالتوب څهره خپله کړه او ددې نړیوالتوب سیاسي، عسکري او تبلیغاتي څپو د اول ځل لپاره افغانستان او بیا عراق لاندي کړ.

د امریکا ولسمشر بوش د پنځوسو (۵۰) یا زیات شمیر هیوادونو قوه د لومړي ځل لپاره په یوه اتحاد د اسلامي نړۍ پر ضد استعمال کړه، چي دا د سیاسي، عسکري او تبلیغاتي نړیوالتوب لومړۍ څپه وه.

دریيمه نړۍ: د دریيمي نړۍ اصطلاح د اول ځل لپاره فرانسوي مقاله لیکونکي الفرد ساوي په خپله مقاله کي استعمال کړه، مګر اکثریت په دې باور دي، چي د دریيمي نړۍ اصطلاح چارلز دوګال را منځته کړې ده. د دوهمي نړیوالي جګړې وروسته چي کله نړۍ په دوو (۲) قطبونو وویشل سوه، نو غربي کاپیټالیستو ډیموکراتیکو هیوادونو ته لکه: امریکا او متحدینو ته یې اوله (۱) نړۍ وویل سوه. شرقي بلاک یا کمونستو سوسیالیستي هیوادونو ته لکه: روسیه او متحدینو ته یې دوهمه (۲) نړۍ وویل سوه. او د دریمي (۳) نړۍ اصطلاح د نړۍ باقي هیوادونو ته وکارول سوه، چي نه د شرقي بلاک او نه د غربي سره وه، یا هغه مخ پر ودي هیوادونه دي چي د یو بلاک متحدین هم نه دي، چي په اوله نړۍ کي کاپیټالیست هیوادونه لکه: شمالي امریکا، غربي اروپا، جاپان او استرالیا شامل دي، په دوهمه نړۍ کي د پخواني شوروي اتحاد نفوذي صنعتي هیوادونه لکه: نننۍ روسیه، شرقي اروپا لکه: لهستان، ځیني ترک هیوادونه لکه: قزاقستان او همدارنګه چین هم په کښې داخل دی. او دریيمه نړۍ ټولو غریبو د افریقا، آسیا او لاتیني امریکا مخ پر ودي هیوادو ته وایي، مګر د دریمي نړۍ اصطلاح کاپیټالیسټ هیواد ونزویلا او کمونیست هیواد شمالي کوریا ته هم شامله ده، ځکه دوی متحدین نه دي، او د نړۍ بډایه هیواد عربستان او د نړۍ تر ټولو غریب هیواد مالي ته هم شامله ده، ځکه دا دواړه هم د کوم بلاک متحدین نه دي.

د نړیوالتوب اهداف او ننګوني

نړیوالتوب که څه هم ډیر مشخص اهداف نه لري، بلکي د ژوند پر ټولو اړخونو تاثیر کوي، مګر بیا هم هغه هدفونه یې چي اسلامي نړۍ ته زیان اړوي او یو څه ښکاره دي، پر هغو به رڼا واچوو.

۱:ـ د ټوالني او تمدن تباهي: د نړیوالتوب په نتیجه کي به د لویدیځ ټولنیز نظام او تمدن غالب وي، د لویدیځو معیارونو د پرمختګ کړنلاره لا پخوا جوړه سوې ده او د نړیوالو رسنیو پواسطه یې د خپراوي او عملي کولو هلي ځلي رواني دي، نړیوالتوب اصلاً د لویدیځ کلتور بل نوم دی، چي هدف یې د کورنۍ له منځه تلل اجتماعي ژوند، چي اسلام خورا آرزښت ورکړی دی، د اخلاقي معیارونو تر پښو لاندي کول، د بربنډتوب او فحاشۍ خپرول، د ایثار، میني او شفقت نشتوالی، خود غرضي او مفاد پرستي، غیرت او عزت له منځه وړل، ان تر دې پوري چي انسان به هم د خرڅلاو یو توکی وي، د هم جنس پرستۍ عام ول او د بازاري ښځو کلتور رامنځته کول هم د نړیوالتوب اهداف دي، د ښځو د آزادۍ په نوم د دوی حیاء او عزت لیلامول، نړیوالتوب تر ټولو د مخه اسلامي ټولني په نښه کوي، څرنګه چي د اخلاقي معیارونو څه ناڅه اثر یوازي په اسلامي ټولنو کي تر سترګو کیږي، ځکه د داسي ټولنو د لاندي کولو لپاره هر قسم داخلي او خارجي لاري چاري په کار اچول کیږی، ښه مثال یې د ښکلا د ملِکو مسابقې دي، چي هر کال ترسره کیږي، وروسته به پوره بحث پر وکړو. نړیوالتوب بیله دې چي اخلاق له منځه یوسي او د شرافت ځلي راونړوي بل څه نه دی، په ټولنیز ډول یو داسي طوفان راپورته سوی دی، چي الله سبحانه وتعالی دي نه کړي اسلامي ټولني به د تباهۍ کندي ته وغورځوي.

۲:ـ سیاسي غلامي: د نړیوالتوب په نتیجه کي به د پرمختللیو ملتونو څخه پرته نور ټول ملتونه محکوم وي، ملي حکومتونه به کرار کرار اختیار د لاسه ورکوي او یوازي به د ښاري او ځایي چاراوکو په حیث به پاته یي، بلکي ښاري نظام به هم راساً د نړیوالو قدرتونو له خوا کنترولیږي، په دې ډول به کمزوري ملي حکومتونه بې اثره او تش په نامه پاته سي، د نظامي او اقتصادي برلاسۍ سره سره به د نړیوالتوب پواسطه سیاسي برلاسي هم تر لاسه سي، نړیوالتوب یو دجالي نظام دی، چي غیري معمولي اثرات لري، لویدیځ یو طرف ته د خپل منځي وحدت د ټینګښت لپاره کار کوي او بل طرف ته د اسلامي نړۍ د ټوټه ټوټه کولو لپاره هلي ځلي کوي، تر څو د یوې نظریې او یو دین پر بنسټ د اسلامي نړۍ د راټولیدو او مقاومت مخه ونیسي، د نړیوالتوب په غیږ کي یوه داسي زهرجنه نظریه وده کوي، چي د اسلامي اُمت لپاره د خطر زنګ دی، یوازي الهي مرسته د دغه خطر مخه نیولای سی، ځکه په مادي لحاظ خو د اسلامي اُمت ټول مشران د نړیوالتوب مزدوران دي، دا د مسلمانانو بدبختي ده چي په تیرو دریو (۳) پیړیو کي د نا اهله مشرانو د لاسه پرله پسې د ناکامیو او ننګونو سره مخ کیږي.

۳:ـ د چاپیریال تباهي: نړیوالتوب زوروړو قومونو او خصوصاً ګڼ ملتیزو کمپنیو ته دا حق ورکوي، چي د بیوزلو او کمزورو ملتونو طبعي وسایل په خپله ولکه کي راولي، لکه: ځنګلونه، اوبه، معدنیات تیل او ګاز ان چي خوراکي وسایل به هم د دوی په پنجو کي وي. دوی به دغه وسایل بې دریغه لوټ او غلا کوي او نړیوال بازار ته به یې رسوي، ځایي خلګ به د لوږي مري، په افریقا کي چي کان کیندونکو او د تیلو رایستونکو کمپنیو کومي ناخوالي رامنځته

کړي دي، په تصور کولو يې د انسان دماغ بې قراره سي، د مالداره هيوادونو د عيش عشرت لپاره چي کوم وسايل په کار راځي بې دريغه به لوټ کيږي، ځنګلونه به له منځه ځي، او د کارخانو څخه به زهرجن مواد چاپېريال ته خپريږي، چاپېريال ته ضرر رسوونکي ټولي کارخانې به په غريبو هيوادونو کي جوړيږي او په دې شکل به د دريیمي نړۍ خلګ د مصيبت کندي ته ټېل وهل کيږي.

۴:ـ مذهبي او نژادي توپيرونه: د نړيوالتوب ستر خطر په کمزوريو هيوادونو کي د ګډوډۍ او فساد رامنځته کيدل دي، مذهبي اختلافاتو او نژادي توپيرونو ته به لمن وهل کيږي، تر څو ټولني کمزوري سي، د نړيوالو لوټمارو او پانګوالو په وړاندي به د دريدو توان ونه لري، څنګه چي د نړيوالتوب بنسټ د تخريب پر نظريې ولاړ دی، نو د خير تمه کول ځيني بې ځايه ده، د نړيوالتوب لومړی ګوزار پر مذهب دی چي اوله نښه يې اسلام دی، هر مذهب ځانګړي اخلاقي معيارونه لري چي د نړيوالتوب په وړاندي غټ خنډ دي، ځکه نو په ټولنه کي مذهبي اثر له منځه وړل د نړيوالتوب لومړی هدف دی، د مذهبي بنسټ پالني په نوم د مذهبونو بدنامول د دوی د پلان مهمه برخه ده، بالخصوص اسلامي بنسټ پالني پسي خو شپه او ورځ ډنډوري وهي، تر څو په ټولنه کي د اسلام شهرت ته ضرر ورسوي. شيکاګو پوهنتون د بنسټ پالني په اړه د يوې پروژې له مخي په څو جلدونو کي يوه ټولګه خپره کړې ده، تر څو د رسنيو کار کوونکي، پاليسي جوړونکي ادارې او اشخاص د مذهب پر ضد ګټه ځيني پورته کړي. څنګه چي نړيوال استعمار يوازي د مذهب څخه ډير په بيره کي دی، ځکه يې په لومړي قدم کي د مذهب پر ضد داسي يوه فضاء رامنځته کړې ده، چي د دوی په لار کي خنډ کيدو ته هيڅ وخت پيدا نه کړي، د خپلي کړنلاري له مخي د يوې خوا د نظامي بريد ګواښونه کوي او د بل طرفه د خپلو روزل سويو لاس پوڅو په ذريعه په داخل کي ډول ډول دسيسې جوړوي، د اسلامي ټولنو چارواکي هم د نړيوال استعمار سره يو لاس دي، دوی خپل ولسونه د جنګ څخه بيروي او په ټولنه کي داخلي ګډوډيو ته لمن وهي، تر څو خپلو واکمنيو ته دوام ور وبخښي.

۵:ـ د کلتور يوکيدل يا له منځه وړل: نړيوالتوب په څرګند ډول د رسنيو د لاري د دريیمي نړۍ د هيوادونو کلتورونه له منځه وړي. د امريکا د ټايم اوونيزه څخه (۳,۲) ميليونه ګڼې خپريږي. د نيوزويک څخه څلور (۴) ميليونه ګڼې خپريږي. سربيره پر دې زموږ ولسونه خپل معلومات تر ډيره بريده د (BBC) بي بي سي، امريکا غږ، جرمني غږ، فرانس پريس، رويټرز، آزادي راډيو او داسي نورو... غربي رسنيو څخه تر لاسه کوي. دا رسنۍ دي چي ولسونو ته د پيښو په باب په خپله خوښه معلومات ورکوي او د خلګو افکارو ته لوری ورکوي، سربيره پر دې د غربي فلمونو د کتلو د امله نن زيات شمير ځوانان په دې هڅه کي دي، چي د هغو فلمونو د اتلانو په څير ځانونه جوړ کړي، زموږ په ښارونو کي پر ديوالونو د غربي او هندي فلمي ستورو انځورونه ځړيدلي وي، په اخلاقي لحاظ يې زموږ ټولنه د لوی کړکيچ سره مخ کړې ده، شراب څښل، نامحرمو انجونو سره نامشروعي تليفوني اړيکي، غربي ډوله تظاهر او لباس، غربي کړه وړه کول او وياړ باندي کول، دا ټول هغه څه دي چي د رسنيو په تيره بيا د فلمونو د لاري زموږ په ټولنه کي خپاره سوي دي.

۶:- ښوونيز نظام: نن په نړيواله کچه سيکولر ښوونيز نظام چليږي، داسي تعليمي نظام به په راتلونکي کي اسلامي نړۍ ته بلا ډيري ستونزي ور په برخه کړي، ځکه همدا ښوونيز نظامونه د زده کوونکي فکري لوری ټاکي، هر ځوک اوس په دې هڅه کي دي، چي د طبيعي علومو سربيره په ټولنيزو علومو کي هم د غربي هيوادونو د فراغت سندونه ولري، د اجتماعي علومو په برخه کي په غربي هيوادونو کي لوړي زده کړي وکړي، هغه هم په هغه صورت کي چي زده کوونکي د خپل هيواد د تاريخ، کلتور او په فکري لحاظ اسلامي مطالعه ونه لري، په زياته کچه ډير ژر خپل هويت د لاسه ورکوي، ددې ستونزي مخنيوی په هغه صورت کي شونی دی چي د تګ مخکي محصل د خپل دين او کلتور په باب د پام وړ مطالعه کړې وي، که يو ځوک د اسلام د دين، خپل فکر او کلتور څخه د ناخبرۍ په حال کي غرب ته د تعليم او لوړو زده کړو لپاره ولاړ سي، په خاص ډول ځوک چي جرمني، فرانسې، بريتانيا او امريکا ته تللي دي، هغوی ته يې په خپلو تعليمي مراکزو کي د (Open minded) اوپن مايندډ يعني د آزاد خيالۍ ذهنيت ورکړی دی، په دې معنا چي د هغوی د زړونو څخه يې د اسلامي شريعت د مقدس دين عقيده، د اسلامي شعايرو درناوۍ، د اسلامي شريعت د پابندۍ، التزام او د خاتم النبيين حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) محبت، د اُمت د ايمه او فقهاوو تعظيم ختم کړي.

هغوی آزاد خياله او د صليبيانو په اصطلاح اعتدال خوښوونکي، روشن فکره خلګ ځيني جوړ کړي، په داسي ډول چي د دغو روشن فکرانو په وړاندي د مسيحيت او اسلام، حق او باطل تر منځ هيڅ توپير نه وي، کفر يې يوه سترګه او اسلام يې بله، د اسلامي تهذيب او شرعي ژوندود څخه کرکه کوي، د غربي لباس، عرياني، غربي تهذيب غربي ژوندود سره مينه لري، د داسي خلګو مثالونه موږ او تاسو وينو او ځيني هغه خلګ چي بيا غرب ته د اسلامي فکر او عقيدې سره تللي، هغوی بيا د غرب چټل تمدن او اخلاقي ځوړتيا په ښه وهلي او د هغوی په حيواني صفاتو پوري يې خندا کړې ده، لکه د شرق ستر فيلسوف شاعِر اسلام علامه اقبال صاحب چي خپل لوړ تعليمات يې د دکتورا تر کچي ټول په غرب کي ترسره کړي دي، مګر بيا يې د غربي تهذيب څخه داسي پرده پورته کړې ده، چي هغه يې يوه ډيره د پليتو او ناپاکيو ډکه ټولنه بللې ده، خپله داسي سالم ځيني راوتلی دی، چي د ده عقيده نوره هم د اسلام پر اصولو ټينګه سوې ده، د غرب څخه يې د ځان سره اسلامي اُمت ته ډير څه راوړل.

همدارنګه شهيد استاد سيد قطب امريکا ته په سفر ولاړ هلته يې د لويديځ د مادي تهذيب او تمدن بد اخلاق وليده، هغه د لويديځ د جمهوري نظام کرغيړنه او مصنوعي څهره هم وليده، چي د رنګ او نژاد د توپيرونو پر اساس انسانان د يو بل سره لاس او ګريوان وه، او نه منونکي ظلمونه يې پر يو بل کول، هلته سپين انسان په تور انسان، د تور رنګ په وجه بې ساري او بوږونکي ظلمونه کول، ددې تمدن د ليدلو وروسته استاد سيد قطب په دې ډاډه سو، هغه لويديځ چي د جمهوريت، بشردوستۍ او آزادۍ نارو يې نړۍ پر سر اخيستي ده، د انسانيت څخه ډير ليري دی، هغه ته څرګنده سوه، چي اسلام يوازينۍ دين دی چي حضرت بلال حبشي او سلمان فارسي د عربو د قريشو سره څنګ په څنګ دروي، د انسانيت په سترګه ورته ګوري، د هوسايني او پرمختګ په لور يې بيايي.

کله چي شهید استاد سید قطب د امریکا څخه بیرته را ستون سو، نو د شهید استاد سید قطب په زړه کي د لویدیځ د نژادي توپیر، د جمهوریت د آزادۍ او عدالت د درواغجنو مدعیانو پر خلاف د کرکي او نفرت سکروټي سرې وې، د بلي خوا د هغه په زړه کي د اسلام آرزښت نور هم لوړ سو، د اسلامي تعلیماتو، اصولو او قوانینو سره د هغه مینه نوره هم زیاته سوه، امریکا ته د خپل سفر او د امریکا پر اړه یې (هغه امریکا چي ما لیدلې ده) په نامه کتاب هم ولیکی.

همدارنګه علامه ابوالحسن ندوي هم د امریکا د سفر په وخت د (احادیث صریحة في امریکا) په نامه کتاب لیکلی دی، او نور زموږ داسي په اسلامي عقیده سمبال ځوانان چي غرب ته تللي دي، غربي تمدن هیڅ اغیزه نه دی پر کړی، دلته مي ځکه د مثال په ډول ددې نومیالیو اسلامي پوهانو یادونه وکړه، تر څو زموږ ځوان نسل د دوی ژوند، فن او فکر مطالعه کړي.

۷:ـ سیاسي او اقتصادي ستونزي: په سیاسي لحاظ به اسلامي نړۍ د نړیوالتوب د بهیر د لا پرمختګ په صورت کي تر ابده غربي هیوادونو ته لاس په نامه وي، نړیوالتوب په سیاسي برخه کي د یوه نړیوال دولت په لور په حرکت کي دی، چي د دغه نړیوال ایډیال دولت واګي به د لویدیزو هیوادونو په واک کي وي، ددې نړیوال دولت بڼه سریزه د اوس مهال د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ده، چي د پریکړو په لار کي یې حتی د هیوادونو ملي حاکمیت هم خنډ نه سي کیدای، ملي حاکمیت د معاصر دولت یوه اساسي، نه بیلیدونکې او نه تجزیه کیدونکې برخه ده، چي د امنیت شورا په نامه د پینځو (۵) دایمي غړو هیوادونو د پریکړي پر وړاندي بیا خپل آرزښت د لاسه ورکوي. په اقتصادي برخه کي به د دریيمي نړۍ د هیوادونو لاس تل لویدیزوالو ته د مرستو لپاره اوږد وي، موږ به تل د دوی پورورړي یو او د پورونو د لګولو لاري به هم د دوی څخه زده کوو، نه دا چي د خپلو هیوادونو اړتیاوي په پام کي ونیسو او د اړتیا وړ پروژې پیل کړو، دا به هغه وخت وي، چي د دولتونو او ولسونو تر منځ د مخالفت خلیج پراخیږي، د سوداګرۍ په برخه کي به موږ په بشپړو مصرفي هیوادونو بدل سوي یو، د دوی پر صادراتو به هیڅ ډول مالیه نه سو لګولای او موږ ته به دومره چانس هم نه راکول کیږي، چي خپل تولیدات لږ تر لږه پر خپلو خلګو وپلورو.

د نړیوالتوب مهم اړخونه

نړیوالتوب ډیر اړخونه لري، ځکه غربیانو نړیوالتوب ته داسي بڼه ورکړې ده، تر څو د اسلام سره مقابله باندي وکړي، یا یې د اسلام د بدیل په شکل نړیوالو ته وړاندي کړي، ځکه دوی پوهیږي چي اسلام یو نړیوال دین دی، د بشري ژوند او انسانانو ټول مشکلات یې حل کړي دي، نو دوی هم باید نړیوالتوب ته داسي بڼه ورکړي چي د ژوندانه ټول اړخونه په کښي نغښتي وي او نړیوالو ته د قناعت وړ وګرځي، ددې لپاره چي غربي نړۍ نړیوالتوب د یو کامل نظام حیات په څیر په نړۍ کي راڅرګند کړي، نو ټولي غربي مفکورې، نظامونه او ایډیالوژۍ یې د نړیوالتوب تر عنوان لاندي منظمي کړي دي، پر نړۍ یې د خپل اقتصاد، سیاست او کلتور د تطبیقولو لپاره عملي ګامونه پورته کړل، نو ضروري ده هغه مهم اړخونه یې چي په ټولنو او خصوصاً پر اسلامي ټولنه ژر تاثیر کوي او ښه څرګند سوي دي، لږ په تفصیل سره ذکر کړو.

د نړیوالتوب سیاسي اړخ

د سیاست د نړیوالتوب پیل د نړیوالو کانفرانسونو څخه سوی دی، د نولسمي (۱۹) پیړۍ په وروستیو او د شلمي (۲۰) پیړۍ په لومړیو کي څو اړخیز نړیوال کانفرانسونه په ویانا کي ترسره سول، د لومړۍ نړیوالي جګړې د ۱۹۱۴ څخه تر ۱۹۱۸م کال وروسته چي کله نړۍ سولي ته تر بل هر وخت ډیره اړتیا لرله، نړیوالو د نړۍ د سولي او امنیت د ساتلو په موخه د ملتونو ټولنه تاسیس کړه، ددې ټولني هدف د جګړې مخنیوۍ وو، د سولي ټینګښت او د جګړې مخنیوۍ د نړۍ د هر هیواد هیله وه، د ټول بشریت د ژغورني لپاره ددې ټولني جوړښت د سیاست د نړیوالتوب پیلامه بلل کیدای سي.

د نړیوالتوب ځیني اړخونه که پخوا هم رامنځته سوي وه، مګر وروسته بیا ټول د نړیوالتوب تر چتر لاندي سره منظم سوي دي، د ملتونو ټولنه د سولي په ټینګښت کي پاته راغله، ځکه دوهمه نړیواله جګړه ومښته، د دوهمي نړیوالي جګړې د ۱۹۳۹ څخه تر ۱۹۴۵م کال وروسته د نړۍ ځواکمن هیوادونه یا د جګړې ګټونکي سره راټول سول او د ۱۹۴۵م کال په اکتوبر کي یې د ملګرو ملتونو د موسیسې بنسټ کښیښود، د ملګرو ملتونو پر عمومي اسمبلې سربیره د عدالت نړیواله محکمه، د امنیت شورا، دارالانشا او ګڼ شمیر نور بنسټونه لري، د امنیت شورا د پینځلس (۱۵) غړو څخه جوړه ده، چي پنځه (۵) یې (امریکا، روسیه، چین، فرانسه او بریتانیه) دایمي غړي او پاته لس (۱۰) یې د دوو (۲) کالو لپاره ټاکل کیږي.

که د امنیت شورا هره پریکړه وکړه، هغه پر نړۍ عملي کیږي، حتی که کوم هیواد چي د ملي حاکمیت لرونکی دی، مخالفت هم وکړي، کوم ځای نه نیسي. افغانستان ته د ناټو ځواکونو راتګ چي اصلاً د امریکا د ګټو غوښتنه وه، د امنیت شورا د پریکړي په نتیجه کي ترسره سوه. دا چي د امنیت شورا د پریکړي پر وړاندي د دولتونو ملي حاکمیت کوم آرزښت نه لري، هغه د نړیوالتوب غوښتنه ده، د سیاست د نړیوالتوب په برخه کي د اقلیم تودوخه، د اټومي وسلو نه خپراوۍ، ناروغۍ، د بشر حقوق او نور د پام وړ رول لوبوي، یا هغه مسایل چي بشریت د هغو پر وړاندي متحد دریځ خپلوي.

د ناروغیو پر ضد مبارزه لکه: پولیو، د اقلیم تودوخه، د ښځو حقوق، د بشر حقوق او نور هغه ښکلي شعارونه دي، چي د نړۍ پرمختللي یا لویدیز هیوادونه ددې په استفاده خپل ځانګړي اهداف پلي کوي یا د بشر حقوق، لویدیزي رسنۍ ځیني هیوادونه لکه: ایران، چین، سوډان، شمالي کوریا او داسي نور... د بشري حقوقو پر سرغړوني تورنوي، مګر هیڅ کله اسرائیل د فلسطینیانو په وژنو نه ګرموي. امریکا په افغانستان او عراق کي د ملکي خلګو پر وژنو د بشري حقوقو د یو سرغړونکي په توګه نه ګڼي اوسنۍ نړیوال سیاست د سیکولریزم تر بشپړي اغیزې لاندي دی، ځکه په ټوله نړۍ کي د ادیانو اخلاقي لارښووني د حکومتونو د ځانګړو اهدافو د لاري خنډ نه سي کیدای.

د بشر حقوق، سوله، امنیت، د اټومي وسلو نه خپراوۍ او داسي نور... دا ټول تر هغو ښه وي، چي د زبرځواکو دولتونو ګټي خوندي وساتي، که د دوی ګټي په جګړه کي وي، باید جګړه وي او که په سوله کي وي بیا سوله ښه ده! دغه پرمختللي هیوادونه د ملګرو ملتونو د ادارو پریکړو ته ځکه د درناوي تظاهر کوي، چي دا ټول د دوی تر اغیز لاندي دي، د دغو موسیسو ټولي پریکړي د دوی پواسطه عملي کیږي، او دوی مستقیماً پر حاکم دي، چي د سیاست د نړیوالتوب ټولي ګټي د پرمختللیو کفري هیوادونو په ګټه دي، نه د دریيمي یا اسلامي نړۍ، مګر ځیني بیا د نړیوالتوب لومړی بنه د سیاست نړیوال کیدل بولي، په دې معنا چي ټول هیوادونه دي د امریکا د متحده ایالتونو سیاست ومني، د غرب او امریکا سیاسي او حکومتي نظام ډیموکراسي ده، چي دوی غواړي پر ټوله نړۍ یې حاکمه کړي.

ډیموکراسي: د لغت په لحاظ د ډیموکراسي کلمه د دوو پخوانیو یوناني کلمو څخه اخیستل سوې ده، چي یوه یې (Demos) ډیموس د ولس په معنا او بله یې د (Cratos) کراتوس د واک یا حُکم په معنا ده چي ترکیبي معنا یې ولسواکي یا د ولس حاکمیت دی. غربیانو ډیموکراسي داسي تعریف کړی دی: د خلګو حکومت د خلګو په لاس د خلګو لپاره.

ډیموکراسي هغه وخت را منځته سوه، چي په غرب کي کلیسا حاکمه وه، پاچایان او حاکمان یې هم تر کنترول لاندي وه، پاچایانو به د کلیسا په آمر په زور د خلګو څخه مالونه راټولول، چي زیاته اندازه به یې کلیسا ته ورکول او پر پاته برخه به یې خپله عیشونه کول، د عامو خلګو ژوند ډیر تریخ وو، ځکه هغه وخت په اروپا کي صنعت نه وو، خلګو د زراعت او مالدارۍ د لاري خپلي چاري پوره کولې، عامو خلګو به چي ټول کال خواري وکړه او څه به یې لاسته راوړل هغه به حکومت او کلیسا ځیني لوټ کړل، دوی ته به دومره څه پاته سول چي ګوزاره به یې هم نه په کیده.

بالاخره دوی د دولت او کلیسا د ظلم څخه تر پزي راغلل او مجبور سول، چي ددې دواړو پر ضد انقلاب وکړي، هغه وو چي دوی انقلاب وکړ او کامیاب سول، د حکومت او کلیسا جبر ته یې د پای ټکۍ کښیښود، اوس دوی مجبور وه، چي د نوي حکومت چاري خپله سنبال کړي، ځکه حکومت یې له منځه یو وړ او دین یې په کلیسا کي بند کړ، دلته یې د حکومتي نظام خلا په ډیموکراسي ډکه کړه، چي دا د ډیموکراسۍ د رامنځته کیدو وخت هم دی، د دین خالیګا یې په سیکولریزم ډکه کړه، معنا دا چي دین او کلیسا به نور د دولت، حکومت او سیاست په چارو کي ګوتي نه وهي او دین به په کلیسا کي بند وي، پاپ به هلته عبادت کوي او دباندي به د چا سره کار نه لري.

همدارنګه ډیموکراسي ځیني مهم اصول لري، چي دلته یې د بعضو لنډه یادونه کوو:ـ
الف:ـ اکثریت: دا د اولس د حاکمیت جز دی او د ولس په غوښ اکثریت به هر څه ترسره کیږي، یعني اکثریت پر هر څه حاکم دی، که اکثریت هر څه تائید کړل هغه به عملي کیږي، چي په ډیموکراسي کي د شریعت او الله (جل جلاله) ځای همدې اکثریت نیولی دی، ځکه شریعت ته به نه کتل کیږي، بلکي اکثریت ته به ترجیح ورکول کیږي.

ب: د حقوقو او آزادیو اصل، چي لاندنیو حقوقو او آزادیو ته شامل دی:

۱:ـ د نظر او آزادیو حق: دا آزادي هیڅ قید او بند نه مني او انسان په هر څه کي رایه ورکولای سي، آن د دین په احکامو کي هم رایه ورکولای سي او بدلولای یې سي، ځکه په ډیموکراسي کي رایه او نظر قداست لري.

۲:ـ د بیان آزادي: هر څه چي وایي وایه سندري وایې، فحشاء او منکر ته بلنه ورکوې، هره ناروا وایه هیڅ بندیز پرې نسته.

۳:ـ د عقیدې آزادي: که هر دین اختیاروې څه ممانعت نسته، ځکه ډیموکراسي حق ورکړی دی.

۴: شخصي آزادي: په غرب کي دا تر ټولو مقدسه آزادي ده، چي څه کوې کوه یې! بربنډ ګرځې، زنا کوې، لواطت کوې، ګډیږې لنډه دا چي هر څه کولای سې، ځکه انسان آزاد پیدا سوی دی او څه چي یې زړه وغواړي هغه کولای سي، ځکه دا هم د ډیموکراسي د آزادۍ د اصولو څخه یو اصل دی او کوم حکومتونه چي شخصي آزادي نه مني، هغوی ډیموکراسي ته ژمن نه دي.

۵: د کار آزادي: په کارونو کي حلال او حرام نسته، چي هر کار کوې، پروا نسته، شراب خرڅوې، ښځي رقصوې، رنډۍ خانې جوړوې، ځکه ډیموکراسي ده.

۶: د ملکیت آزادي: په ډیموکراسي کي د هر شي د ملکیت لرلو حق سته او د هر لاري چي مال لاسته راوړې او په هره لار چي یې مصرفوې پروا یې نسته، لکه: احتکار، سرمایه داري نظام.

۷:ـ د تعلیم آزادي: کولای سې هر قسم تعلیم زده کړې، ډمتوب، سحر، غلا او داسي نور...

۸:ـ د انتقال آزادي: بندیز نسته هر ځای ګرځیدل را ګرځیدل هر هیواد ته تلل.

۹:ـ په هر څه کي د نر او ښځي تر منځ مساوات: ښځه او نر د یو ډول حقوقو برخمن دي، په دولت کي حاکمیت او حکومت کي مساوي حقوق لري او هر کار چي نران کوي ښځي یې هم باید وکړي.

ډیموکراسي ځیني نور اصول هم لري، مګر دا مي ځکه دلته ذکر کړه، چي موږ عملاً ورسره مخ یو، غرب د ډیموکراسي د پلي کولو لپاره احزاب رامنځته کوي او هغوی رقابت ته چمتو کوي، چي په پایله کي یې ډیموکراسي تحقق مومي. غربیان غواړي د سیاست په ډګر کي د نړیوالتوب تر چتر لاندي دغه ډیموکراسي پر نړیوالو وتپي، ځکه د ټولي نړۍ په حکومتونو کي امریکا ګوتي وهي، چي څنګه یې خوښه وي هغسي یې تاووي، ښه مثال یې د منځني ختیځ کړکیچ وو، کله چي صدام حسین پر کویټ حمله وکړه، نو امریکا د هغه فرصت څخه ګټه پورته کړه، چي خپله یې منځته راوړی وو، نړیوال ځواکونه یې سره یو کړل، د ډار او بیري

وسایل یې په کار واچول تر څو عراق کمزوری کړي او د نوي نړیوالتوب نظم په اثبات ورسوي، دې ته په ژوري کتني سره معلومیږي، چي امریکا په هغه کچه د کویټ بیرته آزادول نه غوښتل څومره چي یې د عراق کمزوري کول غوښتل، چي هغه د عراق د وسلو او پرمختللیو وسایلو له منځه وړل وه، ځکه هغه اسرائیلو ته ستر ګواښ وو، ددې امله غرب وغوښتل چي د اسرائیلو له مخي دا ګواښ او خطر لیري کړي، ځکه یې خالي سلاح کړ او د اسرائیلو امنیت یې ډاډمن کړ، د خلیج په دې کړکیچ کي د نړیوالتوب د سیاسي نظم برخه او د جورج بوش پلان سوې حمله ښه وآزمایل سوه، ددې حملې څخه د امریکا مطلب دا وو، چي خپلي نوي او قوي اسلحې نړیوالو ته وښیي، همدارنګه په منځني ختیځ کي امنیت ګډوډ کړي، تر څو عربي هیوادونه د خپلو غوښتنو منلو ته چمتو کړي، لکه داسي چي وسول، ددې جګړې ټول مصارف عربي هیوادونو ورکول، ځکه هغوی امریکا وبیرول چي صدام یو ظالم او دیکتاتور انسان دی او د سیمي امنیت ته خطر دی.

هغه وو چي عربي هیوادونو خپلي پیسې د بانکونو ورته راویستلې او د عراق په خلاف جنګ کي یې امریکا ته حواله کړې، دا پیسې برسیره پر تیلو وې، ددې وروسته امریکا په عربي نړۍ کي د نفاق او بدبینۍ اور نور هم ګرم کړ، چي عربي نړۍ دې بحران تقریباً نیمه پیړۍ شاته ستنه کړه او ګټه یې امریکا پورته کړه، ځکه عربي هیوادونه یې مجبور کړل تر څو امریکایانو ته د حرم په څنګ کي نظامي هډې ورکړي او امریکا خپلو موخو ته په آساني سره ورسیږي، چي د خپلو ګټو تر څنګ د اسرائیلو د غاصب دولت ګټي او امنیت هم خوندي وساتي، همدا راز نوی نړیوال نظم په اثبات ورسوي ځکه خو یې خپل پوځونه د منځني ختیځ په اسلامي عربي هیوادونو کي ځای پر ځای کړل.

دا نوی نړیوال نظم په لومړیو وختو کي ځان بې غرضه اچوی، او د مسلمانانو د مخالف اړخ لاسونه خلاص پریږدي، تر څو یرغل باندي وکړي او ښه عامه وژنه ترسره کړي، ددې هر ډول ظلم او تیري څخه وروسته بیا نړیوال نظم مداخله کوي، لکه په چیچنیا کي چي د روسانو له خوا د مسلمانانو هر ډول بشري حقوق تر پښو لاندي کیدل او نړیوال نظم یا نړیوالي ټولنې هیڅ ږغ نه پورته کوی، ځکه هلته به د دوی ږغ پورته کول د مسلمانانو په ګټه او د روسانو په ضرر وه، ځکه چوپه خوله وه، په داسي حال کي چي امریکا د ختیځ تیمور لپاره په اندونیزیا فشار راوړ تر څو ځیني جلا یې کړي، سره له دې چي ختیځ تیمور د اندونیزیا د هیواد برخه ده، خلګ یې اندونیزیایان او ژبه یې هم اندونیزیایي ده، مګر مسیحیت په کښې د خپل تبلیغ کار کړی دی، چي په اکثریت د رایو او نظرونو سره وتوانیده، ختیځ تیمور د اندونیزیا څخه جلا کړي، مګر چیچنایان نه د روسانو د جنس څخه دي، بلکي قزاقیان دي او نه یې ژبه د روسیې ده، نه یې وطن د روسیې د هیواد کومه برخه ده، بلکي په زور او جبر ورسره تړل سوي دي، دا ټول هغه عوامل دي، چي نسبت ختیځ تیمور ته چیچنیایان څو څو ځله د مستقل هیواد مستحق او حقدار دی، مګر ستونزه دلته ده چي نړیوالتوب یوازي د کفارو ګټي خوندي ساتي نه د مسلمانانو، د سیاست د نړیوالتوب حامیان فکر کوي، چي دوی د ډیموکراسي د خپرولو کار کوي او په نړۍ کي د بشر د حقوقو ساتونکي او د مځکي پر سر د مظلومانو مرستندویان دي، دا تر یو څه ځایه سمه ده، ځکه دوی په ریښتیا هم د کفارو او ملحدینو د حقوقو ساتونکي دي، او د مسلمانانو لپاره بیا یوه مستبده، ظالمه دیکتاتوري او پوچه ډیموکراسي کاروي.

لکه په الجزایر کې د همدې ډیموکراسي په اصولو اسلامپالو په غوڅ اکثریت انتخابات وګټل او غرب پلوه خلګ د واک د ګدۍ څخه په ځنګ سول، چې دا پېښه غرب تحمل نه کړای سوه، نظامي لار یې په کار واچول، بیرته یې د خپلې ولکې ټینګولو لپاره د ظلم او زور څخه کار واخیست او بیرته یې سیکولران حاکمان کړل، لویدیځوالو په تونس کې د خپلې خوښې حکومت منځته راوړ، مخالفان یې په زندانونو کې واچول، هر چا به چې خلاف خبره وکړه، د شکنجې سره به مخ کیدی، لنډه دا چې څوک د غرب د اصولو سره سم خوځښت کوي او د اسراییلو سره د جوړ جاړي طرفدار وي، هغوی پالل کیږي او هر راز سهولتونه په واک کې ورکول کیږي.

همدا راز په مصر کې اسلام پلوو د ډیموکراسۍ په اصولو برابر په زیات اکثریت سره انتخابات وګټل مرسي جمهور رئیس سو، مګر دا هم امریکا ته د منلو وړ نه وه، ډیموکراتان یې پسي را پورته کړل او جنرال عبدالفتاح السیسي د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف د ډیموکراسي په اصولو پر رامنځته سوي حکومت باندې کودتا وکړه، مرسي او ملګري یې زندان ته ولیږل او دوی په مصر کې ډیموکراتیک حکومت جوړ کړ، چې په پایله کې د مسلمانانو له خوا سخت لاریونونه شروع سول، مګر ظالم سیسي بیا هم د ټولو نړیوالو قوانینو پښه واړوله او په زرګونو لاریون کوونکې یې شهیدان کړل، چې په یوه ورځ یې د قاهرې د تحریر په میدان کې د ځلرویشت سوه (۲۴۰۰) مسلمانانو په سینو کې د ماشیندارو مرمۍ ورښخې کړې، ټول مخالفین یې یا ووژل یا یې زنداني کړل، دا ټول ظلمونه د مځکې د سر انسانانو لیدل او اوریدل، مګر هیچا هم نه ویل: ولې د مظلومو مسلمانانو وینې تویوی؟ نړیواله ټولنه، د بشر د حقوقو سازمان او نورې ټولې نړیوالې ټولنې چوپ وې او د سیسي دا عمل هیچا هم ونه غندی، بلکې په شا یې وټپوی، ځکه د غرب د خوښې سره سم کار یې کړی وو.

د نړیوالتوب همدا سیاست تل د مسلمانانو د حقوقو په وړاندې چوپ وي او کله چې د دوی کومې ګټې د خطر سره مخ سي، بیا یې نو چیغې او کوکارې د مزدورو رسنیو د لارې زموږ غوږونه راکانه کړي، د برما مظلوم مسلمانان په اورونو کبابیږي، په ژوندوني پوستکې ځینې ایستل کیږي، ټول نړیوال چوپ دي، د برما ظالم او جابر حکومت په زرګونو اقلیت مسلمانان د خپل ملک څخه وشړل او سمندر ته یې ټیل وهل، دې مظلومو مسلمانانو درې (۳) میاشتې په سمندر کې تیرې کړې، مګر هیڅ کوم ظالم هیواد د غرب د بیرې پنا ورنه کړه، چې بالاخره اکثریت یې په سمندر کې ډوب سول، څوک د لوږې او تندې مړه سول، اخیر مسلمانان ولې بیده دي؟ ولې دا حوادث ټکان نه ورکوي؟ ولې د غفلت د مرګوني خوب څخه نه راویښیږي!؟ د ترکیې د حکومت په ضد ناکامه کودتا هم موږ ته د غرب اسلام دښمنه څېره ښه په ډاګه کړه، هغه ترکیه چې دوو نوي (۹۲) کاله د سیکولریزم په سیوري کې د اسلام څخه شا ته ستنه سوه، په دې اوږده زمانه کې سیکولرانو په ترکیه کې ټول اسلامي شعایر تر پښو لاندې کړل، هر راز فحاشي، عیاشي او بې حجابي یې په اسلامي ترکیه کې پلې کړه، ددې ټولو دلایلو څخه معلومیږي، چې غرب د نړیوالتوب پر مټ پر نړۍ خپل حاکمیت د ډیموکراسۍ تر سیوري لاندې غواړي، که لږ هم د چا سره د اُمت فکر وي خامخا یې را پرځوي، په کشمیر، فلیپین، روسیه، صومالیا، چین او فلسطین کې مسلمانان د کفارو تر هر رقم ظلمونو لاندې دي، مګر نړیوال سیاست او حقوق بشر یې هیڅ بږغ نه اوري، هغوی یوازې د خپلو پلویانو، غلامانو او سیکولرانو د حقوقو څخه دفاع کوي.

د نړیوالتوب اقتصادي اړخ

د نړیوالتوب اقتصادي اړخ تر ټول ښکاره اړخ دی، چې د ځیرونکو او پوهانو نظرونه یې ځان ته اړولی دی، د اقتصاد د آرزښت او په ځانګړي ډول په اوسني وخت کي په داخلي او نړیوال سیاست باندي د هغه اثر ډېر د پام وړ دی، لکه ځیني چي وایي: نړیوال کیدل د پانګي او سرمایه داری تر سیوري لاندي د د نیا ورانول دي. د نړیوالتوب اقتصادي اړخ د غرب او امریکا اقتصادي نظام کپیټالیزم دی، چي غواړي پر نړۍ یې تطبیق کړي. د اقتصاد نړیوالتوب کي مهمه مسئله د سوداګری ده. د ارتباطي وسایلو د زیاتیدو په صورت کي د ټکنالوژۍ د اړخه سوداګرۍ ته ډېره مناسبه زمینه برابره سوې ده، مګر اوس د اقتصاد د نړیوالتوب د لاري خنډ د دولتونو له خوا مالیات دي. د نړیوالتوب پلوي مفکرین په دې باور دي چي باید دولتونه د نړیوالي سوداګرۍ پر مخ د خپلو هیوادونو پولي خلاصي پرېږدي، څو نړیوال تولیدات وکولای سي په ټیټه بیه زموږ تر کورونو ورسیږي، مخ پر ودي او وروسته پاته هیوادونه دې کار ته زړه نه ښه کوي، ځکه که دوی پر نړیوالو تولیداتو مالیات کم یا بیخي لیري کړي، بیا نو د دوی خپل تولیدات د ماتي سره مخامخ کیږي.

همدا لامل دی چي د سویلي آسیا د همکارۍ ټولنه د هند او پاکستان د رقابتونو د امله پر دې نه ده توانیدلې چي د غړو هیوادونو تر منځ د آزاد بازار تړون لاسلیک کړي، پاکستان ددې تړون مخالف دی، ځکه پاکستانیان پوهیږي چي که هندي مالونه د دوی هیواد ته د مالیې پرته داخل سي، بیا به د دوی خپل تولیدات چي طبعاً د هندي هغه به یې کیفیت ټیټ وي، پیریدونکي نه لري. د اقتصادي نړیوالتوب په هکله نړیوال ګڼ ملتیز شرکتونه هم مهم رول لري، نړیوال ګڼ ملتیز شرکتونه په ټولییز ډول غربي شرکتونه دي، چي د آزاد بازاره په استفاده کولای سي د دریيمي نړۍ په وروسته پاته هیوادونو کي د آرزاني مځکي، آرزانه اومه موادو او همدارنګه آرزانه کارګر څخه په استفاده خپل تولید منځته راوړي او د همدې هیوادونو پر خلګو یې په لوړه بیه وپلوري، دلته یوازي د ګټي خبره مطرح نه ده، دغه ګڼ ملتیز شرکتونه د هیوادونو پر سیاستونو په ډېري آسانۍ سره اغیزه اچوي، دوی خپلي پانګي د ویستو، یعني دولتونه ګواښي چي که د دوی ځانګړي غوښتني ونه مني، نو دوی به خپلي پانګي وباسي، چي د پانګي ایستل د دولت پر اقتصاد ډېري بدي اغیزې لري، او د نورو ګواښونو پواسطه کولای سي د دریيمي نړۍ حکومتونه ځان ته راسته کړي، په اقتصادي نړیوالتوب کي د نړیوالو موسیسو څرګند رول دی.

د بیلګي په ډول: نړیوال بانک، د سوداګرۍ نړیوال سازمان او د پیسو نړیوال صندوق، چي په ۱۹۲۹م کال کي یوه ستر اقتصادي بحران د امریکا د متحده ایالتونو تر ځپلو وروسته د لویدیځ یو شمیر نور پانګوال نظامونه هم تر خپل اغیز لاندي راوستل، چي دوی هڅي پیل کړې، تر څو د پیسو نړیوال صندوق (International maney fund) را منځته کړي، چي بیا په ۱۹۴۴م کال د جون د لومړۍ نیټي څخه تر دوه ویشتمي (۲۲) پوري د څلورڅلویښتو (۲۴) هیوادونو په ګډون د پیسو نړیوال صندوق د جوړېدو په موخه د امریکا په نیو همپشایر ایالت کي د برټون ووډز کنفرانس پر لار واچول سو، چي په ترڅ کي یې د اساسنامي تر تصویب وروسته، چي نهه ویشت (۲۹) هیوادونولاسلیک کړې وه، دغه سازمان منځته راغلی او په ۱۹۴۵م کال د ډیسمبر په اووه ویشتمه (۲۷) یې رسماً په فعالیت پیل وکړ.

چي نړیوال بانک هم ددې کنفرانس په ترڅ کي منځته راغلی، دغه درې (۳) سره موسیسې وروسته پاته او مخ پر ودې هیوادونو ته پورونه ورکوي، چي د سود ځانګړې فیصدي په کښي وي، د دغو موسیسو اداره د اروپایي او غربي هیوادونو په لاس کي ده، دوی چي کله پورونه ورکوي، پر دغو هیوادونو خپل شرایط هم مني، معمولاً دوی داسي شرایط پر تپي چي د هغو په نتیجه کي د پور اخیستونکو هیوادونو لاسونه او پښې تړل کیږي، بیا دوی کولای سي په آسانۍ سره پر دغو هیوادونو خپلې غوښتني ومني. د نړیوالو اړیکو یو شمیر کارپوهان په دې باور دي، چي د استعماري دور د پای ته رسیدو سره، نویو آزادو سویو هیوادونو سیاسي خپلواکۍ تر لاسه کړې ده، مګر په اقتصادي اړخ کي یې بیا هم لاسونه پخوانیو استعماري هیوادونو ته غزیدلي پاته سول. استعماري هیوادونو د دوی د بیا ایل کولو لپاره دوه (۲) کاره وکړل: لومړی یې د نویو آزادو سوو هیوادونو واکي څو بې کفایته او خپلو لاسپوڅو کورنیو ته پریښوول او د بلي خوا یې د دغو سوداګریزو موسیسو پر مټ دوی ته د پورونو په ډول بې خرته پیسې خوشي کړې، په دغو هیوادونو کي تر دې دمه داسي رهبري منځته نه ده راغلې چي د دغو پورونو د خپلو هیوادونو لپاره کار واخلي، د فساد لوړه کچه ددې لامل سوه، چي لا هم د استعماري هیوادونو په ګروت کي پاته سي.

د نړیوالتوب په نتیجه کي چي کومي پالیسۍ منځته راځي پایله به یې دا وي، چي دولت او پانګه به ټوله د لویو اقتصادي قوتونو لاسته ورځي او د دریيمي نړۍ اوسیدونکي به لا پسي د غربت ښکار کیږي، د غریبو هیوادونو په برخه به یوازي او یوازي د خامو موادو تولید وي او بس د دوی په مقابل کي به داسي مضبوطي اقتصادي پالیسۍ وي، چي دوی ته به پر خپلو پښو دریدل ناممکن وي، نړیوالتوب به یوه داسي اقتصادي تباهي رامنځته کړي، چي د قومونو خپلواکي به له منځه یو سي، د طاقت خاوندان به اقتصادي پالیسۍ جوړوي او کمزوري قومونه به یې چار او ناچار خپلوي، ځکه دغه پالیسۍ به په زور او جبر پر خلګو منل کیږي، که په کوم ځای کي لږ څه مقاومت سره مخ کیږي، نو د نظامي قوت د استعمال څخه به هم ډډه نه کیږي، تر څو اختلاف کوونکي له منځه ولاړ سي.

د اوسني مالیاتي نظام بنیاد پر سود ولاړ دی، د علامه اقبال په وینا، د یهودو چالاکه ذهن چي کوم نظام جوړ کړی دی، د اولي ورځي څخه یې انسانیت تر پښو لاندي کړی دی.

نړیوالتوب دغه نظام ته لا قوت وربخښي او پایله به یې دا وي، چي په نړۍ کي به دین، اخلاق، انسانیت او شرافت ته هیڅ ځای پاته نه وي، پانګه وال نظام به د نړیوالتوب تر سیوري لاندي ښکاره تیری کوي او بالاخره به د انسانیت جنازه د نړۍ څخه رخصت سي، ټولي مالي اداري د کفري نړۍ په واک کي دي او په نړیواله سطحه د یوې اسلامي مالیاتي ادارې د کار کولو ټولي لاري یې بندي کړي دي، تر څو ټولي نړیوالي اقتصادي چاري د استعمار په کنټرول کي وي او د دوی تر نظارت لاندي ترسره سي، د دریيمي نړۍ ټول خاین او بد دیانته مشران خپلي پانګي د لویدیځ په بانکونو کي ساتي، چي هغه به هم بالاخره ضبط سي، د اقتصاد نړیوال کیدلو ستر اپت دا دی، چي یو غیر عادلانه او غیر اخلاقي اقتصاد دی، د کمزورو او غریبو خلګو د هڅو، ستړیاوو او ځغاستو پر لوټ کولو ولاړ دی، تر څو د ځواکمنو او مالدارو د حقوقو څخه ساتنه وسي، هغه که فرد وي یا ملت او یا هم کوم دولت وي.

نړيوال اقتصاد غواړي، چي بايد د نړۍ په مختلفو هيوادونو کي د توليداتو خپل واحدونه د خپلو اړتياوو سره سم پرانيزي، مګر ګټه يې بيا د توليدکوونکو او توزيع کوونکو هيوادونو تر منځ په يوه کچه نه ويشل کيږي، بلکي مرکزي او قوي هيوادونه ددې ګټي څخه زياته برخه اخلي، کمزورو او توليد کوونکو هيوادونو ته ډېر کم شی پاته کيږي، همدارنګه اقتصادي نړيوالتوب د توليداتو په برخه کي ګټي او ضرورتونه په نظر کي نه نيسي، بلکي په خپله خوښه او د خپلي ګټې سره سم توليدات کوي، کله خو په اقتصادي ډګر کي داسي هم کوي، چي د نړيوالتوب نور اړخونه هم ورسره قوي کړي، لکه د ښکلا او سينګار يوه کارخانه په داسي يوه هيواد کي جوړه کړي، چي هلته خلګ د ژوند لومړيو ضرورتونو ته هم لاس رسۍ ونه لري، اقتصادي نړيوالتوب د پيپسي، کولا، کوکا کولا او داسي نورو... مشروباتو شرکتونه د غولوونکو تبليغاتو د لاري تر دې کچي عام کړل او خلګ يې دومره ورسره عادت کړل، چي د عملي کيدو تر حده ورسيدل هيڅ داسي مجلس، کنفرانس او ميلمستيا به نه وي، چي په هغه کي دي يو ډول مشروبات نه وي موجود.

د پيپسي شرکت اسراييلو او د کوکا کولا شرکت امريکا جوړ کړی دی، په هر هيواد کي چي دا کارخاني جوړيږي اسرائيل او امريکا به جواز ورکوي او دوی به يې په مقابل کي ټيکس يا فيصدي ورکوي، حيرانوونکي خو يې لا دا چي د پيپسي د انګليسي د نوم هر توری د يوې کلمې مخفف دی او د ترکيب څخه يې عجيبه جمله جوړيږي، يهود نړيوالو ته څومره په مهارت دوکه ورکوي او د پيپسي په مخففاتو کي څه ورته وايي: پيپسي: (PEPSI) چي هر توری يې ځانګړې کلمه ده: (Pay Evry Penny to Save Israel) ژباړه: هره يوه پيسه د اسرائيلو د ساتني لپاره واچوی. يعني د پيپسي ګټه اسرائيلو ته ځي، نو تاسو په پيپسي باندي پيسې ورکړی، تر څو اسرائيل او يهوديان وساتل سي.

همدارنګه د کوکا کولا په اړه ويل کيږي، چي د کوکا کولا پر بوتل چي کوم کاغذ يا پلاستيک پر تاو سوی دی، هغه چي د کوکا کولا نوم پر ليکلی وي، پر يوه برخه يې په انګليسي کوکا کولا ليکلي دي، دې انګليسي نوم ته چي د شا د خوا وګورې، نو د (لامحمد لا مکه) معنا نه محمد او نه مکه، يعني نه دي د محمد (صلی الله عليه وسلم) دين د مځکي پر مخ وي او نه دي د مکې معظومې احترم او اداينه وي د مځکي پر مخ، غوندي ترکيب او حروف ځيني جوړيږي.

مګر غریب هیوادونه ددې خوشي تولیداتو پر ځای د کرهني او مالدارۍ په برخه کي پرمختګ ته ډیر ضرروت لري، چي هغو ته هیڅ توجه نه کیږي، پر اسلامي هیوادونو باندي تر ټولو بد تاثیرات به د اقتصادي پلوه وي، ځنګه چي د اسلامي هیوادونو اقتصاد لا د مخه کمزورۍ دی، د صنعتي پلوه قوي نه دی، اداري فسادونه او بې نظمي په کښي موجوده ده، نو په داسي حالت کي به د نړیوالتوب د سیلاب په وړاندي د ټینګي نه وي، په اسلامي هیوادونو کي نوي کارخانې وجود نه لري، بریښنایي سامان آلات، د موټرو صنعت، وسلې او خلا یې پوهي په میدان کي هیڅ کوم پرمختګ نه لیدل کیږي، نو ډیر امکان لري چي د اسلامي هیوادونو زراعتي مځکي او محصولات په ټولیزه توګه د ګڼ ملتیزه کمپنیو لاسونو ته ولویږي، ځکه چي نړیوال غاصبین د پانګه اچوني په بهانه د غصب پلان لري او زموږ چارواکي هم د یو ځو ټکو په بدل کي خپلي شتمنۍ د پردیو په لاس کي ورکوي، چي په نتیجه کي به یې ملت د تل لپاره په بدبختۍ اخته سي.

نړیوالتوب د مسلمانانو لپاره یوه ننګونه ده، چي پایله به یې د مسلمانانو لپاره اقتصادي او سیاسي کمزورتیا، په ټولنه کي فساد او ګډوډي وي، د نړیوالتوب اساسي موخه د لویدیځ فرهنګ خپراوۍ او ددې کار په وړاندي د هر خنډ له منځه وړل دي، حقیقت دا دی چي د نړیوالتوب تر ټولو زیات خطر مسلمانانو ته متوجه دی، نړیوالتوب یو Eurocentric خوزښت دی، یعني ټول افکار او نظریات یې یوازي د امریکا او اروپا پر شاوخوا څرخي، ددې فلسفې عملي پروګرام او د کار کولو بنه ټول یوازي او یوازي د لویدیځ تهذیب د غلبې لپاره دی، په دې لوی کار کي د اسلامي نړۍ ډیری پوهان، حکومتي چارواکي، پانګوال او غیر دولتي ادارو کار کوونکي په ډیر اخلاص د نړیوال استعمار سره پوره پوره مرسته کوي.

زهر لرونکي کارخانې په وروسته پاته هیوداونو کي جوړول: غرب غواړي هغه کارخانې چي چاپیریال ته زهري مواد خپروي او د ګڼ شمیر ناروغیو د رامنځته کیدو سبب ګرځي، په اسلامي نړۍ او یا د دریيمي نړۍ په هیوادونو کي جوړي کړي دي، په خپلو هیوادونو کي دا کارخانې غیري قانوني ګرځوي، ځکه د انسانانو ژوند د خطر سره مخ کوي، دا طرحه د نړیوال بانک رئیس او اقتصاد پوه لورنس سمرس په پټه پرمختللیو هیوادونو ته کړې وه، او هغوی یې د درو (۳) دلیلونو پر بنسټ دې ته هڅولي وه، تر ځو هغه کارخانې چي د ژوند پر چاپیریال ناوړه اغیزه کوي، د دریيمي نړۍ هیوادونو ته ولیږدوي.

۱: د ژوند د چاپیریال د خرابۍ ځیرني ښيي، چي اصلاً اغیزه هغو لاسته راوړنو ته متوجه ده، چي تر لاسه کیږي او دې نتیجې ته په کتني سره باید زهر لرونکي کارخانې په هغو هیوادونو کي پرانیستل سي، چي لاسته راوړني یې لږ وي. که د چاپیریال د ککړتیا د امله په هغو هیوادونو کي چي لاسته راوړني یې کمي دي، که مرګ ژوبله پیښه هم سي ډیر نه اغیزمن کیږي.

۲: غوره ده که د چاپیریال د ککړیدو لګښتونه مهم او حساس نه وي، نو دا په افریقایي هیوادونو کي ښه ترسره کیدای سي، ځکه چي د هغوی د نفوس شمیره لږ دی، او د چاپیریال د ککړیدو سلنه په کښي کمه ده.

۳: سمرس په ډاګه وایي: د خپلو لاسته راوړنو د ښکلا او ددې لپاره چي ډاډه واوسو، غوره ده تر ځو پاک چاپیریال ولرو، په همدې موخه سمرس دا موضوع په جدي ډول سره مطرح

کوي، چي د دریيمي نړۍ د هیوادونو اکثریت خلګ د ډیر عمر خاوندان نه وي، بلکي ژر مري دوی ته باید ډیر پام ونه کړو، که د کارخانو د لوګیو د امله د غدې په سرطان اخته هم سي فرق نه کوي، ځکه هغوی د پرمختلليو هیوادونو د خلګو په څیر نه دي چي زیات عمرونه ولري.

همدارنګه د نړیوال اقتصاد مدعیان هغه دواوي، چي د دوی په هیوادونو کي یې مصرف او خرڅلاو منع دی، د دریيمي نړۍ هیوادونو ته صادروي، هغه سیګرټ چي یوه برخه د سلني یې نیکوتین دي او د دوی په هیوادونو کي بند دي هغه هم دریيمي نړۍ ته را لیږي، اقتصادي نړیوالتوب غواړي، چي دریيمه نړۍ خصوصاً اسلامي نړۍ په هر بخش کي ورته محتاجه وي، هغوی نه غواړي چي موږ په خپلو پښو ودریږو، بلکي غواړي په دوی پسي روان سو او د دوی د اقتصاد چوپړ وهونکي سوو، دوی هغه خام مواد چي موږ ته الله (جل جلاله) را باندي پیرزو کړي دي، لکه: توره طلا (نفت او تیل)، سپینه طلا (پنبه او مالوچ) په ډیر لږ قیمت را څخه واخلي او بیا یې واپس په ښه لوړ قیمت راباندي خرڅ کړي.

د بل پلوه نړیوال اقتصاد د لګښت او مصرف په برخه کي موږ هغه څه ته هڅوي، چي زموږ په دین کي ناروا دي او د ډیرو پوچو تبلیغاتو په وسیله موږ اړ کوي، تر څو هغه شیان واخلو، چي هیڅ اړتیا نه ورته لرو، بلکي کله داسي شی واخلو چي زموږ صحت او روغتیا ته زیان رسوي، مګر د دوی هغه ماڼۍ باندي ښکلي کیږي، چي زموږ د بدن په خولو یې جوړي کړي دي، د هغو تبلیغاتي لارو چارو په وسیله چي انسان بې هوشه کوي، یو شمیر زیات خلګ بې لاري کوي او خپله آزادي ځیني اخلي، په پټو سترګو یې د نورو تقلید او متابعت ته اړ کوي، کم شی چي په ټولنه کي اخیستل کیږي دوی یې اخلي، که څه هم هیڅ اړتیا ورته ونه لري، پرته له دې چي دوی یې په خیر او شر باندي پوه سي اړ وي چي تر لاسه یې کړي، دا بې ځایه مصرف یې د عباد الرحمن د بندګانو د ټولۍ څخه راباسي او د شیطان په ملګرو کي یې داخلوي.

د غرب ددې چټل اقتصاد څخه یوازي یوه ډله سرمایه داران ګټه پورته کوي او غریب خلګ نور هم د فقر او نیستۍ کندي ته تیل وهي، پر غریبه او کارګره طبقه خورا زیات ظلم کوي او د ډیرو لږو پیسو او سختو شرایطو په مقابل کي یې په کمپنیو کي کار ته مجبوروي، چي دا ظلمونه د نړۍ په پرمختلليو هیوادونو لکه: غربي اروپا، امریکا او چین کي ترسره کیږي. د ډیرو لږو پیسو په مقابل کي زیات کار په کوي او په ورځ کي تقریباً شپاړس (۱۶) ساعته یا له دې څخه هم زیات کار باندي کوي او د اکثرو کارخانو کار کوونکي ښځینه دي، چي هغوی بیا د هر قسم حیواني ظلمونو تر څپو لاندي دي، دوی ددې ناوړه او پلیتو اهدافو په پایله کي خپل ژوند ښکلی او ښایسته کوي، که څه هم دا ښکلی ژوند یې د نورو د مرګ په بیه هم تمام سي.

نړیوال کلی (Global village): د نړیوالتوب د مشهورتیا لپاره یو څو خود ساخته شعارونه جوړ سوي دي، تر څو عام خلګ وکولای سي ځانونه په دې نظام کي ځای کړي، نړیوالو پانګوالو د ټولنیزو رسنیو پواسطه د خلګو په ذهن کي دا خبره کښینولې ده، چي ګوندي دا نړۍ اوس یو نړیوال کلی دی او هر انسان ددې کلي یو اوسیدونکی او کلیوال دی، زموږ ځیني پوهان هم دغه اصطلاح ډیر په شوق استعمالوي، مګر دوی نه پوهیږي، چي ددې په منځ کي څه پټ دي، د نړیوال کلي معنا خو دا ده چي زموږ ګټي او تاوانونه، زموږ خوښۍ او تمناوي اوس زموږ په کورنۍ، کلي، ښار او یا هیواد پوري نه، بلکي په ټوله نړۍ پوري تړلي دي.

موږ باید ځانونه ټول په نړیوال نظام پوري ومښلوو، په بله معنا ځان باید د نړیوالو پانګوالو سره کړو، چي زموږ د ګټي او تاوان فیصلې به موږ پخپله نه، بلکي هغه نړیوال تجاران کوي، چي زموږ د لاس رسي څخه لیري دي او موږ یې پیژنو هم نه، دا باید موږ خپله بدبختي وبولو او که د خپلو پوهانو د ذهني کچي ټیټوالی او یا د هغوی بدنیتي، چي هغوی د دغه تصور خپرول عقلمندي ګڼي، حال دا چي په لویدیځ کي د نړیوالتوب پر ضد عکس العمل موجود دی، هلته کیڼ اړخي دا د نړیوال پانګه وال نظام یو فریب ګڼي او دا صحیح هم ده، مګر زموږ چپه اړخي پوهان هم د نړیوالو پانګوالو د لاس آلې دي.

د نړیوال کلي څلور بنسټیز ټکي:

الف:ـ د وخت او فاصلې نږدیکت: د مخابراتو (Telecommunication)، ټولیزو رسنیو او تعلیم پواسطه وخت او فاصلې دومره نږدې سوي دي، چي انسانان د تماس هیڅ مشکل نه لري.

ب:- سیمه ییز احتیاج: په مالي ډول یوه سیمه بلې سیمي ته احتیاج لري په پخواني نظام کي د بنسټیزو اړتیاوو لپاره هره سیمه د خپله ځانه پوره وه، او یوازي د ځینو اضافي ضرورتونو لپاره به یې بلې سیمي ته اړتیا پیدا کوله، مګر نړیوالو پانګوالو داسي یو اقتصادي نظام رامنځته کړ، چي هره سیمه د بلې سیمي محتاجه سوه.

ج:- د نړیوالو معیارونو یا آرزښتونو تسلط: په نړیواله کچه د معلوماتو تبادلې او د رسنیو آسانتیاوو، داسي ګډ معیارونه او آرزښتونه رامنځته کړي دي، چي اوس هر انسان د دغو شریکو معیارونو د خپلولو په لټه کي دی، او دا هغه معیارونه دي، چي د نړیوال پانګوال نظام له خوا مسلط سوي دي.

د:- د نړیوالو پانګوالو پلان ګذاري: د آزاد بازار د تصور د رامنځته کولو په نتیجه کي هر څوک غواړي، چي د نړیوالو پانګوالو د پلان سره سم خپل کاروبار پر مخ بوځي، دغه ډول نړیوالو تجارانو او پانګوالو د ټولي نړۍ څخه یو کلی جوړ کړی دی، او د خپلو شخصي غرضونو د مسلطولو په هڅه کي دي، سادګان لا په خوشحاله هم دي.

د نړیوالتوب کلتوري اړخ

د کلتور نړیوالتوب کیدای سي د نړیوالتوب تر ټولو اغیزمن او ناوړه اړخ وي، چي پر نورو ملتونو د یو ملت د فرهنګ تحمیلول دي، یا په بله معنا پر ټوله نړۍ د امریکا د متحده ایالاتو د کلتور منل او قبلول هغه که مسلمان وي او که نا مسلمان، که لویدیځوال وي یا ختیځوال، ددې موخي لپاره هغه نوي پرمختللي وسائل په کار اچوي، چي د هغې جملې څخه د لوستلو اوریدلو، خبري رسنیو او انټرنیټ نومونه اخیستلای سو، دا ټول هغه شیان دي، چي غرب او امریکا اختراع کړي او په پراخه پیمانه لاس رسۍ ورته لري، مسلمانان یې د تخنیکي اړخه ډیر لیري دي، یوازي استعمال یې په برخه رسیدلی دی، په دې معاصره تکنالوژي کي داسي شیان هم سته، چي موږ ته شاید د شریعت له پلوه د منلو وړ نه وي، مګر هغه شیان چي نن سبا یې ټوله نړۍ په غیږ کي اخیستي ده، او تر ټولو زیات مسلمانان، نارینه، ښځي، تعلیم یافته طبقه او بې تعلیمه ټول په اخته دي او بیخي یې عملیان سوي دي، نو زموږ په اصطلاح که هلته ټول غربي تبلیغات او غیر اسلامي لارو ته دعوت روان وي او مسلمان نسل په نورو لارو بیایي د خپل دین، مذهب، کلتور او هیواد سره یې ناآشنا کوي.

نو ددې خلګو د را ګرځولو توان په هیچا کي نسته ماسیوا د یوه اسلامي حکومت څخه، مګر چي دا هم نسته، نو موږ ته څه په کار دي، آیا لاس تر زني کښینو!؟ نه هیڅکله نه موږ ته په کار ده، چي په دې اطلاعاتي شبکو کي د اسلام لپاره په هره ژبه دومره تبلیغ وکړو، تر څو ددې شبکو رنګ ور بدل کړو، خلګ د اسلام د اساساتو، لارښوونو او نیکیو څخه خبر کړو، اسلامي تاریخ ورته بیان کړو، د اسلامي اُمت دردونه ورته بیان کړو، هرومرو به یو انقلاب په دې نړۍ کي راځي لکه کله چي موږ او تاسو د راډیوګانو څخه اورو، چي اسلامپالو په فرهنګي او دعوتي بخش کي انټرنټ او نوري الکترونیکي شبکې په خپل لاس کي اخیستي دي، دا ددې په خاطر چي اوس د غرب فکري او کلتوري جراثیم ټول د همدې انټرنیټي شبکو څخه خپرېږي، د اسلامي اُمت په افکارو منفي اغیزه شیندي د ځوانانو او انجونو په بې لاریتوب کي ډیر رول لوبوي.

د نړیوالتوب بهیر هر اړخیز دی دومره هر اړخیز او پراخ، چي د انسان په ژوند پوري تړلي ټولي چاري یې په ځان کي راتغښتي دي، نړیوالتوب هم ګټي لري او هم زیانونه، مسلمان مفکرین په ټوله کي د نړیوالتوب د مسئلې سره مخالف دي، سیاسي او اقتصادي اړخونه یې مخکي تیر سول، په کلتوري لحاظ اسلامي نړۍ او مسلمانان تر ګواښ لاندي دي، د نړیوالتوب له کبله نن په موږ کي د لویدیز رواجونه دود سوي دي، لکه: د خوړو سره د ګاز لرونکو مشروباتو څیښل، د الکولي مشروباتو عامیدل، انګلیسي ژبې ته آرزښت ورکول، تر دې پوري چي خپلي ژبې مو هیري کړي دي، امریکایانو او اورپایانو ته ورته د دوی جامې په شوق اغوستل، د دوی تولید سوي خواړه لکه: برګر، مکډونالډ، پیزا او داسي نور... خوړل، چي زموږ په ټولنه کي پخوا دود نه وه، غربي رسنۍ تعقیبول لکه: سي ان ان (CCN) تلویزیون کتل، واشنګټن پوسټ، نیویارک ټایمز، نیوزویک مجله، ټایم مجله، وال سټریټ ژورنال، اکانومیسټ او داسي نوري لوستل. په هره برخه کي د لویدیز لیکوال کتاب او مقالې ته آرزښت ورکول، د اکسفورډ او کامبرج پوهنتونونو له خوا چاپ سوي کتابونه په لوړه بیه پیریدل.

امریکایي فلمونه او سایټونه کتل او بې شمیره نوري بیلګې هم سته، چې د ټولو لیکل دلته شوني نه دي، د نړۍ د ټکنالوژۍ نوي (۹۰٪) فیصده پنځوني د ۱۸۰۰م کال راهیسي ترسره سوي دي، دې ټکنالوژیکي برلاسي د نړیوالتوب بهیر خورا ګړندی کړ، نن که یو ختیځوال یا د دریېمي نړۍ د یوه هیواد اړوند څوک امریکایي جامه خوښوي، دا ددې لپاره چې دغه وړ جامه یې د تلویزیون پر مخ په ځلونو لیدلې ده او یا یې د الوتکو په مټ لویدیزو هیوادونو ته سفرونه کړي، چې په طبیعي ډول د هغو څخه متاثره سوی دی، سره له دې چې الکولي څښناک د اسلام د مبارک دین د لوري منع سوي دي، مګر وینو چې په اسلامي هیوادونو کي په پراخه پیمانه دود دي، دا هم د رسنیو او سفرونو د امله داسي سوي دي، مسلمان ځوان چې کله امریکایي فلمونه ګوري، چې په فلم کي د ده آتل سګرېټ یا شراب څښني په بیا بیا کتو دی هم عادي کیږي، نن زموږ حتی په ډیرو وروسته پاته کلو او بانډو کي ګورو چې د هندي او امریکایي فلمونو د آتلانو انځورونه په ډیره مینه ځړول سوي دي.

زموږ په ټولنه کي داسي ډیر دود دي، چې زموږ روڼ اندي به ضرور د خبرو په جریان کي پر سي ان ان (CCN)، واشنګټن پوسټ، نیویارک ټایمز او نورو غربي رسنیو حواله ورکړي، څو یې خبره ځانګړې وزن پیدا کړي، که څوک کتاب لیکي هڅه به یې دا وي، چې په انګلیسي یې ولیکلای سي، څو په اکسفورډ پوهنتون یې خپور کړي، چې آرزښت یې لا زیات سي، زموږ په هیواد کي ادیب، لیکوال، مفکر او نوښتګر هغه ښه بریښي چې کړه وړه یې د لویدیز دود او دستوره اغیزمن سوي وي، زموږ د ټولني لوړه طبقه به د مکډونالډ، برګر، پیزا او نورو غربي خوړو سره آشنا وي او د دوی د ژوند عادي برخه به وي، د ژوند په ډیرو عادي او کوچنیو چارو کي که ښه ورته ځیر سو، د نړیوالتوب د څپو اغیزې د ورایه په کښي لیدلای سو.

ژبه د کلتور یوه ډیره مهمه برخه ده، دا ژبه ده، چې د تاریخ په پاڼو کي د ملتونو د تیرو کړو وړو ټولګه خوندي ساتي، د نړیوالتوب بهیر په عمومي ډول د ختیځوالو او په ځانګړي ډول د دریېمي نړۍ د ملتونو ژبو ته ګواښ ګڼل کیږي، چې وروسته به د ژبې د نړیوالتوب بحث راسي، نړیوالتوب غواړي یو خپل سری او بې پولي کلتور رواج کړي، چې د الله (جل جلاله) حرام کړي شیان حلال او حلال کړي شیان حرام وګرځوي، ټول هغه شیان چې شریعت منع کړي هغه مباح او روا اعلان کړي، د ټولو آسماني دینونو آرزښتونه او بنسټونه د خارو سره خاوري کړي او په خپله خوښه نړیوالو ته دین اختیار کړي.

نړیوالتوب مطلق بربنډتوب او لوڅوالی مباح بولي او ددې لغړو لپاره رسمي کلبونه پرانیزي، جنسي اړیکي په بشپړه آزادۍ سره نر د نر ښځه د ښځي سره پرته د هیڅ راز پولي ترسره کولای سي، زنا یو عادي کار بولي او په خلګو کي یې خپروي، د نر د نر سره واده کول او د ښځي د ښځي سره واده کول رواجوي او ددې لپاره په لویو کنفرانسونو کي تبلیغات کوي، خلګ ورته رابولي، ان تر دې پوري چې په غرب کي ځینو ښځو د سپیو او بیزوګانو سره ودونه وکړل، له شک پرته دا یو له انسانیته لیري بې بندو باره کلتور دی، چې د ځیني لویدیځو هیوادونو پارلمانونو دا قانون تصویب کړی دی، په داسي حال کي چې د مور د نس څخه د ماشوم لیري کول یا سقط جنین په غرب کي عام سوي دي، ځکه ټول د زنا تولید دی، چې غربي نړۍ یې د تیر جاهلیت د څنډو هم پوري ایستلې ده او دا هغو ژوندي ښخولو ته ورته دي، چې مشرکانو به خپل اولادونه ژوندي په مځکه کي ښخول.

په فرانسوي پوځ کي چي پوځيانو ته کومه ښوونه او روزنه ورکول کيږي، په هغې کي دا خبره شامله ده، چي هر پوځي په آزاده توګه زنا کولای سي، مګر د حمل مانع وسايل به په کار اچوي او د ناوليو ناروغيو به ځان ساتي. په ۱۹۱۹م کال د فرانسې د پوځ اعلی قومندان په دې توګه يو اعلان خپور کړ: دلته پر پوځي مردګاوخانو د ولسي خلګو دومره هجوم او بيروبار وي، چي زموږ پوځيان شکايت ځيني کوي. نوموړي قومندان ډير زيات کوښښ وکړ تر څو د ولسي خلګو د دغه هجوم مخه ونيسي او د عسکرو د فحشاء په لار کي پراته خنډونه ليري کړي، مګر بريالی نه سو.

غرب غواړي خپله لويدلې اخلاقي فضا په اسلامي نړۍ کي وچلوي، چي په دې لار کي يې زرګونه تلويزيوني چينلونه چي شپه ورځ فحش او ناروا خپروي، همدارنګه انټرنيټي وسايل چي د فحشاء او منکر څخه ډک دي، په ډيره کمه بيه زموږ په مخ کي ږدي او زموږ ناخبره ځوانان بې لاري کړي، مګر تر ټولو ډير د فحشاء او نفرت غشي يې مسلمانو کورنيو او مسلمانو ښځو ته متوجې دي، چي بايد پر دې لږ رڼا واچوو.

ښځې او کورنۍ ته د نړیوالتوب خطر

د نړیوالتوب د پدیدې بل ستر ګواښ او خطر مسلماني کورنۍ او مسلماني میرمني ته متوجه دی، هغه میرمن چې د اسلامي اُمت لویه برخه تشکیلوي، غربي نړۍ چې کله د اسلامي نړۍ په مقابل کې په نظامي جګړه کې ماته وخوړه، نو د نوي استعمار تر سیوري لاندي یې سړه جګړه شروع کړه، ځکه دوی ته د مسلمانانو اتحاد او اتفاق معلوم سو، چې مسلمانان خپل آرزښتونه، ایماني کړنلاري، تاریخي کارنامې، کلتور او فرهنګ په کلکه ساتي او د سر په بیه دفاع ځیني کوي، نو د عسکري جګړې پر ځای یې د اسلامي نړۍ په مقابل کې فکري جګړې ته مخه کړه، د فکري جګړې زیاته برخه د انجونو او ځوانانو بې لاري توب، فحشاء، د کورني ژوند ختمول او د ښځې بې حجابي ته متوجه دی، چې په هر ډول وي باید مسلمانه ښځه بې حجابه کړي، د خپل کور څخه یې بازارونو او کار ځایونو ته راوباسي، د نارینه وو سره یې څنګ پر څنګ ودروي او د دوی په اصطلاح خپل حقوق تر لاسه کړي، ددې کار څخه د غرب یوازینۍ هدف د مسلمانو ښځو بربنډول او اسلامي ټولنه د اخلاقي ځوړتیا په کشمکش کې ښکیلول دي، تر څو اسلامي ټولنه د اسلامي آرزښتونو سره مخه ښه وکړي، لکه څنګه چې په اسلامي ټولنه کې یوې ښځې ته مور، خور، لور او میرمن ویل کیږي، غواړي دا رشتې ختمي کړي، هر څوک خپل سري او په خپله مخه ولاړ سي، چې د غرب ډیري ښځې د مسلماني میرمني د داسي باعفته او خواږه ژوند ارمان کوي.

پیاوړې انګلیسي لیکواله اني رود وایي: دا چې زموږ لوڼې په خپلو کورونو کې کښیني او د خدمتګارو په څیر دنده سر ته ورسوي، تر دې ډیره ورته غوره ده، چې کمپنیو او شرکتونو ته ورسي، هلته یې د حیاء او عفت پړونۍ یې څیري سي! کاش چې زموږ هیوادونه هم اسلامي هیوادونو ته ورته وای، چیري چې یوې ښځې ته د مور، خور، میرمن او لور په سترګه کتل کیږي.

غربي ښځې د غرب د چټل ژوند څخه نفش تنګي سوي دي، ځکه هلته ښځه د یو بازاري توکي په څیر ده، چې هیڅ آرزښت نه لري او په غرب کې د هر څه څخه همدا توکي آرزانه پیدا کیږي، چې د غربي نړۍ اخلاقي انحطاط یې اوج ته رسولی دی، کورنۍ نظام ختم سوی دی او هر څوک د خپل سر دي، دوی غواړي په مسلمانه میرمن هم دا لوبې وکړي، لکه په غرب کې چې یوه ښځه د کوره وځي او ښار ته رسیږي، نو هلته فکر کوي چې باید د نارینه وو غوندي کار وکړي او خپل ژوند برابر کړي، مګر ګوري چې کار ځایونه ټول په نارینه وو ډک دي او ددې لپاره په هیڅ شعبه کې هم ځای نسته، اوس نو باید دغه انجلۍ څه وکړي؟

هو! دا وخت ددې سره یو څیز سته چې د هغې ښایست او ښځیتوب دی، چې بازار ته یې وړاندي کړي او د ځان لپاره ډوډۍ پیدا کړي، ځکه دې ته ددې آزادۍ او خپلواکۍ حق ورکول سوی دی، چې ځان د نارینه وو د تفریح لپاره سامان آلات کړي، ښځینه شخصیت هلته په غربي ټولنه کې یوازي همدومره قیمت لري، په لویدیځ کې اوس دا یوه عادي خبره ګڼل کیږي، چې ښځې باید کورونه پریږدي او دباندي ووځي، نارینه وو ته ورته د هغوی برابر کار وکړي، مګر هلته چې کله خپل زور او قوت د نارینه وو سره پرتله کړي، نو خپل قیمت او بیه نه سي تر لاسه کولای، مګر یو بدیل د ځانه سره لري، هغه دا چې خپل ښځینه جسم د یو عالم ناز، نخرو او پیښو سره د نارینه وو مخته کښیږدي او خپل بازار ښه تود وساتي.

په نوي غربي متمدنه ټولنه کي د نارينه سره د ښځي د مساوات او برابرۍ همدغه مفهوم پاته دی، ددې اخلاقي ځوړتيا سيلاب د اسلامي نړۍ څنډي هم اغيزمني کړي دي، ځينو مسلمانو ميرمنو هم د خپل بدن ښکلا، ناز او کرشمې خلکو ته د تلويزيون او سينما پر شيشو ښوولي دي، مګر هغوی څه تر لاسه کړي؟

د يوې مياشتنۍ مجلې (العربيه) سره د مرکې په ترڅ کي هاله صافي چي فلمي ستورې ده داسي وويل: د قاهري په يو ډېر مشهور هوټل کي په يوه څپانده نيم بربنډه نڅا او رقص کي ډوبه تللې وم، چي ناڅاپه د لومړي ځل لپاره همدا شعور او احساس را سره پيدا سو، چي زه يوه سپکه جوڅه يم، هسي بې معنا او بې مقصده د ننداره چيانو په وړاندي اوړم را اوړم، شرم او خجالت مي د بدن په رګونو کي تيز تګ شروع کړی، بې له ځنډه مي صحنه پريښوول، خپلي کوټې ته ولاړم، خپلي جامي مي واغوستې او په لپو لپو مي وژړل، را ولاړه سوم اودس مي وکړ او دوه رکعته لمونځ مي وکړ، چي د لومړي ځل لپاره زه په نيکمرغۍ وپوهيدم تر لمانځه وروسته بيده سوم، يو عجيبه خوب مي ليده: په لوی ميدان کي يو جليل القدره شيخ د لمانځه د ادا کولو تصميم نيسي، چي په عين حال کي يې ماته هم د لمانځه بلنه راکړه! ما ورته وويل: په داسي نيم بربنډه حالت کي څنګه کولای سم لمونځ وکړم؟ هغه ماته بې له ځنډه يو څادر راکړ، ما خپل ځان په کښي ونغښتی، د دغه امام په عکس العمل زښته زياته خوښه سوم، په دې حال کي مي د نوموړي امام په اړه پوښتنه وکړه؟ يوې ښځي راته وويل: دا خو د الله سبحانه وتعالی استازی حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) دی، ددې سره جوخته د خوبه راويښه سوم او د هغه نوم مي په خوله زمزمه کوی، په شدت سره مي وژړل او پر خپل تير برباد سوي عمر مي د پښېمانتيا څرګندونه کوله، د رقص او نڅا ډګر مي پريښود، حج ته ولاړم د هغو تورو شپو په تيريدو دا دی الله (جل جلاله) د روڼ سباوون سره مخ کړم، تر توبې کښلو وروسته هغې د يوې پوښتني په جواب کي وويل: هغه هاله صافي چي تاسي په کوم شکل او نوم پيژنۍ، هغه د خپلي کرغيړني ماضي سره يو ځای تر خاورو لاندي سوه، اوس زما نوم سهير عابدين دی، د اولادونو يوه مور، چي د خپل ميړه سره يو ځای د اسلام تر سيوري لاندي په پټ او درنښت کي ژوند کوم، نوموړې قاهرې ته څيرمه د جيزه په ساحه کي د مسلمانانو د اولادونو د ښووني او روزني لپاره يوه لويه ديني مدرسه جوړه کړه.

د نړيوالتوب کلتوري اړخ مسلمانه ميرمن داسي بې آرزښته او بې حيثيته کوي، لکه د غرب ښځي چي د ځوانۍ په دوران کي يې د حسن او ښکلا بازار ښه ګرم وي او د هر چا په غيږ کي لوبيږي، مګر چي لږ يې د سپين سرتوب خزان ووهي، په مخ کي يې ګونجي پيدا سي، بيا يې د يوې کڅوړي په شان ليري وغورځوي او نارينه د ځان لپاره يوه بله حسينه پيغله پيدا کړي، ددې بې لاري توب ډېر وسايل او لاري دي، چي تر ټولو خطرناکه لار يې د ښکلا د ملکو مسابقې دي، غواړم دا موضوع لږ روښانه کړو.

د ښکلا د ملکو مسابقې

د نړیوالتوب په چاپیریال کې د میرمنو په پت او عزت د خپلو ګټو په خاطر تیری روان دی، د ښکلا د ملکې مسابقې د تیري عیسوي پیړۍ په لومړیو کې رواج سوي دي، په دې بهانه چې دا د تمدن او پرمختګ یو ډول دی، دوی غواړي اسلامي او عربي هیوادونو ته همدا د کرکې ډک رواج ولیږدوي، دا مسابقې ګڼ شمیر خلک هڅوي تر څو په دې مسابقو کې د ګډون لپاره په لوړه بیه ټکټونه رانیسي او په پایله کې ددې کار په لاره اچوونکو ته پریمانه پیسې په لاس ورسي، په ځانګړې ډول هغه ډالر چې ددې مسابقې په جریان کې د تبلیغاتو د لارې د عکسونو، مجلو او اخبارونو د خرڅولو څخه تر لاسه کیږي د یادوني وړ دي، مګر دا هر څه د میرمنو د عزت او عفت د پلورلو په مقابل کې تر لاسه کیږي، په دې اړوند تر شلو (۲۰) زیات شرکتونه کار کوي، چې په ټوله نړۍ کې د ښکلا په نوم دا مسابقې پر مخ بیایي، په دې مسابقو کې د ملکې ټاکل پر دوو (۲) عمده لارو ترسره کیږي.

لومړی دا چې د رایو او نظریاتو په اکثریت سره چې نندارچیان یې ګټونکې ټاکي، مګر دا طریقه هر وخت د ځینو نسل پالنو او تعصباتو په نتیجه کې د ناکامۍ سره مخ کیږي، دوهم دا چې شرکتونه څه نوري قیمتي لارې په کار واچوي، هغه دا چې د مشهورو قضاوت کوونکو یوه ډله میدان ته راولي او هغه قضاوت کوونکې بیا په بیلا بیلو لارو سره یوه خوله کیږي، هر یو د ګډون کوونکو په اړوند نظر ورکوي، چې وروسته بیا د نظریاتو اکثریت ته کتل کیږي او د ښکلا د ملکې په نامه یوه پیغله ټاکل کیږي، مګر د ټاکلو ځیني معیارونه یې دا دي، د ښکلا د ملکې عمر باید د اتلس (۱۸) او پنځه ویشتو (۲۵) کالو تر منځ وي. د ښکلا په برخه کې یې د بدن فزیکي ښکلا مهمه ده، لکه: قد، وزن، د ملا باریکي، جوړښت او داسې نور... اندامونه ټول باید د هغه معیار سره سانتی په سانتی برابر وي، چې د ښکلا د ملکو د مسابقو د سازمان له خوا ټاکل سوي دي، یو مخصوص لباس به اغوندي، چې (مایوه) یې بولي او په دې کې به یې یوازې سینې او عورت غلیظه پټ وي، نوره به په ټوله معنا سره لڅه وي. همدارنګه ځیني نور معیارونه هم سته، لکه: د تحصیل درجه، عقل، حاضر جوابي، په ډیرو ژبو پوهیدل، ټولنیز روابط، ورزش، په ګډا او نڅا کې هم مهارت باید ولري.

د پورتنیو صفاتو درلودونکې پیغله به د نړۍ د ښکلا ملکه ټاکل کیږي او دا به د نړۍ د نورو ښځو لپاره یوه نمونه وي، ټولې ښځې به د هغې په شان لباس کوي، د هغې په څیر فکر به کوي او په ړندو سترګو به په هر څه کې د هغې تقلید کوي، کله چې یوه پیغله د ښکلا د ملکې سیالۍ وګټي، نو هغې ته د نړۍ د ښکلا تاج پر سر ورایښوول کیږي، نغدي جایزې هم ورکول کیږي، وروسته تر دې باید دا د یو کال لپاره د ښکلا د ملکو د مسابقو د سازمان سره کار وکړي، د نړۍ مختلفو هیوادونو ته سفرونه وکړي، تر څو یې نړیوال هم د ښکلا څخه خوند واخلي، تر یو کال هوا او هوس وروسته دا سازمان ورته ووایي: نوره ځه خپل هیواد او کور ته ولاړه سه، ته ډیره زموږ په لاسونو کې ولوبیدې! اوس ددې وخت دی، چې موږ د نړۍ یوه بله ښایسته انجلۍ د خپل تجارتي کاروان لپاره د ښکلا د ملکې په صفت انتخاب کړو، نو دې بیچارګۍ ته نور هیڅ هم په لاس نه وي ورغلي پرته له دې چې د زرګونو خلکو په لاسونو کې لوبیدلې وي، پت، عزت او هر څه یې د ښکلا د ملکې په دوکه تر پښو لاندې سوي وي،

چې بالاخره په ډېرو روحي او رواني ناروغیو اخته سي، لکه: خفګان، عصبي ناروغی، نارامي او داسې نور... چې په دې پړاو کې ډېرو د ښکلا ملکو خپلې تاندې ځوانی د مرګ کندو ته غورځولې دي.

د ښکلا دې مسابقو اسلامي نړی ته هم ټکان ورکړی دی، زموږ د عثماني برم او عظمت د نسکوریدو سره سم سیکولرانو د سلطان محمد الفاتح د وطن مسلمانه پیغله اروپا ته د ښکلا د ملکو د مسابقې لپاره ولیږله. راځئ! د تاریخ دا تور باب هم وګورو، چې عیسویانو د ترکیې مسلماني لور ته د نړی د ښکلا د ملکې د تاج په سر اینوولو وخت کې څه وایي!

د ۱۹۹۶میلادي کال د نومبر د میاشتې پر پنځلسمه (۱۵) د احرار مجلې په یو مضمون کې راغلي دي: په ۱۹۳۲میلادي کال کې د ترکیې سیکولر ورځپاڼي جمهوریت د ښکلا د ملکې لومړۍ سیالي اعلان کړه او کریمان خالص نومي ترکۍ مسلمانه پیغله یې د ترکیې د ښکلا ملکه انتخاب کړه، په همدې کال کریمان خالص بلجیم ته ولاړه، تر څو هلته د نړی د ښکلا په سیالی کې ګډون وکړي، دا سیالی د بلجیم د سپا (Spaa) په ښار کې په لار اچول سوې وې، څو د نړی په سطحه د ښکلا ملکه وټاکي، په دې سیالی کې د اته ویشت (۲۸) هیوادونو پیغلو ګډون کړی وو، چې د لومړي ځل لپاره یوې مسلماني پیغلې کریمان خالص هم حضور په کښې درلودی، د مسابقې ټولو ګډون کوونکو پیغلو خپل بدنونه د مجلس حاضرینو ته ور وښوول، په دې وخت کې د پریکړه کوونکې ډلې مشر په بیړه ولاړ سو، تر څو کریمان خالص د ښکلا د مسابقې ګټونکې اعلان کړي... د مجلس مشر د مجلس ګډون کوونکو ته داسې وویل: د ټولنې درنو غړیو! نن ټوله اروپا د نصرانیت د بریالیتوب جشن لمانځي، هغه اسلام چې څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله یې پر نړی واک چلاوه، نن پای ته ورسید، د ترکیې د ښکلا ملکه کریمان خالص هغه انجلی ده، چې لارو کوڅو ته نه راوتله، د پنجرې یا کړکۍ د شا څخه به یې خلګ لیدل، نن زموږ په وړاندې ولاړه ده او د اوسنۍ مسلماني میرمن نمونه ده، خبر اوسی! کریمان خالص د هغې سخت درېځي مسلماني میرمن لمسی ده، چې ځان به یې د خلګو د سترګو پټ ساته، اوس زموږ په وړاندې په یوه شورت کې ولاړه ده (!) موږ باید اعتراف وکړو: دا پیغله زموږ د بریالیتوب تاج دی او هغه د ښکلا د ملکې په صفت نړی ته ورپیژنو، معلومه خبره ده چې دا ددې سیالی د ټولو ګډون کوونکو څخه ښکلې نه ده، مګر دا زموږ لپاره مهمه نه ده، سږ کال موږ انتخاب نه کوو، بلکې هغه څوک د ښکلا د ملکې په صفت ټاکو، چې پر اسلام باندې د مسیحیت د بري سبب سوې ده.

په تیرو شپو کې یو وخت د ترکیې د عثماني خلافت خلیفه سلطان سلیمان القانوني د فرانسې د سرحد سره چې د ترکیې د خلافت پولې د فرانسې سره لګیدلې وې تیریدی، چې د فرانسویانو ګډا او نڅا یې ولیده، نو ډیر په غوسه سو او فوراً یې آمر وکړ: باید ګډا او نڅا بنده سي، د عثماني خلافت پولو ته نږدې یې ګډیدل او نڅا بنده کړه، هسې نه چې د ترکیې ښارونو ته سرایت وکړي او پر مسلمانانو اغیزه وکړي. اوس د هماغه عثماني خلافت د مسلمان پادشا سلطان سلیمان القانوني لمسۍ ستاسو په مخ کې ولاړه ده، او ماسیوا د یوه شورت څخه یې پر بدن نوره هیڅ جامه نسته (!). هغه زموږ څخه غواړي چې هغې ته وګورو او د هغې بدن خوښ کړو، موږ هغه خوښه کړه او هغې خپل ځان موږ ته وسپاره، نن موږ د ترکیې د ښکلا ملکه د نړی د ښکلا ملکه ټاکو، په دې اُمید چې د ټولو مسلمانو پیغلو راتلونکې زموږ په اراده حرکت وکړي او زموږ په لاس کې وي، نو د شرابو جامونه د اروپا د بریالیتوب په احترام پورته کړی.

که فکر وکړو چي اروپا او عیسویت د عثماني خلافت څخه څومره کرکه درلوده، او په عامه توګه اسلام ته څومره د نفرت او دښمنۍ په سترګه ګوري دا یو مثال هم کافي دی، دا زموږ د معاصر تاریخ د یوه زړه بوږنوونکی باب انځور وو. مسلمانو خویندو اوس څه کوی؟ آیا غواړی خپل درانه پروني د سره وغورځوی!؟ او د کفارو د داسي شرمونکو پیغورونو سره مخ سی؟ قسم په خدای سخت د درد او افسوس ځای دی، چي زموږ مسلماني خویندي، د زینب او عایشي لوڼي (رضي الله عنهما) نن خپله حیاء، آرزښت او قیمت د دنیوي متاع په مقابل کي لیلاموي.

نړیوالتوب چي نن د نړۍ ښځو ته د ښکلا د ملکو په نامه دوکې ورکوي او ستر پانګوال د دوی د ابرو او عزت د خرڅلاو په مقابل کي خپل جیبونه ډکوي، ډیر ژر به دا کرغیړنه لوبه ورته څرګنده سي، پر ځان به لعنت ووایي، مګر وخت به ځیني تیر سوی وي. راځئ! د څو غربي ښځو خبري واورو، چي د داسي سرنوشت سره مخامخ سوي دي، هغوی څه وایي!

د امریکا د سینما مشهوره ممثله مارلین مونرو وایي: ما کورني ژوند ته ترجیح ورکوله او هغه مي د هري ښځي لپاره انسانیت او سعادت ګاڼه، مګر دې خلګو پر ما ظلم وکړ، ما ته یې د ښکلا د ملکې په نوم دوکه راکړه، زه یې سینما ته را کش کړم او سینما یوازي دا چي زما قسمت یې را ټیټ کړ، بلکي زه یې د انسانیت څخه وایستلم. هر ښځه چي همداسي وکړي لکه ما چي وکړه، نو همداسي به سپکه سي لکه زه چي سپکه سومه. دې ښځي په امریکا کي دومره شهرت پیدا کړ چي اندازه یې نه وه، مګر دا چي کله د خپل ژوند څخه تنګ راغله، نو ځان وژنه یې وکړه، مګر مخکي تر دې چي ځان وژنه وکړي، یو لیک یې د نیویارک په یوه بانک کي د امانتونو په صندوق کي پرېښوی، شرقي ښځو ته یې داسي لیکلي وه: د لویي او مجد څخه ډډه وکړه او ددې څخه هم ډډه وکړه، چي تا ته د حُسن او ښکلا د ملکې په نوم دوکه درکړل سي، زه همداسي یوه ښځه ومه، مګر نامراده او نااُمیده سومه، نور د پورتني لیک متن په کښي لیکل سوی وو. ددې وروسته په سختو ذهني عذابونو اخته سوه، چي بالاخره د ژونده تنګه سوه او ځان وژنه یې وکړه. دا دیوې مشهوري د ښکلا ملکې انجام وو، بلکي ډیري نوري هم په دې برخلیک اخته سوي دي.

دا مسابقي ځکه د تعجب وړ دي چي معمول دا دی، انسان په هغه څه کي مقابله او مسابقه کوي، چي په خپل واک او اختیار کي یې وي، تر څو کوښښ او هڅه وکړي چي د مسابقې په ډګر کي بریالی سي، لکه: آسونه ځغلول، سپورټ، علم او ادب او داسي نور... مسابقات، مګر ښکلا او حسن هغه څه دي چي د الله (جل جلاله) له طرفه ورکول کیږي، او یوازي د هغه تر قضا او قدر پوري ځانګړی آمر دی، انسان هیڅ تصرف او واک نه په کښي لري او په دې برخه کي په بشپړه توګه ناتوانه دی، نو دا مسابقي به څه ګټه، څه معنا او څه پایلي ولري؟

د نړۍ د صنایعو یو شمیر شرکتونه، چي په میلیونونو ډالر پانګونه په کښي سوې ده، او ټوله تکیه یې پر ښځه ده، د سینګار د اسبابو تولیدونکي موسیسي په زرګونو لاري چاري په کار اچوي، تر څو ښځه اړ کړي چي که په زرګونو نرموونکي او پارونکي څیزونه لکه: عطر، د فیشن سامان او داسي نور... استعمال نه کړي، نو هیڅوک به میلان ورته ونه لري، معمولاً جنسي میلان، وروسته تر دې چي د ښځي په ضمیر کي دا شی پوخ کړي، نو بیا به هر کال د سینګار لوازم تغییر کوي، دا به یې اخیستلو او استعمال ته مجبوره وي، د ښځي څخه به غوښتل کیږي چي صورت او بڼه یې تغییر کړي او دا کار به هر کال نوی نوی بدلیږي، په دې ترتیب سره به میرمني داسي تازه تازه بازار ته داخلیږي چي پای نه لري، تر څو د خپل حسن لپاره خریداران پیدا کړي، دا په غرب کي یو معمول دی، مګر د نړیوالتوب څپې یې اسلامي نړۍ ته هم را واردوي.

د دین نړیوالتوب

د کلتور نړیوالتوب د دین د نړیوال کیدلو پیلامه ګڼل کیدای سي، مګر د دین نړیوال کیدلو ته ډیر په ښکاره ډول کار نه کیږي، ځکه د شپږم (۶) پاپ د هدایت سره سم باید مسیحي مبلغین په ډیر احتیاط قدمونه پورته کړي، د دین نړیوالتوب هم د غرب د پلان او ملاتړ تر سیوري لاندي مخ پر وړاندي روان دی، اروپا او امریکا د واتیکان مسیحي پاپ ته بشپړ واک ورکړی دی، تر څو د دوی د سیاسي، اقتصادي او کلتوري استعمار سره څنګ پر څنګ دیني امپریالیزم یا استعمار هم پر مخ بوځي، د ډایواس نړیوال صلیبي تنظیم د لاري چي مرکز یې په واتیکان کي دی، او په ۱۹۶۶م کال کي یې شپږم (۶) پاپ جان پال بنسټ ایښی دی، دوی غواړي ټوله نړۍ مسیحي کړي، د نړۍ ګرد خلګ باید صلیبیان سي، دې تنظیم د عیسویت د تبلیغ لپاره ډیر خدمتونه کړي دي، چي اوس غواړي د نوي امریکایي نړۍ د جوړیدو تر پلان لاندي دوی هم خپله وظیفه سر ته ورسوي او د نړیوالتوب د اقتصادي، سیاسي او کلتوري ډګرونو څخه وروسته پاته نه سي.

د مسیحیت دغه دیني امپریالیزم د لویدیځ د سیاسي، اقتصادي، نظامي، علمي او اطلاعاتي پرمختګونو څخه ګټه اخلي، تر څو د خپلي خوښي سره سم په نړۍ کي د عیسویت تبلیغ وکړي، چي دا کار یې ډیر په تیزۍ سره مخ پر وړاندي روان دی، موږ ګورو چي په افریقایي هیوادونو کي کوم چي مخکي د اسلام د مځکي په نامه یادیده، مسیحي استعمار هلته خپل تبلیغ ډیر په چټکۍ سره پر مخ بوتلی، او د مختلفو لارو یې کار واخیست، ډیر مسلمانان یې مسیحیان کړل، چي دې مسلمانانو ته بیله د مسیحیت د نامه څخه بل هیڅ په لاس نه دي ورغلي، په ښکاره ډول د مسلمانانو مسیحي کول نه ترسره کیږي، بلکي د اوس مهال لپاره دا ورته بسنه کوي، چي مسلمانان د خپلو بنسټونو، اعتقاداتو او تاریخ په اړوند بې باوره کړي او په دې اړوند شکونه ورته پیدا کړي، دا کار د عربي نړۍ پرته په نورو افریقایي او آسیایي هیوادونو کي ډیر بریالی کیږي، په ځانګړي ډول کله چي ماشوم د کوچنیوالي څخه دوی ته په لاس ورسي، هغه ته په خپلو مکتبو کي زده کړه ورکړي، د خپل کلتور سره سم یې وروزي او د خپل اُمت څخه یې جلا کړي.

په ځینو افریقایي هیوادونو کي ځیني خلګ چي ښکاره مسیحي نومونه لري او ټول یې مسیحي ګڼي، په داسي حال کي چي د پلار یا بابا نوم به یې محمد یا احمد وي، د مسیحیت د رواجولو کار تقریباً د ډیري مودې راهیسي روان دی او غواړي د آسیا، بلکي د اسلامي نړۍ تر ټولو لوی هیواد اندونیزیا مسیحي کړي، هغه هیواد چي دوی اټکل کړی وو، چي د پنځوسو (۵۰) کالو په موده کي باید مسیحیت پر اسلام باندي پوره ولکه او تسلط ولري، مګر قادر ذات داسي نران لکه دوکتور محمد ناصر او ورونه یې پیدا کړل، هغوی ددې جریان په وړاندي ودریدل او هیلي یې د خاورو سره ور خاوري کړې، که څه هم د ختیځ تیمور په ځینو برخو کي مسیحیت بریالی سوی هم دی، هغه ښکیلاکګر چي ختیځ ته راځي یوازي پر دې باندي بسنه نه کوي، چي د مسلمانانو ټولي ګټي، سرچیني او پوځي چونی تر خپلي ولکې لاندي راولي، اداري چاري یې په خپل لاس کي واخلي او څنګه چي یې زړه غواړي هماغسي یې وکاروي، بلکي دا هڅه کوي چي د مسلمانانو د فکري او مادي پرمختګ مخه ونیسي.

تر څو په دې توګه د هغوی د علمي او اقتصادي ژوند شارګونه غوڅ یا فاسد کړي، هیوادونه یې سره وویشي، د هغوی روحي ولولې مړې کړي، تر څو تر خپلو لاسونو او پښو لاندې یې وغړوي او د خوځښت څخه یې په ټپه ودروي، ښکیلاکګر هیوادونه په ختیځو اسلامي هیوادونو کي خپلو موخو ته د رسیدو په پار د مسیحي بلونکو څخه کار اخلي او د توکمیزو ډلو ټپلو په جوړولو سره د اسلامي هیوادونو ټولنیز ژوند ګډوډوي، همدارنګه د یهودیت او صهیونیت څخه ملاتړ کوي، تر څو خپلو موخو ته ورسیږي، صلیبي کلیساوي د مسیحیت د دعوت په خاطر د یهودیانو په ملګرتیا هر وخت د حالاتو او ظروفو د غوښتنو سره سم په منظمه توګه پلانونه جوړوي او دغه پلانونه په هغو نړیوالو کنفرانسونو کي جوړوي، چي په هرو پینځو (۵) کلونو کي یې د دعوتي رپوټونو او د مسیحیت د خپرولو د سر ته رسیدلو چارو، د دعوت او تبشیر د کامیابیو او ناکامیو د نتایجو د تر لاسه کولو لپاره جوړوي.

په روانه یوویشتمه (۲۱) مسیحي پیړۍ کي په ګرده نړۍ کي او بیا په ځانګړې توګه په اسلامي هیوادونو کي د مسیحیت د برلاستیا په خاطر نوی صلیبي پلان په ۱۹۷۸م کال کي په هغه تنصیري او تبشیري غونډه کي جوړ سوی دی، چي د شمالي امریکا د لوزان په سیمه کي دایر سوی وو، په دغه کنفرانس کي چي د مسیحي دین د نړیوالتوب لپاره پلان جوړ سوی دی، د مسیحیت د مختلفو فرقو او د هغوی د کلیساګانو په استازیتوب شپږ سوه دیرشو (۶۳۰) کسانو ګډون په کښي کړی وو، د لوزان په یاد کنفرانس کي کلیسا او د کنفرانس ګډون کوونکو ته هغه رپوټونه او معلومات ډیر په زړه پوري وه، چي په هغو کي ویل سوي وه: په ګرده نړۍ کي تر ۱۹۷۸م کال پوري څومره مسلمانان د اسلام څخه مرتد او مسیحي کړل سوي دي، په دې هکله د منځنۍ افریقا، جنوبي آسیا او جنوب ختیځې آسیا کوم رپوټونه چي غونډې ته وړاندي سوه، نو د کنفرانس د ګډونوالو د خوښۍ باعث سول، په دغه کنفرانس کي په راتلونکو کلونو کي په اسلامي هیوادونو کي د مسیحیت د خپرولو په تکل په نوو لارو چارو هم خبري وسوې او لازم تصمیمونه ونیول سول، چي ځیني یې په لاندي ډول دي.

الف: د لاهوتي تعلیماتو مرکز جوړول: د لوزان په صلیبي دعوتي غونډه کي په اتفاق سره پریکړه وسوه، چي په امریکا کي د تبشیري دعوت لپاره د مبلغینو د روزني یو مرکز جوړ کړل سي او د (S.M.Zwimer) یعني سموئیل زویمر په نوم ونومول سي، چي دا تبلیغاتي مرکز په همدې کال په همدې نامه جوړ کړل سو، چي هر کال په زرګونو مسیحي مبلغین په کښي روزل کیږي او بیا اسلامي هیوادونو ته د معلمینو، پروفیسرانو، استادانو، د خیریه مؤسیسو کار کوونکو، ډیپلوماتانو، سوداګرو او نورو مختلفو نومونو لیږل کیږي او بیا هر یو مسیحي دعوت پر مخ بیایي، چي د دوی رپوټونه هم غوښتل کیږي.

ب: څوارلس سوه (۱۴۰۰) میلیارده ډالره بودیجه تصویبول: ددې کنفرانس په جریان کښي د یوشتمي پیړۍ (۲۱) د صلیبي دعوت د چټک او کامیاب پر مخ بیولو لپاره څوارلس سوه (۱۴۰۰) میلیارده ډالره بودیجه تصویب کړه، چي دا بودیجه یوازي او یوازي د خلګو د مسیحي کولو په چارو لګول کیږي.

ج: نهه (۹) میلیونه او اته (۸) لکه دعوتي پرسونل تصویبول: د لوزان په سیمه کي دې کنفرانس بله پریکړه دا وکړه، چي په یوشتمه پیړۍ (۲۱) کي د صلیبي دعوت د نړیوال کولو لپاره باید

پورتنۍ شمیر دعوتي پرسونل ولرو، چي د پریکړي په پایله کي تصویب سول، دوی به د عیسویت د تبلیغ لپاره د امریکا او اروپا په سترو مسیحي دعوتي ادارو کي روزل کیږي، بیا به د نړۍ مختلفو هیوادونو ته د عیسویت د تبلیغ لپاره استول کیږي.

د: دولس زره (۱۲۰۰۰) ارتباطي چینلونه جوړول: د وخت او حالاتو سره سم د مسیحي دعوت د بریالیتوب لپاره باید د یویشتمي (۲۱) پیړۍ مبلغینو ته ارتباطي چینلونه جوړ کړل سي، چي په یو اتفاق سره د دولس زره (۱۲۰۰۰) ارتباطي چینلونو جوړول اړین وګڼل سول، د غونډي په جریان کي تصویب سول او تر اوسه پوري چي سپوږمکیو، ویبپاڼو او ویډیوګانو کوم نقش لوبولی دی، د مسیحي ایډیالوژۍ په تاریخ کي یې ساری نه لیدل کیږي، نو له همدې کبله د دغه ارتباطي چینلونو زیاتول د مسیحیت د نړیوالتوب لپاره خورا زیات ګټور دی او د مبلیغینو سره زیاته مرسته کوي.

هـ: نهه ویشت (۲۹) میلیونه انجلیونه توزیع کول: دا پلان هم په دې کنفرانس کي تصویب سو، چي د یو رپوټ په اساس دا انجیلونه تر ۱۹۹۶م کال پوري دا شمیره انجیلونه توزیع سوي، د نړۍ په مختلفو ژبو ژباړل سوي دي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي په وړیا توګه ویشل سوي دي.

همدارنګه نور هم ګڼ شمیر پلانونه تصویب سول، تر څو نړۍ مسیحي کړي، چي پر دې موضوعاتو مستقل کتابونه لیکل سوي دي.

تبشیر: په لغت کي په ډیرو معناوو سره راغلی دی، چي مصدر یې بشري دی او بشر د انسان، د بدن پوستکي، ښایست او حسن، زیری ورکولو په معناګانو راځي، او په اصطلاح کي دین ته د دعوت په معنا دی، مسیحي استعماري مستشرقینو د خلکو د دوکه کولو په خاطر دغه زړه وړونکي کلمه د خپل ګمراه کوونکي مسیحي دعوت لپاره غلطه استعمال کړې ده او بې خبره خلکو ته دا په ذهن کي وراچوي، چي دغه تحریک دوی ددې لپاره پیل کړی دی، چي بشریت ته د بدمرغۍ څخه نجات ورکړي حق دین او سعادت ته یې ورسوي، د خپلو شومو او اسلام دښمنو اهدافو د تر لاسه کولو په خاطر یې پر خپل دغه اسلام دښمنه تحریک د تبشیر نوم ایښی دی.

تنصیر: په لغت کي نصراني کولو ته وایي او په اصطلاح کي هغه تنظیم دی، چي غیر مسیحي خلګ مسلمانان وي او که بل څوک مسیحیت ته دعوت کوي او د مسلمانانو نصراني کول د دغه تنظیم خاصه دنده ده، دا تنظیم په ۱۷۹۵م کال د جمعیة لندن التنصیریه په نوم د انګلستان په پلازمینه لندن کښي تاسیس کړل سو.

سموئیل زویمر: یهودي مستشرق دی، په اسلام دښمنۍ کي خورا مشهور او لوی شیطان دی، صلیبیان او یهودیان یې له همدې کبله درناوی کوي، نوموړي د العالم الاسلامي مجلې بنسټ ایښی دی، د امریکا د تنصیري او تبشیري مرکز څخه خپریږي، د الاسلام تحد العقیدة او الاسلام په نامه کتابونه یې هم لیکلي دي، چي د اسلام پر مقدس دین یې د زهرو ډک تورونه لګولي دي.

د ژبي نړيوالتوب

نړيوالتوب د ټول انساني ژوند بنه بدلول غواړي، يعني نړۍ بايد په يو کلي يا هيواد بدله سي، حکومت، سياست، اقتصادي نظام، کلتور، دين او ژبه يې هم بايد يوه وي، ددې پروګرام واګي د امريکا په لاس کي دي او غواړي ټوله نړۍ امريکايي کړي، ځکه ځان د نړيوال قيادت وړ بولي او د ژوند ټول اړخونه بايد امريکايي سي، چي نور اړخونه يې څه ناڅه واضح سول، د نړيوالتوب تر سيوري لاندي ژبي ته هم ستر خطر متوجه دی، چي د نړۍ ژبي بايد ختمي سي، اصلي هدف د ژبو آرزښتونه، علمونه، ثقافت او ادبيات بايد له منځه يوړل سي، چي تر ټولو ستر خطر يې د قرآن کريم او پيغمبر ژبي يعني عربي ته متوجه دی، ځکه د نړۍ د ګوټ ګوټ مسلمانان د عربي ژبي سره آشنا دي، که په پوهيږي نه د قرآن کريم د تلاوت د لاري خو ورسره بلد دي، په اسلامي نړۍ کي تر ټولو ډيره عربي ژبه دود ده، چي غرب غواړي ددې پر ځای انګليسي ژبه رواج کړي، د نړۍ نوري کوچنۍ ژبي خو بيخي ددې زوروړ طوفان په مقابل کي مقاومت نه سي کولای.

زموږ په هيواد کي نن انګليسي ژبې تقريباً د علم ځای نيولی دی، که چا په کومه بله څانګه کي لوړي زده کړي کړي وي، مګر چي په انګليسي پوه نه سي، نه دنده په آسانه پيدا کولای سي او نه د لوستي انسان سلوک ورسره کيږي، هر څوک په دې هڅه کي دی چي د خپلي مورنۍ ژبي پر ځای په انګليسي ژبه لومړنۍ زده کړي وکړي، د انګليسي ژبي زده کړه کي کومه ستونزه نسته، په دې شرط چي خپله ژبه په ونه بايلو، دلته ستونزه دا ده چي که چا په بهرنيو هيوادونو کي په انګليسي ژبه زده کړه وکړه، بيا نو د خپلي ژبي سره مخه ښه کوي، انګريزي ژبه د نړۍ د پنځه فيصده (۵%) خلګو ژبه ده، مګر د يوې يرغليزي ژبي په توګه پر ټوله نړۍ پاچاهي کوي، د نړۍ (۳۵%) فيصده بريښناليکونه، تلکسونه او کيبلونه په انګريزي ژبه دي، د نړۍ (۴۰%) فيصده راډيويي پروګرامونه په انګريزي ژبه دي، د نړۍ (۵۰%) فيصده انټرنيټي چاري په انګريزي ژبه دي، لويديځ غواړي په ټولو اسلامي هيوادونو کي انګريزي ژبه عامه کړي، په اسلامي هيوادونو کي داسي شريط برابر کړي، چي هر مسلمان انګريزي ژبه زده کړي.

په انګريزي ليکل او په انګريزي ژبه خبري کول د يو مهم ضرورت په توګه وړاندي کړي او ددې موخي د تر لاسه کولو لپاره امريکا په اسلامي هيوادونو کي غربي او امريکايي انجيوګانو او خپلو تالي څټو ته دنده سپاري، تر څو په اسلامي هيوادونو کي د انګريزي ژبي د زده کړي او دود کولو لپاره لازم تدابير ونيسي، کورسونه ورته خلاص کړي، په تعليمي نصاب کي يې لازمي وګرځوي، په ليکوالۍ، اسلامي آدب او ژورناليزم کي انګريزي ژبي ته ځانګړی مقام ورکړل سي، په اقتصادي علومو، تجارتي قراردادونو او د مارکيټينګ په اصولنامو کي په بشپړه توګه انګريزي وليکل سي، په حقوقو، سياسي علومو او په طب فاکولټو کي بايد تدريس په انګليسي ژبه باندي وي او ناروغانو ته نسخې بايد په انګريزي ژبه وليکل سي، همداراز په اسلامي هيوادونو کي بايد سياسي اصطلاحات، د عسکري منصبونو نومونه، د تدريب او روزني اصطلاحات، د جنګي وسلو نومونه، د غذايي موادو او مشروباتو نومونه بايد انګريزي کړل سي.

همدارنګه امریکایي او غربي هیوادونه باید خپلو سفارتونو، قونسلګریو او صلیبي عبادت ځایونو ته آمر وکړي، چې په خپلو دیني او سیاسي مرکزونو کي د انګریزي ژبي د زده کړي مرکزونه خلاص کړي، په ډیر کم فیس او یا په وړیا توګه مسلمانو انجونو او هلکانو ته انګریزي تدریس کړي، بیا هغوی وهڅوي چې د فراغت وروسته د انګریزي ژبي د زیاتي زده کړي لپاره په ادبیاتو پوهنځی کي د انګلیسي څانګه ووایي او بیا د دوی له خوا د تخصص، ماسټري او دکتورا لپاره غربي هیوادونو ته ولیږل سي، په اسلامي هیوادونو کي د انګلیسي ژبي عامیدل به دوی ته دا ګټه ولري، چې د مسلمانانو ځوان او وروسته راتلونکي نسلونه به اسلامي ثقافت ته شا کړي او اجنبي ثقافت ته به مخه کړي، خپلي سیمه ییزي مورنی ژبي به بې آرزښته او بې ګټي وګڼي، په خاصه توګه عربي ژبه، چې د مسلمانانو بشپړ دین په کښي کي دی، د هغې زده کړه به ضروري نه ګڼي، د قرآن کریم، نبوي احادیثو او اسلامي فقهي څخه به فاصله پیدا کړي، تش په نوم مسلمان به وي، مګر د اسلام په حقیت به نه پوهیږي.

د اسلام د مقدس دین شعایرو او مقدساتو ته به یا خو بیخي بې تفاوته وي او یا صرف په احترام کولو به یې بس والی کوي، د اسلامي علومو او معارفو څخه به بې خبره وي، د اسلام او اسلامي نظام په اړه به هغه تعریفونه، تاریخ او معلومات صحیح ګڼي، چې غربي او امریکایي مستشرقینو کړي دي، ځکه په عربي به نه پوهیږي او نه به دا هوډ لري، چې عربي ژبه زده کړي او بیا په عربي ژبه کي د اسلام اصیل ثقافت مطالعه کړي، مګر یوه یادونه ضرور ده، د نړیوالتوب هغه خطر چې ژبي ته متوجه دی او لویدیځوالو داسي پلان ورته جوړ کړی دی، چې په نړۍ کي باید انګلیسي ژبه دود کړي، مګر مسلمان ته په کار نه ده چې انګلیسي ژبي ته په سپک نظر وګوري او زده کړه یې حرامه وګرځوي، ځکه چې په اسلامي شریعت کي د هیڅ یوې ژبي زده کړه ممنوع او حرامه نه ده، له دې کبله چې ټول ژبې الله سبحانه وتعالی پیدا کړي دي او د الله سبحانه وتعالی د عظیم او بې سیاله قدرت د نښانو څخه د مختلفو ژبو پیدا کول هم دي، د بشري ژبو زده کړه که روسي وي که فرانسوي، انګریزي او که عبراني د یهودیانو ژبه وي او که الماني وي کرکه او نفرت کول ځیني شرعاً ښه نه دي، سپکاوی کول یې ناروا دي، ځکه چې د الله سبحانه وتعالی د قدرت سپکاوی کول دي، د ژبو زده کړه د مسلمان لپاره لوی کمال او علم دی، د بل هر ملت څخه مسلمان زیات ددې حق لري، چې مشروع علم او کمال لاسته راوړي.

همدارنګه نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د وحیي کاتب زید بن ثابت انصاري (رضي الله عنه) ته آمر وکړ: عبراني ژبه زده کړه، څو مدینې ته په دغه ژبه کي د لیږونکو لیکونه ولولې او جوابونه یې ولیکې.

له همدې امله مسلمانانو ته ښایي چې انګریزي او نوري ژبي د نیک مقصد لپاره زده کړي، ان تر دې که وکولای سي د ژبپوهانو په اند اوس په نړۍ کي په څلور زره او اتیا (۴۰۸۰) ژبو خبري کیږي، مسلمان یې باید زده کړي، ځکه چې د اسلام د خپرواي لپاره د اسلامي دعوت په خاطر د اجنبي ژبو زده کړه ضرور ده، په اوسني عصر کي خو مسلمانانو ته لازم دي، چې انګریزي او نوري ژبي زده کړي، ځکه چې یهودیان، صلیبیان او نور اسلام دښمنه ملتونه په انټرنټي ویبپاڼو کي د اسلام د مقدس دین او دیني مقدساتو په خلاف د زهرو ډکي خپروني کوي.

بیلګه یې: په ۲۰۰۳م کال کې د اسرائیلو دولس نیم سوه (۱۲۵۰) انټرنیټي ویبپاڼې د اسلام د مقدس دین او دیني مقدساتو په خلاف جوړې کړې وې، بیا د هغو د جملې څخه اته سوه اویا (۸۷۰) ویبپاڼې مسلمانانو ځینې مسخه او ختمې کړې، دا داسې ویبپاڼې وې، چې د نورو په پرتله زیاتې مسموموونکې او مخربې وې. همداراز په ۲۰۰۵م کال د ناروې د صلیبي اخبار (Rag Blowet) راګ بلوویټ دفتر د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د سپکاوي ډک کاریکاتورونه خپاره کړل، نو د دوه نیم سوو (۲۵۰) ویبپاڼو څخه زیاتې یې مسلمانانو ور ختمې کړې، په بدل کې یې پر همدغو ویبپاڼو صلیبیانو ته د ګواښ او اخطاریو ډک پیغامونه خپاره کړل، چې توبه وکړي او د اسلام دښمنو خپرونو څخه لاس واخلي او که نه نو تبا او برباد به کړل سي.

که چیرې دغو مسلمانانو چې د صلیبیانو اسلام دښمنه ویبپاڼې یې ورته له منځه یو وړې، او د هغوی انټرنټي تبلیغات یې ناکام او شنډ کړل، انګلیسي ژبه زده نه وای کله یې د صلیبیانو پر خلاف او د اسلام په ننګه دغه ساینسي او انټرنیټي جهاد کولای سوای؟ په همدې اساس که چیرې د انګریزي ژبې زده کړه د دین د خدمت په نیت وي ثواب لري، مګر که چیرې د مسلمانانو د سیمه ییزو ژبو د تضعیف او ختمولو په خاطر وي او یا د اسلامي ثقافت د پلي کولو او د عربي ژبې د زده کړې سره د مسلمانانو د مینې او محبت د ختمولو په اراده وي، بیا نو د انګریزي ژبې زده کړه شرعاً ناروا ده، هیڅ مسلمان ته روا نه ده، چې د کفري صلیبي اهدافو د ترسره کولو په فکري او ثقافتي ډګر کې د مسلمانانو د مستعمره کولو او د کفارو د شومو پلانو په ترسره کولو کې د هغوی سره مرسته وکړي، معلومه خبره ده که په شعوري توګه وي او که په غیري شعوري توګه سره وي.

د نړیوالتوب خوزښتي قوت

د نړیوالتوب په رامنځته کیدو او ټینګښت کي چي کوم عوامل کار کوي، په لاندي ډول دي:

الف: په رسنیو او مخابراتي سیسټم کي ښه والی د حمل ونقل په وسایلو او خبري ټیکنالوژۍ کي د ښه والي او پرمختګ له سببه د کار رفتار تیز سوی دی، د شیانو انتقال او وړل راوړل آسانه سوي دي، حمل ونقل هم آرزانه سوی دی، په تماسونو کي آساني او سهولت رامنځته سوی دی او دایره یې پراخه سوې ده.

ب: د فرد په ذوق او اولیتونو کي تغیر، د سامانونو او خدمتونو تنوع او رنګا رنګ، د تعلیم او رسنیو پرمختګ په ذوقونو او اولیتونو کي ډیر زیات تغیر رامنځته کړی دی، د ډیرو او رنګا رنګو شیانو په شتون کي انسان د خپلي آسانتیا، ذوق او خوښي سره سم د څیزونو انتخاب کوي.

ج: د حکومت په پالیسیو کي قصدي تغیرات، حکومتونه د خپلو آسانتیاو لپاره او بعضي وخت د خارجي فشار له وجهي د شیانو او خدمتونو په انتقال کي تغیرات رامنځته کوي، چي په نتیجه کي یې په مصرفي شیانو کي ډیروالی رامنځته کیږي. په زړه پوري خو دا ده چي نړیوال پانګوال او تجاران د شیانو په آزاد حمل و نقل باندي بندیزونه لګوي، د نړۍ په یوه برخه کي چي د ضرورت څخه زیات شیان موجود وي، د هغو د آزادانه انتقال بندوبست کیږي، مګر په بله برخه کي چي د ضرورت څخه زیات مزدوران موجود وي د هغوی پر نقل وحمل باندي بندیزونه لګول کیږي، د بده مرغه حکومتونه په خپلو دغو چارو کي ښکیل وي، چي نتیجه یې بالاخره د عامو خلګو په زیان تمامیږي، په پانګواله نظام کي د حکومت کار یوازي دا وي، چي پانګوالو ته آسانتیاوي برابري کړي او بس! که چیري کوم حکومت د دغو پالیسیو په وړاندي خنډ ثابت سي، یا د همکارۍ څخه ډډه وکړي، نو دغه حکومتونه له منځه وړل کیږي.

د: پانګوالو اوس داسي یوه کړنلاره خپله کړې ده، چي د توکو تولیدي لګښت کمه وي، د پخوا په خلاف چي د هغو نرخونه به یې کمول، د نوي کړنلارې په نتیجه کي کارګران د کار څخه ګوښه کیږي، تر څو د کمو کارګرانو څخه زیات تولید لاسته راوړل سي، د انسانانو پر ځای د مشینونو استعمال په تولیدي لګښت کي ډیر کمښت رامنځته کړی دی، مګر د بیکارۍ کچه یې زیاته کړې ده، د همدې خودغرضي پالیسۍ په نتیجه کي به په دریمه نړۍ کي یو لوی کړکیچ رامنځته سي، ځکه چي د دریمي نړۍ کارګران به نه سي کولای د روزګارۍ لپاره صنعتي هیوادونو ته ولاړ سي، مګر بل طرفته به د دغو صنعتي هیوادونو آرزانه مالونه د دریمي نړۍ په بازارونو کي آزادانه خرڅیږي، همدا د نړیوال پانګوال نظام هدف دی، (WTO) یا د سوداګرۍ نړیال سازمان د همدې هدف لپاره جوړ سوی دی، تر څو د پرمختللو هیوادونو مالونه بې له کومه خنډه د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوي، نتیجه به یې دا وي چي د دریمي نړۍ هیوادونه به خپل محدود تولیدي صلاحیت هم د لاسه ورکړي، ټکنالوژۍ په تیرو پنځوسو (۵۰) کلونو کي د پخوا په پرتله بې حده وده کړې ده، چي ددې بې ساري پرمختګه په استفادې د انسانانو تګ راتګ او سفرونه خورا زیات سوي دي.

په پایله کي د نړیوالتوب بهیر د پام وړ ګړندی سوی دی، د تاریخ نوي فیصده (٪۹۰) ټکنالوژیکي پرمختګ، کشفیات او اختراعات د ۱۸۰۰م کال راهیسي ترسره سوي دي، دغه بې ساري پرمختګونه د راشه درشي عمده لاملونه دي، نن ورځ هره شیبه په سونو او یا هم په زرهاوو خلګ په الوتکو کي د سفر په حال کي دي، دا لا معلومه نه ده چي د ریل ګاډی، بېړیو او موټرانو د لاري به څومره انسانان د سفر په حال کي وي؟ دغو راشه درشو د ځان سره د ایډیالوژیو، افکارو او کلتورونو د لیږد بهیر چټک کړی دی، په ۱۹۸۵م کال کي د امریکا د متحده ایالتونو څخه بهرنیو هیوادونو ته دوسوه پنځه څلوېښت (۲۴۵) میلیونه تیلیفونونه سوي دي، دغه شمیره په ۲۰۰۹م کال کي (۶) بلیونو ته لوړه سوه، ددې سره سره څومره نوي ارتباطي وسایل منځته راغلي دي، لکه: ګړندۍ الوتکي، ریل ګاډی، ګرځنده تیلیفونونه، راډیو، تلویزیون، انټرنیټ او په انټرنیټ کي ټولنیزې شبکې لکه: فیسبوک، ټویټر، انسټیګرام، ټلیګرام او داسي نور...

دا ټول هغه وسایل دي، چي د دوی د منځته راتګ د امله اوس که د نړۍ حتی په لیري سیمه کي کومه پیښه کیږي، د نړۍ نوري سیمي ځیني متاثره کیږي، ددې خبري ښه بیلګه د ۲۰۱۱م کال د لومړیو راهیسي په عربي نړۍ کي روان پاڅونونه دي، چي د دغو سیمو د دیرشو (۳۰) او څلوېښتو (۴۰) کلونو واکمن د فیسبوک د لاري له منځه ولاړل، دغه پاڅونونه د فیسبوک د اوښتونونو په نامه مشهور سول، همداراز په ۲۰۰۹م کال کله چي په ایران کي لانجمني ټاکني ترسره سوي، خلګو په لاریونونو لاس پوري کړ، واکمن رژیم پر انټرنیټ او فیسبوک بندیزونه ولګول، د دغو ناآشنا پرمختګونو په نتیجه کي اوس د هیوادونو تر منځ پولي له منځه تللي، ځکه نو ځیني اوس نړۍ نړیوال کلی بولي.

د نړیوالتوب پایلي

د نړیوالتوب په اړه ویل کیږي، چي دا حتمي دی او مخنیوی یې ناشونی دی، دا هم د نړیوالو پانګوالو یو فریب دی، هغه خلګ دا خبره کوي ځوک چي غواړي نړیوالتوب پر ټولي نړۍ مسلط کړي او همدا خبره ده چي خلګ نړیوالتوب ته غاړه ږدي، که غور په کښي وکړو نو د نړیوالتوب ډیري بدۍ به په سترګو ووینو، که څه هم د ټکنالوژۍ په میدان کي د پرمختګونو مخه نه سي نیول کیدای، مګر په اقتصادي او ټولنیزو پالیسیو کي تغیر راوستل ممکن دی، خو نړیوال تجاران هیڅ کله هم ددې اجازه نه ورکوي، که فکر وکړو نو د نړیوالتوب د امله ډیري زیاتي بدۍ رامنځته سوي دي، چي هغه په دې ډول دي:

۱: نړیوالتوب په هر اړخیزه توګه د دریيمي نړۍ هیوادونو ته په تاوان دی، ځکه د هغوی سیاستونه له منځه وړي او پردی سیاست پر هغوی تپل کیږي، خصوصاً په اسلامي هیوادونو کي اسلام نفي کوي او پر ځای یې غربي ډیموکراسي او جمهوري نظام پر موږ تپي، مسلمانان داسي کمزوري کوي، تر څو د اسلامي نظام د جوړولو فکر هم ونه کړي.

۲: د نړیوالتوب د خوزښت پایله به دا وي چي د پانګي او نورو څیزونو وړل راوړل به آسانه وي او د اشخاصو په تګ راتګ کي به هم آسانتیا رامنځته سي، مګر یوازي د پرمخ تللو هیوادونو اشخاص به آزادانه هر ځای ته چي یې زړه وي تللای سي او د دریيمي نړۍ اشخاص به هم هغسي تر بندیزونو لاندي وي، دغه کار به په حقیقت کي اخلاقي او فرهنګي بدلونونه رامنځته کړي، څرنګه چي لویدیځ فرهنګ د بد چلنۍ او فحاشۍ مجموعه ده، نو تر ټولو بد اغیز به یې اخلاقي بې لاري وي، بد چلني به په ټولنه کي عامه سي او بدعمله خلګ به د خپل مال او دولت په زور څه چي یې زړه غواړي کوي به یې، حکومتونه به په دې معنا چي پانګه اچونه زیاته سي، د دوی ملاتړ کوي، عزت پلورنه به په ټولنه کي یوه عادي خبره وي، ځکه چي دا به هم د سرمایې د لاسته راوړني یوه لاره وي، پانګوال حکومتونه به د جنسي صنعت په نوم ددې کاروبار کلک ملاتړ کوي، پر اسلامي نړۍ به د نړیوالتوب لومړی اثر دا وي چي په ټولنه کي به حیاء له منځه ولاړه سي او فسادونه به زیات سي.

۳: نړیوالتوب د مزدورانو او کارګرانو په تاوان دی، زیاتره پانګه اچونه په پرمختللو هیوادونو کي کیږي او په وروسته پاته هیوادونو کي ډیره کمه پانګه اچونه کیږي، ګڼ ملتیزي یا بین المللي کمپنۍ د وروسته پاته هیوادونو ګارګرانو ته د شتمنو هیوادونو د ګارګرانو په پرتله ډیره کمه حق الزحمه ورکوي، په دې ډول نړیوالتوب په هماغه ځایونو کي ډیري لاس وهني کوي، په کوم ځای کي چي د آسانتیاوو اړتیا زیاته وي، اوس بین المللي کمپینو یوه بله لاره خپله کړې ده، چي بعضي صنعتي تولیدي پروژې یې دریيمي نړۍ ته رانقل کړي دي، چیري چي اُجرت ډیر کم دی او په کمه مزدورۍ باندي د تولید لګښت ډیر کم وي، نو دغسي پانګه وال په نړیوال بازار کي ډیره ګټه کوي او د سیالۍ په ډګر کي مخکي ځي، که څه هم په دې ډول د پرمختللو هیوادونو کارګران بې برخي کیږي، مګر په بدل کي یې حکومت هغوی ته ډیري آسانتیاوي برابروي.

۴: نړیوالتوب د غریب او مالدار تر منځ توپیر زیاتوي، د اقتصادي پرمختګ د څېړونکو د نظره د تیرو یوسلو پنځوس (۱۵۰) کلونو په پرتله په تیرو دیرشو (۳۰) کلونو کي د مالدار او غریب تر منځ ډیر توپیر رامنځته سوی دی او د نړیوالتوب د امله لاپسي زیاتیږي، ځکه چي د دولت د راغونډولو او پانګي اچولو کومي آسانتیاوي او لاري چاري چي اوس مهال سته پخوا نه وې موجودي.

۵: نړیوالتوب د ملتیزو حکومتونو لپاره یو خطر دی، د نړیوالتوب منتظمین او د نړیوالو مالي ادارو چلوونکي، چي د شتمنو او پرمختللو هیوادونو څخه وي، خپلي پالیسۍ جبراً پر ملتیزو حکومتونو باندي مسلطوي، چي زیاتره دغه پالیسی د حکومتونو او عامو خلګو په تاوان وي، دوی داسي وسیلي په لاس کي لري چي حکومتونه یې پر وړاندي انکار نه سي کولای، نړیوال تجارتي او غاصب نظام خپلي پالیسۍ د بډو او ډول ډول نورو درغلیو په وسیله نافذوي، دغه پالیسۍ ځیني وخت د ملت د ځان وژني په معنا وي، مګر بیا هم حکومتونه یې د خپلي مفاد پرستۍ له وجهي خپلوي، واکمنان یې خپله برخه د بډو په شکل تر لاسه کړي او نور خپله لار وهي، مګر ملتونه یې د پورونو په جال کي داسي ښکیل سي، چي ان خپله آزادي هم د لاسه ورکړي.

۶: نړیوالتوب ګڼ ملتیزي کمپنۍ قوي کوي، د بعضو ګڼ ملتیزو کمپنیو بودیجه او ګټه د ځینو ملتیزو حکومتونو څخه هم لوړه وي، که دوی وغواړي چي یو حکومت راوپرځوي، یا یو هیواد ته تاوان ور واړوي نو توان یې لري، نړیوالتوب په حقیقت کي د همدغو کمپنیو یوه لوبه ده، چي د دوی د لاقوي کولو لپاره یې رامنځته کړي.

۷: نړیوالتوب یو پوځي خطر څنګه چي نړیوالتوب د یو قطبي وضعي پایله ده، نو ددې د پالیسیو نه منونکي هیوادونه د لویو قوتونو د پوځي حملي د خطر سره مخ دي، لویو قوتونو وار دمخه د ګوزار کولو کړنلاره خپله کړې ده، چي د امله یې د ملتونو او هیوادونو واکمنۍ تر سخت خطر لاندي دي، پر عراق حمله د فلسطین او چیچنیا د یرغلونو یوه نوې بېلګه ده، پر فلسطین وحشیانه حملې هیڅا ونه غندلې، او د نړیوالو چوپه خوله پاته کیدل د یرغلګر هیواد د لا ډاډ سبب سو، یوازي یو څو هیوادونه کولای سي د تباهۍ خپرونکي وسلې جوړي کړي بل هیڅ هیواد دا حق نه لري، که یې جوړي کړي، نو یرغل به پر وسي، لکه د عراق پر اټومي بټیو چي اسرائیلو د غرب په اشاره حمله وکړه، د ۱۹۸۰م کال په مني کي د اسرائیلو د دوو جنګي الوتکو له خوا په بغداد کي د تموز پر اټومي تحقیقاتي مرکز باندي د میزایلو حملې وکړې، چي پر دې جنګي الوتکو د ایران د هوایي ځواک نښي وې، چي موساد د عراق په سترګو کي د خاورو اچولو کوښښ کوی. همدارنګه ددې څخه یو کال مخکي د موساد جاسوسانو د عراق د اټومي پرورګرام په هکله مکمل معلومات تر لاسه کړي وه، او ټولي اټومي بټۍ یې په نښه کړي وې، نو اسرائیلو ته یې معلومات ورکړل او د پوره چمتوالي وروسته یې د (F 16) پنځلسو الوتکو چي د ساتني لپاره (F 15) الوتکي ورسره را رواني وې او د دجلي سیند له پاسه په ډیره ټیټه ارتفاع راغلې، د بغداد د اټومي تنصیباتو څخه یې دوره ووهله او بیا یې پر اټومي بټیو شدیده بمباري وکړه، پر اټومي تنصیباتو دا لومړنۍ هوایي حمله وه، ددې کامیابي حملې په نتیجه کي داسي معلومیده، چي دې پیلوټانو ته څومره په دقت سره اهداف ښوول سوي وه، د هوایي ځواکونو قومندان جنرال ډیوډ ایوري په افتخار سره داسي دعوه کوله، ویل: هر بم په خپل هدف باندي په دقت سره موښتی دی.

دا ری ایکترونه چي د اسرائیلو له خوا د امریکا په اشاره بمبارد سول، په نړدې درو (۳) میاشتو کي فعالیدونکي وه، نو ځکه دوی ضرور وګڼله چي باید مخکي د فعالیدو په نښه سي او له منځه یو وړل سي، او د عربي نړۍ په زړه کي کوم اټومي قوت پیدا نه سي، تر څو د غرب ګټو او اسرائیلو ته سرخوږۍ جوړ نه سي، همدارنګه ایران او شمالي کوریا ته چي امریکا هر وخت ګواښونه کوي او اقتصادي بندیزونه پر لګوي، د طاقت توازن همیشه د زورور پر خوا ساتل د نړیوالتوب یوه خطرناکه پایله ده، او ددې وضعي تاوان اسلامي نړۍ ته رسیږي، د اسلامي نړۍ مشرتابه بې پرواهي ښوولې ده، خپل خلګ یې بې برخي ساتلي دي او د نړیوالو غاصبینو پالیسۍ یې پر مسلطي کړي دي، د هیواد ټول وسایل یې لویدیځ ته انتقال کړي، د خپلو خلګو پر ځای یې د نړیوالو پانګوالو او نړیوالو غاصبانو سره اړیکي ساتلي دي، اوس یې حال داسي دی چي غاصبانو ورته سترګي بدلي کړي دي.

نو د بې وسۍ څخه د همدوی پښو ته غورځیږي، مګر د خپلو خلګو سره خواخوږۍ ته آماده نه دي، دغه مشرتابه د خپل غفلت له وجهي خپله راتلونکي هم په اوبو لاهو کړه، او خپل خلګ یې هم د تباهۍ کندي ته ټیل وهل، دغه مشرتابه بیله دې چي د نړیوال نظام لوري وپیژني په خپلو مزو او چړچو کي ډوب وو، نه یې د هیواد صنعت پر پښو ودراوه، نه یې اقتصادي نظام پیاوړی کړ او نه هم په پوځي ډګر کي پیاوړي او خپلواکه سول، پایله یې دا سوه چي اسلامي نړي د پوځي نظره بې لاسو او بې پښو، د اقتصادي نظره کمزورې د سیاسي نظره پر پښو نه ولاړ او په ټولنیز ډول د ګډوډیو ښکار ده، اسلامي نړۍ که د محکومیت ښکار کیږي، نو دا به د مشرتابه د ناپوهۍ، نااهلۍ، خودغرضۍ او بدنیتۍ د امله وي، د نړیوال استعمار د ارادو څخه جوتیږي، چي هغوی اوس د هر ډول مقاومت له منځه وړلو هوډ کړی دی، خبره یوازي د ماتي ورکولو نه ده، هدف د ملتونو د شتون له منځه وړل او غلامۍ ته مجبورول دي.

مخکي تر دې چي د اسلام نړیوالتوب او نړیوال کیدل د غربي نړیوالتوب سره پرتله کړو، باید په دلایلو سره روښانه کړو، چي اسلام یو نړیوال دین دی، د نړیوالتوب په اړه مو کافي معلومات وړاندي کړل، مهم اړخونه یې په ګوته سول، که څه هم غربیان د پردې تر شا نړیوالتوب د اسلام د بدیل په شکل وړاندي کوي، مګر ظاهراً د اسلام په اړه هر راز پروپاګند کوي، چي دا یو نړیوال دین نه دی، په اوس وخت او شرایطو کي د تطبیق وړ نه دی، اوس د اسلام د نړیوالتوب په هکله دلایل ذکر کوو، د اسلام نړیوالتوب یو حقیقت او قطعي خبره ده، چي مسلمانان په دې اړه هیڅ شک، تردد او اختلاف نه لري، اسلام په خپل ذات کي یو نړیوال دین دی، چي د هغه پیغام، هدایت او د ټولو انسانانو نجات په هره زمانه کي او د هر نسل لپاره د تطبیق وړ دی، په دې اړه چي اسلام یو نړیوال دین دی، لومړی د قرآن کریم چي ددې دین قانون او د اسلامي شریعت لومړنی مصدر دی، دلایل وړاندي کوو، چي د نړیوالتوب په هکله اشاره په کښي سوې ده.

۱: حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د ټول بشریت لپاره رالیږل سوی دی، چي الله سبحانه وتعالی فرمایي: (قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا). ژباړه: ووایه (اې محمده!) اې خلکو بیشکه زه د الله رسول یم تاسي ټولو ته (نه بعضو ته لکه نور انبیاء). (سورت الاعراف ـ آیت ۱۵۸)

۲: قرآن کریم د ټولو انسانانو لپاره نازل سوی دی، الله (جل جلاله) فرمایي: (وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ). ژباړه: او حال دا دی چي نه دی دا (قران) مګر خو پند دی د ټولو عالمیانو لره. (سورت القلم ـ آیت۵۲)

۳: د ژوند ټولو اړخونو ته د اسلام کامله توجه او د خلکو ټول مشکلات یې حل کړي دي. الله سبحانه وتعالی فرمایي: (مَا فَرَّطْنَا فِى الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ). ژباړه: نه دی پرې ایښی موږ په کتاب (لوح محفوظ) کښي هیڅ شی. (سورت الانعام ـ آیت ۳۸)

۴: نور هغه آیتونه چي د اسلام پر جامعیت او کاملتوب دلالت کوي او د الله سبحانه وتعالی په نزد یوازینی مقبول او خوښ دین اسلام دی: (اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الْاِسْلَامُ). ژباړه: بیشکه! دین په نزد د الله د اسلام دی (یعني محمدي شریعت). (سورت العمران ـ آیت ۱۹)

په پورتنیو قرآني آیتونو کي د اسلام نړیوالتوب څرګند معلومیږي، د نړۍ ټولو خلکو ته د قرآن کریم خطاب د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نړیوال رسالت د اسلام پر نړیوالتوب شاهدي ورکوي، په دې اړه چي اسلام یو نړیوال دین دی، قوانین او تعلیمات یې د نړیوال کیدلو غوښتنه کوي، همدا دلایل کفایت کوي، همدارنګه نړیوالتوب غواړي پر نړۍ تحریف سوی او منسوخ سوی مسیحي دین ومني، مګر ټول ادیان اسلام منسوخ کړي دي او اسلام ټولو ته خطاب کړی دی، چي باید اسلام قبول کړي.

همدارنګه نبوي سیرت شاهدي ورکوي: اسلام نړیوال دین دی، او نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) اُمت ته تعلیم ورکوي، چي اسلام باید پر ټوله نړۍ باندي حاکم سي، نو ځکه یې د نړۍ د مختلفو برخو سترو شاهانو ته لیکونه لیږل، تر څو اسلام ته یې دعوت کړي.

د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په زمانه کي نړۍ د دوو (۲) سترو امپراتوريو په لاس کي وه، چي يوه د روم امپراطوري وه، او بله د فارس، دې دواړو ته رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د خپلو استازو په لاس ليکونه وليږل، چي جزئيات يې په لاندي ډول دي:

د روم پاچا قيصر ته د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ليک: د الله د رسول محمد د لوري د روم پاچا قيصر ته! سلام دي وي پر هغه چا چي د هدايت متابعت کوي، وروسته تر دې اسلام راوړه سالم به پاته سې! او اسلام راوړه الله سبحانه وتعالى به دوه ځلي اجر درکړي او که دي مخ وګرځاوه، نو د دهقانانو ګناه هم ستا پر غاړه ده.

همدارنګه يې د فارس يعني اوسني ايران پاچا ته ليک واستوى: د الله د رسول محمد د لوري د فارس پاچا کسراى ته! سلام دي وي پر هغه چا چي د هدايت متابعت کوي، ايمان راوړه پر الله او د هغه په رسول او شاهدي ووايه: چي نسته لايق د عبادت ماسيوا د الله څخه او هغه واحد ذات دى، شريک نه لري، محمد د هغه بنده او رسول دى، زه تا ته د الله په دعوت سره دعوت درکوم او زه د الله رسول يم را ليږل سوى يم، ټولو خلګو ته تر څو هغه څوک وبيروم چي ژوندي دي او حجت قايم سي پر کافرانو باندي، اسلام راوړه روغ به پاته سې او که دي انکار وکړ، نو د مجوسو ګناه هم ستاسي پر غاړه ده.

همدارنګه يې د مصر، حبشې، يمن، عمان، اردن او نورو... هيوادو پاچاهانو ته د اسلامي دعوت پيغامونه ليږلي وه.

په اسلام کي هر اړخيزه مساوات او برابري

د انسانانو تر منځ د مطلق مساوات او هر اړخيزي برابرۍ تهداب اسلام ايښی دی، په دې اړه د اسلام په زرين تاريخ کي ډيري بيلګي سته، چي د نمونې په شکل يې څو دانې وړاندي کوم:

په ټوله نړۍ کي همدارنګه په جزيرة العرب کي د غلامانو طبقه د آزادو او اصيلو خلګو څخه يوه جلا ډله وه، چي ددې دواړو طبقو تر منځ ډير فرق موجود وو، مګر رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خپله د عمه لور زينب بنت جحش (رضي الله عنها) چي د هاشمي کورنۍ څخه وه، خپل غلام زيد بن حارثه (رضي الله عنه) ته په نکاح کړه او د نکاح مسئله ډيره حساسه ده، چي مساوات او کفاءت ته ډير دقيق نظر په کښي کيږي، مګر هيڅا بيله رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او هيڅ قوت بيله ددې دين د قوته نه سوای کولای، دا معجزه چي تر اوسه پر غيري اسلامي هيوادونو هم نه ده عملي سوې، عملي کړی.

په هغه ورځ چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د هجرت په لومړيو کي د مهاجرو او انصارو تر منځ د ورورګلوۍ تړون رامنځته کړ، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) اکا حضرت حمزه (رضي الله عنه) او غلام يې حضرت زيد ابن حارثه (رضي الله عنه) دوه ورونه وه، حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) او خارجه بن زيد (رضي الله عنه) دوه ورونه وه، همدارنګه حضرت بلال (رضي الله عنه) او حضرت خالد بن رويحه (رضي الله عنه) هم دوه ورونه وه، البته دا ورورولي يوازي په الفاظو او خبرو سره نه وه، بلکي د ژوند پيوند او رابطه وه، چي د وينو د پيوند برابره ده، لکه د خپلوانو خپلوي په ځان، مال او د ژوند په ټولو اسبابو کي.

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خپل غلام زيد بن حارثه (رضي الله عنه) د موته په جنګ کي د اسلامي لښکر امير ټاکي، چي په دې لښکر کي حضرت جعفر بن ابي طالب (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ګران د اکا زوی او د اسلام نوميالی سالار حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) هم موجود وو، هغه وروسته د حضرت زيد (رضي الله عنه) زوی حضرت اسامه (رضي الله عنه) د هغه لښکر امير ټاکي، چي د مهاجرو او انصارو مخور مشران لکه: حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضي الله عنهم)، چي وروسته د اسلام خليفه ګان سول، ددې لښکر عسکر وه، د هغوی په منځ کي سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) هم وو، چي د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د خپلوانو څخه وو، او د لومړيو اسلام راوړونکو څخه وو، کله چي هغه اسلام راووړ اوولس (۱۷) کلن وو، د مال، نعمت او جنګ قدرت لرونکی وو، کله چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفات سو او حضرت ابوبکر (رضي الله عنه) ټينګار وکړی، چي بايد د حضرت اسامه (رضي الله عنه) لښکر د هدف پر لور ولاړ سي، د لښکر قومندان هماغه وو چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) انتخاب کړی وو، اوولس (۱۷) کلن اسامه بن زيد (رضي الله عنه)، کله چي د حضرت اسامه (رضي الله عنه) لښکر د مديني منورې څخه حرکت کوي د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خليفه حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) د حضرت اسامه (رضي الله عنه) د لښکر سره د بدرګې په ډول د مديني منورې تر دروازې ورسره ولاړی، په داسي حال کي چي حضرت اسامه بن زيد (رضي الله عنه) پر آس سپور او د مسلمانانو خليفه حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) پياده ورسره روان وو، حضرت اسامه (رضي الله عنه) چي کشر هلک او پر آس سپور وو، او حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) سپين ږيری سړی وو، په پښو

روان وو، حضرت اسامه (رضي الله عنه) وشرميدى او حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ته يې وويل: تاسو هم پر آس سپور سی، يا زه هم کښته کيږم! مګر ابوبکر صديق (رضي الله عنه) هغه ته قسم ورکړ: نه په خدای قسم نه به ته تاکيږې او نه به زه سپريږم، څه به وسي چي زه يو ساعت خپل قدمونه د الله سبحانه وتعالی په لار کي ګردجن کړم. بيا حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) فکر کوي، چي حضرت عمر (رضي الله عنه) ته چي ده ته يې اول د بيعت لاس ور وړاندي کړی وو، او دی يې خليفه ټاکلی وو، اړتيا لري، مګر هغه د اسامه (رضي الله عنه) په لښکر کي يو عسکر دی، اسامه (رضي الله عنه) د لښکر امير دی، نو بايد د هغه څخه د حضرت عمر (رضي الله عنه) د پاته کيدو اجازه واخلي، نو حضرت اسامه (رضي الله عنه) ته يې وويل: که دي خوښه وي د حضرت عمر (رضي الله عنه) په پاته کيدلو کي زما سره کومک وکړه! يا الله دا څومره عجيبه او خوندوره جمله ده؟. که دي خوښه وي د حضرت عمر (رضي الله عنه) په پاته کيدلو زما سر کومک وکړه. په ريښتيا چي يوه ډيره ستره نمونه ده، چي د نړۍ هيڅ خبره او شرحه نه ور رسيږي.

دا سلمان فارسي (رضي الله عنه) وو، چي د يو مذهبي مشر زوی وو، د فارس د يوه کلي اوسيدونکی وو، د يوې غلامۍ څخه بلي غلامۍ او د يوه مصيبت څخه د بل مصيبت په ليدو تر مديني منورې را رسيږي او اسلام قبلوي، هغه ته وګورئ چي د خپل قوم د عظيم الشان پايتخت حاکم کيږي، پرون چي د کوم رعيت يو غړی وو، نن د هغه هيواد حکمران کيږي او تر دې حيرانوونکي خبره لا دا ده، چي په زهد او تقوا کي يې هيڅ فرق نه راځي، خلګ يې په داسي حال کيويني، چي په يوه کوډله کي اوسيږي او ټول بارونه په خپل سر پورته کوي، حضرت عمر (رضي الله عنه) چي وفات کيږي، نو وايي: که چيري په دې دوو کي يو ژوندی وای، ما به د مسلمانانو خليفه ټاکلی وای، د ابو حذيفه غلام حضرت سالم (رضي الله عنه) يا حضرت ابوعبيده ابن الجراح (رضي الله عنه)، نو دا سالم دی چي يو غلام وو، مګر حضرت عمر (رضي الله عنه) يې د خلافت وړ ګڼي.

د زماني سترګو ددې مساوات منظر هم وليد، چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مکې د فتحي په وخت کي حضرت بلال حبشي (رضي الله عنه) ته حکم کوي: د حق د اعلان په خاطر د کعبې بام ته وخيږه آذان وکړه. د غور او فکر خبره ده کعبه د الله سبحانه وتعالی هغه کور دی، چي هغې ته په جاهليت کي هم د مقدس حرم مرتبه ورکړل سوې وه، او په اسلام کي هم د قبلې جوړيدلو مقام ورکړل سوی دی، مګر موږ ګورو چي يو حبشي مريی د هغې بام ته خيژي او دغه سپيڅلی مقام تر پښو لاندي کوي، هغه بلال چي څو کاله مخکي په همدې مکه کي د اميه بن خلف غلام وو، هر ډول ظلمونه پر کيدل او د هغوی سره د يو ځای کښينستو، خبرو کولو او ډوډۍ خوړلو فکر يې هم نه سوای کولای، مګر نن هغه بلال ته اسلام دومره عزت او عظمت ورکړی، چي د کعبې بام ته خيژي او خلګو ته د اسلام اعلان کوي، دا يو داسي مثال دی چي د هغه په هکله اوسنۍ مهذبه نړۍ تصور هم نه سي کولای، د حضرت بلال حبشي (رضي الله عنه) کعبې ته ختل په حقيقت کي ددې خبري اعلان وو، چي انسان ته د کائيناتو پر هر شي باندي فضليت او لوړتيا ورکړل سوې ده، او انسان په خپل علم، په خپلو نيکو اخلاقو او په خپل عقل د دغه عزت او تکريم وړ ګرځي، نه په خپله غوښه، پوستکي يا رنګ او نسل باندي.

د مثال په ډول: په امریکا کي د سپین پوستو او تور پوستو لاري او هر څه جلا دي، مګر اسلام څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله مخکي مساوات په عملي ډګر کي ښوولي دي، د امریکا په متحده ایالاتو کي د قانون په حکم غلامي او مریيتوب هلته لغوه سوی دی، مګر وینو چي تور پوستي نه دا چي د سپین پوستي سره د واده حق نه لري، بلکي تر ننه پوري تور پوستی دا حق نه لري، چي د سپن پوستو میله ځایونو او پارکونو ته داخل سي، یا په موټرونو او بسونو کي د سپین پوستو تر څنګ کښيني، د سپین پوستو مجلسو ته د هغوی ننوتل ممنوع دي.

بې ساري مينه، اطاعت او قرباني

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چي کله د احد د غزا وروسته شهيدان ښخ کړل، دعا يې ورته وکړه، او د مدينې منورې په طرف روان سو، د نارينه وو د مينې او قربانيو د ليدلو سربيره د مسلمانو ښځو د مينې او ښه راغلاست سره هم مخ سو، د بني نجار قبيلې د يوې ښځې سره مخ سو، چي ميړه، ورور او پلار يې درې (۳) سره شهيدان سوي وه، کله چي د هغې ځخه د غم زغملو هيله وسوه، نو ويې ويل: دا راته وواياست، چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څنګه دی؟ ورته وويل سوه: د فلانې موري الحمدالله لکه ته چي په خوشحاله کيږې، هغسي روغ جوړ دی، هغې وويل: کومه دی راته ويې ښه ياست، چي زه يې ووينم؟ يو چا اشاره ورته وکړه، ويل: هغه دی، کله چي يې پر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سترګي ولګيدې ويې ويل: ته چي ژوندی يې نور ټول غمونه هيڅ دي.

د مکې مکرمې مشرکينو چي کله حضرت خبيب (رضي الله عنه) د دار تختې ته راوستی، نو ابو سفيان ورته وويل: آيا دا خوښوې چي محمد دلته ستا په بدل کي ووژنو، او ته د خپلو کوچنيانو سره روغ رمټ وای؟ حضرت خبيب (رضي الله عنه) ورته وويل: نه قسم په خدای دا لا څه چي زه دا هم نه خوښوم، چي زه دي کور ته ولاړ سم او هغه ته دي ستاسي له خوا کوچنۍ تکليف ورسيږي. ابو سفيان ملګرو ته وويل: هيڅکله مي داسي خلک نه دي ليدلي چي د يو چا سره يې داسي محبت وي، لکه د محمد د ملګرو چي د محمد سره دی.

ابو سفيان چي کله مدينې منورې ته د حديبې د تړون د نوي کولو لپاره ولاړ، نو سيده د خپلي لور ام حبيبې کور ته ورغلی، کله چي ابوسفيان د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د ناستې ځای ته ورکښېنته سو، تر څو هلته کښېني، لور يې په بيړه هوار سوی فرش راټول کړ، ابوسفيان لور ته وويل: لوري! دا فرش بې کاره دی او زما وړ دي ونه ګڼی؟ او که زه دي ددې وړ ونه بللم چي پر کښېنم؟ لور يې جواب ورکړ: دا د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پاک فرش دی، ته ناپاکه مشرک سړی يې، ابو سفيان ورته وويل: سوګند په الله چي زما څخه وروسته تاسي د شر سره مخ سوي ياست.

د اطاعت او فرمانبرداري يو غوره مثال دا هم دی: کله چي درې (۳) کسان د تبوک د غزا څخه پاته سوي وه، او څه عذر يې هم نه درلود، کله چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) بيرته د غزا څخه راغلی، نو خلک يې د هغو درو (۳) کسانو سره د خبرو کولو څخه منع کړل، هيچا هم خبري نه ورسره کولې او مدينه منوره د هغوی لپاره د چوپتيا په ښار بدله سوه، نه د هغوی سره خبري کوونکي وه، او نه جواب ورکوونکي، ددې درو (۳) کسانو څخه يو يې حضرت کعب بن مالک (رضي الله عنه) وو، حضرت کعب بن مالک (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زموږ درو (۳) کسانو سره خبري کول بند کړل، خلګو زموږ څخه کرکه کوله او نظرونه يې بدل سول، مدينه منوره زموږ لپاره ګونګه سوه، بلکي نړۍ راته ګونګه ښکارې ده، تر دې پوري چي پر ما د الله سبحانه وتعالی پراخه مځکه تنګه سوه، ګواکي دا هغه مځکه نه وه، چي ما پيژندله تر دې پوري چي د خلګو زما سره مينه بيخي ورکه سوه، زما دواړه ملګري پر کور کښېنستل، مګر زه د قوم يو تکړه کس وم، زه به ګرځيدم د مسلمانانو سره به مي په لمانځه کي اشتراک کوی، بازار ته به تلم، مګر هيچا خبري نه راسره کولې.

تر دې پورې چې يوه ورځ د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) مجلس ته راغلم، سلام مې ووايه، او د ځان سره مې وويل: آيا د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) شونډې به د سلام په جواب سره ماته وښوريږي؟ بيا هلته نږدې پر لمانځه ودريدم او په غلا به مې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) طرف ته کتل چې ماته ګوري او که يا؟ مګر کله چې به ما ورته وکتل رسول الله (صلى الله عليه وسلم) به مخ واړاوه او کله چې به مې د سترګو د کونجونو ورته کتل، نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) به راته کتل، په دې به هم زه خوشاله وم، چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) خو پټ پټ راته ګوري، دا وخت پسې اوږد سو، يوه ورځ زه د حضرت ابو قتادة (رضي الله عنه) د باغ پر ديوال وختم او باغ ته ور کښته سوم، حضرت ابو قتادة (رضي الله عنه) زما ګران د اکا زوی او زه تر هر چا پر ګران وم، ما سلام ورته ووايه، په خدای چې هغه هم جواب را نه کړ، نو ما ورته وويل: اې ابوقتادة! زه تاته په خدای قسم درکوم، ښنګه ته پوهيږې، چې زه د الله سبحانه وتعالى او د هغه د رسول (صلى الله عليه وسلم) سره مينه لرم، هغه غلی وو، ما تر اوږو ونيوی، ومې ښوروی، بيا مې قسم ورکړ، مګر هغه همداسې چوپ وو، ما پر له پسې ورته ويل او سوګند مې ورکوی، نو هغه دومره وويل: الله سبحانه وتعالى او رسول (صلى الله عليه وسلم) يې ښه پوهيږي.

حضرت کعب بن مالک (رضي الله عنه) وايي: زما سترګې ډکې سوې، بيرته را وګرځيدم، پر ديوال را واوښتم او راغلم، په دې سبا ورځ بازار ته ولاړم، د مدينې منورې په بازار کې روان وم، چې د هغو شاميانو څخه چې په مدينه منوره کې يې غله خرڅوله يوه وويل: کعب بن مالک ته يوه خبره کوم، ددې خبرې په اوريدو سره خلګو زما په لور اشاره ورته وکړه، شامي ماته را نږدې سو او د غسان د پادشا يو ليک يې راکړ، زه لوستونکی او ليکوونکی وم، ما هغه ولوست ليکلي يې وه: موږ خبر سوي يو چې ستاسې سردار ستاسې سره د خبرو نه کولو پريکړه کړې ده، الله سبحانه وتعالى که ته د ذلت لپاره نه يې پيدا کړی، نو موږ ته راسه موږ به دې ډير خيال ساتو.

حضرت کعب بن مالک (رضي الله عنه) وايي: ما چې ليک ولوست، نو ومې ويل: دا يوه نوې آزموينه ده، ولاړم ليک مې په تناره کې وسوځوی، ددې پنځوسو (۵۰) ورځو د جريان څخه چې څلويښت (۴۰) يې پوره سوې، موږ په دې ژور خپګان کې ډوب وو، چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) استازی راواستوی، را ته ويې ويل: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) تاسو ته حکم کوي چې د خپلو ښځو څخه جلا اوسې، ما ورته وويل: آيا طلاق ورکړو که ښنګه؟ هغه قاصد وويل: نه! بلکې جلا اوسې، مه ور نږدې کيږئ، نو ما خپلې ښځې ته وويل: ځه د پلار کره ولاړه سه او هلته اوسه، تر څو الله سبحانه وتعالى زموږ په باب څه فيصله وکړي.

دا د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) آمر وو، چې ددې درو (۳) کسانو سره بايد خبرې ونه سي، نو په مدينه منوره کې داسې څوک پيدا نه سول، چې په پنځوسو (۵۰) ورځو کې ددې کسانو سره يوه خبره هم وکړي، دا دی د اطاعت او مينې ستر مثال چې د پنځوسو (۵۰) ورځو وروسته ددې درو (۳) کسانو توبه الله (جل جلاله) قبوله کړه.

حضرت عمر (رضي الله عنه) چې د جاهلیت په وخت کې یې د خپل پلار خطاب بزې څرولې، پلار یې همیشه دی تر خپل لاس لاندې ساته، په قوت او عزم کې د قریشو د منځنیو خلګو څخه وو، لږ شان امتیاز یې هم نه درلودی، همزولو یې هیڅ امتیاز نه ورکوی، هماغه عمر وو، چې یو وار یې ګرده نړۍ خپل عظمت او صلاحیت ته حیرانه کړه، کسرا او قیصر یې د تاج او تخت څخه بې برخې کړل او د داسې اسلامي حکومت بنسټ یې کېښېنود، چې یو مهال پر دغو دواړو لویو حکومتونو لاس بری وو، د غوره تنظیم له مخې یې پر هغوی غوره والی درلودی، تواضع، تقوا او عدالت خو یې لا پرېږده، چې په هغو کې خو ضرب المثل دی.

د ولید زوی حضرت خالد (رضي الله عنه) د قریشو په حوصله مندو ځوانانو کې یو وو، په خپل منځې شخړو کې یې شهرت پیدا کړی وو، د قریشو سردار په قبایلي جنګونو کې مرسته ځيني غوښته، په جزیرة العرب کې لا لوړ شهرت ته نه وو رسیدلی، چې ناڅاپه الهي توره (سيف من سيوف الله) سو، څه چې یې مخته ورتلل پرې کول یې، سیف الله خالد (رضي الله عنه) په خپله وایي: د موته د غزا په ورځ زما په لاس کې نهه (۹) توري ماتي سوې، یوازې یمنۍ لنډکۍ توره وه، چې ملګرتیا یې راسره وکړه. همدغه الهي توره د برېښنا په څېر په روم ور پریوته او د تاریخ په اوږدو کې یې خپل یادونه پرېښوول.

د حضرت ابوعبیده (رضي الله عنه) د امانت او نرمۍ ستاینې کیدې، د مسلمانانو د کوچنیو لښکرو مشري یې کوله، هغه وګورئ چې د مسلمانانو د مشرۍ تر ټولو لوی بار پر غاړه اخلي، هرقل د شام د خړوبه هیواد څخه د تل لپاره باسي او شړي، هرقل چې د رخصتیدو پر وخت خپل هیواد ته ګوري او وایي: اې د شام هیواده! ستا څخه په رخصتیدو کې سلام، داسې سلام چې بیا به مو هیڅکله لیده کاته ونه سي. عمر ابن العاص چې د قریشو د پوه او زیرکو خلګو څخه شمیرل کیدی، قریش یې حبشې ته د سفیر په حیث لیږي، چې مسلمان مهاجرین را ستانه کړي، مګر دی په خپله پاته کیږي، هغه وګورئ تر مصره سوبې کوي او د ډیر واک ښښتن کیږي، په اسلامي تاریخ کې د مصر د فاتح په نامه شهرت پیدا کوي. حضرت سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) وو، چې د اسلام مخکې د هغه په باب نه د کومې لویې پوځې مشرۍ معلومات سته او نه د کومې جنګې پوهې شهرت لري، هغه وګورئ! د مداین کونجیاني تر لاسه کوي، ایران او عراق په اسلامي حکومت کې داخلوي او تل تر تله د عجمو د فاتح په نامه یادیږي.

دا ابوذر، مقداد، ابوالدرداء، عمار بن یاسر، معاذ بن جبل او ابی بن کعب (رضوان الله علیهم آجمعین) دي، چې د اسلام د غوره نامه سمبالښت کوي او د نړۍ په نامتو زاهدانو او عزتمندو عالمانو کې شمیرل کیږي. دا حضرت علي بن ابي طالب، حضرت عایشه، عبدالله ابن مسعود، زید بن ثابت او عبدالله بن عباس (رضي الله عنهم) دي، چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مبارکه غیږ کې وغوړیدل، د نړۍ په لویو او نوماندو عالمانو کې وشمیرل سول، چې د علم او پوهې ویالې ځیني بهیږي، حکمت یې پر ژبو جاري کیږي، بې تکلیفه د رښتیني زړه او ژوري علمي پوهې خبري کوي، چې د وخت ټول خلګ یې په یوه غوږ اوري او په وینا یې د نړۍ د مؤرخینو قلمونه په لیکلو شروع کوي، چې کومه کلمه ځيني ضایع نه سي.

د اسلام خصوصیات

اسلام داسي خصوصیات او ځانګړتیاوي لري، چي په بل هیڅ دین او بشري تګلاره کي نه موندل کیږي، چي دا د اسلام د دین لپاره تر ټولو ستر امتیاز دی، په لنډه توګه د اسلام څو ځانګړتیاوي ذکر کوو:

۱: د اسلام دین د الله سبحانه وتعالی له خوا څخه دی: د اسلام مصدر قرآن کریم او دا کتاب د الله سبحانه وتعالی د لوري پر خپل پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) نازل سوی دی او د بشریت لپاره قانون غوره کړل سوی دی. مخکي مو یادونه وکړه، چي قرآن کریم د الله سبحانه وتعالی له خوا څخه دی، د هر آیت څخه یې ځرګندیږي چي دغه کتاب او اسلام د الله سبحانه وتعالی له خوا څخه دي او پر خپل رسول محمد (صلی الله علیه وسلم) یې نازل کړی دی، د دغو آیتونو څخه ځیني یې دا دي:ـ الله سبحانه وتعالی فرمایي: (اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِی لَیْلَةِ الْقَدْرِ). ژباړه: بیشکه! موږ نازل کړی دی (قرآن) په شپه د قدر. (سورت القدر ـ آیت ۱)

همدارنګه نور هم زیات شمیر آیاتونه په دې اړه ګواهي ورکوي، مګر دا چي اسلام د الله سبحانه وتعالی د لوري څخه دی، پر دې څه نتیجه مرتب کیږي؟ دا چي اسلام د الله سبحانه وتعالی له خوا څخه دی دا مرتبیږي، چي کامل دی، د کمښت، ناپوهي، خواهش او ظلم چي د کمښت معناوي دي اسلام ځیني خالي دی، بله دا چي اسلام د الله سبحانه وتعالی له خوا څخه دی، دا پر مرتبیږي، چي اسلام د خپلو پیروانو په نظر کي د ډیر لوی هیبت او درناوي لاسته راوړونکی دی، انسانان احترام ورته لري، هر رقم حکمونو ته یې په هر ډول حالاتو کي غاړه ږدي، د شریعت اطاعت هم اختیاري دی، چي د نفس څخه رامنځته کیږي، پر ایمان باندي دریږي انسان نه باندي مجبوره کیږي، په دغه کار سره د اسلامي قانون د ښه تطبیق لپاره او د هغه څه څخه د وتلو د قدرت باوجود د نه وتلو ښه ضامن دی، مګر هغه وضعي قوانین چي د بشر په لاس جوړ سوي دي، په دومره اندازه هیبت او درناوی نه لري، ځکه دغه وضعي قوانین پر نفسونو باندي برلاستیا نه لري او د اسلام په څیر پر عقیده او ایمان نه دی ولاړ، نو ځکه انساني نفسونه د وضعي قوانینو د مخالفت جرأت کوي، په مادي نړۍ کي قوانین بدلیږي رابدلیږي، ځکه دا وضعي قوانین د خلګو د ټولو مصالحو ضمانت نه سي کولای، او اسلام خپل تشریعات د الله سبحانه وتعالی، د قیامت پر ورځ او پر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) باندي د ایمان لرلو په اساس ټاکلي دي، دا یې هم ټاکلي دي چي پر دغه شریعت باندي التزام او درناوی د ایمان د غوښتنو څخه ده.

ددې لپاره یو مثال راوړو تر څو ښه څرګنده سي، چي یوه معلومه پیښه اسلام په خپلي تشریع سره معالجه کړې ده، او اسلام په دې علاج کي بریالی سوی دی، مګر همدغه پیښه په همدغه شکل وضعي قوانینو معالجه کړې ده، خو په علاج کي یې ناکام سوی دی.

عرب د اسلام څخه مخکي په شرابو اخته وه، او ډیر محبت یې ورسره درلودی، د شرابو لوښي یې د اوبو د پیالو په څیر درلودل، کله چې اسلام د شرابو د حرام توب آمر د الله سبحانه وتعالی په دغه قول سره وکړ: (يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ). ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی بیشکه! هم دا خبره ده چې شراب او قمار او بتان او غشی پلیت دی له کار د شیطان څخه دی نو ځان وساتئ تاسي له دی څخه له پاره ددې چې نجات پیدا کړئ تاسي (په دې ځان ساتلو سره). (سورت المائده ـ آیت ۹۰)

د (فاجتنوه) کلمه داسي ځواک وو، چې د لښکر او پولیسو د ځواک څخه ډیر لوړ وو، او د هغه ځواک څخه لوړ وو، چې یو دولت یې د خپل آمر د پلي کولو لپاره استعمالوي، مسلمانان ولاړ سول د شرابو لوښي یې مات کړل، ځانونه یې د شرابو د څیښاک څخه داسي جلا کړل، چې سهار راکښینستل لکه شراب چې نه پیژني او پخوا یې څیښلي هم نه دي، دا ځکه چې (فاجتنبوه) د الله (جل جلاله) آمر دی او د الله (جل جلاله) د آمر شان دا دی چې درناوی او اطاعت یې باید وسي.

په شلمه (۲۰) پیړۍ کي امریکا وغوښتل چې خپل وطنوال د شرابو څخه بند کړي او شراب څیښل منع کړي، مګر مخکي تر دې چې د شرابو د ناروا توب او بندیدو قانون تصویب کړي، د دغه قانون د منلو لپاره یې د نفسونو د تیاري لپاره په پراخه توګه د تبلیغاتو لار برابره کړه، په دې اړوند یې د ټولو دولتي کفایت لرونکو وسایلو څخه مرسته وغوښتله د سینما، نندارتون، راډیو، د کتابونو خپرول، خپروني، د علماؤو، طبیبانو او ټولنیزو برخو کي تخصص لرونکو څخه یې کار واخیست، پر دغو تبلیغاتو یې دووشپیته (۶۲) میلیونه ډالر لګښت وکړی، د شرابو د زیانونو، پایلو او عواقبو په اړه نهه (۹) میلیونه مخونه ولیکل سول، د قانون د پلي کولو لپاره یې لس (۱۰) میلیونه ډالر ولګول، ددې پراخو تبلیغاتو او لګښتونو وروسته دولت د شرابو د ناروا توب قانون په ۱۹۳۰م کال تصویب او اعلان کړ، چې پر اساس یې د شرابو اخیستل، خرڅول، جوړول، صادرول او واردول منع کړل.

نو پایله څه سوه؟ اټکلونو داسي وښوول چې د قانونه د اعلان وروسته د دوو (۲) کالو په اوږدو کي سرغړونکي دوه سوه (۲۰۰) کسان ووژل سول، نیم میلیون کسان بندیان سول، مخالفین جریمه سول او د جریمو اندازه څلور (۴) میلیونه ډالرو ته ورسیده، د مخالفت د امله یې مالونه مصادره سول، چې اندازه یې زر (۱۰۰۰) میلیونه ډالره وه، اخیر یې پایله دا سوه: د امریکا حکومت د شرابو د نارواتوب قانون په ۱۹۳۳م کال کي بیرته لغوه اعلان کړ، هغه ګڼ شمیر تبلیغات چې دولت غوښتل ددې لاري یې هغه قاعده رامنځته کړي، چې د قانون، احترام او منل یې د وطنوالو پر نفسونو او روانونو کي ځای پر ځای سي، مګر بیا هم خلګو مخالفت وکړ، ان تر دې پوري چې حکومت یې د قانون لغوه کولو ته مجبوره کړ، ځکه دغه قانون پر نفسونو باندي برلاستیا نه درلوده، تر څو درناوی او اطاعت یې وسي، نو له همدې کبله ناکام سو.

مګر د (فاجتنبوه) هغه کلمه چې اسلام عربي نیمي وچې ته راوړه لویه اغیزه یې وکړه، ډیر ژر تطبیق سوه، شراب د خپلو خاوندانو له خوا چپه سول او ځانونه یې ځیني منع کړل، دا ټول د پولیس د ځواک او یا د څارونکي د ځواک د لاري نه، بلکي د ایمان او اسلامي شریعت ته د مسلمانانو د درناوي د ځواک د لاري ترسره سوه.

۲:ـ د اسلام شامل توب: اسلام د انساني ژوند ټولو برخو ته شامل نظام دی، او دا د سلام لپاره حقيقي ثابت صفت دی، چي د اسلام څخه بېلول يې روا نه دي، مګر په اسلام پسي د ناپوهي له وجهي دا خبره را منځته کيږي، اسلام د ژوند ټولو اړخونو ته شامل دی، استثنا او خاص توب نه قبلوي، د اسلام دغه شموليت د شامل توب د کلمې په ټولو معناوو سره دی، د بشري نظامونو خلاف، ځکه بشري نظامونه خاصه دايره لري، چي خپل اطراف منظموي او ددې دايرې پرته بل کار نه لري، نو په دغه اساس مسلمان ته روا نه دي، چي ووايي: دغه زما لاره ده او خپل کارونه په خپله خوښه د اسلام د نظام پرته پر مخ بيايم. امکان نه لري چي مسلمان داسي ووايي، ځکه اسلام د ده د سر څخه تر پښو پوري مشري کوي او د انسان څخه چي څه صادريږي اسلام خاص حکم په کښي لري، او همدارنګه اسلام په ټولو هغو شيانو کي حکم لري، چي انسان يې په فکري لحاظ خپله تګلاره ټاکي يا يې په زړه کي خيالونه راځي، نو په دې اساس مسلمان ته هيڅکله روا نه دي، چي پرته د اسلام څخه بل داسي نظام ته اجازه ورکړي، چي د ده د ژوندانه د اړخونو څخه يوازي يو اړخ منظم کړي، ځکه که مسلمان داسي کار وکړي، نو د الله سبحانه وتعالى د عذاب سره مخامخ کيږي.

۳: د اسلام عام توب: د اسلام د ځرګندو او اصيلو صفاتو څخه دا هم دی، چي اسلام د عام بشر لپاره راغلی او د دوی د يوې ټاکلي ډلي او يا د دوی د کوم خاص جنس لپاره نه دی راغلی، الله سبحانه وتعالى فرمايلي دي: (وَمَآ أَرْسَلْنَكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا). ژباړه: او نه يې ليږلی موږ ته مګر په دې حال کښي ټولو انسانانو ته زيرئ ورکوونکی او بيرونکی. (سورت سباء ـ آيت ۲۸)

د اسلام عام توب تر يوې ټاکلي زمانې او د بشر تر کوم خاص نسل پوري تړاو نه لري، اسلام چي په مکان کي عام دی، همدارنګه په زمان کي هم عام دی، نو له همدې کبله باقي پاته دی نه بدليږي او نه منسوخ کيږي، ځکه نسخ کوونکی بايد د نسخ سوي څخه قوي او ځواکمن وي، که نسخ کُلي وي يا جزئي او دا چي اسلام پخواني شريعتونه ختم کړي، حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د انبياوو او رسولانو (عليه السلام) اخيرين پيغمبر دی، دا معنا چي الهي شريعتونه ختم سوي او الهي وحي وروسته د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) څخه پر بل چا نه نازليږي، ځکه نو دا تصور نه سي کيدای، چي اسلام دي منسوخ سي، اسلامي شريعت پوره او کامل دی، ټول هغه څه يې پوره کړي دي، چي پخوانيو شريعتونو د ځان سره نه لرل او د پخوانيو شريعتونو تينګار يې کړی، د بل شريعت راتللو ته اړتيا نه ليدل کيږي، نو د دغه کمال او پوره توب سره د بل شريعت راتللو ته اړتيا نه ليدل کيږي، نه بل شريعت سته او نه بل نبي سته وروسته تر حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم).

د داسي عظمت يو مثال دي څوک وړاندي کړي!

د غم شريکۍ او مساوات په هکله د بشري تاريخ په نه هيريدونکو پيښنو کي يوه هغه پيښنه ده، چي حضرت عمر (رضي الله عنه) ته د خلافت په دوران کي يوه شپه پيښنه سوه، د ده دا خوی وو، چي د شپې له مخي به ګرځيدی او حالات به يې معلومول، په دې لړ کي يوه شپه د مديني منورې څخه ووتی او په يوه ژوره کنده کي روان وو، چي ناڅاپه يې ژړا تر غوږ سوه، او د ژړا دغه ږغ د داسي يوې خيمې څخه راتلی چي د هغې په دروازه کي يو سړی ولاړ وو، حضرت عمر (رضي الله عنه) هغه ته سلام واچوی او پوښتنه يې ځيني وکړه: هغه څوک دی؟ سړي ورته وويل: زه يو اطرافي سړی يم او دلته مديني منورې ته د اميرالمؤمنين څخه د مرستي غوښتلو لپاره راغلی يم. اميرالمؤمنين حضرت عمر (رضي الله عنه) پوښتنه ځيني وکړه: دغه ږغ څنګه او ولي رواځي؟ سړي حضرت عمر (رضي الله عنه) ته وويل: ځه وروره! خپله لار دي وهه، د کوم شي سره دي چي کار نه وي، د هغه لټونه مه کوه!

سړي خوار ته څه معلومه وه، چي دی د امير المؤمنين سره خبري کوي؟ حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) په خپله پوښتنه ټينګار وکړ، سړی مجبور سو او ورته يې وويل: زما ميرمن ده، د اولاد ناروغي يې ده، د هغې سره هيڅوک هم نسته، ددې خبري په اوريدلو حضرت عمر (رضي الله عنه) په تلوار خپل کور ته ولاړ او خپلي ميرمن ام کلثوم بنت علي (رضي الله عنها) ته يې وويل: آيا ته د هغه ثواب ګټلو سره مينه لرې، چي الله سبحانه وتعالی تاته تيار کړی دی؟ بي بي پوښتنه ځيني وکړه: هغه څه شی دی؟ حضرت عمر (رضي الله عنه) ټوله کيسه ورته وکړه او هغې ته يې وويل: که زما سره ولاړه سې او د ځان سره د نوي پيدا کيدونکي کوچني لپاره اغوستونکي او د اړتيا وړ ټول شيان ددې سره سره د خوړلو، څښلو شيان او غوړي هم د ځان سره واخلې، نو ډير ښه به وکړې، هغې هم ټول شيان را واخيستل، حضرت عمر (رضي الله عنه) ورسره واخيستل او خپله بي بي يې په ځان پسې رهي کړه، حضرت عمر (رضي الله عنه) خپلي بي بي ته وويل: دننه خيمې ته ولاړه سه او دی خپله د هغه سړي سره دباندي کښينستی، اور يې بل کړ او د هغوی د راوړو شيانو په پخولو يې پيل وکړ، خو تر اوسه دغه اطرفي سړي ته دا معلومه نه ده، چي دی د دنيا له يوه عظيم شخصيت سره ناست دی.

په همدې وخت کي کوچنی دننه په خيمه کي پيدا سو، ام کلثوم د خيمې څخه دننه ږغ وکړ: اميرالمؤمنينه خپل دوست ته د زوی د پيدايښت زيری او مبارکي ووايا‌ست، دغه اطرافي سړي چي کله د ام کلثوم دغه الفاظ واوريدل، نو پوه سو، چي ده خو څو شيبې مخکي اميرالمؤمنين ته ترخه خبره کړې وه او اوس د هغه سره ناست دی، پر ده باندي د بيري حالت راغلی، کرار د حضرت عمر (رضي الله عنه) د څنګه څخه ليري سو، حضرت عمر (رضي الله عنه) هغه ته وويل: بيريږه مه بې تکليفه کښينه! حضرت عمر (رضي الله عنه) په خپله کټو پخه کړه او ام کلثوم ته يې وويل: دا کټو در واخله او لنګي ښځي ته خواړه ورکړه، کله چي لنګه ښځي خواړه وخوړل او مړه سوه، نو هغه پاته يې د سړي مخته کښيښوول، حضرت عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: واخله وخوره ټوله شپه دي په ويښنه تيره کړه، تکليف دي وګالی او بيا يې وروسته ورته وويل: سبا ماته راسه زه به ستا د اړتياوو د پوره کولو فرمان صادر کړم، کله چي سبا دغه سړی د خلافت دربار ته ورغلی، نو حضرت عمر (رضي الله عنه) د ده کوچني زوی ته

ورځنۍ خرڅ مقرر کړ او ده ته يې هم ډېره بخششي ورکړه، دا د اميرلمؤمنين حضرت عمر (رضي الله عنه) د عظمتونو څخه يو ستر عظمت دی او دا زموږ د تهذيب يو روښانه اړخ دی، چې د حضرت عمر (رضي الله عنه) په څېر يو باديه نشين انسان يې د يو داسي شخصيت په صورت او قالب کي واچاوه، چې اوس هم هغه د بشري ټولني په نوميالیو وګړو کي د ټولو څخه هغه ډول لوړ مقام لري، لکه څنګه چې زموږ د تهذيب مقام د ټولو تهذيبونو د لړليک په سر کي ځای کړل سوی دی، زموږ د هر راز تهذيب او تمدن نمونې د تاريخ په اوږدو کي ليدلای سی، په شپږمه (۶) او اوومه (۷) هجري پيړۍ کي موږ داسي تهذيب او تمدن درلودی، چې د پاريس او نيويارک د يوويشتمي (۲۱) پيړۍ د تمدن سترګي بريښوي.

د بشري تاريخ د نوميالیو شخصيتونو د ژوند په صوانحو کي د پورتنۍ پيښي په څېر داسي څرګنده او د پاملرني وړ پيښه، چې د وروروليي د احساساتو څخه ډکه وي نه ده ليدل سوې، د اسلام ستر خليفه چې قيصر او کسرا يې تر قدم لاندي وه، ټوله شپه خوب او آرامتيا پرېږدي، د خلګو د حالاتو د معلومولو لپاره د کور څخه وځي، کله چې دی ويني، چې يوه ښځه د اولاد پيدا کيدو ناروغي لري، او هيڅوک هم د هغې سره د مرستي لپاره نسته، نو دی بيرته خپل کور ته راځي او خپله ميرمن د ځان سره بيايي، په خپله د خوراک څښناک شيان اخلي، ميرمن يې جامې او د اړتيا وړ نور شيان اخلي، په ټوره شپه کي دواړه د هغه سړي خيمې ته راځي د چا چې ميرمن ناروغه وه، هلته د حضرت عمر (رضي الله عنه) ميرمن چې زموږ په اصطلاح ملِکه ده د مينځي يا قابلې دنده ترسره کوي، په خپله حضرت عمر (رضي الله عنه) اشپزي کوي، اور پوکي، د اور لوګي يې د ږيري پورته خيږي او شيره پخوي.

آيا په بشري توکم کي داسي کوم لوړ مثال سته؟ چې هغه ته تر اوسه پوري د ټولي نړۍ د سلطنت کوم رئيس نه سي رسيدای.

د نړیوالتوب په وړاندي د اسلامي اُمت دنده

څنګه چي انسانان د مهمو مسائلو په وړاندي درې (۳) دریځونه اختیاروي، دوې (۲) نظریې د مسئلې دوه (۲) طرفه واقع کیږي، بله بیا د مابینځ او اعتدال لاره غوره کوي. د نړیوالتوب د قضیې پر وړاندي هم د افراط، تفریط او اعتدال نظریې شتون لري.

۱: اوله ډله خلګ د نړیوالتوب کلک ملاتړي دي، بیله کوم قید او شرطه په بشپړه توګه ورته تسلیم دي، دا کسان غربیان دي یا غرب پلوه شرقیان دي او همدوی د نړیوالتوب بلونکي او عملي کوونکي دي.

۲: دوهمه ډله بیا هغه مخالفان دي، چي په هیڅ صورت د نړیوالتوب سره مخامخ کیدل نه غواړي، بلکي ځان ځیني ګوښه کوي او هیڅ ځان نه په خبروي، نه د ټکر احساس ورسره کوي او نه یې خوښوي، مګر پر اسلامي اُمت چي نړیوالتوب حتمي عملي کیدونکی دی، د هغه په کیسه کي هم نه دی، د مخنیوي لپاره یې هیڅ تګلاره او احساس نه لري.

۳: دریمه ډله چي د اعتدال لاره خوښوي د دوی دریځ بیا داسي دی، چي دوی د نړیوالتوب د خطرناکو اړخونو په مقابل کي دریدل خپل مسؤلیت بولي او د ګټو څخه یې استفاده کوي، په خپل اسلامي هویت ویاړي، نړیوالو ته خپل دین رسوي خپله دنده ادا کوي، خپل اُمت، کلتور او تمدن تر ټولو لوړ بولي، د چا سره د مخامخ کیدو بیره نه لري، په پراخه سینه د نړۍ هر تاړاک ته جواب وایي، دا د ریښتینو اسلامپالو، وطنپالو او ملتپالو دریځ دی، چي پر خپل رب الله سبحانه وتعالی باور لري او پر اسلام د یو نړیوال دین په حیث عقیده لري.

دا واقعیت دی چي موږ د نړیوالتوب د جریان څخه د تیښتي لار نه لرو او داسي معلومیږي چي دا یو داسي تحمیل سوی سرنوشت دی، چي د شړلو توان یې نه لرو او د محاصرې څخه یې تیښته نه سو کولای، داسي هم نه سو کولای لکه څنګه چي ده هماغسي یې ومنو او هر څه ته یې غاړه کښیږدو، په پوره توګه ورته تسلیم سو، بلکي اړ یو چي موږ مسلمان هیوادونه او د مځکي پر سر ټول کمزوري سره متحد سوو، تر څو وکولای سو ددې نوي حملې او تیري پر وړاندي ځانونه وساتو او خپل اُمت وژغورو، په دې وخت کي موږ ته ضرور ده، چي پوه سو اسلامي اُمت مړ نه دی، ژوندۍ دی، مګر په خوب بیده دی، یا بیده کړل سوی دی، نو پر موږ لازم ده چي هغه بیدار او راوییښ کړو.

اسلامي اُمت د نړیوالو پر وړاندي د خپل رسالته خبر کړو، د ځان او نورو په هکله یې د خپل رول څخه خبر او هوښیار کړو، ځکه هغه یو نړیوال اُمت دی، چي یوازي د خپل ځان لپاره نه دی پیدا سوی، بلکي د ټولو خلګو د خیر او ښیګڼي لپاره پیدا سوی دی، اسلامي اُمت هیڅکله نه سي کولای مځکي د خپل ځانه نورو ته نیکي او ښیګڼي وړاندي کړي، نو داخلي اصلاح د دباندنی اصلاح څخه ضرور او مخکي ده، باید د اسلامي اُمت هوښیاري، پوهه او بیداري پرته له مبالغې، احساساتو، غفلت او ډار څخه بیا را وګرځوو، منفي ټکي باید د خپل تفکر څخه وباسوو لکه یوازي د تیر وخت په ستایلو بسنه، زموږ د ځلیدونکي تاریخ په پاته نمونو ژړا او فریاد کول او داسي نور... چي په عمل کي هیڅ ګټه په لاس نه ځیني راځي، د اسلام پر تیر برم او عظمت ژړا او فریاد د تمدن جوړوونکو کار نه دی.

باید د اُمت په اوسني حال وژاړو او اوسنی تاریخ په خپلو مټو، افکارو او علم سره جوړ کړو، د اسلام تیر عظمت یو ځل بیا را وګرځوو، پر موږ لازم ده چي د خپلو اولادونو زړونه د ایمان، اُمیدونو، هیلو، پر الله سبحانه وتعالی توکل او بیا پر ځان باور او اعتماد، د ملتونو او اُمتونو په نیکبختیو او سعادتونو د تکیه کولو څخه ډک کړو، دا هغه چاري دي، چي تاریخ جوړوي باید زړور او میړني اولادونه ولرو، چي اسلام ته کار وکړي، نه دا چي د اسلام پر اوږو بار سي، په خپلو روحي ناروغیو، فکري افتونو، ټولنیزو ناروغیو، اقتصادي فسادونو او سیاسي اشتباهاتو اعتراف وکړو، په دې شیانو اعتراف په دې معنا نه چي موږ ددې ناروغیو د علاجه مایوسه یو، بلکي کله چي ناروغ تشخیص سي، بیا دوا آسانه ورته پیدا کیږي، ددې علاج کولو لومړی ګام دا دی، چي پوه سو تاوان زموږ خپل دی، نه د بل چي دا ټولي فتنې او فسادونه د نورو پر اوږو ور واچوو، هغه څه چي پر موږ پوري تړاو لري، باید ژر تر ژره یې تغییر کړو او ځانونه اصلاح کړو، ځکه که موږ خپل پخوانی حالت نه وای تغییر کړی، د الهي سنتو سره سم به هیڅکله په موږ کي تغییر نه وای راغلی.

استاد محمد قطب پر دې باور دی: نړیوالتوب یوازي د مسلمانانو د ضعف سبب نه سي کیدای، بلکي که مسلمانان یې د فرصتونو څخه ګټه واخلي، کیدای سي د اسلام د دین د نړیوال کیدو سبب سي او اسلام د نړۍ لیري برخو ته ورسیږي، موږ باید د نړیوالتوب د فرصتونو څخه داسي ګټه واخلو لکه اروپایانو چي زموږ د تمدن او علومو څخه استفاده وکړه او خپل ځانونه یې د تخنیک او تکنالوژۍ لوړو پوړو ته ورسول، موږ ته هم په کار ده، چي اوس د هغو وسایلو څخه ګټه واخلو چي غرب رامنځته کړي دي.

مګر ستونزه دا ده چي په اسلامي نړۍ کي د سالمي رهبرۍ د نه شتون له امله نه سو کولای په بیرني ډول د سیاسي او اقتصادي نړیوالتوب پر وړاندي ځانونه چمتو کړو، د رهبرۍ بدلون او یا اصلاح اوږدمهاله او هر اړخیزه کار ته اړتیا لري، په کلتوري لحاظ هر څوک په تیره بیا ځوانان کولای سي په آسانۍ سره د نړیوالتوب د ناوړو اغیزو څخه ځانونه وساتي، د آسانتیاوو او ګټو څخه یې د خپل دین، وطن، کلتور او هویت په ګټه کار واخلي، د اسلام پر اصیل فهم ځان پوهول، د خپلو مسلمانو مفکرینو او فیلسوفانو د آثارو د مطالعې د لاري کیدای سي د نن ورځي مسلمان ځوان په زړه کي پر ځان بسیا، پر خپل اسلامي ملي تاریخ، کلتور، ژبې، وطن او ولس ویاړ پیدا سي، نن چي مسلمان ځوان ډیر ژر د لویدیز کلتوري څپو پر وړاندي ځان هیروي، عمده لامل یې همدا دی، چي د نامتو مسلمانو مفکرینو او پوهانو د آثارو او افکارو څخه اصلاً خبر نه دی.

نن چي مسلمان ځوان د لویدیځ مادي پرمختګونهویني، بیا داسي انګیري، چي ګواکي لویدیځوال په هره برخه کي په تیره بیا په کلتور کي مخکي دي او د دوی د پیروۍ پرته پرمختګ ورته شونی نه دی، د نړیوالتوب د ناوړو اغیزو څخه د ځوان د ژغورني یوازینۍ لار دا ده، چي پر خپل ځان باور ولري، پر خپل اسلامي ملي هویت، ژبه، کلتور او هیواد وویاړي، دغه حالت هغه وخت منځته راتلای سي، چي ځوان د اسلامي نړۍ د مفکرینو او لیکوالو افکار ولولي او ښه غور پرې وکړي، د خپلي مطالعې د اوسني وخت د ننګونو درمل راوباسي، اسلامي نړۍ د رهبرۍ د بحران سره هم مخ ده، بناءً پر دې اوسنیو حکومتونو څوک

دا تمه نه سي کولای، چي د ځوان پښت د فکري روزني غم دي ورسره وي، ځوان باید په خپله د خپل پاییښت لپاره هلي ځلي وکړي او د حالاتو سره مبارزه وکړي.

د پښتو ژبې نامتو لیکوال او فیلسوف، اروابناد استاد ګل پاچا الفت لیکي: د سیند په اوبو کي مخ پور ته تګ قوت او جرئت غواړي او د اوبو د جریان سره موافق تګ مړه کبان یعني ماهیان هم کولای سي.

اوس د نړیوالتوب د بهیر سره سم ځان عیاروول طبیعي کار دی، کمال دا دی چي ددې سیلاب پر خلاف حرکت وسي، زیانونه او ګټي یې وځیړل سي او په پای کي یې د زیانونو ځان وژغورو او د ګټو څخه یې د ځان لپاره کار واخلو، د پورته ستونزو په پام کي نیولو سره باید په سیاسي لحاظ ځانونه دومره پیاوړي کړو، چي د امکان تر بریده د هغوی د اغیزې څخه خوندي اوسو، په اقتصادي برخه کي د دریېمي نړۍ هیوادونو ته د ژغورني لار همدا کیدای سي، چي په خپلو کي اقتصادي ټولني جوړي کړي او د یو بل سره د مالونو په تبادله کولو کي په اقتصادي لحاظ وده وکړي او که سوداګري د پرمختللو هیوادونو سره وي، پر وارداتو مالیې هم لیري او یا کمي کړي، بیا به نو په یوه مصرفي هیواد بدل سي، په کلتوري برخه کي موږ ډیر اغیزمن سوي یو، د خلاصون ښه لار همدا ده، چي خپل ځوان نسل د خپل اسلامي او ملي هویته خبر کړو او پر هغو ورته د ویاړ احساس ورکړو، ددې سره سره په خپلو ژبو کي دومره آثار ولیکو چي دې ته اړتیا پاته نه سي، چي په انګلیسي ژبه د خپل ضرورت وړ کتابونه ولولو.

د دریېمي نړۍ یا اسلامي نړۍ هیوادونو ته د ژغورني ښه لار همدا ده، چي په خپلو منځنو کي اقتصادي همکارۍ وکړي، ځکه دوی په لږ توپیر سره کولاي سي یو د بله د پام وړ اقتصادي ګټي تر لاسه کړي، دوی کولای سي د اروپایي اتحادیې په څیر په خپلو منځنو کي دغه وړ د اقتصادي همکاریو ټولني جوړي کړي، مګر دلته بیا د رهبرۍ د بحران خنډ دی، چي ددې لیري کول څه آسانه کار نه دی، د لویدیځ تهذیب د اوسنیو ننګونو او د نړۍ د یوازیني لوی قوت د ښکاره تیري په وړاندي اسلامي اُمت ته دوې (۲) لاري موجودي دي، یوه دا چي هر څه په سر سترګو ومني او بله دا چي خپل هویت وساتي.

د اسلامي نړۍ واکداران خو شاید لومړۍ لاره خپله کړي، ځکه چي فردي ګټي او غرضونه یې په همدې لاري پوري تړلي دي او د لویدیځ تهذیب په بري کي خپل خلاصونویني، نو له همدې امله به یې کلک ملاتړ کوي، د نړیوالتوب د رواجولو لپاره چي څه یې په وس پوره وي کوي به یې، مګر د اسلامي نړۍ دیني طبقه په خاصه توګه عام وګړي په عمومي ډول شاید د خپل دین، فرهنګ او اخلاقي معیارونو د لاسه ورکولو او د لویدیځ فرهنګ خپلولو ته غاړه کښینږدي او ددې خوزښت په مقابل کي راپورته سي، چي نتیجه به یې په اسلامي ټولنه کي خپل منځني ټکر وي، چي هیڅ کله هم د اُمت په ګټه نه تمامیږي، دا هم د نړیوالتوب لپاره د بري یو پړاو دی، په داسي حلاتو کي په کار ده چي مسلمان په ډیر سوچ او فکر سره قدم پورته کړي او هغه لاري چاري خپلي کړي، چي په دې حالاتو کي ګټوري وي، اسلامي ټولني پر ځای ددې چي ځان ځاني غوره کړي، باید یوه واحده کړنلاره د ځان لپاره وټاکي، ځکه چي د نړیوالتوب په اړه ټول لویدیځ متحد دی، د شریعت د نه نفاذ، د آزاد خیالۍ د منځته راتګ

او د بې دينه لويديځ جمهوريت په اړه ټول يوه خوله دي، ځکه اسلامي اُمت ته په کار ده، چي يوه واحده کړنلاره غوره کړي او ټول پرې راټول سي، ددې څخه علاوه د مقاومت بله هيڅ لاره نسته، دغه کړنلاره څو اړخه لري:

۱:ـ روحاني او ديني کړنلاره: اسلام پر موږ دا واجبوي، ټول هغه کسان چي په اسلام کي نه داخليږي، هغه کافر وګڼو لکه يهود، نصارا او نوري ډلي، موږ بايد دوی ته د کافر خطاب وکړو او دوی د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول (صلی الله عليه وسلم) دښمنان دي او د اور مستحق دي، نن چي کفري نړۍ غواړي د دينونو تر منځ واټن ختم کړي، د تقارب الاديان پوچه مفکوره پر نړۍ پلي کړي، ددې مقصد خاص دا دی، چي حق او باطل سره ګډ کړي، د اسلام او کفر تر منځ فرق ختم کړي، د کفارو او مسلمانانو تر منځ د نفرت پردې څيري کړي، چي نه به ولاء وي نه براء، نه جهاد او نه د الله سبحانه وتعالی د کلمې د لوړوالي لپاره مبارزه او مسلمانان ددې لاري د نوي جاهليت سر غاړه غړی کړي، اسلامي اُمت يوه روحاني ډله ده او ددې بنياد د کائناتو پر روحاني تعبير ولاړ دی، د الوهيت يووالی او د ربوبيت يووالی ددې روحاني تعمير بنياد دی، الله سبحانه وتعالی ددې کائناتو پيدا کوونکی او د کائناتو د نظام چلوونکی دی، د انسانانو د لارښوني لپاره يې د نبوت او رسالت سلسله راوليږله، تر څو د وحيي په ذريعه د فرد او ټولني د اصلاح او پرمختګ لپاره کار وکړي.

لويديځ ددې روحانيت څخه منکر دی، د دوی په نزد د انسانيت په جوړښت او د ژوند په رامنځته کيدو کي د کائيناتو د کوم خالق هيڅ لاس نسته، دوی الهي وحيي ته د حقيقت په سترګه نه ګوري او يو بې ځايه فکر يې بولي، انبياء (عليهم السلام) د تاريخ يوه برخه ګڼي، او د دوی پر روحانيت هيڅ عقيده نه لري، لويديځ يوازي د کايناتو پر ماديت باندي باور لري او په دې عقيده دي، چي انساني ژوند د مادي قوانينو او اصولو له مخي منځته راغلی دی، تر څو چي مسلمانان پر خپله عقيده پاخه او کلک نه وي ولاړ، ددې خطرناک تاړاک مقابله سخته ده، د اسلامي اُمت هر غړی دي خپله وعده تازه کړي، د الله سبحانه وتعالی سره دي خپله اړيکه او رابطه ښه پياوړې کړي، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) محبت او اطاعت ته دي په زړه کي ځای ورکړي، تر څو ددې عظيم سيلاب پر وړاندي ثابت پاته سي، ځکه چي د الله سبحانه وتعالی او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مينه د مومن لپاره يوه محفوظه کلا او د ده يوازينۍ کاميابه وسله او د همدې وسلې په زور اسلامي اُمت تر اوسه هر ميدان ګټلی دی.

د اُمت د نړيوال تصور ټينګښت: د روحاني کړنلاري دوهم (۲) ټکی د اُمت نړيوال تصور دی، د اسلام نړيوال تصور روحاني اړخ هم لري او يو مثبت تصور هم دی، اسلامي اُمت د رنګ، نسل، توکم او ځمکنيو توپيرونو پر اساس تقسيمات په کلکه ردوي، ټول اسلامي اُمت په حقيقت کي يوه واحده روحاني ډله ده، چي بنياد يې پر توحيد باندي ولاړ دی، رسالت ټولنيز نظام ته استحکام وربخښي او کعبة الله پر يوه نقطه باندي د ټولو د يو ځای کيدو سبب دی، ددې لپاره چي مسلمان د يو نړيوال روحاني قدرت په توګه راپورته سي، کوم نوي کار او کوښښ ته اړتيا نه لري، تيار اساس سته، تصور موجود دی، په مسلمانانو کي کافي جذبه موجوده ده، يوازي تنظيم او بيدارۍ ته اړتيا ده.

د اسلام دښمنانو ددې تصور د له منځه وړلو لپاره د قوميت او مليت په نامه خوځښتونه رامنځته کړل، د استعمار په وخت کې يې اسلامي نړۍ په ځو ټوټو وويشله او مختلفې ډلې يې په خپل منځ کې سره واچولې، اوس ضرورت ددې خبرې دی، چې د اُمت د بيدارۍ لپاره د اسلام پر نړيوال تصور باندې کار وسي او دا تصور نور هم پياوړی سي، څنګه چې اسلامي اُمت پر روحاني بنسټ او نظرياتي تصور ولاړ دی، نو له همدې امله يې د اسلام پر خلاف داسې دسيسې په کار واچولې، چې د اُمت نړيوال تصور له منځه يوسي، د اُمت د بيارغوني لپاره ددې خبرې اړتيا ده، چې د اُمت نړيوال تصور په فکري او نظرياتي ډول پياوړی سي، دا چې د اُمت تشخص د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مشرۍ او قيادت له امله دی، نو ځکه بايد د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سره د مينې او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پر پلونو د پښو ايښوولو تياری ونيول سي.

د اخلاقي معيارونو ټينګښت: د روحاني کړنلارې دريم (۳) ټکی د اخلاقي معيارونو مضبوطول دي، لويديځ د سيکولريزم په منلو سره ټول اخلاقي معيارونه شاته غورځولي دي، يوازې د هغو معيارونو طرفدار دی کوم چې يې پر طبعيت برابر وي، اسلام موږ ته تلپاتي، قوي او نه بدليدونکي معيارونه راپه ګوته کوي، ځکه نو د اخلاقي معيارونو بدليدل هيڅ د منلو وړ نه دي او په اسلامي ټولنه کې بايد د نويو معيارونو د رامنځته کيدو مخه ونيول سي، حياء، عفت، غيرت، عدل، احسان، نيکۍ ته بلنه او د بديو څخه ځان ساتنه، شفقت او رحمت دا ټول هغه معيارونه دي، چې د يوې ټولنې بقاء پرې ولاړه ده، دا چې له منځه ولاړل، نو د ټولنې اسلامي تشخص له منځه ولاړی، نړيوالتوب غواړي په نړۍ کې فحاشي، بدچلني، بې حيايي، بې غيرتي، خود غرضي او ظلم عام سي، د خپل روحاني اساس د ټينګښت په خاطر مسلماني ټولنې بايد خپل اسلامي اخلاقي معيارونه په کلکه وساتي، د دوی د قوت راز په همدې کې پټ دی.

مسلماني ټولنې که د داخل څخه کمزورې نه سي او د ټولنې غړي بيدار وي، نو د هر دباندني يرغل په مقابل کې د دريدو توان لري، خپل منځي اختلافات رامنځته کول او د اخلاقي پلوه د ټولنې کمزوري کول د نړيوالتوب د دسيسو يوه برخه ده، څنګه چې د نړيوالتوب تر شا د رسنيو پياوړې کومک موجود دی، نو دا ټکی هم بايد له پامه ونه غورځول سي، د اسلامي ټولنې حقيقي قوت د دوی روحاني تشخص دی او د همدې قوت په برکت په هر ډګر کې مقابله کوي، زموږ په ټولنه کې بعضي مذهبي اختلافات موجود دي، چې دا اختلافات د ټولنې قوت له منځه وړي، نړيوالتوب د لويديځ د يووالي ښکارندوی دی او د مسلمانانو د مغلوبولو يوه لاره ده، که موږ خپل منځي ډله ييز اختلافات له منځه يو نه سو، نو نړيوالتوب به پرته له کوم خنډه په خپل مرام کې برۍ ومومي، د اُمت د شعور بيدارې، د اُمت يووالی او ډله ييز توپيرونه له منځه وړل زموږ روحاني تشخص قوي کولای سي او همدا زموږ د خلاصون لاره ده، د همدې په وسيله موږ يو داسې نظام رامنځته کولای سو، چې د انسانيت برۍ او خلاصون په کښې نغښتی وي.

۲:- سیاسي کړنلاره: په سیاسي ډګر کي اسلامي نړۍ ډیري ستونزي لري، د اسلامي نړۍ چارواکي ټول د غرب، امریکا او ټولي کفري نړۍ تر مستقیم او غیري مستقیم فشار او تاثیر لاندي دي او نه سي کولای چي په خپله خوښه په خپلو ملکو کي اسلامي نظامونه رامنځته کړي، چي دا یوه لویه ستونزه ده د مسلمانانو لپاره او ددې ستونزي د حل لپاره ډېر کار ته اړتیا ده، موږ که هر څومره د نړیوالتوب د مخنیوي تدابیر په ګوته کړو، مګر چي د اسلامي نړۍ په رهبریت کي بدلون نه وي راغلی هیڅ امکان نه لري، چي موږ دي د نړیوالتوب مخه پرې ونیسو، بیا هم موږ به خپل فرض او مسؤلیت ادا کړو، هغه شیان به په ګوته کړو په کومو لارو چارو چي موږ عزت تر لاسه کولای سو، په سیاسي اړخ کي باید اسلامي نړۍ د اسلامي هیوادونو د کنفرانس د ظرفیت او استقلال څخه په استفادې سره ځانونه قوي کړي، د غرب د تهاجم په وړاندي یوه متحده جبهه جوړه کړي.

د نړۍ مسلمانان باید یو واحد فرهنګي، سیاسي، فکري او اقتصادي هویت د نړۍ په سطحه څرګند کړي، د اسلامي نړۍ څخه یوه متحده او خپلواکه ټولنه جوړه کړي، پر دې اساس مسلمانان په نړیواله سطحه یوه قوي سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، نظامي او ارتباطي نظام ته ضرورت لري، تر څو د نړیوالو فشارونو مقابله پرې وکړي، د داسي یو قوي او فعال نظام درلودل اسلامي اُمت ته دا امکان برابروي، چي په مستقل او فعاله توګه په بین المللي سیاست او نړیوال بازار تاثیر او اغیزه وکړي، ځکه مسلمانان په سیاسي اړخ کي بله چاره نه لري، ماسیوا له دې څخه چي په هر اړخیزو هڅو سره یو بین المللي سازمان او ټولنه رامنځته کړي، تر څو د خپل فرهنګ، هویت او منافعو څخه په کلکه دفاع وکړي، مګر دا هڅي هم د اسلامي نړۍ تر واکدارانو پوري تړاو لري، چي په هغوی کي اصلاح یا تغیر را نه سي، په سیاسي ډګر کي دا هڅي هیڅ امکان نه لري.

۳:- اقتصادي کړنلاره: اسلامي هیوادونه خپل یو ټولنیز چوکاټ لري، مګر د لویدیځ د لاس وهني څخه دا هم محفوظ نه دی پاته او بعضي هیوادونه قصداً د لویدیځ په لاسو کي لوبیږي، عجیبه خبره خو دا ده چي د اسلامي هیوادونو تنظیم (OIC) کي د یوګندا به څېر هیواد هم غړیتوب لري، چي جمهور رئیس یې عیسوي دی او مسلمانان د لږکیو یا اقلیت په شکل په کښې اوسیږي. (OIC) باید د اسلامي اُمت استازې وي او یوازي هغه هیوادونه په کښې شریک وي چیري چي اسلامي حکومتونه قایم دي، د مسلمانو لږکیو د شمول لپاره یې باید ځانګړې لاره ټاکلې وي، تر څو د اسلامي هیوادونو لپاره په پالیسۍ جوړولو کي د غیري مسلمانانو لاس نه وي، ددې خطر څخه امکان خو نسته، که کوم مسلمان د استعمار لپاره جاسوسي وکړي او د خپلو فردي ګټو په خاطر د اُمت سره غداري وکړي، مګر په لوی لاس کافر د اسلامي اُمت په چوکاټ کي ځای کول که حماقت نه دی نور څه دي؟ له بده مرغه د اسلامي هیوادونو تنظیم د اُمت لپاره خپل رول صحي ادا نه کړای سوای او د ښکیلاک د لاس آله سو، که چیري دا تنظیم په صحي لاره روان کړل سي، نو د اُمت لپاره به ډیري ګټې ځیني تر لاسه سي، د لویدیځ ښکیلاک د شروع څخه تر اوسه پر نړۍ باندي د پانګوال نظام غلبه ده، اشتراکي نظام نږدې اویا (۷۰) کاله د یو نوي اقتصادي نظام د وړاندي کولو هڅه وکړه، مګر پانګوالو یې په وړاندي سخت مقاومت وکړ او بالاخره اشتراکي نظام ټوټې ټوټې سو.

په دغه وخت کي د عامه خیر ښیګڼي پروګرامونه وړاندي سول، بیوزلو هیوادونو ته کومکونه برابر کړل سول، مګر ډیره توجه د لویدیځو هیوادونو وګړو ته کیده، د دوی د ژوند معیار لوړ کړل سو او دوی ته رنګا رنګ آسانتیاوي برابرې کړل سوې، غریبو هیوادونو ته یې ددې لپاره پورونه ورکول، تر څو د هغوی څخه د سود د تر لاسه کولو د لاري خپل اقتصاد نور هم پیاوړی کړي، د تش په نامه پرمختللو هیوادونو ګڼي ډلګی جوړي سوې، تر څو د دریيمي نړی هیوادونو ته د پور ورکولو او د هغوی څخه پر خپل وخت د سود راغونډولو لاري چاري تنظیم او پرمخ بوځي، د پانګوال نظام ټول دار و مدار د سود پر ټولولو ولاړ دی، پانګوال نظام په غټه کچه مالونه جوړوي او بازار ته یې وړاندي کوي، بیا د اشتهار پواسطه د دغه مال د خرڅلاو انتظام کوي، دوی د خپلو مالونو لپاره همیشه نوي اخیستونکي او نوي بازارونه پیدا کوي، د آسیا او افریقا ځیني هیوادونه د ښکیلاک په دوره کي د خامو موادو د مرکزونو په حیث وټاکل سول، چي تر اوسه په هماغه حالت دي، په دې هیوادونو کي لوږه، بیوزلي او وروسته پاته والی په اخیره درجه کي دي، حال دا چي د همدوی په خامو موادو نور پانګوال مزې، چړچې کوي او اخته دي خپلي خزانې لا ډکه وي.

ددې حق وهونکي نظام اساس پر سود ولاړ دی، پانګوال نظام د بانکونو سیسټم پیاوړی کړ او د سټاک ایکسچنج پر نامه یې یوه اداره جوړه کړه چي ټول نظام یې یوازي په فرضیو او هوایي خبرو ولاړ دی، د همدې نظام پواسطه نرخونه ټاکل کیږي او د زرو آرزښت ټاکل کیږي، د ونډو د بازار د رویه د اقتصاد پیاوړتیا تعینیږي، چي زیاتره بې معنا او بي اعتباره وي، نړیوالو غاصبینو د بانکي سیسټم او سټاک ایکسچینج د ادارو پواسطه د ټولو هیوادونو اقتصاد په خپل موټي کي نیولی دی، څه چي یې زړه غواړي هغه په کوي، تر څو چي اسلامي هیوادونه خپل ځانګړی اقتصادي نظام برابر نه کړي، تر هغو به د پانګوال نظام د پنجو څخه خلاص نه سي، دا نظام برابرول څو فکري او عملي اړخونه لري چي باید د نظر څخه ونه ایستل سي، له بده مرغه د اسلامي نړی اقتصاد پوهان د لویدیځ تر تاثیر لاندي دي، د اسلامي هیوادونو په پوهنتونونو کي هم هغه څه تدریسیږي، کوم چي په لویدیځ کي د پانګوال اقتصاد د رویه تدریسیږي، یو نوښتګر هم داسي پیدا نه سو، چي د سود او سټاک ایکسچنج د لعنت څخه پاک اقتصادي نظام برابر کړي، تر څو چي سود له منځه نه وي تللی، تر هغو پوري به د اسلامي هیوادونو د پرمختګ هیڅ اُمید نه وي، نړیوالتوب د همدغه سودي نظام د پیاوړي کولو یوه لاره ده کوم چي نړیوال غاصبین یې پر مخ بیايي.

۴:ـ کلتوري او فرهنګي کړنلاره: په دې کي هیڅ شک نسته، چي د مسلمانانو په مخ کي زیات داخلي او خارجي مشکلات موجود دي، د داخلي مشکلاتو په لحاظ اسلامي هیوادونه د سیاسي نظره د بې ثباتی او بې کفایته رهبری د بحران سره مخ دي او سیاسي رهبري یې د اسلام د فرهنګ سره هیڅ اړخ نه لګوي، حاکمان یې د پردیو تر اثر او رسوخ لاندي دي، د اجتماعي او فرهنګي نظره هم د بې عدالتی، محکومیت، فقر، ظلم او تیري سره مخ دي، د خپل سرنوشت ټاکلو او د اسلام د قوانینو د عملي کیدو په ډګر کي عاجزه دي، نن ورځ مسلمانان د خپل فرهنګي هویت د ساتلو لپاره بیله دې چي ایمانونه قوي کړي، د اسلام د عقلاني تعلیماتو او د خپلو علمي او فني لاسته راوړنو څخه کار واخلي بله لار نه لري، مسلمان باید دا باور ولري، چي اسلام د نړی د فکري بحران او اخلاقي ځوړتیا لپاره ډیر درسونه او حل لاري لري.

خو کاش چي داسي يو څوک پيدا سوی وای، چي اسلامي ايډيالوژي يې په نړيواله سطحه خلګو ته ښوولې وای، د تيت پرکو ټولنو او هغو خلګو چي د مايوسۍ سره مخ دي سره را يو ځای کړي وای، يوه متحده اسلامي ټولنه يې ځيني جوړه کړې وای، اسلام دا توان لري چي د خپلو پيروانو په زړونو کي داسي ولولې را پورته کړي، تر څو د سختيو او مشکلاتو په مقابل کي د ايمان او وحدت په زور وجنګيږي، اسلامي ايډيالوژي کولای سي د ملتونو تر منځ د روابطو په برخه کي يو نوی نظام د انسانيت او معنويت پر اساس رامنځته کړي، د کلتوري نړيوالتوب په مقابل کي هم مسلمانانو ته په کار ده چي خپل ټول توان په کار واچوي، د بيګانه او پردي کلتور څخه متاثره نه سي، ځکه غربي کلتور موږ ته هغه څه نه سي را کولای، چي زموږ زړه او روح ته ډاډ پرې حاصل سي، بلکي هغه اسلامي نورانيت او روحانيت مو هم د زړو څخه باسي، اسلامي ټولنه د يوه ستر اخلاقي بحران سره مخ کوي، لکه مخکي چي مو اشاره ورته وکړه.

زياته توجه يې مسلماني خور ته ده، تر څو د کور څخه يې راوباسي، د سړيو په څنګ کي يې ودروي او دا شعار په لاس ورکړي، چي ښځه هم د نارينه غوندي حقوق لري، دا په اصل کي مسلمانه ميرمن د غرب هغه حيواني ژوند ته ستنوي، چي هلته ښځه يوازي د نارينه وو د جنسي غريزو د سړولو يوه وسيله ده، نور هيڅ قيمت نه لري، دا چي غرب بې حجابي او لغړتوب ته بلنه کوي دا په اصل کي حيوانيت ته بلنه ده، ځکه حيوانات لوڅ ګرځي، الله سبحانه وتعالی خو انسان اشرف المخلوقات پيدا کړی دی، او په ښکلي اسلامي جامه سره يې زينت او ښکلا وربخښلې ده، ددې سيلاب په مقابل کي موږ ته ضروري ده چي غربي تهذيب او تمدن وپيژنو او ځان د هغوی د حاله خبر کړو، تر څو د يوې خوا د هغوی د تهذيب څخه نفرت وکړو او د بلې خوا د هغه د تهاجم په وخت کي معقوله مبارزه ورسره وکړو، نن سبا چي غربي نړۍ څومره د تخنيک او تکنالوژۍ په ډګر کي پرمختګ کړی دی، هغومره يې په اخلاقي او روحاني ډګر کي شاتګ کړی دی، همدا وجه ده چي غربي نړۍ ددې قابليت نه لري چي پر نړۍ واک وچلوي.

د مسلمانانو ستونزه بيا دا ده، چي دی پرمختللي تکنالوژۍ ته پراخه پيمانه لاس رسۍ نه لري، که مسلمان کوښښ وکړي، دا تکنالوژي خپله کړي، په څنګ کي اسلامي تعليمات او اخلاق ورسره ولري، نو خامخا د نړۍ د سياسي او روحاني قيادت واګي په لاس کي اخيستلای سي، اسلامي پوهان او مفکرين بايد ددې موقع څخه استفاده وکړي، په فکري، اخلاقي او روحاني ډګر کي لار ورکي نړۍ ته اسلامي تعليمات ورسوي، د نړيوالتوب د فرصتونو څخه ګټه پورته کړي، لکه انټرنټ او نوري الکترونيکي شبکې، چي د نړۍ په هر ګوټ کي انسانان لاس رسۍ ورته لري، اسلامي تعليمات دومره په کښي نشر کړي، تر څو لار ورکو خلګو ته بيله اسلام د قبلولو څخه بله لار پاته نه سي، ددې لاري بايد خپل سياسي، فرهنګي، اخلاقي او اجتماعي برم او عظمت نړيوالو ته د يويشتمي (۲۱) پيړۍ په ژبه وروښيو، اوس چي د غربي نړۍ وګړي د غربي تهذيب او تمدن څخه نفس تنګه سوي دي او د رواني ناروغيو سره مخ دي، بايد موږ د اسلامي تهذيب او تمدن ځلانده تاريخ او د وياړه ډکه ماضي هغوی ته په ډيره

احسنه طريقه سره ورو‌ښيو، نو هرو مرو به دا خلک اسلام قبلوي، چې دا خپله د غرب د فکري مکتبونو د ماتي سبب ګرځي، اسلامي پوهان باید د نړیوالو عقلاني، فطري او معنوي غوښتنو ته قناعت کوونکي جوابونه ووايي، چې دا د اسلام او اسلامي پوهانو ستر امتیاز دی، چې د یویشتمي (۲۱) پیړۍ لار ورکو انسانانو ته د هدایت سبب سي، اوس د اسلامي نړۍ مشرانو، مفکرینو، اسلامي ګوندونو او حکومتونو لپاره د کولو کار دا دی، چې د مسلمانانو په زړونو کي د ایمان تخم د دوهم (۲) ځل کرلو کوښښ وکړي، دیني ولولې په حرکت راولي، د لومړنی اسلامي بلني اصول او د کار د طریقې سره سم مسلمانانو ته اسلامي بلنه ورکړي، د الله (جل جلاله)، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او پر اخرت عقیده په پوره طاقت او ځواک دوهم وار تبلیغ او تلقین کړي.

د اسلام د لومړنیو بلونکیو ټولي طریقې خپلي کړي او همدا راز ټول هغه وسایل او ځواکونه چي په نوي عصر کي منځته راغلي دي په کار واچوي، قرآن کریم او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سیرت اوس هم د ژوندني ځواک یوه داسي سرچینه ده، چې د اسلامي نړۍ په وچو رګونو کي ګرمه او تازه وینه ځیني بیا په حرکت راتلای سي، د هغې د مطالعې څخه د جاهلي نړۍ پر خلاف د بغاوت جذبه را ولاړیدلای سي، د اغیزو څخه یې د یو بیده او غافل قوم څخه ناآرامه او په کار مشغول قوم جوړولای سي، که د اغیز کولو موقع ورکړل سي، یو ځل بیا د ایمان او نفاق، یقین او شک، وختي ګټي او کلکي عقیدې، موقع پرست ذهنیت او حق پرست ضمیر، ګټه لټوونکي عقل او مصلحت سوځوونکي مینې تر منځ د شخړو بازار ګرموي.

بیا به د جسماني آرام او قلبي سکون، د ځان پر خوښۍ ژوند او د شهادت د مړيني تر منځ کشمکش پیدا کیږي، هغه بختور کشمکش چي هر پیغمبر په خپل وخت کي پیدا کړی وو، کله چي د حق او باطل فیصله او د نړۍ د اصلاح او انقلاب کار سرته نه رسیږي، هغه مهال به د اسلامي نړۍ ګوټ ګوټ او مسلمانانو په هر یو کور او کورنۍ کي داسي د ایمان څښتن ځوان راپیدا کیږي، دا مهال به یو ځل بیا د بلال، عمار، خباب، خبیب، صهیب، مصعب بن عمیر، عثمان بن مظعون (رضي الله عنهم) او د انس بن نضر ایماني جوش او ولولې، د ایثار او قربانۍ نمونې ولیدل سي، د جنت هواوي او د اسلام د لومړیو وختو ایماني سپڅلتیا به دوهم وار رامنځته سي او یوه نوې اسلامي نړۍ به جوړه سي.

صنعتي او جنګي تياری

د اسلامي نړۍ کار پر دې ځای پای ته نه رسيږي، که هغوی د اسلام پيغام خپرول غواړي، د نړۍ د قيادت او لارښووني وظيفه سرته رسول غواړي، نو د هغوی لپاره د يوه خاص قوت او روزني، صنعت او پوهني، تجارت او په جنګي فنونو کي د مکملي تياری ضرورت دی، هغوی بايد د ژوندانه په هره برخه کي د لويديځ څخه بې نيازه او مستغني وي، ددې وړ وي چي د خوراک او څيښاک د پلوه په خپل کور بسيا وي، د خپل ځان لپاره وسلې په خپله جوړولای سي، د ژوند د چارو تنظيم يې په خپل لاس کي وي، د مځکي معدنيات په خپله رايستلای او د ګټي اخيستو څخه يې جوګه وي، خپل حکومت د خپلي شتمنی او خپلو وګړو په وسيله وچلولای سي په خپل شاوخوا پلنو سمندرونو کي يې بحري بيړۍ په حرکت کي وي، د دښمن مقابله په خپلو جنګي جهازونو، توپونو او وسلو په وسيله وکړي، صادرات يې تر وارداتو زيات وي او د غربيانو څخه يې د قرض اخيستلو اړتيا نه وي، د چا تر بيرغ لاندي را نه سي، تر کوم وخته چي اسلامي نړۍ د علم، سياست، صنعت او تجارت د پلوه لويديځ ته اړه وي، تر هغو به يې لويديځ ويني څيښي، د مځکو څخه به يې د ژوند قوتونه وباسي.

د تجارت پر وسايلو او مصنوعاتو به يې هره ورځ په بازارونو او منديانو کي ډاکي غورځول کيږي، په هر شي به يې خپل لاسونه پاکوي، تر څه وخته پوري چي اسلامي نړۍ د لويديځ څخه پور اخلي، د خپل حکومت د منظم کولو، د مهمو او اساسي عهدو ډکولو او د خپل پوځ په روزلو کي د غربي وګړيو احسان مند وي، د هغوی څخه د صنعت او تجارت وسايل را وغواړي او هغوی خپل دوستان، استادان، سرپرست، حاکمان او سرداران ګڼي، د هغوی د حکم او نظر پرته کار نه کوي، تر هغه وخته پوري به د لويديځ سره مقابله کول خو لا پرېږده، سترګي به هم نه سي ورسره مخامخ کولای، دا د علمي او صنعتي ژوندانه هغه برخه ده چي اسلامي نړۍ په تير مهال کي هيڅ ډول پاملرنه نه ده ورته کړې، او په بدل کي يې د اوږدې مودې لپاره د تنزل او ځوړتيا مزه وڅکله، لويديزه باداري او واکمني پرې واکمنه سوه، چي په نړۍ کي يې تباهي، لوټ مار، وژل، ويني توييدل او د ځان وژل رامنځته کړل، که اوس هم اسلامي نړۍ د علمي او صنعتي تياري او خپل ژوندانه د معاملاتو په باب کښي د غفلت او بې پرواهي څخه کار واخيست او دا ځل هم غربيانو لوبه ځيني يو وړه، نو د نړۍ په تقدير کي به شقاوت او بدبختي وليکل سي او د انسانيت د آزمويني موده به نوره هم اوږده سي.

پايله: نړيوالتوب يو هر اړخيز بهير دی، چي د وګړيز ژوند ټول اړخونه يې د يرغل تر ګواښ لاندي راږستلي دي، د نړيوالتوب د بهير مشري غرب چي په سر کي يې امريکا قرار لري، پر غاړه لري او د غربي نړۍ اوسيدونکي اکثريت عيسوي صليبيان او لږ شمير يهوديان دي، دوی زموږ د سپيڅلي کتاب قرآن کريم او پيغمبر له قوله زموږ ابدي دښمنان دي، هيڅکله مو دوستان نه سي کيدای، ځکه نو غربي نړيوالتوب تر بل هر چا اسلامي نړۍ ته خطرناک دی او په اوسنۍ اسلامي نړۍ کي هم داسي څه نه دي پاته چي د لويديځ د فرعونيت پر وړاندي ږغ پورته کړي، او د اسلام غافله بچيان په اسلامي نړۍ کي د غربي تمدن د حاکميت پر وړاندي ځوږ پورته کړي، ځکه نو زموږ ټول ديني، اسلامي، سياسي، اقتصادي، کلتوري، اخلاقي او اجتماعي آرزښتونه د غربي نړيوالتوب د خطر سره مخ دي.

چې د اسلامي اُمت لپاره د نجات لاره یوازې او یوازې خپله نړیواله اسلامي ورورولي ټینګول، په اسلامي تعلیماتو عمل او هغه نړیوال کول، خپل ایماني، سیاسي، اقتصادي، کلتوري او اخلاقي معیارونه د اسلام پر اصولو ټینګ ساتل، اسلامي تعلیمات نړیوالو ته د یویشتمي (۲۱) پیړۍ په ژبه ورښوول، د اسلامي نړۍ هر اړخیز اتحاد او خپل منځي همکارۍ، د اسلامي اُمت څخه داسي نسل روزل چي هغوی د اسلام سرتیري او عسکر وګڼل سي او د اسلام متې په قوي سي، نه دا چي د اسلام پر اوږو بار سي، د علم، تخنیک، سیاست او اقتصاد په ډګر کي داسي ویښ فکره ځوانان روزل چي د غرب او امریکا سیاسي، اقتصادي او تخنیکي فرعونیت ته غاښ ماتوونکی جواب ووایي، په اسلامي نړۍ کي د ملوکیت او ډیموکراسۍ لعنت ته د پای ټکۍ ایښوول او په اسلامي تعلیماتو عمل کولای سي، موږ د نړیوالتوب د یرغل څخه وژغوري او یو ځل بیا مو د انسانیت رهبران وګرځوي، ځکه اوس هم د اسلامي اُمت په مړاوو ایرو کي د سکروټو داسي بڅرکي سته چي د باطل پر خلاف اور غورځوونکي غرونه ځیني جوړیدای سي.

د اسلامي نړۍ په خاموشه فضاء کي اوس هم داسي ځوږ سته چي خطرناک طوفان ځیني جوړیدای سي، قرآن کریم او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سپیڅلی ژوند او سیرت اوس هم د ژوند ځواک داسي سرچینه ده، چي د اسلامي نړۍ په وچو رګونو کي ګرمه او خوځنده وینه بیا په حرکت ځیني راتلای سي، د هغو د مطالعې څخه د جاهلي نړۍ پر خلاف د بغاوت جذبه را ولاړیدلای سي، او که خدای مه کړه اسلامي اُمت همداسي د غفلت په خوب بیده پاته سي، د مسؤلیت احساس یې راونه پاریږي د غربي نړۍ ظلمونه د مسلمانانو مظلومیت ټکان ورنه کړي په علمي، سیاسي، اقتصادي او صنعتي ډګر کي بیا هم د بې پرواهۍ څخه کار واخلي او یو ځل بیا غربیان او شرقیان لوبه ځیني یوسي، نو د نړۍ په تقدیر کي به شقاوت او بدبختي ولیکل سي او د انسانیت د ذلت موده نوره هم اوږده سي.

څوارلسم فصل

امریکا څنګه اسلام غواړي؟

دوی امریکایي اسلام غواړي، هغه اسلام چي د اوداسه پر نواقضو فتوا ورکړي، مګر د مسلمانانو د عقيدې پر نواقضو، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي حالتونو باندي هيڅ خبره هم ونه کړي، دا ډېره دردناکه خبره ده په اوس وخت کي په نړۍ کي دوه (۲) ډوله اسلام وجود لري، يو هغه اسلام دی چي الله سبحانه وتعالی پر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) نازل کړی دی، حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) خپل اُمت ته په مکمل ډول رسولی دی، د اسلامي اُمت د تاريخ په اوږدو کي مسلمانانو منلی دی، هم يې په خپل فردي او اجتماعي ژوند کي تطبيق کړی دی او همدا ډول يې د اسلام څخه د دفاع په لار کي په میلیونونو سرونه قربان کړي دي.

د الهي اسلام په مقابل کي يو بل ډول اسلام هغه دی چي غرب او په سر کي يې امريکا د هغه د معرفي کولو، خپرولو او تطبيق کولو لپاره کار کوي، خپل ټول مادي او معنوي وسائل په کار اچوي، تر څو په اسلامي نړۍ کي همدغه امریکایي اسلام د الهي اسلام پر ځای د مسلمانانو په ژوند کي ځای ونيسي.

د امريکايي اسلام د معرفي کولو لپاره د امریکا تر ټولو مهمي او تحقيقاتي اداري رنډکارپوريشن (Rand Corporation) چي په امريکا کي د امريکا نظام ته د امریکا څخه د دفاع لپاره د تحقيقاتو، مشورو ورکولو او ستراتيژکو مطالعاتو لوی او مهم مرکز دی، د همدې ادارې يوې ډلي مستشرقينو چي چيريل بينارډ يې مشري کوي، يوه طرحه وړاندي کړې ده، چيريل بينارډ چي په خپله يهودۍ ښځه ده، دغه طرحه يې د متمدن، ډيموکراټيک اسلام، نلګري، منابع او ستراتيژۍ په نامه په درو اتيا (۸۳) صفحو کي ترتيب کړې ده.

د امریکایي اسلام تعريف: هغه اسلام چي امريکا يې غواړي، چيريل بينارډ يې په دې ډول تعريفوي: امريکا، نوې صنعتي نړۍ او په مجموع کي بين المللي ټولنه داسي يو اسلام غواړي چي د نوري نړۍ د نظامونو سره پر يوه لار روان سي، ډيموکراټيک او مترقي اسلام وي، پر نړيوالو قوانينو، احکامو او اخلاقو وچليږي. (اتمه ۸ صفحه) په ياد سوي تعريف کي لاندي نقطي مشخصي سوي دي:- ۱: اسلام بايد د امريکا او بين المللي ټولني په خوښه وي. ۲: اسلام بايد يو جلا تشخص او ځانګړی نظام ونه لري، بلکي د نوري نړۍ د نظامونو سره دي يو شی وي. ۳: اسلام دي ډيموکراټيک وي، يعني د خلګو له خوا دي رامنځته سي، نه دا چي د وحيي پر بنسټ دي ولاړ وي. ۴: اسلام دي خپل زوړ شکل پرې ايښی وي او نوی مترقي شکل دي يې غوره کړی وي. ۵: دغه اسلام دي په احکامو او اخلاقي فلسفه کي د غرب د احکامو او اخلاقو سره يو ډول وي.

چيريل بينارډ وروسته په همدې صفحه کې د دغه اسلام د منونکو د ملاتړ او تشويق په هکله ليکي: دا به د حکمت کار وي چي په مسلمانانو کي د هغو عناصرو ملاتړ او تشويق وسي، چي د نړيوالي سولي او بين المللي ټولني سره يو ځای پر لاره ځي، ډيموکراسي او تمدن خپلوي.

په پورتنۍ جمله کي دغه مفاهيم جوت سوي دي:- ۱: د ټولو مسلمانانو ملاتړ بايد ونه سي، بلکي د خاصو عناصرو ملاتړ دي وسي. ۲: د هغو عناصرو ملاتړ دي وسي، چي د کفارو سره هيڅ ډول مشکل نه لري، بلکي د هغوئ سره په نړيواله سوله کي ژوند تيروي او پر جهاد هيڅ باور نه لري، که څه هم چي کفار په مسلمانانو هر څه کوي. ۳: د هغو مسلمانانو ملاتړ دي وسي چي ډيموکراسي د ژوند د تګلاري او غربي تمدن د ژوند د بنې په حيث مني.

ليکواله د مسلمانانو او کفارو تر منځ د جلاوالي عامل د دغو دوو (۲) اُمتونو تر منځ د غرب د فرهنګ څخه چي هغه يې نړيوال فرهنګ بولي، د مسلمانانو ليري والی ښيي، او ليکي: د نړيوال معاصر فرهنګ څخه د مسلمانانو ليري والي د هغوی او د نورو تر منځ د کړکيچ زمينه برابره کړې ده.

د پورتني عبارت معنا دا ده: د مسلمانانو او نورو تر منځ به تر هغه وخته کړکيچ دوام لري، تر څو چي مسلمانانو خپل اسلامي فرهنګ پرې ايښی نه وي او نړيوال فرهنګ يې خپل کړی نه وي، او هر کله چي د فرهنګ دغه توپير له منځه ولاړ سي، نو کړکيچ يعني جګړه به خپله له منځه ځي.

دا کټ مټ هم هغه مفهوم دی، چي الله (جل جلاله) يې په قرآن کريم کي داسي يادونه کړې ده: (وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ط). ژباړه: او هيڅ کله به راضي نه سي ستاسي څخه يهود او نه هم نصارا تر هغه پوري چي پيروي ونه کړې ته د دين د دوی. (سورة البقره- آيت ۱۲۰)

دا ښکاره خبره ده چي ننني نړيوال نظام او نړيوال فرهنګ يهودانو ايجاد او ډيزاين کړی دی، نصارا يې چي برتانيه او امريکا يې په سر کي دي پر ټولي نړۍ تطبيقوي او د همدغه نړيوال فرهنګ د عملي کولو لپاره يې ټوله اسلامي نړۍ د جنګ ګرم ميدان ګرځولې ده، تر څو خپل نوی امريکايي اسلام په کښي عملي کړي.

که تاسو د هاليوډ د فلمونو او سريالونه وګورئ، يا د صليبيانو او يهودانو په لاس ليکل سوي ناولونه ولولئ، نو ډيره فيصدي به يې د نړي پر راتلونکي فضايي يعني پرسپوړمي، مريخ او نورو سيارو د ژوند کولو او نظامي يعني نړيوال جنګونه، د نړۍ پای او بربادي برخه وي، که د باليوډ او ترکيي فلمونه سريالونه او ناولونه وګوری، نو ډيره فيصدي به يې د کورني نظام، ټولنيز ژوند او ميني په هکله وي. آيا تر اوسه مو فکر کړئ دی، چي ولي؟ لويه ستونزه دا نه ده چي زموږ د نوي نسل ډيره سلنه فلمونه ګوري، ستونزه دا ده چي په مفهم او مقاصدو يې فکر نه کوي، موږ فلمونه ګورو ډير فوکس مو د فلمي لوبغاړو پر کردار وي او يا ځيني وخت مو کيسه هم خوښيږي، مګر په فلم کي نوري زر خبري سته، ډير فلمونه چي موږ ګورو دا د مذهبي مشرانو او سترو پوهانو تر مشورو لاندي جوړ سوي وي.

مثلاً: د فلمي لوبغاړو سټايل، بګراونډ، جامه، قواره، قدم وهلو او هر څه کي يو مقصد سته، که تاسو د لا پوهيدني لپاره پر (i pet goat II) کارتون باندي د نړۍ د پوهانو نظرونه وګورئ، نو تاسو به ډير حيران سی، همداسي د کيسارې، پاني پټ او ډيرو فلمونه باندي.

تاسو لږ فکر وکړئ، د یهودو، صلبایانو یعني عسایانو او اسلام په مقدسو کتابونو کي د هغه جنګ یادونه سوې ده، چي د حق او باطل تر منځ به په کښي د ټولي نړي تر منځ جګړه وي او تقریباً ټول متفق دي، چي په هغه وخت کي به حضرت عیسی (علیه السلام) و مځکي ته راځي، دا به د حق او باطل تر منځ اخیري او تر ټولو لویه جګړه وي، چي په اسلامي تاریخ کي د هرمجدون په نوم او کفري تاریخ کي د ارمه ګډون په نامه راغلي دي، ټول دینونه متفق دي چي په دا جګړه کي به حق ډله ګټونکې وي، صلبیان، یهودان، مسلمانان او ټول دینونه خپل ځانو ته د حق ډله وایي.

صلبیان او یهودیان خپل راتلونکي نسل ته د فلمو، کتابونو او نورو لارو په وسیله دا پیغام ورکوي چي موږ به د یو شدید جنګ شاهدان واوسو او تاسو باید ځانونه ورته آماده کړئ، ، دا جګړه به ستاسو په بریالیتوب پاي ته رسیږي، حضرت عیسی (علیه السلام) به تاسو د ځانه سره آسمانو ته بیایي او تاسو به له هغه ځایه د مځکي بربادي ووینې.

بل دا چي دوی د اسلامي نړۍ لپاره هم لاس تر زني نه دي ناست، د اسلامي نړۍ د راتلونکي نسلونو لپاره هم پروګرامونه جوړوي چي دا کار ډیر د ترکیې او هند په مرسته کوي، د اسلامي نړۍ راتلونکي ته د میني په نامه چټیات، کورنۍ جنجالي ژوند، بې حیایي او فهاشي ور زده کوي، چي تقریباً خپل په مقصد کي کامیاب معلومیږي، تاسو شاهدان اوسی که حالات همداسي روان وه، د اسلامي نړۍ راتلونکی نسل به ډمي او ډمان وي، حیاء به نه پیژني.

د نړۍ ټول کنټرول فعلاً د یهودو او اسرائیلو په لاس کي دي، او دوی د خپلو اهدافو لپاره صلبیان یعني امریکا کاروي، نړۍ ته داسي ورښیي چي فعلاً ټول کنټرول د صلبیانو په لاس کي دی، مګر اصلاً صلبیان ټول د یهودو غلامان او پوروړي دي، د امریکا ټول ولسمشران د فریمیسن او ایلیومنیاتي تنظیمونو یعني د دجال تنظیمونه دي، چي ډیر پخوانی تاریخ لري او مشران يې یهودان دي، یوازي ابرام لنکولن وو، چي د دوی سره یې د یو ځای والي څخه انکار وکړ او هغه یې په یو چریکي برید کي ووژی.

یو وخت اسلامي نړۍ پر ټوله نړۍ باچاهي کول، مګر اوس د خپلو سرحداتو د ساتلو لپاره هم صلبیانو او یهودانو ته اړ دي، دوی د چا څخه سرحدونه ساتي؟ د کفري نړۍ خلګ خپل په منځو کي او په اسلامي نړۍ کي تر لږ قانوني پړاوو وروسته آزادانه هري خواته حرکت کولای سي، که تاسو په اروپایي هیوادونو کي د یو هیواد تابعت ولری، نو تاسو په ټوله اروپا کي آزادانه کرځیدلای سي، مګر که تاسو د یوه اسلامي هیواد څخه بل هیواد ته ځی، نو تاسو به د ډیرو شدیدو قانوني پړاوو څخه تیریږئ، او بیا تاسو ته تر ټاکلي وخت پوري محدوده اجازه در کول کیږي، لکه: حج ته تلل او داسي نور...

هغه وخت څه سو چي دا هر څه سرچپه وه، د اسلامي نړۍ تر منځ هيڅ سرحد نه وو او کفارو خپلو منځونو کي ډېر محدوديتونه درلودل، تر نړيوالو جګړو وړاندي په نوولسمه (۱۹) پېړۍ کي د نړۍ په سر د اسلام سرسخت دښمنانو په ګډه يو مخفي کنفرانس جوړ کړی، فيصله وکړه: موږ به دا هر څه سرچپه کوو، يعني د اسلامي نړۍ تر منځ اختلافات را ولاړول، پر هيوادونه ويشل، نه نړېدونکي سرحدونه ايجادول او د کفري نړۍ تر منځ اختلافات ورکول، سرحدونه د منځه وړل او د اسلام په وړاندي يو مټي کيدل، ددې کار لپاره يې ملحد خلګ پر اسلامي نړۍ باندي د غازيانو او آزادي اخيستونکو په نوم مشران کړل، لکه: محلد مصطفی کمال اتاترک او داسي نور...

د ډيموکراتيک اسلام په نوم کتاب چي مستشريقينو ليکلی دی، ليکواله يې چيريل بينارډ په اتم (۸) مخ کي په دريمه (۳) ماده کي توصيه کوي: د ډيموکرات اسلام د پلويانو نظريات دي په تعليمي نصاب کي شامل کړل سي، تر څو په لازمي شکل ټول خلګ د دغو نظرياتو لوستلو ته مجبور سي، او بيا دي همدغه نظريات د دينياتو د مضمون د لاري د دين او عقيدې په حيث ومني.!

په دې لار کي امريکا په افغانستان کي د خپلو دوو (۲) مؤسسو هري يوې لکه: (USAID) او د (نبرانسکا) د پوهنتون د لاري ښه ډېر کار وکړ، د نبراسکا په پوهنتون کي د افغانستان د تعليم او تربيې مرکز د افغانستان د تعليم او تربيې د وزرات لپاره نوي تعليمي نصاب تيار کړ، او (USAID) چاپ کړ، دغـه نصاب د امريکايي مشاورينو تر نظارت لاندي جوړ سو، ټول هغه مضامين چي د جهاد، د کفارو سره د دوښمنۍ، حجاب او پر اسلام د ټينګ پاته کيدلو مفاهيم په کښي وه، هغه يې ټول د نصاب څخه وايستل، او پر ځای يې د کفارو سره د دوستۍ، تفاهم، د بشر د حقوقو، د ښځو د آزادۍ، د تروريزم په خلاف د جګړې او غربي مفاهم ځای پر ځای کړل، او په هر کال کي د دينياتو، اجتماعياتو، تاريخ او ادبياتو په کتابونو کي نوي نوي مضامين داخليدل.

دغه کار نه يوازي دا چي په افغانستان کي جريـان درلودی، بلکي د ټـولي نړۍ په اسلامي هيوادونو کي او په خاص ډول په هغه هيوادونو کي چي امريکايي پوځيان په کښي کي دي، او يا هلته د امريکا مصالح تر تهديد لاندي دي، په ټول زور سره عملي کيږي، جريان لري، ددې کار لپاره هر کال په سلګونو ميليونه ډالـر د (USAID)، آغا خـان فاونديشن، آيشا فاونډيشن او داسي نورو مؤسسـو په اخيتار کي ورکوي، تر څو په تدريج سره د مسلمانو هيوادونو تعليمي نصابونه د حقيقي اسلام څخه خالي کړي، او پر ځای يې د نوي ډيموکرات اسلام مفـاهيم خلګو ته معرفي کړي.

د امريکايي اسلام يوه بيلګه اسلامي هيواد قطر دی: قطر يو خائن دولت دی. دا بې دليله يا د شخصي مزاج پر بنسټ نه دی، د قطر صدراعظم د همجنسبازۍ (LGBTQI+) په هکله غيري شريعي دريځ نيولی او کوښښ يې دا کړی دی، چي غربي ثقافت او ليبراله عقيده مراعات کړې ده، ځيني بيا پر قطري دولت نيک ګمان لري، د محمد آل ثاني هغه جواب چي (CNN) ته يې د همجنسګرايي په هکله ورکړی دی، مهم ټکي يې وړاندي کوم، بيا به د قطر دولت د واقعي څهرې په هکله يو څو مهمو ټکو ته اشاره وکړو.

د قطر صدراعظم امان پور د (CNN) خبريالي ته په جواب کي وايي: زه فکر کوم دا بحث يعني د همجنسګرايي حقوق يوازي زموږ په هيوادونو کي مطرح نه دی، دا بحث په امريکا کي هم سته، په نورو سيمو کي هم سته، بلاخره په ټولو ځايونو کي سته، وروسته وايي: زموږ عرف او دين دا مسئله نه مني، مګر که د قطر پنځوس (۵۰) کلن تاريخ وګورئ او بيا يې اروپايي هيوادونو سره مقايسه کړئ، وبه وينئ چي په قطر کي د نورو هيوادونو په پرتله د همجنسبازانو پر ضد د جرايمو کچه صفر ده، يعني دوی مصؤن دي.

د قطر مينه والو لپاره يوه څو مثالونه:

۱: قطر د آل ثاني په مشری په ۱۸۶۸م کال کي رامنځته سو، دا هغه وخت وو، چي بريتانيې د بيلا بيلو سياسي، فرهنګي او پوځي اساليبو په استفادي سره د عثماني خلافت پر وړاندي جګړه کوله، په همدغه وخت کي قطر ظاهراً د يوې هوکړي په پايله کي د انګليس تر استعمار لاندي راغلی.

۲: کله چي امريکا د نړۍ ستر ځواک سو، قطر هم ځان د دغه هيواد غيړي ته ور واچوی، د دغه هيواد حاکمان تر ننه پوري په اسلامي نړۍ کي د امريکا د استازو او وياندويانو په توګه کار کوي او عملاً د امريکا ميلمستون دی.

۳: په قطر کي د امريکا ستري پوځي اډې، لکه: العديد، دوحه، سيليه اسلامي نړۍ ته تر ټولو لوی ګواښ دی، د اسلامي خاورو اشغال، لکه د افغانستان، عراق او داسي نور... او د مسلمانانو په نښه کول، لکه د شيخ ايمن الظواهري شهادت له همدې اډو څخه ترسره سوي او کيږي.

۴: که څه هم قطر پخپله انکار کوي، خو د يهودي دولت سره پټي اړيکي لري.

۵: د قطر ټوله هڅه دا ده چي د سياسي او جغرافيايي يووالي پر لور د اسلامي نړۍ د تګ مخه ونيسي او اُمت ته د سيکولر آرزښتونو د منلو لار هواره کړي، نو د معتدل اسلام په نامه قطري پروژې، په حقيقت کي سيکولريزم ترويجوي. د مثال په توګه: په ۲۰۲۱م کال کي په افغانستان کي د اسلامي امارت د حاکميت په لومړيو کي د قطر د بهرنيو چارو وزير په يوه خبري ناسته کي د اسلامي امارت څخه وغوښتل: قطر ته په کتو پوه سی چي يو اسلامي نظام څنګه پر مخ يوسی.

۶: قطر خپل روزنيز سيستم په (رنډ) امريکايي موسسه کي جوړ کړی دی، ياده موسسه د غرب يو لوی فکري مرکز دی، بروکينګز بنسټ هم په دوحه کي خپله څانګه لري چي خپلي د غربي کولو پاليسی جوړي کړي، د دغه مراکزو يو کار دا دی چي د امريکا بهرني سياست لپاره طرحي وړاندي کوي. د مثال په توګه: د شريل بنارد کتاب دی چي د ډيموکراټيک اسلام ۲۰۰۴ په هکله ليکل سوی دی، په دغه طرحه کي مسلمانان پر څلورو (۴) ډلو ويشل سوي دي، امريکا ته يې وړانديز کړی چي څنګه وکولای سي بنسټ پالان د نورو مسلمانانو پواسطه چي معتدل او مډرنيسټ دي وځپي، بنسټ پالانو کي يې طالبان، القاعده او حزب التحرير ليست کړي دي.

۷: په قطر کې د فوټبال نړیوال جام د دغه غربي کولو سیاست یوه بیلګه ده، چې څنګه یې خلګ په مکر او دوکې سره د ادیانو نیږدیوالي یا تقارب الأدیان او سیکولر آرزښتونو ته راوبلل. واضح مثال یې: د دې جام افتتاحیه، د نمایش په جریان کې ژور ډیالوګونه او معنا داره سمبولونه وه.

۸: ظاهره په قطر کې همجنسګرایي غیري قانوني ده، د ۲۰۲۲م کال نړیوال جام کې هم متقاوت دریځونه ونیول سول، د قطر حکامو داسي دریځ ونیوی، چې نه غرب خفه سي او نه د قطر مسلمانان، ځیني واقعاً خپل د دین په اساس دریځ ونیوی، مګر ځینو ته بیا د همجنسابازانو مصؤنیت مهم وو، لکه عبدالعزیز عبدالله الانصاري چې اسوشیتډ پرس ته وویل: که په نړیوال جام کې کوم کس د همجنسګرایي بیرغ پورته کړ او ما یې د بیرغ د لاسه واخیست دا د توهین په معنا نه دی، دا یې د حفاظت لپاره ترسره کوم. (یورو نیوز)

۹: په داسي حال کې چې قطر ځان د اسلامي ډلو لپاره ګرمه غیږه ګڼي، مګر په اصل کې د غربي آرزښتونو او امریکایي سیاستونو پرته بل هیڅ نه تعقیبوي، دا کار د کوم سیاست له مخي کیږي، چې یو هیواد دي دوه سوه (۲۰۰) ملیارده ډالر چې د اُمت ګډه پانګه ده، پر نړیوال جام ولګوي، قطر د ګاز د ځلرویشت (۲۴) زره میلیارد متر مکعبه زیرمو په لرلو، تر روسیې او ایران وروسته د نړۍ تر ټولو ډیر ګاز لري، ددې پر ځای چې دغه زیرمي د اسلامي نړۍ په ګټه وکاروي، د امریکایي سیاستونو په ګټه یې کاروي.

۱۰: امریکایي سیاستوال قطر د واشنګټن ډارلینګ بولي، امریکا ته د قطر د امیر په یو سفر کې د یوې غونډې پر مهال د امریکا ولسمشر بایډن وویل: قطر زموږ لپاره یو ښه ملګری، د باور وړ او پیاوړی شریک دی. د امریکا ولسمشر بایډن زه کانګرس ته وایم: قطر د ناټو سازمان بهر د امریکا اصلي ملګری اعلانوم، چې ددې لاري د دغه هیواد سره د خپلو اړیکو پر آرزښت ټینګار وکړم.

کفري نړۍ څه ډول اسلام غواړي؟ سید ابو علي مودودي (رحمه الله علیه) وایي: کفري نړۍ په دې اړه فکر نه کوي چې تاسو مسجدونو ته ځۍ او الله الله وایاست، لمونځ کوی، یا تره ډیر په ذکر بوخت یاست، پر ممبر د فضایلو بیان کوی، قرآن کریم او احادیث بیانوی، رنګا رنګ لنګوټې تړی، میلاد نبي لمانځۍ، قیام الیل کوی، یا هم د حمد او نعت غونډي جوړوی، کفري نړۍ غواړي، دا ټول کارونه په پوره شوق او لیوالتیا سره وکړی، مګر د کفر او الحاد تر بیرغ لاندي پاته سی او د الله (جل جلاله) د نظام په اړه هیڅ خبري ونه کړی، دوی وایي: جوماتونه جوړ کړی، د نصیحتونو غونډي وکړی، مګر د الهې نظام د برترۍ په اړه څه مه وایاست، واک او حکومت کفارو ته ورکړی، او پرېږدی چې اسلام دي محکوم پاته سي، د کفارو مانۍ به هغه وخت ولړزیږي چې مسلمانان د حنین او بدر په سنتو عمل وکړي، مګر تر اوسه داسي نه دي سوي چې په اسلام کې د وخت د فرعون او ابوجهل پر وړاندي مبارزه نه وي سوې.

پنځلسم فصل

د سپټمبر یوولسمه (۱۱) د امریکا له خوا پر اسلامي خاورو د ښکیلاک پلمه وه

د سپټمبر پر یوولسمه (۱۱) د امریکا له خوا پر ځینو مهمو ادارو لکه: د نړیوال سوداګریز مرکز، د امریکا د دفاع وزارت د ودانۍ، د ځینو نورو مرکزونو او ادارو سره الوتکي وجنګیدلې، په ټوله نړۍ کي دې پیښي یوه لویه غوغا جوړه کړه، امریکایي مستکبرینو مخکي له دې چي څېړنه وکړي او د پیښي علت پیدا کړي، سمدستي یې د یادي پیښي پړه پر مسلمانانو او په ځانګړې توګه پر افغانستان ور واچوله، د غچ اخیستلو اعلان یې وکړ، په داسي حال کي چي د سپټمبر یوولسمه (۱۱) هغه پیښه ده، چي لا تر اوسه یې په اړه ډیري پوښتني نه دي جواب سوي، او حتا داسي شکونه هم سته چي په دې پیښه کي خپله امریکایي استخباراتي حلقې داخلي وې.

د سپټمبر یوولسمه (۱۱) په معاصر تاریخ کي یوه مهمه پیښه او د عطف نیټه ګڼل کیږي، د یوه اړخه امریکا تر سړې جګړې وروسته د شوروي اتحاد او کمونیزم تر ماتي وروسته کوم څرګند او ښکاره دښمن نه درلود، یاد حالت د امریکا پوځونه او پوځي ادارې د لټۍ خوا ته بیولې، حتا د امریکا د داخلي شخړو لامل ګرځیدلای سوای، د بل اړخه امریکا تر اسلامي خاورو پرته پر نوره ټوله نړۍ امریکایي برتري، پانګوال اقتصادي نظام او لبرال ډیموکراسي تپلې وه، په دې برخه کي یوازي د اسلامي خاوري ځیني هیوادونه او په ځانګړې توګه افغانستان وو، چي نه یې د امریکا برتري منلې وه، نه یې حکومتونه د لبرال ډیموکراسي پر بنسټ مخته تلل او نه یې ټولنیز ژوند د لبرال آزادۍ پر بنسټ چلیدی، دا حالت د امریکا لپاره یوه اندیښنه وه او په اوږدمهاله توګه د امریکا د هژمونتیا لپاره یو خطر ګڼل کیدی، له همدې امله امریکا او غرب د یادي پیښي څخه خورا لویه استفاده وکړه.

همدا پیښه ددې پلمه وګرځیده، چي غرب د امریکا په رهبرۍ د اسلامي خاورو ښکیلاک ته حشر وکړي او حتا په دې برخه کي یې د اسلامي خاورو ځیني مزدور او پلورل سوي مشران هم ورګډ کړل، لومړی یې افغانستان اشغال کړ، وروسته عراق او ځیني نور اسلامي هیوادونه یې اشغال کړه، غرب او امریکا د اسلام او اسلامي اُمت پر وړاندي خپلي ناولي جګړې ته د تروریزم پر وړاندي د جګړې سرلیک ورکړ، په داسي حال کي چي د دوی جګړه د اسلام او اسلامي اُمت په وړاندي پیل کړې وه، په دې اړه د امریکا د هغه وخت ولسمشر بوش په ډاګه ویلي وه: دا جګړه د صلیبي جګړو پاته سلسله او دوام دی، امریکا او غرب په خپله پیل سوې جګړه کي داسي هیله درلوده، چي په اسلامي خاورو او په ځانګړې توګه په افغانستان کي به د اسلام ډیوه مړه کړي، نور به څوک د اسلام او مسلمانانو نوم نه اخلي، دغه سیمه به په دایمي توګه د امریکا تر ښکیلاک لاندي وي، مځکه، طبیعي سرچینې او هوا به یې د امریکا او غرب په خدمت کي وي.

امریکايي سیاستوال وايي: د سپټمبر د یوولسمي (۱۱) د حملې په هکله درواغ لا تر اوسه هم هغومره ډېر دي، د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر پر دوهمه (۲) پر نیویارک او واشنګټن باندي د سپټمبر د یوولسمي (۱۱) تر حملې نهه (۹) ورځې مخکي يې داسي ليکلي وه: په منځني ختيځ او اسلامي نړۍ کي د امريکا ستراتيژيکي او اقتصادي ګټې د فلسطين د غميزي پواسطه چي پر امريکايانو او امريکايي ګټو باندي خامخا تروريستان حملې ته لمسوي، تهديدېږي، په داسي حال کي چي امريکايان پر خپل هیواد باندي د سپټمبر د یوولسمي (۱۱) حملې باندي لا تر اوسه هم ددې وحشیانه حملې په علت نه دي پوهيدلي. دوی يعني امريکا څوک ملامتولای سي؟ زموږ سیاستوال او خپروني د دغو او مابعده حملو په باره کي چې موږ يې (تروريزم) بولو، اصلي حقيقت بلکل مبهم کوي، حال دا چي موږ د سپټمبر د یوولسمي (۱۱) او پر افغانستان باندي د امريکايي (B52) الوتکو د درنو بمونو د باران د قربانيانو سره هم خپله غمرازي څرګند وو، امريکايان غواړي چي په يو عبث کوښښ سره د لويديځوالو د اشغال پر خلاف جنګيدونکي قبايلي ځواکونه چي طالبان دي وځپي، موږ کټ مټ کار په ۱۹۸۰م کال کال کي په لاؤس کي هم کړی وو، چي ولسمشر بارک اوباما همالته د خپلي کتني پر مهال ښه څرګند کړ، لاؤس لا تر اوسه هم نه دی روغ او جوړ سوی، افغانستان به هم ځيني روغ نه سي.

امريکا د ۲۰۱۵م کال راهيسي پر عراق، سوريه، ليبيا، يمن، سوماليا او افغانستان باندي چي ټول اسلامي هيوادونه دي، لږ تر لږه دوه ديرش زره (۳۲۰۰۰) درانه بمونه غورځولي دي، د امريکا د بمونو ډيپوګان هيڅ ډکيدو ته نه پاتيږي، ځکه نو د وسلو جوړونکي تر وخت اضافه کار کوي، د سپټمبر د یوولسمي (۱۱) حمله يوه انتقامي حمله وه، چي ډيری کړوني يې سعودي اتباع وو، دا ادعا يې کول: دوی غواړي پر فلسطين باندي د اسرائيلو د ظلمونو څخه د دفاع او د سعودي عربستان د اشغال په بدل کي امريکا ته سزا ورکړي، دا هغه څه دي چي موږ حقيقتاً په پوهيږو، موږ ته تر ننه هم د سپټمبر د یوولسمي (۱۱) د حملې بشپړ حقيقت نه دی ويل سوی، مګر تر ټولو ښه کار چي بايد ويې کړو، دا سوال دی: ددې حملې څخه اصلي ګټه چا تر لاسه کړه؟

د سپټمبر د یوولسمي (۱۱) روايت بيله ځنډه په يوه داسي کاذبه ادعا کي وپيچل سو، چي ويل يې: امريکا د خپلو آزاديو او ژوندانه د طريقې له امله د مسلمانانو تر حملې لاندي راغله. دغه منافقت هغه شيطاني قطعي خلاصه کړه، چي د دننه يې په امريکا او اروپا کي د اسلام دښمنی او صليبي تبي څپې خپرې سوې. امريکا ددې لپاره نه لکه څنګه چي ده، بلکي په اسلامي نړۍ کي د خپلو اعمالو په بدله کي د حملې سره مخامخ سوه، اکثريت امريکايان نه پوهيږي چي په منځني ختيځ کي د (CIA) له خوا د رژيم بدلول آن په ۱۹۴۸م کال کي لا په سوريه کي راپيل کړه سوي وه، موږ تر ننه لا په همدې کار اخته يو، چا دا حمله چا وکړه.

د هماغه راهيسي درو (۳) استعماري ټوپک هیوادونو امريکا، انګلستان او فرانسې په ټول منځني ختيځ او افريقا کي رژيمونه مات کړي او جوړ کړي دي او داسي ظالم ديکتاتوران يې نصب کړي دي، چي زموږ اطاعت کوي او په دې ډول د لويديځي افريقا څخه تر تاجکستان پوري يې موږ ته دښمنان توليد کړي دي.

د ۲۰۰۱م کال سپتمبر پر یوولسمه (۱۱) چي د امریکا پر سوداګریز مرکز کوم بریدونه وسول، ظاهراً یې امریکایانو ته د شور، فریاد او مظلومیت یو څه پلمه په لاس ورکړه او په دې ډول یې یاد بریدونه القاعده تنظیم پوري وتړل، بیا یې هر هغه مسلمان چي دوی ته ناخوښه وو، القاعده غړی وباله، د ټولي اسلامي نړۍ په خلاف د مخالفت او دښمنۍ اعلان وکړ، البته په دې لړ کي امریکایانو ته افغانستان بیا تر ټولو ډېره آسانه او پسته ګوله ښکاره سو، چي د ډېرو نارو، او لمسونو پواسطه یې د ځان سره ګڼ شمیر نور هیوادونه هم ملګري او د ترهګرۍ ځپلو په نامه یې تقریباً د پنځوسو (۵۰) هیوادونو څخه یو ستر لښکر چمتو او د یو شمیر کورنیو غدارانو او وطن پلورونکو په ملګرتیا یې زموږ پر هیواد یرغلګر وکړ، د امریکایي یرغل په نتیجه کي که څه هم د ټول غربي ایتلاف د کبیر غرور ښکر مات سو، مګر افغان ولس ته هم درانه زیانونه په کښي ورسیدل، د صلیبیانو د شکل (۲۰) کلن اشغال په دوران کي لکونه افغانان په شهادت ورسیدل او لس ګونه زره معیوب، اسیران، کونډي او یتیمان راپاته سول.

د ظاهري او مادي زیانونو ور هاخوا ډېر خطرناک یې هغه معنوي فساد ګڼلای سو، کوم چي موږ به لا هم تر ډېرو کلونو ور سره لاس او ګریوان یو، دا د غرب په مکرجن تبلیغاتي ماشین سره زموږ د میلیونو ځوانانو فکري تباهي او همدارنګه د میلیونو معتاد کیدل دي، چي زموږ د مسلماني ټولني لپاره یې خورا لوی سرخوږۍ جوړ کړی، همدا راز زموږ لپاره د نوموړي یرغل یو بل اغیز دا هم وو، چي په یاده شل (۲۰) کلنه دوره کي د پردیو پرمټ زموږ په هیواد کي د ګاونډیانو لپاره هم د لاس وهنو پوره آزادي ورکړل سوې وه، هغوی کولای سول دلته مادي ګټي تر لاسه کړي، فکري او کلتوري فعالیتونو ته په خلاص مټ دوام ورکړي، دا په دې معنا چي زموږ هیواد د هغوی د ناکاره مصنوعاتو او پیداوارو لپاره هم په زړه پوري مارکیټ وو، او هم یې د فرهنګ خپرولو لپاره بې بندیزه ټولنه.

نړیوالو زبر ځواکونو د تیر یرغل پر وړاندي د افغان مؤمن او میړني ملت د بې ساري ثبات په وجه عملاً او په واقعي توګه ټولو نړیوالو ته ډیره ښه معلومه سوه، چي دا ولس څه ډول حیثیت لري، د جنګ، جګړو او مقاومت څومره حوصله لري، نړیوالو ولیدل چي افغانانو د ټولي کبرجني نړۍ څومره اخطارونو او جدي غوښتنو ته د نه جواب ورکړ، نه یې کوم جلا وطنه مسلمان لاس تړلی په لاس ورکړ، نه یې د هغوی کوم بل فرمایش ومانه او نه یې د هغوی زورو ځواک ته د تسلیمۍ لاسونه پورته کړل، په دې توګه زموږ راتلونکي نسل ته همدغه میړنۍ دریځ د یو ژوندي درس په حیث ورپاته سو، په نړۍ کي د هر زورو او کبرجن لپاره داسي یو لوی عبرت وګرځیدی، چي ښایي بیا هیڅوک د یو داسي سربښندونکي ملت آرزښتونو ته په سپکه ونه ګوري. سربیره پر دې خپله زموږ لپاره بیا تر ټولو مهم سبق دا سو، چي خپل ګاونډیان مو ډیر ښه وپیژندل، د هغوی ارادې او نیتونه ښه راته څرګند سول، موږ ولیدل چي د امریکا د واکمن بوش د ږغ سره سم زموږ مسلمانو ګاونډیانو څومره په اخلاص یرغلګرو ته خپله مځکه او فضا په واک کي ورکړه او څنګه یې زموږ د څلویښت (۴۰) میلیونو وګړو د تباهۍ، بدمرغۍ او اشغال پر سر څو ناچیزه ډالرو ته ترجیح ورکړه او په ښکاره یې تر څنګه ودریدل.

د الله سبحانه وتعالی اراده بل څه وه، د امریکا په ښکیلاک سره د غرب او امریکا پر وړاندې د مسلمانانو نفرت نور هم ډیر سو، مسلمانان نور هم خپل دین، عقیدې او اسلامي آرزښتونو ته متوجه سول او د مسلمانانو په زړونو کي د ایمان ډیوې نوري هم روښانه سولې او بلاخره تر شل کلني جګړې او وحشتونو وروسته د الله سبحانه وتعالی په مرسته او د افغانانو د جهاد په نتیجه کي نامراده او سرټیټي د افغانستان څخه وتښتیدل، حتی د امریکا پخواني ولسمشر ټرمپ د پیغور په شکل د امریکا د وخت ولسمشر بایډن ته ویل: امریکا د شپې په تیاره کي د افغانستانه ووتل.

شپاړسم فصل

د ښځو منزلت او مقام په غربي نړۍ کښې

دا چې لویدیځه نړۍ بار بار ادعا کوي چې مسلمانان د ښځو حقوقو ته ژمن نه دي، او پر ښځو باندي لازمي حجاب اغوندي، اسلام د ښځو حقوقو ته قایله دی که غرب؟ هغه غرب چې ځانونه د ښځو د حقوقو مدافعین بولي او وایي: موږ بې قیده او بې بندو باره حریت ښځو ته ورکړی دی، هو! موږ ستاسو په تاریخ ډیر ښه خبر یو، تاسو خو ښځه د بدمرغیو اصلي عامل ګڼله او حتی ښځي مو نه پریښوولي چې انجیل لمس کړي، د غربي نړۍ رسنیو د درنو تبلیغاتو پر بنا د ښځو ژوند یې په اسلامي ټولنه کي تر شدید فشار لاندي معرفي کړی دی، او هیڅ ډول قانوني آزادي نه لري، د غربي ښځو په تقابل کي د دوی حقوق پر هیڅ حساب دی، مګر دوی وایي: غربي ښځي په تمامه معنا اقتصادي، سیاسي او اجتماعي آزادي لري، او هغه حریت چې یو سړی یې لري ښځي هم ځیني مستفیدي دي، اما حقیقت بل څه دي.

په اصل کي په لویدیځه نړۍ کي ښځه د جنسیتي استفادې، آرایش، مارکیټنګ او فحشاء یوه اهمه وسیله ده، دا چې ډیری وخت خپله لویدیځو رسنیو وخت ناوخت راپورونه خپاره کړي او زیاته کړې یې ده: په هغه اداراتو کي کوم چې ځواني انجوني په کاري مختلط ماحول کي مصروفه دي، یا هم د هماغو ادارو عضوي دي په زور او خشونت سره جنسي استفاده ځیني کیږي. آیا جنسیتي عدالت همدا دی چې دوی یې شعار ورکوي؟ آیا د ښځو حقوق همدا دي؟ آیا د ښځو په وړاندي د خشونت مخنیوی همدا دی؟ آیا دا عدالت دی چې په لویدیځه نړۍ کي په هرو دوو (۲) دقیقو کي پر یوه ښځه جنسي تجاوز کیږي؟ که په حقیقت کي موږ ځیر سو، دغه په نامه شعارونه چې د ښځو د حقوقو مربوطه ورکول کیږي، دا تش په نامه دي او اصل قضیې ښکاره دي، اما بیا هم حقیقت بل څه دي، که په کاري مختلط ماحول کي وګورئ هغه ډول شتون لري چې څنګه دوی د هغه شعار ورکوي، کوم تبلیغات چې په رسنیو کي تر سترګو کیږي، دا په حقیقت کي په سترګو کي خاوري اچول دي بل څه نه.

ګواکي دوی فکر کوي چې په نړۍ کي خلګ په هیڅ هم نه دي خبر، خو داسي نه ده، بلکي په ټولو قضایاوو عمیق خبر دي، په امریکا او اروپا کي چې کوم څیړني او تحقیقات ښکاره سوي دي د هغو څخه معلومیږي چې ښځه اوس هم هلته د انسانیت په مقام نه مسما او موصوف کیږي، او تر دې به لا هم ښه وپوهیږې، چې آیا ریښتیا هم جنسیتي عدالت پلي سوی دی او که یا؟ په غربي نړۍ کي ښځي نه یوازي په جنسیتي لحاظ، بلکي په رواني لحاظ د ستر تهدید او مشقاتو سره مخ دي، هغه شاقه کارونه چې د ښځي د توان سره هیڅ اړخ نه لري، ښځي یې ترسره کوي، په غربي تعلیمي مراکزو کي فحشاء دومره زیاته ده، همدغه ځایونه چې په ظاهره د اخلاقو، تعلیم او تعلم د زده کړي مراکز باید وګڼل سي، اما برعکس د بد جنسۍ او بدکارۍ مراکزو باندي بدل سوي دي، تر دې پوري چې استادان د خپلو شاګردانو سره نامشروع جنسي اړیکي لري. د یو راپور له مخي په امریکا کي نه شپیته (۶۹) فیصده ښځي د جنسي اذیت لاندي دي.

د کوپینپیاک راپور: هغه ښځي چي عملاً په کاري عرصه کي اخته دي، تر جنسي زور لاندي دي.

د ګالوپ د راپور پر اساس: په سلو کي (۳۴٪) فیصده ښځینه کارکوونکي د جنسیتي تهدید لاندي دي، او په امریکا کي هغه ورزشي قهرماني ښځي چي د دغه هیواد لپاره یې په مختلفو عرصو کي مډالونه لرل، دوي هم جنسي اذیت تجربه کړې دی.

په سلو (۱۰۰) سړیو کي شل (۲۰) سړي تر خپل لاس لاندي ښځینه کارکوونکي مجبوروي او اړ باسي یې چي د دوی څخه نامشروع غوښتني پوره کړي.

هغه لس (۱۰) هیوادونه چي ښځي په کښي کي د جنسیتي زور لاندي دي، دغه لس (۱۰) سره هیوادونه غربي نامسلمان هیوادونه دي.

په ۲۰۱۷م کال کي د یو راپور پر اساس امریکا لومړنی هیواد وو، چي د جنسیتي زور په ګراف کي یې لومړی مقام تر لاسه کړی وو.

د یو بل راپور پر اساس: په امریکا کي په هرو درو (۳) ښځو کي یوه یې جنسي تعزیر تجربه کوي.

د اسوشیټیډ پریس د راپور له مخي: تر دیرشو زرو (۳۰۰۰۰) زیات هغه غیري اخلاقي عکسونه او فلمونه چي انجوني یې عملاً په سپورټي برخه کي مصروفي وي تر لاسه سوي.

په هالیووډ کي د ښځو سره وحشیانه جنسي استبداد ترسره کیږي، په سلو کي (۹۴٪) فیصده ښځینه فلمي لوبغاړي او اداکاراني جنسي تعرض تجربه کړی او لا به دغه پروسه جاري وي.

د ښځو بي حجابي د استعمار له اهمو اهدافو څخه دي، ښځه په اسلامي ټولنه کي د ملکې حیثیت لري، اسلامي ټولني ښځي ته خورا ښه پراخه شریعي حقوق ورکړي دي، اسلام د ښځو د عزت او د دوی د پټ د ساتلو په خاطر باندي پر دوی باندي حجاب لازم ګرځولی دی، کله چي انګلستان د اسلامي هیوادونو د مستعمره کولو اراده وکړه، لومړی یې د دغه شوم کار د ترسره کولو لپاره په خپل حکومت کي د مستعمراتو د وزارت په نوم یو وزارت تأسیس کړ، چي وظیفه یې د اسلامي هیوادونو د مستعمره کولو لپاره پلانونونه جوړول وه، یو د دوی د دغه پلانونو د جملې څخه په اسلامي هیوادونو کي د ښځو بې حجابه کول وه.

د دوی د پلان مطابق په اسلامي هیوادونو کي داسي کار شروع سو، دوی داسي وویل: د ښځو د بې حجابۍ مسئلې ته باید خاصه پاملرنه وسي، د حجاب په خلاف باید پوچ تبلیغات شروع سي، د شرعي حجاب له منځه وړلو په خاطر باید کنفرانسونه، غونډې، مظاهرې ترتیب سي، ضعیف الایمانه مسلمانان نارینه او ښځینه باید په پیسو رانیول سي، هغوی تربیه کړل سي چي په جماتونو، کورونو او حجرو کي د حجاب په خلاف په عوامو کي دا ذهنیت ترزیق کړي چي ستر او پرده د ښځو سره ظلم دی، ښځه مظلومه یې د حجاب او ستر په نوم په کورونو کي قید او بندي کړې ده. دوی دغه ناوړه پلان د ډیر پخوا په کار اچولی دی، چي نن هم متأسفانه په اسلامي هیوادونو کي د دوی په لاس جوړ سویو حکومتونو پواسطه په کامیابي سره راون کړی دی، ځوانانو ته په کار ده چي د دغه ناوړه پلان په مقابل کي کلکه مبارزه وکړي، او غربیان پرې نه ښوول سي چي دوی دغه ناوړه هدف او پلان ته ځانونه ورسوي.

د اشغال سوي فلسطين په کوڅو کي يو يهودۍ ماشوم د خپلي اووه (۷) کلنۍ خور سره چي مکمل په حجاب کي ده ګرځي، د الحريدم اليهودية په نوم په يهودو کي يوه فرقه ده چي په اووه (۷) کلنۍ کي په ښځو باندي حجاب لازم ګڼي، د محرم پرته د کوره وتل پرې ممنوع دي،

د ښځو وظيفه يې يوازي د اولادونو تر پاللو محدوده ده، او بې له ضرور ته د کوره وتل هم ممنوع دي، مګر برعکس همدا يهود او صليبيان اسلامي حجاب وروسته پاته والی، دهشت ګردي او افراطيت ګڼي، په سلګونه رسنۍ د حجاب او اسلامي شعائرو پر ضد شپه او ورځ پوچ تبليغات کوي، او بنديزونه يې پرې وضع کړي دي.

په ۱۹۱۶م کال کي د استراليا د باچا ميرمن په حجاب کي ګرځيدل، د باچا څخه ماسيوا بل چا حق نه درلودی، چي د ملکې مخ ويني، ملکي ته به يې ويل: مخ دي پټ ساته. موږ غربيانو ته وايو: هره مسلمانه ښځه ملکه ده، د مسلماني ملکي مخ بايد يوازي د هغې خاوند يا ددې محرم څخه ماسيوا بل څوک ونه ويني.

دا هغه خلګ دي چي موږ ته انساني حقوق راښيي، او ځانونه په نړۍ کي د بشري حقوقو مدافعين بولي، دا هغه غرب دی چي د بشر حقوقو مدافعين ځانونه بولي، دا د دوی حقوق دي خپلو ښځو ته يې ورکوي، دوی د خپلو ښځو څخه د حيوانانو په څير کار اخلي، په اخير کي قضاوت تاسو ته پريږدو، چي په حقيقت کي مسلمانان د ښځو حقوقو ته ژمن دي، که غربيان؟

د ښځو حقوق په غرب کښي

اوولسم فصل

آیا جمهوریت اسلامي نظام دی؟

په منځنیو پیړیو کې په اروپا کې فردي واکمنی، بې قیده او د هر څه څخه آزادي وې، د واکمن ژبې د قانون حیثیت درلود او هیڅ شی د واکمن پر وړاندي خنډ او دیوال نه وو، ددې ټولواکه (مطلق العنان) واکمنیو په پایله کې د تیریو، ستمونو او بې انصافی بازار تود وو، له همدې امله په اروپا کې ددې تیریو او ستمونو پر وړاندي سخت غبرګونونه وښوول سول او شخصي حکومت په خپل ځان کې نیمګړی وګڼل سو، پر همدې بنسټ (جمهوریت) د یوې نوي طریقې او کړنلارې په توګه وپیژندل سو، په پایله کې یې په تدریجي توګه د یو کس د واکمنی ټغر په بشپړه توګه ټول سو او د هغوی ځایونه جمهوري حکومتونو ونیول، جمهوریت تر دې کچې محبوبیت پیدا کړ، چې په سیاسي نظام کې د عدالت، حق او رښتینتوب ضامن وپیژندل سو، په تیره سپوږمیزه پیړۍ کې د هر هغه خوځښت په اهدافو کې چې پاڅون یې کړی دی، جمهوریت د (کلمه طیبه) په کچه ځای وموند او داسي انګیرل کیده، چې د جمهوریت پرته سیاست د منلو وړ نه دی.

د همدې تبلیغاتي یرغل په پایله کې د اوس وخت ډیرو اسلامي خوځښتونو یوازي دا نه چې جمهوریت یې د یو مسلم اصل په توګه منلی او لا هم مخکې ځي، بلکې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره یې د جمهوریت په پښو درول د خپلو کړنو لومړی هدف ګرځولی دی، خپل خوځښتونه یې د جمهوریت د اصولو په چوکاټ کې ترتیب او ځای کړي دي، دا خبره پر ژبو ډیره ولویده، چې جمهوریت کټ مټ اسلام دی او اسلام یوازي د جمهوریت ښوونه کړې ده، کومو خلګو چې محافظه کاري کړې ده او د احتیاط لوری یې نیولی دی، هغوی داسي ویلي: موږ د جمهوریت هغو اړخونو ته چې د اسلامي احکامو سره په ټکر کې دي، غاړه نه ږدو، له همدې امله زموږ جمهوریت (اسلامي جمهوریت) دی.

دا انګیرني په اوس وخت کې په دومره کچه مشهوري او څرګندي دي، چې ددې ناسمو اندونو سره مخالفت کول د نړۍ سره د مبارزې د لټون او د ټولي نړۍ د لعنتونو، کرکو او تورونو منلو ته غاړه اینوولو سره سم دی او که چیري کوم څوک د جمهوریت پر وړاندي د فردي واکمنی څخه دفاع وکړي، نو ګوندي په اوسنی سیاسي فضا کې د کفري کلمې مرتکب سوی دی، مګر هغه څوک چې الله (جل جلاله) د دعوت او د دینه د خرافاتو د جلا کولو لپاره د دین د کره کتني په موخه غوره کړی وي، پر زمانه د تصوراتو د اچول سوي سیوري او د عامه وګړو د غولوونکو شعارونو څخه اغیزمن او مایل کیږي نه، بلکې په هر حالت کې حق د حق په توګه او باطل د باطل په توګه پیژني.

حکیم الأُمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله علیه) هیڅکله د یوې شیبې لپاره هم نه ده منلې، چې اسلام د جمهوریت غوښتونکی دی، یا دا چې جمهوریت کټ مټ اسلام دی، بلکې نوموړي په خپلو ویناوو او لیکنو کې پر جمهوریت نقد کړی او د دین د لیدلوری یې د جمهوریت پر شکونو، څرنګوالی او څیره د (خو) ګوته اینښې ده.

عمومي ذهنونه په دې باور دی، چي د ټولواکۍ (مطلق العنان) پر وړاندي جمهوريت د خلګو لپاره د خپلي عقيدې آزادي او څرګندول منځته راوړي او د حکومت واکمن تر داسي شرايطو لاندي راولي، چي پر خپل سر ونه سي کړای چي په هر کار لاس پوري کړي او دا چي اسلام په کارونو کي د مشورې دستور ورکړی دی، نو ځکه يې جمهوريت د مشوره کولو سره په يوه معنا ګرځولی دی، او دې باور ته رسيدلي، چي جمهوريت کټ مټ اسلام دی، په حقيقت کي د جمهوريت د نظام د پردې شاته داسي فلسفه نغښتې ده، چي په هيڅ صورت کي د دين سره ورته والی نه لري او د جمهوريت يو اړخ مثل هم د سيکولر نظام د منلو په معنا دی، د جمهوريت د لا څرګندوالی لپاره دا مشهوره جمله شتون لري، چي جمهوريت يعني د خلګو په وسيله د خلګو لپاره د خلګو حکومت. پر همدې بنسټ ولای سو: د جمهوريت اصل هدف د وګړي پر ټولو واکمن (حاکم اعلی) پيژندل کيږي او اکثريت چي کوم تصميم ونيسي، هغه واجب العمل او انکار نه سي په کښي منل کيدای، د همدې اکثريت پر رايه هيڅ ډول قيد او شرط نه وي.

د بيلګي په ډول: که ولسي جرګه (قوه مقننه، پارلمان) داسي کوم قانون تصويب کړي، چي د قرآن کريم او د شريعت د احکامو سره په ټکر کي نه وي، نو دلته ددې قانون د پلي کولو دليل دا نه دی چي د پاسه راليږل سوی، يا د الله (جل جلاله) امر دی، بلکي دليل يې دا دی، چي اکثريت منلی او که هر کله همدا اکثريت وغواړي، کولای سي هغه فسخ کړي.

د پورته بحث لنډيز دادی، چې جمهوريت د اکثريت په رايه د خدايي مقام لری (معاذالله) او د هغې هيڅ ډول تصميم او حکم نه رد کيږی. پر همدې بنسټ په لويديځو هېوادونو کې بدترين او سپک قوانين يوازې د اکثريت په رايه يو په بل پسې تصويب شوي او د پلي کېدو په حال کې دی. د زنا او همجنس بازۍ ناوړه اعمال يوازې پر همدې اصل د جواز سند ګرځېدلی او د همدې اندونو کړنلارې نړۍ د اخلاقی فساد پولې ته رسولې.

حکيم الأُمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله عليه) په بيلا بيلو ځايونو کي د جمهوريت په دې فلسفه (د اکثريت پر رايه) انتقاد کړی، د هغې بې کفايتي او ناتواني يې څرګنده کړې ده.

له دې نور کوم څرګند ثبوت چي پر حق د اکثريت رايه غوره وګرځول سي؟ د هغو نظرياتو چي پر نړۍ يې سيوری غوړولی دی، د مسلمانانو په منځ کي هم دې انګيرني ځای نيولی دی، د هر لوري رايي چي ډيري وي، هغه به حق وي.

حکيم الأُمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله عليه) په ډيرو ځايونو کي په خپلو تاليفاتو او ويناوو کي ددې تيروتني په اړه وګړو ته خبرداریٔ ورکړی دی، په يوه وينا کي وايي: نن ورځ يوه هيښوونکې مسئله منځته راغلې ده، ټول دا تصور کوي، چي حق په هغه لوري کي دی، کوم چي ډيری رايي ولري.

د اکثريت رايه هيڅکله نه سي کولای د حق په ځير معياري ځای ونيسي، ځکه ډيری عوام ناپوه او يا د لږ پوهي درلودونکي وي.

حکیم الأُمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله علیه) په بل ځای کي وايي: مولانا محمد حسين الله ابادی سيد احمد خان ته وويل: تاسو چي د اکثريت په رايه عمل کوئ، په حقيقت کي تاسو په احمقانه رايه عمل کوئ، ځکه د فطرت قانون داسي دی، چي عاقلان په نړۍ کي کم او ناپوهان ډير دي، نو له همدې امله د اکثريت پر رايه د عمل کولو قاعده به د ناپوهۍ (جاهلانه) قضاوت وي.

د احد په غزا کي د هغو پنځوسو (۵۰) تنو اصحابو په منځ کي اختلاف را پور ته سو، چي د غره د کنډو او درې په منځ کي ځای پر ځای سوي وه، ځينو وويل: زموږ د وروڼو بريا په برخه سوې ده، اوس په دې ځای کي زموږ د پاته کيدو اړتيا نه ليدل کيږي او د کومي موخي لپاره چي موږ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دلته ټاکلي وو، لاسته راغلې ده، ځکه نو دلته زموږ د پاته کيدو آمر پای ته رسيدلی دی، ددې ځايه اوس زموږ تلل به د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مقصد سره مخالفت نه وي، تر اوسه مو په جګړه کي ګډون نه درلود، خو اوس چي زموږ وروڼه د کفارو په تعقيب بوخت دي، موږ هم بايد يو کار ترسره کړو او غنيمتونه راټول کړو، ځينو نورو ددې رايې سره مخالفت وکړ او ويې ويل: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وويل: زما د اجازې پرته د خپل ځای څخه حرکت ونه کړئ، نو ځکه موږ بايد د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اجازې پرته را ټاکل سوی ځای پرې نه ږدو، مګر لومړۍ ډلي دا رايه ونه منله او هغو څلويښتو (۴۰) کسانو خپل ځای پريښود، د جګړې د غنايمو په راټولولو بوخت سول، دا د هغوی اجتهادي تيروتنه وه، په هغه ځای کي يوازې د خپل مشر سره لس (۱۰) کسان پاته سول، په دې پيښه کي د ډيرو رايه په تيروتنه، د لږو رايه په ربښتيا او حقيقت ولاړه وه، اوس هغه کسان چي د اکثريت رايه د حق نښه بولي، ورته مناسبه ده چي دې پيښي ته پام وکړي.

د لا زياتو څيړلو لپاره حکيم الأُمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله علیه) په دې اړه دومره مخته ولاړی، چي د اکثريت رايي د مفکورې درلودونکو ته يې د حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) د کړنې بيلګه وړاندي کړه، چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رحلت وروسته څه وخت چي د عرب قبايلو يوې برخي خلګو د زکات د ورکړي څخه انکار وکړ، حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) د دغو خلګو سره د جهاد غوښتونکی سو، حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) هم د نورو په څير پر خپله رايه ټينګار درلود، مګر خبره د حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) له اند سره سمه ترسره سوه او د عرب قبايلو سره د جهاد وروسته ټولو ومنله، چي سمه رايه هغه وه کومه چي حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) وړاندي کړې وه.

حکيم الأُمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله علیه) د اکثريت د نظريې پر څرنګوالي د شريعي او عقلي دلايلو په وړاندي کولو سره انتقاد کړی او په ساده تورو يې داسي حقايق وړاندي کړي دي: که هر منځګړی کس د هغې په اړه فکر وکړي، نو همدې پايلي ته به ورسيږي.

که څه هم د سياست د علم ځيني متخصصين، حقيقت لټوونکي او ماهرين د جمهوري نظام خامۍ او زيانونه مني.

د اندمند بورک په نوم د سياست د علم پوهاند ليکي: د اکثريت رايه منل د فطرت له قانون سره سم کار نه دی.

ځيني وخت د لږه کيو رايه کولای سي ډيره کلکه او پياوړې وي، د اکثريت د حرص او هوس په پرتله په دې کي عقلانيت ډير تر سترګو سي، نو پر همدې بنسټ دا مقوله، چي د منلو وړ رايه د اکثريت رايه ده او بايد همدا د اکثريث رايه د قانون بنسټ وګرځول سي، د تدبير او مفيد کيدو د پلوه په هماغه کچه بې ګټې ده لکه څنګه چي د حقانيت د پلوه ده.

حکيم الأُمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله عليه) په يوه بله وينا کي وايي: لومړی د اکثريت د لاسته راوړلو لپاره د ناپوهانو رايي راټولوي او د هغوی ډيروالی يقيناً د حماقت په لوري وي، بيا نو خپله رايه په هغوی مني او همدا ډول هغوی ته داسي روزنه ورښيي، چي څه بايد ووايي، په هماغه ډول دا کار ترسره کوي، لکه څنګه چي وکيل شاهدانو ته ښوونه ورکوي، نو اوس دا اکثريت څه آرزښت لري.

ځينو جمهوريت غوښتونکو کوښښ وکړ، چي د مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله عليه) دې اند ته يوه سرسري انګازه ورکړي او ځينو نورو وويل: دا د داسي چا اند دی، چي د سياست په علم کي هيڅ لاسرسی نه لري، مګر حقيقت دا دی، چي سره له سياسته د ليري والي د حکيم الأُمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمة الله عليه) ليدلوری د اوسني وخت په ستونزو کي رښتنی دی، د مأخذ بنسټ يې قرآن کريم او احاديث دي.

دوکتور ابادورای د هند په نيمه وچه کي د خپلو تاليفاتو د امله مشهور دی، دی د جمهوريت د برياليتوب د شرايطو د پيژندو وروسته ليکي: د جمهوريت تاريخ شاهد دی، دا شرايط هغه شرايط دي چي د جمهوريت برياليتوب په هغه پوري تړلی دی، په هيښوونکې توګه بشپړ سوي دي، د عمل د پلوه جمهوريت په اصل کي د ناپوهانو د واکمنۍ په معنا دی، د جمهوريت ټوله پاملره په اندازه کولو او شميرلو کي وي، نه پر څرنګوالي کي وي، په جمهوريت کي رايي شميرل کيږي، نه وزن. د هيواد د ډيرو سيمو ډيری وګړي حکومت ته پاملرنه خپله بنسټيزه دنده نه بولي، آن د حکومت سره ښې اړيکي نه لري، هغوی په خپلو کارونو او ژوند بوخت دي، هغه کارونه ترسره کوي، چي د هغوی کسب او کار وي، ځمکه وتره کوي، د تخم دانې کري، لو کوي، محصولات خرڅوي او اصلاً فکر نه کوي، چي په حقيقت کي د هيواد واکمن دوی دي. د جمهوريت په نظام کي دا ګواښ سته، هغه ذهنيت چي د هغه په وسيله خلګو د مسئلې حقيقي مفهوم درک کړی دی، ددې پر ځای چي هغه تر شنني لاندي ونيسي او د ټولټاکنو پر وخت د مسايلو د حل او فصل په موخه د هغه څخه کار واخلي، داسي نه کيږي، بلکي له همدې امله ډيری خلک په شعارونو او قومي يا ژبني احساساتو غوليږي.

سر هنري مين وايي: هيڅکله جمهوريت نه سي کولای د اکثريت په استازيتوب واکمني وکړي، ځکه د وګړو لويه ډله د خپلو مشرانو رايه په پام کي نيسي او مني يې.

آيا جمهوريت د اسلامي نظام څخه غوره دی؟ جمهوري يا ډيموکراتيک نظام او اسلامي نظام يو تر بله لکه مځکه او آسمان دومره توپير سره لري، ځيني اشخاص د جمهوريت سره د اسلامي مختاړی او روستاړی ضميمه کوي او بيا وايي: دغه نظام د اسلام سره په ټکر کي نه دی، بايد عرب او عجم يې ومني، ځکه د دوی په باور په دغه نظام کي هم اسلامي او هم

ډیموکراتیک آرزښتونه خوندي سوي دي، مګر حقیقت دا دی: لکه څنګه چې اوبه او غوړي په یوه لوښي کي تعامل نه سره کوي، همداسي اسلامي او ډیموکراتیک آرزښتونه هم په یوه جغرافیه کي تعامل نه سي سره کولای، یا به یو د لوښي پای ته ځي، یا بل او یا برعکس، چي په پایله کي به د لوښي لاندي برخه کي ځای پر ځای سي، د خلکو د پامه به لویدلی وي، لکه اوس چي په اسلامي نړۍ کي جمهوري اسلامي نظام حاکم دی، جمهوریت محبوب په کښي لري، مګر اسلامي نظام د خلکو څخه پټ او د خلکو د نظره لویدلی دی، پام مو وي چي موږ اوس په اسلامي نړۍ کي جمهوري اسلامي نظام لرو، مګر اسلامي آرزښتونه په کښي پایمال دي، یوازي جمهوري یا ډیموکراتیک آرزښتونو یا اصولو ته درناوی په کښي کیږي، اسلامي آرزښتونو او اصولو ته درناوی نه په کښي کیږي.

ځیني کسان له دې کبله پر جمهوري نظام ټینګار کوي، چي همدا نظام یې د دنیوي هیلو د پوره کیدو، موقف ته د رسیدو او شتمن کیدو یوازینۍ هیله ده، ټولي هیلي یې په جمهوریت پوري تړلي دي، د دوی په باور که جمهوري نظام حاکم نه وي، دوی به پر درې ګزیانو وګرځي، یا به شاقه کارونو کوي او یا به نورو هیوادونو ته د شاقه کارونه لپاره ځي، مګر ځیني کسان بیا په بې خبرۍ کي د جمهوریت غیږي ته لویدلي دي، دوی فکر کوي چي همدا به یې د نیکمرغۍ یوازینۍ مرجع وي، که اسلامي نظام حاکم سي د دوی برخلیک به مبهم سي، دوی له دې کبله چي په جمهوریت کي را لوی سول او د ځینو بیا دغه جمهوریت حافظه ور ومینځله، د اسلامي آرزښتونو او اسلامي نظام څخه بیخي لیري سوي دي، دوی ته د جمهریت په جریان کي د زهرجنو تبلیغاتو اسلام او اسلامي نظام د یوې ظالمانه مفکورې او بلا په توګه پیژني، دوی وایي: که اسلامي نظام حاکم سي، د هیچا خیر به په کښي نه وي.

مګر حقیقت دا دی چي اسلام د نیکمرغۍ او خلاصون یوازینۍ مرجع ده، که څوک د اسلامي اصولو په اساس عمل وکړي، هیڅکله به پیښمانه او د بدمرغۍ سره مخ نه سي، اسلام او اسلامي نظام، پر انسانانو باندې د الله سبحانه وتعالی یوه ستره پیرزوینه ده، اسلام دی چي په برکت یې د ټولي نړۍ څخه د وحشت او بربریت کمپله ور ټوله کړل، انسانان یې د یو بل حقوقو ته متوجه او د تاریکۍ څخه را بهر کړل، کفار نن په داسي حال کي مسلمانانو ته د ښځو د حقوقو د رعایتولو توصیه کوي، چي کابو څورلس (۱۴) پیړۍ مخکي دوی د انجونو زیږون پیغور ګاڼی او ژوندۍ به یې تر خاورو لاندي کولې، مګر اسلام د ښځو مقام او حقوق ور وپیژندل، دوی داسي مهال تر اسلامي نظام جمهوریت غوره ګڼي، چي پیړۍ مخکي دوی خپله له دې کبله د اسلامي حاکمیت قلمرو ته پناه ور وړه، چي په خپلو کفري نظامونو کي د انسان په سترګه نه ورته کتل کیدل او داسي نور... نو اوس تاسو فکر وکړئ چي کوم نظام غوره دی؟ اسلامي نظام که جمهوري نظام؟

په داسي حال کي چي په جمهوري نظام کي واک د خلکو سره وي، مګر په اسلامي نظام کي واک د الله سبحانه وتعالی سره وي، په جمهوریت کي فاسق، غل، غاصب، زاني، قطاع الطریق، بچه باز او په نورو منکراتو او بدمرغیو ککړ هم زعامت یا مشري کولای سي، مګر په اسلام نظام کي د مشري معیار تقوا، دیانت او په اسلامي احکامو باخبري ده، نو اوس فکر وکړئ چي کوم نظام غوره دی؟!

د اسلامي حکومت جوړښت:- ۱:- الهي اصول: د اسلامي نظام اصله بدنه الهي اصول او د اصولو تعميلونکي زمامداران دي، اسلامي نظام هم په فرد او هم په ټولنيز ډول عملي کيږي، الهي اصول د پوليسو په شتون او نه شتون دواړو کي په انسان حاکميت لري او زمامداران يې د ټولني خادمان دي.

الف: د پوليسو په نه شتون کي اسلامي نظام: هغه محکمه چي انسان ملامتوي وجدان دی، د ايمان په زيادت د وجدان حاکميت زيات تر دې چي د هغه شخصه خليفه انسان جوړه وي او که ايمان صفر کيږي هغه شخص د انسانيت د مدار د بشريت او بالاخره د حيوانيت او شيطانت مدار ته تنازل کوي، د هغه انسانه شيطان يا دجال جوړيږي، په اسلامي نظام کي د پوليسو په شتون او نه شتون دواړو کي اسلامي نظام چليږي، مګر په انساني نظامو کي که پوليس وي جرم نسته او که نه وي په لسګونه جرايم ترسره کيږي، هغه هم که پوليس مصلح وي، د شلو (۲۰) سرغړونو وروسته پوليس ټکټ ورکوي، د هغو نورو سرغړونو تلفات او خسارات چي پوليس په کښي نه وي، جبران به څوک کوي؟ په انساني نظامونو کي جرمونه صعود او اسلامي نظام کي جرمونه صفر او يا صفر ته تقرب کوي، که يو کس سهواً سرغړونه هم کوي، وجدان يې قاضي ته په ريښتيا ويلو مجبوروي، شاهد ته اړه نه لري، په خپله خطاء خپله اعتراف کوي او د خپل جرم بيه خپله پرې کوي، الله اکبر چي مرتکب د خطاء هم مجرم، هم پوليس او هم قاضي جوړيږي، اسلامي نظام د مسلمان دننه وجداني محکمه دايروي او فيصله کوي.

ب: د پوليسو په شتون کي اسلامي نظام: اسلامي نظام کي اصول د فرد او ټولني پر زړونو او مغزونو حکومت کوي، الهي اصول د ريښتيني عدالت تضمين او حق حقدار ته رسوي، د الهي نظام دولت په رأس کي د مجتهدو علماوو عالي شورای قرار لري او ټول د الهي اصولو له مخي فيصلې کوي، مګر په انساني نظامو کي حاکمان هم حکومت، هم قانون جوړونکي او هم قانون پلي کوي، د قانوني زور د لرلو د امله هر څوک په هر پوست کي متناسباً هر ډول فساد کي ننوځي جرمونه او ګډوډي ورځ د بلي زياتوالی کوي، حريص انسانان په خپلو استثماري اصولو مظلوم ولسونه قانوني استثمار او غلاموي.

۲:- اسلامي حکومت: د اصولو يوازينی مرجع خالق لايزال دی، هر هغه حکومت چي اساسي قوانين يې د قرآن کريم او احاديثو سرچينه نيولې او د عادلو حکامو له خوا کماحقه عملي کيږي او د قوانينو تعميلونکي يې د ولسونو خادمان وي، ولسونه يې معاشونه تاديه کوي، هغه اسلامي حکومت يا اسلامي نظام دی.

جمهوريت چي اساسي قانون يې د ډيموکراسۍ څخه سرچينه اخلي، په جمهوري نظام کي رئيس او وکيلان د رايو په اکثريت ټاکل کيږي، د ټاکلو د اهليت لپاره يې کومي ځانګړي او معتبري لايحې هم شتون نه لري، يوازينۍ شرايط يې څلويښت (۴۰) کلني، سواد او د هغه هيواد شهريت لرل دي، هر خس او خاشاک رئيس او وکيلان جوړيږي، د هر ډم او عالم رايي سره مساوي دي، دغه ټاکل سوي وکيلان د رايو په اکثريت اساسي قانون جوړوي، د عدليې قوه فيصلې ورباندي کوي او اجرايوي قوه يې تعميلوي.

د پورته تعریفو او معلوماتو له مخي د انسان څخه خدای جوړیږي، العیاذبالله د الله سبحانه وتعالی د حکم پر ځای د انسان حکم او قوانین تصویب او عملي کیږي، نو په ډاګه ویلای سو: اسلامي جمهوریت اسلامي کفر دی. په اسلام کي کفر نسته، نو د جمهوریت سره د اسلام ټکی یو ځای کول د اسلام د دښمنانو عمل دی. د جمهوریت تعریف: د خلګو حکومت، د خلګو له خوا د خلګو لپاره.

ډیموکراسي د اسلام مخالف قطب کي قرار لري، یعني د اسلام حرام ډیموکراسۍ کي حلال او د اسلام حلال په ډیموکراسۍ کي حرام دي، شراب، زنا، همجنسبازي، نشه یي توکي او داسي نور په اسلام کي حرام دي، مګر په ډیموکراسۍ کي حلال دي، همجنس بازي اسلام څه چي په حیوانیت کي هم حرامه ده، مګر د ډیموکراسۍ په اساسي قانون کي قانونیت لري، د واده کولو سند او یو له بله قانوني میراث تر لاسه کوي، د جمهوریت سره د اسلام یو ځای کول، د اور او اوبو یو ځای کول دي، او د مسلمانانو خطاء ایستنه ده، یهودي استعمار لومړی د اسلامي نړۍ او عربي نړۍ سیاسي قدرت تر لاسه کړ، سکولر غلامان چارواکي یې په کښي حاکمان کړل، دغو حاکمو چارواکو د یهودانو په آمر ریپبلیک جمهوریت تعریف کړ، ریپلیک یعني د انسان په لاس جوړ سوي قوانین، غلامو سیکولرانو د جمهوریت سره د اسلام نوم یو ځای کړ او پر اسلامي نړۍ یې تحمیل کړ.

په جمهوریت کي وکیلان قوانین جوړوي، د عدلیې او اجرایوي قوو له خوا عملي کیږي، د اساسي قانون په مټ بې عدالتي رامنځته او مظلوم ولسونه استثماروي، هغه حکومت چي اصول یې غیري الهي وي، جمهوریت دی. د جمهوریت د ټاکنو د ترسره کولو لپاره په اعلاناتو، کمپاین، د جلا جلا مستقلو کمیسونونو جوړولو، د ټاکنو پر عمله، انتقالي صندوقونو او داسي نورو... باندي په میلونونو ډالر خرڅوي، د خلګو د رایو صندوقونه سیند ته لویږي او پر ځای یې د جعلي رایو ډک صندقونه کارول کیږي، هغوی چي رایي شماري ګټوونکي او بایلونکي ټاکي، د ډیموکراسۍ علمبرداره امریکا په دې ټولو لاسوهنو، پلان ګذاري او سرمایه ګذاري کوي، غلامان په درغلیو بیا بیا ټاکي او کله چي د بل غلام سره ګډه اداره جوړوي او نوم یې اسلامي جمهوریت یادوي، د اسلام څه چي د ډیموکراسۍ د تعریف په ضد عمل ترسره کوي.

که په درغلیو کي بریالي نه سي، د عرب پسرلي په شان زړې مهرې په نوو بدلوي، که نه د مصر په شان کودتا کوي او یا د عراق او افغانستان په شان هیوادونه اشغال، خپل غلامان د درغلیو د ټاکنو پواسطه بیا بیا ټاکي، استعماري او غلام هیوادونه یې په رسمیت پیژني، دې بلواکۍ ته د ډیموکراسۍ خپلواکي وایي امریکا د همدې درغلیو ټاکنو، کودتاوو او اشغالونو په مټ د ټولي نړۍ سیاسي قدرت تر لاسه کړی دی، او غلامان یې په کښي چارواکي کړي دي، دروغ، غلا او درغلي د ډیموکراسۍ هنر او تقوا ده.

اتلسم فصل

اسلامي بيرغ کوم يو دی؟

دا چي اسلام يو ځانګړی دين دی او متفاوت سياسي نظام لري، نو د سمبولونو او شعايرو له اړخه هم خاص او شريعي بيرغ لري، دا بيرغ په نصوصو کي ثابت دی او د دلايلو څخه دا استنباطيږي، چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يې په اړه د لومړي اسلامي دولت پر مهال امر او يا هم سکوت کړی دی. پر اسلامي خاورو ملي بيرغونه ډير لنډ تاريخ لري، چي استعمار د تفرقې په موخه پر اسلامي اُمت تپلي دي، په داسي حال کي چي د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) لواء يعني هغه سپين بيرغ چي په تور رنګ د توحيد کليمه پرې ليکل سوې وه، او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) رايه يعني هغه تور بيرغ چي په سپين رنګ د توحيد کليمه پرې ليکل سوې وه، تر څورلس سوه (۱۴۰۰) کلونو ډير تاريخ لري او پر دې سربيره زموږ د عقيدې سرچينه اخلي. ملي بيرغونو تل اُمت سره ويشلی دی، او سپينه لواء يوازنی بيرغ دی، چي ټول اسلامي اُمت تر خپل سيوري لاندي راټولولای سي.

لواء هغه سپين بيرغ ته ويل کيږي، چي په تور رنګ د (لااله الا الله محمد رسول الله) کلمه پرې ليکل سوې وي او دا يوازي د پوځ د مشر يا رهبر لپاره کارول کيږي، معنا يې دا ده، چي د پوځ امير ځای پر ځای دی او چيري چي امير ځي، هماغه ځای ته ورسره ليږدول کيږي، کله به چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د پوځ اميران جهاد ته ليږل، نو لواء يعني بيرغونه به يې ورکول.

امام حافظ ابي الفتح په خپل کتاب (عيون الاثر فی فنون المغازی والشمائل السير) کي ليکي: د ۱۱هجري کال د دوشنبې په ورځ کله چي د صفر مياشتي څلور (۴) ورځي پاته وې، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د روم د غزا په موخه خلګو ته د چمتوالي آمر وکړ، د هغې ورځي په سبا يې حضرت اسامه بن زيد (رضي الله عنه) راوغوښت او آمر يې ورته وکړ: د خپل پلار د وژل کيدو تر ځايه دي په تګ کي بيړه وکړه، په خپل آس سره دي هغوی تر پښو لاندي کړه او دغه پوځ په ربښتيني توګه تاته سپارم. د چهارشنبې د راورسيدو سره سم پر رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د ناروغی نښي راڅرګندي سوې، د پنجشنبې په ورځ کله چي پر نړی د سهار سپيدې خپرې سوې، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د اسلام لواء يعني سپين بيرغ چي په خپلو مبارکو لاسونو يې جوړ کړی وو، حضرت اسامه بن زيد (رضي الله عنه) ته يې ورکړ، وروسته يې ورته وويل: د الله (جل جلاله) په لاره کي د الله (جل جلاله) لپاره جهاد وکړه او هر چا چي په الله (جل جلاله) پوري د کفر خطاب کاوه، ويې وژنه. په پای کي حضرت اسامه بن زيد (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په لاسونو له هغه جوړي سوي لواء سره يو ځای د مديني ښار څخه بهر سو، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) تور بيرغ هم کارولی دی، چي الرايه ورته وايي. له همدې امله کله چي جګړه پيليږي او خپله اميرالمومنين د لښکر قومندان وي، نو په دې حالت کي لواء يعني سپين بيرغ او رايه يعني تور بيرغ پورته کيږي.

په ابن هشام سیرت کي راځي، چي د بدر په غزا کي د جګړې پر مهال تور او سپین دواړه بیرغونه وه. ابن اسحاق وایي: لواء یې حضرت مصعب بن عمیر بن هاشم بن عبدمناف بن عبدالدار (رضي الله عنهم) ته وسپاره. ابن هشام یادوي: لواء سپینه وه. وروسته بیا وایي: د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مخکي دوه (۲) تور بیرغونه وه، چي یو یې د حضرت علي بن ابي طالب (کرم الله وجه) سره وو، چي عقاب ورته ویل کیدل او بل یې د ځینو انصارو سره وو.

په عملونو کي اصل حلال او حرام دي، یعني مسلمانانو ته اجازه نسته، چي یو عمل په داسي حال کي ترسره کړي چي په حکم یې نه پوهیږي او یا شریعي دلیل نه ورته لري، پرته له دې که هغه عمل فردي وي یا جمعي، سیاسي وي یا نظامي، له همدې امله اوسني بیرغونه د یوې خوا د استعمار زیږنده دي او د تفرقې لامل کیږي، نو ځکه حرام دي او د بلي خوا په شریعت کي د اسلامي دولت لپاره ځانګړي بیرغونه سته، چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خپلو مبارکو لاسونو رپولي دي، اصحابو کرامو او خلفاوو د همدې اسلامي بیرغونو تر سیوري لاندي تر موږ پوري اسلام را رسولی دی.

موږ ولي سپین بیرغ انتخابه وو؟ موږ ځکه سپن بیرغ انتخابه وو، چي دا د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) بیرغ دی، څلورلس سوه (۱۴۰۰) کاله مخکي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د موته په جنګ کي په خپلو مبارکو لاسونو جوړ کړی دی، تور او سپین دواړه د اسلام بیرغونه دي، مګر سپین د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خوښي رنګ وو او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خپله جوړ کړی دی، چي په ډیرو غزاوو کي پورته سوی دی، دا هغه بیرغ دی، چي تر چتر لاندي یې اسلام تر دغه ځایه په قربانیو سره را رسول سوی دی، دا هغه بیرغ دی، چي د حضرت جعفر (رضي الله عنه) په څیر صحابه کرامو خپل مبارک ځانونه پر ټوټه ټوټه کړي دي، مګر بیا یې هم مځکي ته نه دی پرې ایښی، او تحفه را په برخه کړې ده، چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مبارک سپین بیرغ د ساتلو زیمواري یې راکړې ده، خو افسوس موږ او تاسي بیا هم ددې بیرغ په وړاندي غبرګونونه ښه یو، تاسو نه پوهیږئ دا بیرغ وټولو کفري هیوادونه ته د اسلام د لوري یو لوی چلینج دی، دوی نه غواړي، چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دا سپین بیرغ دي، د نړۍ په یوه کونج هم رپانده سي.

د اکثره اسلامي هیوادو بیرغ ولي درې (۳) رنګه دی...؟ لومړی نړیوال جنګ وو، نړیوال خپل منفوره تکتیکونو ته لاس اچولی وو، او د اسلامي خلافتونو بربادولو ته یې لستوڼي رانغاړلي وه، برطانوي حکومتونو غوښتل چي متحد اسلامي اُمت ټوټې ټوټې کړي، او بیا د بریا لاس پر اوچت کړي، نو ددې ستري لوبي لپاره خپل جاسوس لورانس د اسلامي نړۍ وحدودو ته داخل کړ، چي وروسته دغه برتانوی کافر د عربو د یوې قبیلې مشر سو، خیر خو په دې وخت کي د مکې معظمې د مشر او په مصر کي د برتانویانو د مشر په منځ کي قاصد جوړ سو، چي په دې ترڅ کي برتانویانو دې عرب مشر ته د خپلواکی تر نامه لاندي داسي فریبونه وښوول چي عرب تر اوسه د غلامي تر ځنځیر لاندي ژوند په کښي کوي، او د خپلواک حکومت وړاندوینه ورته وسوه، چي په ترڅ کي به دغه خپلواک حکومت د برتانیې د دښمن یعني عثماني خلافت سره په جنګ بوخت وي.

برتانویانو تل غوښتل چي مسلمانان په خپلو مینځو کي په جنګ اخته کړي او دوی خپل منزل مقصود ته ورسیږي، په همدې ستري جګړه کي برتانيې غوښتل اول مسلمان اُمت ټوټه ټوټه کړي، چي شروع يې د عربي نړۍ څخه وسوه، ځکه د هغو د مشرانو په مغزو کي د بادشاهۍ خوبونه لیدل کیدل، اوسنی عراق، لبنان، سوریه او داسي نور... هیوادونه نه وه، چي دا ټوله سیمه د عثماني خلافت تر واک لاندي وه، خو منفوره غربي نړۍ خپل د صلیبیت او شیطاني فریبونو تر تاثیر لاندي مسلمان اُمت ټوټي ټوټي کړی، چي په ترڅ کي يې عربي نړۍ په څو ویښت هیوادونو وویشل سوه، هر یوه ته يې د خپلواکۍ تر نامه لاندي بیرغونه ورکړل چي د ټولو رنګونه سره یو رکم وه، ددې نامه لاندي يې د اسلامي اُمت هغه لوړ برم ټیټ کړ او د صلیبیانو واک پر نړۍ وچلیدی، افغانستان ته دغه درې (۳) رنګه بیرغ هغه وخت راوړل سو چي امان الله په نامه پاچا برتانيې ته سفر وکړ، د بیرته راستنیدو سره يې دغه د بل واکۍ بیرغ پاکي خاوري ته راوړ او د خلګو ذهنونه يې په خراب کړه.

په افغانستان کي د ۱۴۰۰هـ ش کال د زمري د میاشتي تر ۲۳ نیټي پوري که د هر چا سره په کور یا تلیفون کي سپین بیرغ نیول سوی وای، په حبس یعني بند محکومه کیدی، د جزا د کوډ د (۲۷۷) مادي له مخي په پنځه (۵) کاله او یوه (۱) میاشت بند محکومه کیدی، او که په تلیفون ورسره نیول سوی وای، په یو (۱) کال او یوه (۱) میاشت بند محکومه کیدی.



نوولسم فصل

کاذب استقلال

د زمري ۲۸مه د افغانستان د استقلال / آزادۍ د ورځي په نامه لمانځل کیږي، البته دا یوازي افغانستان نه، بلکي د اسلامي نړۍ په ټولو خاورو او د ښکیلاک په مټ جوړو سوو سیاسي جغرافیو کي خاصي ورځي د خپلوکۍ د ملي ورځي په نوم په خورا شانداره مراسمو سره لمانځل کیږي، په دې ورځو کي داسي فکر او احساسات رامنځته کیږي، چي ګواکي د دغو خاورو ولسونه د ښکیلاکګرو او یرغلګرو د هر ډول حاکمیت څخه آزاد د خپلي عقیدې او آرزښتونو په رڼا کي آزاد ژوند کوي. مګر پوښتنه دا ده: د زمري ۲۸مه رښتیا هم د واقعي او رښتیني استقلال ورځ ده او که دا د استقلال په نامه کاذبه ورځ پر خلګو تپل سوې ده؟ د ریښتیني او معنا داره استقلال ادعا هغه وخت کیدلای سي چي کله یو قوم د خپلي عقیدې یعني نړۍ لید او آرزښتونو په اساس د خپل ژوند چاري تنظیم او مخته یوسي، خپلي کورنۍ او بهرنۍ اړیکي د خپلو آرزښتونو په اساس د نورو قومونو (ملتونو) سره تنظیم کړي، په فکري، سیاسي، اقتصادي، نظامي، فرهنګي او تعلیمي برخو کي د هیچا تر اغیز لاندي نه وي او دا ټولي برخي په پوره آزادۍ د خپلو آرزښتونو او مصلحتونو پر بنسټ تطبیق او مدیریت کړي.

کله چي لومړۍ نړیواله جګړه ختمه سوه او په ترڅ کي یې عثماني خلافت ړنګ سو، نو هغه وخت د ټول اُمت هیله افغانستان ته وه چي افغان واکمن امان الله به په افغانستان کي خلافت اعلان کړي او افغانستان به د نورو اسلامي خاورو د آزادۍ سرچینه او سرلارۍ سي، په همدې خاطر د هند څخه د اسلامي علماؤو او مخورو یو پلاوی کابل ته راغلی، د امان الله څخه یې غوښتنه وکړه: تاسو خلافت اعلان کړئ، تاسو سره به ټول اُمت د شریعي خلیفه په توګه بیعت وکړي. له بده مرغه امان الله دا غوښتنه رد کړه او د دولت ملت په چوکاټ کي یې سیکولر دولت اعلان کړ، ددې لوی خیانت پایله دا سوه چي څو کاله وروسته د امان الله دولت ړنګ سو، نوموړی په ډیر ذلت د افغانستانه تبعید او باالاخره په ډیر ناوړه حالت کي په ننني ایټالیا کي مړ سو.

د امان الله د سیکولرزم د خپراوي هڅه په افغانستان کي: افغانستان ممکن په نړۍ کي یوازینۍ اسلامي هیواد وي چي اوسیدونکو یې هر وخت هیواد ته د پردیو افکارو د ورود مخه نیولې ده، ددې هیواد خلګو د امان الله په وخت کي د سیکولرزم مخه ونیول، د نور محمد ترکي او کمونستانو پر مهال یې د کمونیزم، الحاد، امریکا د اشغال پر مهال یې د لیبرالیزم او ډیمکراسۍ مخه ډب کړه، افغانستان ته د غرب پالني تصور لومړی ځل د امیر شیر علي خان د حاکمیت پر مهال راواد سو، امیر شیر علي خان چي په اروپا کي یې زده کړي کړي وې، تر ډیره یې هڅه کول چي د نظام ظاهري بڼه لکه د دربار جوړښت، د پوځ طرحه او داسي نور په اروپایي طرز عیاره کړي، تر دې ورها خوا یې په ورځني ژوند کي د اروپایانو تقلید نه غوښتی، خو تر امیر شیر علي خان وروسته امان الله لومړنۍ شخص وو، چي د ژوند په ټولو برخو کي یې غربي طرز خپلول غوښتل او په لویه سطحه یې د سیکولرزم د ترویج هڅي پیل کړې.

امیر حبیب الله خان د امان الله پلار د عیش او عشرته ډک دربار درلودی، چي د بهرنیو میلمنو تر څنګ د روڼ اندو یعني روشنفکرانو په نوم د غربي کلتور څخه متأثري ډلي فعالیت په کښي درلودی، د امیر حبیب الله خان بیغوری، د عیش او عشرته ډک دربار چي امیر یې کاملاً راحصار کړی وو، په دولتي ادارو کي فساد او رشوت او څه نور عوامل روڼ اندي ډلي ته د لا فعالیت زمینه برابره کړل، امان الله د دربار د همدې روڼ اندو تر تأثیر او پالني لاندي په داسي یوه ماحول کي را لوی سو، چي فضاء یې کاملاً غربي او پردی وه، عقلي بلوغ ته تر رسیدو وروسته هم امان الله د دوی تر پراخ تأثیر لاندي وو، د روشنفکرانو اساسي مرجع حبیبیه حبیبه لیسه وه، پر دې سربیره د دربار او حبیبې لیسې دباندي هم روڼ اندو شتون درلودی، دا ډله د غربي افکارو او ډیمکراسۍ پیروي وه، غوښتل یې امیر د واکه لیري او شاهي نظام په مشروطه نظام واړوي، دې ډلي د امیر د بیغورۍ په استفادې سره په هیواد کي د نوي تمدن او فرهنګ په نوم د سیکولرزم او غربګرایۍ د خپرولو هڅي پیل کړې.

چي وروسته یې نتیجه د امان الله په څیر شخص په کښي راووتل، د روڼ اندو لومړۍ ډله که څه هم د امیر حبیب الله خان له خوا ډیره وځپل سول، مګر کاملاً خاموشه نه سوه، تر دې پوري چي دې ټولۍ د امان الله او د هغه د مور سرور سلطانه بیګم په مرسته امیر حبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کي په مخفیانه ډول په داسي حال کي وواژی، چي امیر په خپله شاهي خیمه کي بیده وو، د پلار تر مرګ څو ورځي وروسته د خپلوانو په قانع کولو امیر مان الله واک تر لاسه کړ، د امان الله د فکر مرجع اصلي څوک وو؟ د روڼ اندو په دوهمه ډله کي په فکري لحاظ تر ټولو مخکښه څیره محمود طرزی وو، چي د غربي افکارو څخه کاملاً متأثره وو، طرزي په استانبول کي تر اوسیدلو وروسته غربي افکار خپل کړي وه، دی په ترکیه کي د کمال اتاترک او په ایران کي د رضا شاه پلوي د فکر پلوی وو، سراج الاخبار محمود طرزي ته د انګریزي استعمار خلاف د آواز پورته کولو سربیره د سیکولرزم د خپراوي پراخه زمینه برابره کړه، ټول تاریخ لیکونکي په دې اړه په یوه خوله دي، چي محمود طرزي د امان الله لپاره یوازینی فکري مرجع وه، د امان الله د اصلاحاتو په نوم افساداتو کي محمود طرزي او لور یې ملکه ثریا پوره لاس درلود.

امان الله څه وخت د سیکولرزم په علني خپرولو پیل وکړ؟ امان الله واک ته تر رسیدلو وروسته د اصلاحاتو لړۍ پیل کړې، دا اصلاحات پر دوو (۲) مرحلو ویشل کیږي، لومړی مرحله یې د استثنی سره سره د دوهمي په پرتله د ولس د هرکلي سره مخ سوه، تر لومړی مرحله اصلاحاتو وروسته امان الله د اروپا په سفر روان سو، د ځان سره یې خپله میرمنه ملکه ثریا او محمود طرزي هم یو ځای کړل، ملکه د طرزي په غربپاله کورنۍ کي لویه سوې وه، دیني او ټولنیزو آررښتونو ته ډیره کمه پابنده وه، ملکه ثریا د خپل خاوند امان الله سره د غربي کلتور په نشر کي پوره همکاره وه، د هغه وخت اخیستل سوي نیمه لوڅ تصویرونه ددې دیني او کلتوري التزامات ښه په ډاګه کوي، ددې په اړه دا هم راځي چي یوه ورځ یې خپل د سر پرونۍ تر پښو لاندي کړ او بیا یې وویل: عصر تاریکی ها درگذشت. د تاریکیو وختونه نور تیر سول.

امان الله د عادته خلاف پوره شپږ (۶) میاشتي د هیواده بهر وو، ددې سفره تر راستنیدو وروسته کاملاً بدل او مغروره سوی وو، هیواد ته د راستنیدو وروسته یې په ښکاره او شعوري ډول د سیکولرزم په خپراوي لاس پوري کړ، د اصلاحاتو په نوم یې د اسلامي او ټولنیزو اصولو خلاف فاسد فرمانونه صادر کړل، پر حجاب یې بندیز ولګاوه، د ده په آمر د کابل په جادو کي لویي لوحې وځړول سوې چي پر لیکل سوي وه: پر دې لاره چادري کړي ښځې نه سي تیریدلای. د جمعې د ورځې رخصتي یې شنبې ورځې ته واړول، د کابل پر خلکو د دریشي اغوستل اجباري سول، په لاس ورکولو سترې مسې منع سول او پر ځای یې باید د پرنګیانو په شان خولۍ د سره لیري او روغبړ وکړي. د نظامه څخه نیولې تر ورځني ژونده پوري په هر څه کي غربپالنه پیل سول.

امان الله او تر څنګ یې محمود طرزي په هیواد کي په شعوري ډول د سیکولرزم او بې دینۍ ترویجول غوښتل، دوی دواړه په ترکیه کي د کمال اتاترک او په ایران کي د رضا شاه پهلوي د فکر پلوي وه، کمال اتاترک چي ډیری ترکان یې ایتاترک یعني د ترکانو سپی نوموي، په ترکیه کي اسلامي خلافت ړنګ کړ، اتلس (۱۸) کاله یې پر آذان کولو بندیز ولګاوه، عربي ژبه یې منع اعلان کړل، د ترکي ژبې عربي رسم الخط یې په لاتیني واړوی، حجاب یې منع اعلان کړ، اسلام یې د رسمي دین په توګه د ترکیې د سیاست او قانونه حذف کړ، ددې فاسدو تحولاتو تأثیرات تر اوسه هم په مسلمانه ترکیه کي لیدل کیږي. د مثال په ډول په داسي حال کي چي د ترکیې شاوخوا اووه نوي (۹۷) سلنه وګړي مسلمانان دي، د اتاترک له وخته نیولې تر اوسه یې هم د دولت رسمي دین اسلام نه دی.

رضا شاه پهلوي هم د امان الله په څیر د خپل حاکمیت پر مهال ترکیې ته سفر وکړ او تر راستنیدو وروسته یې د سیکولرزم هماغه نسخه په ایران کي عملي کړل، کومه چي امان الله په افغانستان کي عملي کول غوښتل، دلته امان الله د اصلاحاتو په نوم د اسلام د شعائرو مخالفت شروع کړ، هلته رضا شاه د خرافاتو د له منځه وړلو په نوم د اسلام د اصولو پر وړاندي ودریدی. د امان الله خان دولت او د انګریزانو دسیسې: دا خبره چي د امان الله دولت د انګریزانو د دسیسو په نتیجه کي له منځه ولاړی، د امان الله پر سهوو او غلطیو د پردې اچولو هڅه ده، دا په اصل کي خپلي غلطۍ پر نورو ور اړول دي، انګریزانو د امان الله دولت په رسمیت وپیژندی، په انګلستان کي یې د امان الله تود هرکلی وکړی، ده ته یې د تزاري روسیې د لوی امپراطور پتر کبیر لقب ورکړی او وروسته یې هم ښې اړیکي ورسره پاللې.

تاریخ لیکوونکي په دې اړه په یوه خوله دي، چي د انګریزانو له خوا د امان الله خان د دولت خلاف دسیسو په اړه هیڅ لاسوند وجود نه لري. میر غلام محمد غبار (افغانستان در مسیر تاریخ) کتاب کي لیکي: امان الله د اروپا د سفره تر راګرځیدو وروسته ډیر مغروره سوی وو، او په هغه بیړۍ سره یې چي د اصلاحاتو په برخه کي یې وکړه، هیواد د یوې چاودني خواته بوتلی، دربار د دودیز شکله په غربي شکل واوښتی، کالر او نیکټایۍ د وطني یخن او ساده کالو ځای ونیوی، عیاشي او وخت ښه تیرول پیل سول، رښتني او ګټور ریفورم په مضرو فرعي لوبو بدل سول، د اصلاحاتو د تطبیق په اړه د خلکو آرزښتونه، هیلي او غوښتني له پامه وغورځول سوې، ددې پر ځای چي د خلکو اقتصادي ستونزي حل سي، امان الله په بې ځایه او حساسو مسائلو په تبدیلۍ اخته سو.

د ملکې ثریا د نیمه لوڅ تصویر نشریدل: دا اندیښنه تر ډېره پر ځای ده، خو دا چې د ملکې انځور دي فوټوشاپ سوی وي او ددې سر دي د بل چا پر تنې ایښودل سوی وي، د حقیقته لیرې بریښي، ځکه دې کار ته د سره ضرورت نه وو، د ملکې نیمه لوڅ اصلي انځور اوس هم په انټرنیټ او ارشیفونو کي خوندي دی، داسي بریښي چي همدا عکس دي یې هغه مهال په کلیو او ښارونو کي خپور سوی وي، خو ددې ستونزې ګوته بیا هم ملکې ثریا او امان الله ته نیول کیږي، نه هغو کسانو ته چي دا تصویر یې نشر کړی وو، په داسي یوه هیواد کي چي نه نوي (۹۹) سلنه اوسیدونکي یې مسلمانان دي، د ملکې له خوا داسي اسلام دښمنه اقدام چي د مخالفت سره مخ نه سي، نو څه به وسي، پر دې سربېره ترکیې ته د شریعي محرم پرته د افغانو انجونو استول هم د اسلامي شعائرو سره د امان الله ټکر په ډاګه کوي چي باید نه وای سوی.

که امان الله د اروپایي تقلید او سیکولرزم د خپراوي پر ځای اقتصادي، تخنیکي او پرمختیایي مسائلو ته پام ور اړولی وای او د اروپا څخه یې یوازې د تخنیک پر راواردولو بسنه کړې وای، نن به مو د پرمختللو هیوادونو په قطار کي ځای درلودای، ځکه ولس د انګریز خلاف هیواد ته یې استقلال وبخښی، مګر امان الله تونډ خوی، اسلامي اصولو ته کمه پابندي، د ولس آرزښتونه د پامه غورځول، د غرب ړوند تقلید او د پرمختیایي کارونو پر ځای په بې ګټې او حساسو مسائلو اخته کیدل ددې لامل سول چي هیواد د پرمختګ په برخه کي پیړۍ پیړۍ شاته وغورځوی.

په لومړي نړیوال جنګ کي چي عثماني خلافت د امریکا، بریتانیا، ایټالیا، فرانسه، روسیې او د دوی د نورو متحدینو سره په جګړه بوخت وو، د انګریزانو او فرانسویانو له خوا د یو پټ پلان او له مخکي آماده سوي طرحي له مخي د عثماني خلافت د ړنګولو په موخه د هغه وخت عثماني افسر (رئوف بی) مجبور کړل سو چي په یونان کي د مودروس په بندر کي د اوربند تړون امضاء کړي ددې تړون د امضاء کولو دوه (۲) کاله وروسته د یهودانو او انګریزانو په توطئه په فرانسه کي د هغه وخت د عثماني خلافت د صدر اعظم (دامات عادل فرید باشا) له خوا د امریکا او متحدینو سره د عثماني خلافت د بدنامولو په هدف د سور په نوم تړون امضاء سو، چي له مخي یې د عثماني خلافت څو سیمي یونان، ارمنستان او کردستان ته ورکول کیدلې، دامات عادل فرید باشا هغه څوک وو، چي د عثماني خلافت د دښمنانو سره له مخکي په مرسته او د خلافت د بدنامولو لپاره د ځینو کارونو په کولو باندي متهم وو، که څه هم د دغه تړون وروسته د خلیفه له خوا دی عزل کړل سو، مګر دغه تړون د عثماني خلافت نوم ډیر بد کړ او په خلافت کي دننه یې ډیر مخالفتونه را پیدا کړه، چي د دغه دواړو (۲) تړونونو تر شا د مصطفی کمال اتاترک لاس وو، چي قصداً یې غوښتل عثماني خلافت بدنام کړي او خلګ یې پر ضد را وپاروي، ځکه اتاترک په دې وخت کي په عثماني فوج کي مشهور افسر وو، د سور تړون څخه د ځان د مشهور کولو او مطرح کولو په ګټه یې ډیره استفاده وکړه، عثماني خلافت یې د ترکانو سره په خیانت متهم کړ او پر ضد یې عملاً په فوج کي کمپاین شروع کړ چي بالآخره یې په دې نامه چي ګویا دی د سور د تړون مخالف دی.

په څو ځایونو کې د فرانسویانو او یونانیانو سره د جګړې په نامه مانورونه وکړه او دې جنګ ته يې د ترکيې د استقلال نوم ورکړ، چې تر اوسه يې ترکان په همدغه نامه باندي لمانځي، مګر په اصل کې دغه جګړه د ترکيې د استقلال لپاره نه، بلکي د عثماني خلافت د ړنګولو لپاره وه، مصطفی کمال اتاترک د انګریزانو، فرانسویانو او امریکایانو په مرسته واک ته ورسیدی، عثماني خلافت يې لغو اعلان کړ او اوسنۍ ترکیه يې د مستقل هیواد په بڼه جوړه کړه، په یاد سوي جنګ کې ځیني افغان محصلین هم د اتاترک تر څنګ په جګړه کې مړه سوه، واک ته د رسیدلو سره سم اتاترک د افغانستان د وخت واکمن امان الله سره اړیکي ټینګي کړې، چې په ۱۹۲۱م کال کې د جون پر لسمه (۱۰) افغانستان په ترکیه خپل سفارت پرانیستی، او اتاترک خپله د افغانستان بیرغ پورته کړ، په ۱۹۳۸م کال کې چې کله اتاترک مړ سو، افغانستان د امان الله په مشرۍ لومړی هغه هیواد وو، چې د یوې اونۍ لپاره يې په ټول هیواد کې ماتم اعلان کړ او بیرغ يې د یوې اونۍ لپاره نیم ځوړند کړ.

د افغانستان سره د ترکيې روابط پر دې ځای باندي پای ته نه دي رسیدلي، بلکي د هغه وروسته هم د ترکيې سیکولر نظام د افغانستان سره د نظامیانو په روزلو، مکاتبو او پوهنتونو کې مرسته کړې او ډیرو افغانانو ته يې د تحصیلي سکالرشیپونو د لاري د لوړو زدکړو زمینه برابره کړې ده، دا چې اتاترک یو خائن او غدار انسان وو، اسلامي خلافت يې له منځه یو وړ، معلومه خبره ده چې په افغانستان کې به هم ده د داسي خلګو روزل غوښتل، لکه خپل ځان چې هم به بې دینه وي، هم به د اسلامي نظام ضد وي او هم به د اسلامي اُمت د بې اتفاقۍ غوښتونکی وي، په دې هیله چې مسلمانان ویښ وسي او د دښمن په ظاهرو مرستو او کومکونو باندي ونه غولیږي.

آیا اوس نو امان الله او کمال اتاترک غازیان دي؟ برتانيې د عثماني خلافت د نړولو لپاره پر ترکيې حمله وکړه، غوښتل يې چې د عثماني خلافت مرکز لاندي کړي او عثماني خلافت له منځه یوسي، د برتانوي او فرانسوي ګډو تیرګرو لښکرو چې شمیر يې نږدې پنځه (۵) لکه اویا زره (۷۰۰۰۰) وو، د دغه لوی لښکر مشري د ویستن چرچیل په غاړه وه، په مقابل کې يې د عثماني خلافت درې (۳) لکه پنځلس زره (۱۵۰۰۰) لښکر وو، چې مشري يې د عثماني پوځ جنرال مصطفی کمال اتاترک کوله، بلاخره په دغه لویه جګړه کې برتانيې ماته وخوړله او عثماني خلافت برۍ تر لاسه کړ، جنرال مصطفی کمال په دې لویه جګړه کې بریالیتوب د امله خورا شهرت او محبوبیت تر لاسه کړ،

ددې څخه څه موده وروسته چې عثماني خلافت د غرب د سختو فشارونو او کورنیو ستونزو د امله د سور په نامه د غرب سره یوه داسي بدنامه معاهده لاسلیک کړه، چې په پایله کې يې زیاته اندازه خلافت مځکه د لاسه ورکړه، د عثماني پوځ ددې بدنامي معاهدې پر خلاف وو، او دغه ذلت يې نه سوای زغملای، همدا وو چې عثماني پوځ پر جنرال مصطفی کمال اتاترک باندي راټول سو، ځکه په دې وخت کې نوموړی د ډیر شهرت او محبوبیت څخه برخمن وو، دا وخت چې استانبول برتانویانو نیولی وو، کمال اتاترک د انګریزانو سره د پټ سازش په پایله کې د جهاد نارې په پورته کولو رامخته سو، برتانوي او د متحدینو پوځ د جګړې پرته پر شا سو، ددې کارنامې د امله کمال اتاترک په پوځ کې محبوبیت ډیر سو، او د غازي د لقب ګټوونکی سو.

احمد شوقي چې د وخت مشهوره شاعر وو، په خپلو شعرونو کې یې اتاترک ته د حضرت خالد بن ولید (رضي الله عنه) لقب ورکړ، خو وروسته یې مخالف سو، مګر پایله دا سوه، چې غازي کمال اتاترک واک ته په رسیدو سره خلافت لغوی کړی، او بدبینه جمهوریت یې اعلان کړی، په عربي ژبه آذان باندي یې بندیز ولګوی، د عربي رسم الخط پر ځای لاتیني رسم الخط یې دود کړی، د ښځو د فحشا ښاري مراکزو یې پرانیستل، د جوماتونو بندول او له منځه وړل یې شروع کړل، او داسي نور... ډیر خبیث کارونه یې وکړل، مسلمانان یې حیران کړل، چې غازي جنرال څه او څه وکړل؟! داسي ستر جنایتونه یې ترسره کړل، چې اُمت اوس هم لعنت پر وایي.

بل خوا په افغانستان باندي هم درې (۳) ځله برتانوي لښکر یرغل وکړ، مګر په درو (۳) سره وارو کي د ماتي خوړولو وروسته یې د افغانستان د تسخیر لپاره د جګړې او زور پر ځای بله طرحه انتخاب کړه، دریم ځل چې برتانوي اشغالګر د افغانستان د عام مسلمان ولس په مقابل کي ماته خوري، په دې وخت کي امیر حبیب الله ترور او وژل کیږي، پر دریيمه ورځ امان الله د واک پر څوکۍ کښیني، په همدغه کال امان الله د انګریزانو څخه د هیواد د خپلواکۍ اخیستلو اعلان کوي، انګریزان یې سمدستي دولت په رسمیت پیژني، افغانان امان الله ته د غازي لقب ورکوي، خپل امیر یې مني، د خپلو قربانیو او شهادتونو په نتیجه کي انګریزانو ته د ماتي ورکولو کریډیټ امان الله خان ته ورکوي، نه کوم د جهاد نامتو قومندانان په واک شخړه ورسره کوي، نه یې د نه منلو ږغ پورته کوي او نه هم د منصبونو غوښتنه ځیني کوي، بس ټول ولس یې د امیر په توګه مني.

څو کاله وروسته دا غازي امان الله د اروپا په اوږده سفر وځي، په لندن، پاریس، برلین، مسکو او داسي نور... هیوادونو ته د خپلي میرمي سره یو ځای سفر کوي، بیرته چې هیواد ته راګرځي، غازي بدل سوی دی، د افغانانو څخه پردی سوی دی، افغانان سپک، ذلیل، بې فرهنګه او بې تمدنه ورته معلومیږي، د افغانانو د دین، عقیدې، فکر، فرهنګ، د آرزښتونو او مقدساتو هیڅ خیال نه ساتي، ټول تر پښو لاندي کوي، ښځي مطلق آزادي دي، حجاب بند دی، د نڅا کلوب جوړیږي، د ږیري خریل ضرور دي، دریشي اغوستل ضرور ده، شریعي سلام بند دی، د لنګوټي پر ځای اروپایي خولي پر سر کول اجباري کیږي، پر علماؤو بندیزونه لګول کیږي، هو امان الله په یوه نوې بڼه هیواد ته راغلی، مګر افغانانو ته خپل دین، عقیده، مقدسات او آرزښتونه مهم وه، د خپلو آرزښتونو او مقدساتو د ساتني پریکړه کوي او هیڅوک هم نه پریږدي چې ځیني وایې خلي.

شلم فصل

د ځوان نسل بې لاري کول د دښمن اصل هدف دی

ځوانان چي د ملتونو ربښتينی ځواک او د مستقبل چارواکي دي بايد په فکري او فرهنګي لحاظ په اولوياتو او تعميري نظرياتو مصروف سي، په هغوی کي بايد د قربانۍ، ميراني، د دين، هيواد او ملت څخه د دفاع احساس پيدا کړل سي، او د پرديو په مقابل کي بايد په هغوی کي حساسيت وپالل سي، مګر غربيانو د اشغال پر وخت په افغانستان او ټوله اسلامي نړۍ کي د دغه ځواک د له منځه وړلو په مقصد بيلا بيل تدابير او اقدامات په کار واچول، ددې لپاره چي ځوانان په مهمو اسلامي او ملي مسائلو کي مصروف نه سي، هغوی يې په کرکټ او نورو بيلا بيلو لوبو د افراط تر حده مصروف کړل.

د ځوانانو د ذهني مصروفولو لپاره يې تلويزوني کانالونه، ايف ايم راډيوګاني هندې، ترکي او امريکايي سريالونه، د ادبياتو او هنر په نامه د بې ادبۍ او بې هنرۍ بنډارونه، د پيغلو او ځوانانو تر منځ د معاشقي او ياراني لاري چاري او نور مصروفيتونه ايجاد کړل، په دې ډول يې د ښارونو، کليو ځوانان او پيغلي د جديت او عمل پر ځای په موډ، فيشن، لوبو او د پرديو په تقليد مصروف کړل، د اولوياتو څخه په لوبو فيشن او د پرديو په تقليد مصروفول غرب پر افغانستان د خپل يرغل وروسته خپله توجه تر هر څه زياته د ديني او فکري ډګرنو تسخيرولو ته واړوله، په دې کار کي يې داسي تدابير او اقدامات په کار واچول چی په لنډه موده کي يې د عامو مسلمانانو او افغانانو ديني او فکري ژوند ته تر ډيره حده تغير ورکړ.

يوويشتمه (۲۱) پيړۍ د داسي پرمختللو تکنالوژۍ او پاليسۍ سره مله سوه کوم چي غرب د مسلمان ځوان د بې دينۍ او بې لارۍ لپاره خپلي ټولي هڅي او پلانونه پلي او بريالي کړل، د نني ځوان فکر، شکل او قواره، ناسته ولاړه، اخلاق او خويونه د لويديځوالو د کلتور او فرهنګ څخه زيږيدلي بريښي او د هغوی په کفري او غربي کلتور يا فرهنګ په پلونو روان دی، دا ټولي ناخوالي د اشغالګرو د فکري او عقيدوي يرغل نتيجه او حاصلات دي، چي بايد مسلمان ملت يې پرې کړي، ځکه هغوی داسي تخمونه کرلي چي زرغونيدل به يې د اسلامي ټولني زامنو ته د ارتداد او ګمراهۍ ستر لامل واوسي.

موږ ګورو چي د نني ځوان د اسلامي ټولني د کلتورونو او شرعي احکامو څخه زړه تور او ځيني په تيښته دی، زموږ همدا ځوان نن په لوی لاس خپل ځان هلاکت ته غورځوي، مګر بيا هم دومره فکري ناروغه دی، چي ځان په سمه او نور ټول اسلامي ملت په ناسمو لارو روان بولي، غفلت او نفس پالل يې اوج ته رسيدلی دی، د الله سبحانه وتعالی د آوامر او نواهيو څخه بې زاره د دنيا په خوندونو کي ډوب او خپل اصلي موخو څخه ليري په بې ځايه او ناوړه کړنو بوخت دی، فکر يې د الله (جل جلاله) پرته، د دنيا په فاني ژوند، د نفسي او شيطاني خواهشاتو پوره کول او د پرديو ناموسونو پيمالولو سره تړلی دی.

په مجازي عشق کي ګیر او لیونی وي، ځکه خو وینو چي ګرده ورځ په نامشروع او بې ګټي سوچونو کي ډوب او ګنګس پروت وي، د دنیا د بدو سره یې دومره تړاو ډیر سوی وي، چي آن مور، پلار یې هیر او نږدې اړیکي یې پرې کړي، د کوره تر بهر هیوادو یې ځان ورساوه، نن هلته د انټرنټ د آسانتیاوو برخمن او له همدې لاري خپلي نفسي غوښتني پوره او ناوړه اعمال ترسره کوي، کوم چي زیان به یې د وخت په تیریدو سره تر رواني ناروغیو او په نشیي توکو روږدتیا پوري ورسیږي، نن په پردي هیواد کي خپله انرژي د نفس لپاره په آزادانه ډول مصرفوي او خپل راتلونکی په یوه دقیقه خوند باندي خرابه وي، دا هر څه د اشغال په پایله او د هغوی د کامیاب فکري استعمار څخه ولیدل، موږ وینو چي د هغوی کرل سوی تخم زموږ په مځکو کي زرغون او مخ پر ودي دی، که ددې فکري یرغل مقابله ونه سي او په اصطلاح دا تخم ټول نه سي، نو لیري نه ده چي راتلونکی نسل به مو سل (۱۰۰) سلنه د لویدیځي کلتورونو او د هغوی فاسدو عقیدو پیروان واوسي، نن ددې وخت رارسیدلی دی، چي زموږ علماء د دغو ځوانانو د بیا اصلاح او تربیې لپاره په خپل پوره توان هلي ځلي وکړي، تر څو زموږ د لاس وتلی د فکري استعمار ښکار سوی ځوان د تیارو د تورتمونو د رڼاوو روڼ سهار ته ور داخل کړي.

که یو زرین دوران ته بیا ځلي ستنیدل غواړئ، نو په خپلو کورونو کي اولادونو ته د عدم تشدد فلسفې د وربښوولو پر ځای هغوی ته ور وښایاست، که چیري مسلمان د تیري کوونکو کافرانو په وړاندي چوپه خوله کښني ذلیله کیږي، بې عزته کیږي، په پای کي کفار پر واکمن کیږي، د عدم تشدد د فلسفې څخه نه باچا خان ګټه وړې ده او نه به هم وروسته دا آزمویل سوې ناکاره نسخې پایله ورکړې ده، نو ښه به دا وي، چي خپلو اولادونو ته د مسلمانانو د عروج او زرین دوران کیسې وکړو او هغوی ته دا انګیزه ورکړو، چي موږ اوس په تر ټولو ذلیل حالت کي یو او له دې حالت څخه د ځان ایستلو لپاره باید په نظامي شعبه کي ځان خودکیفا کړو، په نړۍ کي اوس هم د ملتونو پت او عزت د نظامي ځواک په مټ خوندي دی، او موږ چي برباد یو په همدې برخه کي د تشي درلودلو له امله برباد یو، د تعجب خبره دا ده چي اشغالګر زموږ د ملت د بقاء جګړه وحشت او بربریت معرفي کوي، مګر د خپل ملت د تحفظ په پلمه پر موږ د بمونو غورځول د ځان دفاع بولي او ځانونه تر موږ متمدن هم ګڼي، په موږ کي د عدم تشدد فلسفې ته دعوت کوي، مګر خپله ان په فضاء کي هم نظامي هډې جوړوي.

دا حالت باید بدل سي، ځوان نسل باید داسي وروزل سي، ځوان نسل باید نور د دښمن فریب وپیژني، پر غرب باور مه کوئ، غرب ته د تللو څخه ډډه وکړئ.

يوويشتم فصل

د مسلمانانو دښمنان څه کول غواړي؟

استعمار غواړي خلک دي وږي وي، ځکه چي تصور يې داسي دی، لکه د استعمار يو استازی جورج لويد په خپل کتاب کي وايي: په ۱۹۱۹م کال کي سوکالي يعني آرامي ددې سبب او لامل سوه، چي خلک راپورته سي او انقلاب رامنځته کړي، له همدې امله استعمار تل دا هڅه کوي چي خلک وږي او محروم وساتي، تر څو د يوې ګولې ډوډۍ د لټون له غمه بې غمه نه سي، او دې ته وخت پيدا نه کړي چي بيا د استعمار په خلاف پاڅون او قيام وکړي.

کفارو تل د اسلام پر مقدس دين باندي په خپل ټول توان او امکاناتو سره د دغه مقدس دين پيروان په ډيري بې رحمۍ سره وژلي دي، د دوی هغه پرمختللي وسلې چي بشريت د ملي ماتم، جدي ګواښ او هلاکت سره مخ کړی دی، بيا هم ځانونه بشردوستان ورته معلوميږي، نن چي نړۍ غريبه سوې ده او په لوږه کي ژوند کوي، يوازي د دوی د ځان غوښتني او تکبر ثمره ده، دوی د غريبو هيوادونو طبعي زيرمي لوټ کړي، په خپله خيټه کي يې اچولي دي، دوی خپله وايي: زور په زرو کي دی، نو له همدې امله د غريبو هيوادونو مالکان په پيسو اخلي او د ملت پر اکثريت يې حاکم ګرځوي، دوی داسي خلک انتخابوي چي يا خو مطلق جاهل وي او يا هم د نفساني غوښتنو تابع وي، که شرق دی او که غرب د تاريخ په اوږدو کې يې غريب هيوادونه د يرغل په زور محاصره کړي دي، د پوتين سرو لښکرو د شام په مقدسه خاوره کي هغه مسلمانان بمبارد کړل چي د دوی قانون نه مني او د بشار الکلب په ضد جنګيږي، پوتين د يوې خوا څخه د مسلمانانو سره د محبت چيغي وهي د بلې خوا يې وژني.

د کفارو توجه اسلامي نړۍ ته د څو وجوهاتو له امله ده:

۱:ـ تر ټولو لويه وجه د کفارو د توجو اسلامي نړۍ ته د اسلام د پرمختګ او حاکميت مخنيوی دی.

۲: د خپلو صادراتو لپاره مارکيټ پيدا کول، ځکه چي د دوی د صادراتو لپاره ډير ضرورت په اسلامي نړۍ کي دی، دا ځکه د اسلامي نړۍ غلامو حاکمانو د خپلو پراخه او هر څه لرونکي منابعو څخه استفاده ټولني ته نه ده وړاندي کړې، چي د غرب د صادراتو څخه ټولنه غني سي، نو ځکه کفار تل په دې کوښښ کوي چي همدغه بې وجدانه حاکمان د خپل ځان غلامان وګرځوي، خپل صادارات پر وپلوري او د دوی منابع د ځان سره يوسي، دوی ته د استفادې شی پرې نږدي، تر څو د غلام طوق يې د غاړي څخه ونه وځي.

۳: د اسرائيلي قانون د دفاع او پرمختګ لپاره په اسلامي نړۍ کي په بې دينه او وطن فروشه حاکمانو باندي د فوځي هډو منل، تر څو ددې ځايه څخه دا بې اصله او د اسلام خلاف قانون تضمين کړي.

د ډيري مودي راهيسي په نړۍ کي اسلامي اُمت د ذلت او کمزورتيا لور ته روان دی او دا په داسي حال کي چي الله سبحانه وتعالی دې اُمت ته غوره امت ويلی دی، اسلامي اُمت په پيل کي يو پرمختلونکی، فاتح، د خپل واک او حاکميت لرونکی اُمت وو، مګر اوس يې بچيان کله د يوه زبرځواک تر تسلط لاندي د ذلت شپې او ورځي تيروي او کله د بل زبرځواک تر تسلط لاندي د ذلت شپې او ورځي تيروي، ددې لپاره چي د ذلت او بيرته پاته والي په علتونو پوه سو، د هغو د ليري کولو هڅه وکړو د اُمت د ذلت او ضعف ځيني اسباب او ځيني عوامل اسلامي اُمت د مفکرينو د ليکنو د مطالعې څخه په استفاده په لاندي څو نقطو کي په مختصر ډول تشخيصوو، د اُمت د بيرته پاته والي او ذلت عوامل:

د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د رحلت راهيسي اسلامي اُمت د خلافت تر سيوري لاندي ژوند کاوه، او همدغه سلسله تر ۱۹۲۴م کال پوري په بيلا بيلو شکلونو کي په اُمت کي روانه وه، د خلافت نظام مسلمانان په سياسي لحاظ سره يو کړي او په دفاعي لحاظ يې ټول اُمت د دښمن په مقابل متحد ساتلی وو، د خلافت تر سيوري لاندي د ټولي اسلامي نړۍ مسلمانانو ځانونه د يو اُمت غړي ګڼل، د وطنونو، ژبو، رنګونو، مذاهبو، او قومونو جلا والی، ځکه دوی يو له بله نه وو جلا کړي چي ټولو ځانونه تر ډيره وخته د يوه سياسي نظام اتباع ګڼل، او د سياسي تصاميمو مرجعيت يې يو وو، دښمن به د مراکش څخه تر اندونيزيا پوري مسلمانانو ته د يوه اُمت په حيث کتل، نو د هغوی څخه به يې سترګه سوځيده او د مسلمانانو پر خلاف به يې د هيڅ اقدام جرأت نه سوای کولای، نو هماغه وو چي فيصله يې وکړه چي د خلافت نظام بايد په اسلامي اُمت کي له منځه يوړل سي، تر څو مسلمانان د داسي قوته محروم کړي چي اوږده موده يې اُمت د کفارو په مقابل کي ځواکمن ساتلی وو.

دښمن د خلافت د له منځه وړلو لپاره په بيلا بيلو مرحلو کي د بيلا بيلو دسيسو او توطيو څخه کار واخيست، تر دې پوري چي په ۱۹۲۴م کال کي د مسلمانانو وروستۍ خلافت د يوه يهودي الأصله مسلمان ډوله پوځي حاکم کمال اتاتورک له خوا لغوه اعلان سو، د خلافت د له منځه وړلو چاري په حقيقت کي برتانيې د ټولي اروپا په ملاتړ ترسره کړې، او د اسلامي اُمت ځيني خاينو او غدارو حکّامو هم مرسته ورسره وکړه، نامسلمانه اقليتونو، د اروپايانو څخه متأثره نشنلستو رهبرانو او مفکرينو هم په دغه ستر جنايت کي ونډه واخيسته او هغه په داسي شکل چي د اسلامي اُمت په نوي نسل کي يې د قوميت، وطنيت او ژبنيو بيلتونونو شعارونه پورته کړل، تر دې پوري چي ستر مسلمان اُمت يې په همدغو شعارونو او معيارونو ټوټه ټوټه کړ، هره ټوټه يې يو جلا اروپايي هيواد لاندي کړه، او پر هغې يې يا خپله مستقيمه واکمني ټينګه کړه، او يا يې خپل هغه فکري غلامان باندي حاکم کړل چي د همدې کار لپاره يې روزلي وه، اروپايي استعماري دولتونو په اسلامي نړۍ کي خپل فکري غلامان د سيکولريزم په نظريه روزلي دي، او سيکولريزم هغه نظريه ده چي نه غواړي د انسانانو د ژوند چاري دي د الهي وحي پر اساس تنظيم سي.

د مسلمانانو تر منځ اختلافات د مسلمانانو په منځ کي اختلافاتو او نوي فکرونو تل ناخوالي زيږولي دي، کښتۍ چي کله سورۍ نه وي که هر څومره د اوبو په منځ کي وي نه ډوبيږي، تر څو چي په منځ کي يې اوبه د کوچنيو سوريو څخه ورته راپورته سي، مکار او شيطان انګليستان د مستشرقينو په زور او قوت وکولای سول د مسلمانانو د اختلاف نقطې پيدا او

تقویه یې کړي، تر څو د مسلمانانو د نجات بیړۍ د کوچنیو سوریو د لارې څخه طوفاني کړي، نو یې د وهابیت فکر وزیږاوه او هغه آیاتونه چې د کافرانو په هکله نازل سوي وه، ټول یې مسلمانانو ته منصوب کړل، په دې سره ترکانو ته مشرکان وویل او د هغوی قوت یې تجزیه کړی او عربو ځانونه د عثماني خلافت څخه ځان جلا کړه، چې په دې سره یې د مسلمانانو د غیرت او عظمت خلافت د تل لپاره ړنګ کړی، او د پای ټکی یې ورته کښیښووی، چې په دې سره سم د مسلمانانو د بې غیرتۍ ژوند پیل سو، دغه افراطي او ګستاخ فکر نوري اسلامي نړۍ ته نقل سو.

اسلامي هیوادونو ته د بې دینۍ د خپریدو اسباب:

۱:ـ جهل: د خپلي دیني عقیدې او اساساتو څخه غفلت کول، د معاصرو عقیدتي بلاوو او فتنو د پیژندلو په باره کي غفلت کول، کله چي یو کس د شریعي علم څخه لیري او ایماني تربیه یې سمه نه وي، یقین یې ضعیف وي او د غرب د الحادي ثقافت تر سیوري لاندي وي، نو لیري نه ده چي د کفر په تیارو سي راګیر سي.

۲: د خپل دین څخه د مسلمانانو انحراف او پخپل دین باندي عمل نه کول، فاسد اخلاق او فاسد اعمال ترسره کول، ځکه چي داسي کول د ایمان د ضعف سبب ګرځي، د مؤمن قوي ایمان او تقوا د هر ډول باطل پر وړاندي کلک دفاعي دیوال دی.

۳: د قوي یقین او شریعي علم پرته د کفر په دیار کي ژوند تیرول، کله چي یو کس داسي ځای ژوند کوي، چي هلته د اسلامي شعائرو د احترام او تعظیم پر ځای د شرق او غرب د الحادي فلاسفه او د هغوی د افکارو احترام او تعظیم کیږي، د شریعي اعمال پر ځای کفري اعمال ترسره کیږي، د ده سره د کفر د بطلان علم او قوي یقین نه وي، نو لیري نه ده چي د کفر په تیارو کي راګیر سي.

۴: کفري اشغال، د کفري اشغال تر سیوري لاندي الحادي عقیدې ته ډیره پاملرنه او د اسلام پر ضد منفي تبلیغات، د اسلامي مراکزو او دعوتګرو له منځه وړل او یا تر فشار لاندي راوستل، د اسلامي دعوت مخنیوی کول، د هغه پر خلاف هر ډول کفري او الحادي عقائدو او تبلیغاتو ته وده ورکول، د هغوی لپاره د ګومارل سوو اشخاصو روزل، معاشونه ورکول، د تلویزیون، راډیو، انټرنټ پر مټ تبلیغات کول.

۵: د تحصیل لپاره غربي هیوادونو ته داسي کسان لیږل چي هغوی شریعي علم او تقوا نه لري، د هغوی د عقائدو او اخلاقو تر تأثیر لاندي راتل، بیا د پوچو عقائدو او اخلاقو په صورت کي خپل هیواد ته د ماسترۍ او دوکتورا د اسنادو سره راتلل، بیا د اشغال له خوا د هغوی زیات قدر او هغوی ته د سترو دندو په اختیار کي ورکول، چي دا ډول کسان مختلفو کفري هیوادونو ته د تحصیل لپاره لیږل کیدل، د الحادي عیقدې سره یو ځای د ډیپلوم، ماسترۍ او دوکتورا د اسنادو سره خپل هیوادته راتلل، دلته په معارف، لوړو زده کړو او نورو مهمو پوستونو کي ځای پر ځای کول.

۶: د تعلیمي نصاب تغیرول او د غربي رسنیو فعالیت.

۷: د مسلمانانو په مینځ کې د فساد، منکراتو او خرافاتو رواجول، تر څو هغوی بدنام کړي، نړۍ ته یې مفسدین معرفي کړي او په دې سره اسلام بدنام کړي.:

۸: په مسلمانانو کې د جهل او خرافاتو خپرول، لکه: د ځینو بدعتي صوفیانو بدعتونه او خرافات، په عاشورا کې ویني تویول، نورو مناسباتو کې خرافات کول، او داسي نور ډیر خرافات بدعات چې د هغو په وسیلـه ملحدین په دین باندي طعن کوي.

۹: د صحي عقائدو په حصه، په دعوت الاالله کي غفلت کول، د معاصر کفر او الحاد د نشأت څخه بې خبري، او د نفس خواهشاتو تعبیداري کول.

۱۰: د واحد اسلامي خلافت سقوط کله چې سقوط سو، په مسلمانانو کې الحادي دعوت پیل سو، لومړی په ترکیه او بیا په مصر کي پیل سو.

په اوسني نړیوال نظم کي چې مشري یې د امریکا او امنیت شورا د پینځو (۵) دایمي غړو په لاس کي ده، دا ناممکنه ده چې په اسلامي خاورو کي شته ضعیف نظامونه دي ریښتینۍ استقلال ولري، ډیری سیاستوال او مفکرین لا په دې باور دي چې په اوسني نړیوال نظم کي مطلق حاکمیت هیڅ شتون نه لري، هغه هم د داسي دولتونو او ملتونه لپاره لکه: فلسطین، مصر، پاکستان، ایران قطر او داسي نور اسلامي هیوادونه نو د اوسني نړیوال نظم په چوکاټ کي اوسیدل او د هغه تر چتر لاندي ژوند کولو په صورت کي دا باید مطلق له ذهنه وباسو چې واقعي استقلال دي ولرو، ریښتینۍ استقلال یوازي هغه وخت تر لاسه کولای سو، چې د شته نړیوال نظم خلاف د اُمت په کچه اسلامي دولت تاسیس او بالآخره د نوي نړیوال نظم د رامنځته کولو لپاره کار وکړو، څو په پایله کي یې اسلامي دولت لاربشوونه وکړي او د صدارت مقام په کښي ولري.

دا ډیره د تعجب وړ خبره ده، چې یرغلګر د خاوري وشړه، مګر تر ملي پولي اخوا یې پریږده، نور یې مه تعقیبوه، مه پسي ورځه، آن سیاسي، اقتصادي او فرهنګي راکړي ورکړي ته هم ادامه ورکوه، دا د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د سیاسي سنتو خلاف عمل دی، ځکه هغه بیرته هڅه کوي، تر څو د خپل لاسه وتلي پوځي نفوذ پر ځای، خپل نرم نفوذ بیرته تامین کړي، همدا زموږ د ناکامیو پیل دی، زموږ یعني مسلمانانو په چارو کي د ملګرو ملتونو ښکیلتیا، په اسلامي خاورو کي د ملي دولتونو کیسه له سره جعلي او تپل سوې ده.

هغه روایت چي د دغو نظامونو د شتون لپاره رامنځته سوی دی، د استعمارګرانو له خوا جوړ سوی دی او ډیری د استقلال ورځي یې هم د زاړه اروپایي استعمار څخه د نوي امریکایي استعمار پر لور د انتقال ورځ ده او بس، د اسلامي نړۍ ټولي خاوري هغه وخت ریښتینۍ استقلال درلودلای سي، چې موږ په فکري، سیاسي، اقتصادي، نظامي، فرهنګي او تعلیمي برخو کي د هیڅ اجنبي یعني که شرقي وي او که غربي وي، تر مستقیم او غیري مستقیم اغیز لاندي ونه اوسو، بلکي د اسلامي عقیدې او شریعت په اساس خپل د ژوند ټولي کورنۍ او بهرنۍ چاري تنظیم او مخته یو سو، هغه وخت موږ دا په میرانه ویلای سو چي موږ آزاد اُمت او دولت یو.

د اسلامي شريعت د حکم له مخي زموږ دنده يوازي د افغانستان، پاکستان، فلسطين، ايران او داسي نورو... اسلامي هيوادونو په آزادولو نه خلاصيږي، بلکي اسلامي دولت مکلف دی چي پاته ټولي اسلامي خاوري د سيکولر طاغوتي ملي دولتونو او حاکمانو د فاسد او ناروا حاکميت څخه آزادي کړي او د اسلامي دولت سره يې ملحق او اسلامي اُمت ته فکري، سياسي او جغرافيوي وحدت ورکړي، تر دې وروسته مو بله شريعي وجيبه دا ده، ټوله نړۍ د بشري نظامونو د حاکميت او فساد څخه شپه او ورځ کړيږي، نه يوازي انسانان، آن حيوانات او نور هم د دغه فساد د امله د سختو ستونزو سره مخ دي.

نو د اسلامي دولت د بهرني سياست (دعوت او جهاد) د لاري يې بايد يو پر بل پسي آزاده او د اسلامي نظام تر واکمنۍ لاندي راولو، څو د بشري نظامونو د ظلم څخه يې د اسلامي نظام د عدالت تر سيوري لاندي ژوند کولو ته اړ کړو، دې هدف ته هغه وخت رسيږو چي موږ اول دغه استقلالونه وپيژونو، چي کاذب دي او خپله استعمارګران او د هغوی ګوډاګيان يې د داخلي عامه افکارو د بوختيا او استهلاک لپاره کاروي، څو نور يې د لمانځني پر ځای د تاريخ په هديره کي دفن کړو، ورپسي بيا د رينښتيني استقلال د تر لاسه کولو لپاره خپل ټول توان او انرژي په کار واچوو، څو واقعي استقلال تر لاسه کړو، انشاالله چي الله سبحانه وتعالی د مومنانو ملګری او نصرت کوونکی دی، په دې لاره کي مو يوازي نه پريږدي او ژر دی چي د الله سبحانه وتعالی په نصرت به واقعي استقلال ته ورسيږو.

د اسلام دښمنانو تر ټولو ستره کمزوري د هغوی باطله عقيده ده، ځکه چي د باطلي عقيدې سره د الله سبحانه وتعالی هيڅ مرسته نه وي، بلکي باطله نظريه د الله سبحانه وتعالی خپله د ناراضۍ او د هغه د عذاب نازليدو سبب ګرځي، باطل پلويانو په حقيقت کي لنډ مهاله برلاسي د الله سبحانه وتعالی له خوا هغوی ته مهلت دی، د عاديانو او ثموديانو څخه نيولې تر نيازيزم، کمونيزم، او امريکاييزم پوري دا ټول ددې ښه مثالونه دي.

سلام ته د ټولو اړتيا: د نړۍ ټول خلګ د اسلام مبارک دين ته ضرورت لري، چي د سلامتۍ او آمن دين دی او که چيري خلګ د اسلام دين ونه مني، نو بيله شکه چي د زياتو مشکلاتو سره به مخ سي، مثلاً: که د نړۍ لويو دولتونو ته وګورو، هلته چي د اسلام مبارک دين نسته، نو د هغوی قوانين ډير ظالمانه دي، په خاصه توګه د غريبو او ناداره خلګو لپاره او همدارنګه اخلاقي ناروغياني تر حده زيات په کښي ډير سوي دي، کيدای سي تاسو د ايډز د کنفرانس په باره کي مو اوريدلي وي چي د شلو (۲۰) کلونو په موده کي شل (۲۰) ميليونه خلګ ددې وژونکي ناروغۍ په اساس هلاک سوي دي، چي د دوی څخه يې تر ټولو کمترين تعداد د اسلامي هيوادونو څخه دی، او کيدای سي چي دا طبيعي نتيجه وي او دغه ناروغي الله سبحانه وتعالی د هغو کسانو لپاره پيدا کړې وي، چي د الله سبحانه وتعالی د دين او شريعت څخه ليري وي، که چيري موږ اسلامي فتوحاتو او جنګونو ته وګورو، نو په هغو کي يو پر سلمه برخه د شل (۲۰) ميليونه انسانانو هم نه دي وژل سوي، علاوه له دې څخه چي اووه ديرش (۳۷) ميليونه نور انسانان د دغه وژونکي ناروغۍ د امله د مرګ انتظار کوي، چي دا ټول د اخلاقي فسادونو، د اسلام د مبارک دين څخه ليري والی او د الله سبحانه وتعالی د حکمونو څخه د نافرمانۍ نتيجه ده.

دوویشتم فصل

اسلامي اُمت دعوت او دعوتګرانو ضرورت لري

مخلصو، مصلحو او فعالو دعوتګرانو ته نن ورځ اسلامي نړۍ مخلصو دعوتګرانو ته ډیره زیاته اړتیا لري، داسي علماء چي خپل شخصي اغراض په کښي ونه پالي، خپل ټول ژوند او استعدادونه ددې دعوت لپاره وقف کړي، داسي علماء چي شهرت، چوکۍ او مشري ونه غواړي، زړونه يې د حسد، کينې او دښمنۍ څخه پاک او د پراخي سينې خاوندان وي، يوازينۍ موخه يې ټول اُمت ته خپل دعوت رسول وي، د نورو څخه تمه ونه لري، بلکي په دې لاره کي خپل ځان وخت او مال ولګوي، د هيڅ يوې ډلي سره د منصب او چوکۍ د لاسته راوړلو لپاره کوښښ ونه کړي، د خپلو فعاليتونو او کوښښونو سره خلګو ته دا ثابته کړي، چي د دوی اهداف د نورو معاصرو سياسي حرکتونو او قدرت طلبو څخه ډير اوچت او سپيڅلي دي، د دوی شعار بايد اخلاص وي او د هر ډول ځانځاني، تعصب او کرکي څخه ليري وي.

علمي او فرهنګي مرکزونو ته اړتيا: دې موخو ته د رسيدو لپاره نوي علمي، تربيتي او فرهنګي مرکزونه بايد فعال سي، تر څو په ډير ښه ترتيب سره نوي نسل ته اسلامي مطالب او مسايل وړاندي کړي، د غرب د تراشل سوي نظرياتو او اهدافو څخه يې خبر کړي، چي ځيني يې د مطالعې د لاري او ډيري يې د چاپيريال څخه د متاثره کيدو د امله پر ميځن سوي دي، د اسلام حقيقي معنا او مفهوم د هغوی زړونو ته ورننباسي، ټول زهري او وژونکي مواد ځيني را وباسي، او د اسلام ډيوه په کښي بله کړي، هو! موږ د نړۍ په ټولو برخو کي همداسي علماؤو او داعيانو ته اړتيا لرو، چي په دې حساس پړاو کي فعاله ونډه ولري، زموږ تعليم يافته ځوانان د غربي ايډياليزم يعني فکري جګړې او اسلام ضدو افکارو تر تاثير لاندي راغلي دي او په وړاندي يې تسليم سوي دي، په مقابل کي يې خپل اسلامي شخصيت د لاسه ورکړی دی، د اسلام د سپيڅلو قوانينو او ارشاداتو په وړاندي يې پاڅون کړی دی، او په دې لټه کي سوي دي، چي څنګه همدا وارد سوي زهرجن افکار خپلو سيمو او ټولنو ته کاپي کړي، که څه هم په دوی کي ځيني نرمزاجه او په تدريجي ډول کار کوي او ځيني يې سخت دريځ او د زور زياتي د لاري غواړي پرمختګ وکړي، مګر د ټولو موخه يوه ده.

د باسواده نسل په وړاندي د ديني علماؤو دريځ ديني علماء په عمومي توګه پر دوه (۲) ډول دی: يوه هغه ډله ده، چي په تعليم يافته ځوانانو ډير تيزي او سخت دريځي کوي، د عواملو پرته يې د کفر ټاپه پر تندي ورته لګوي او د هغوی څخه سخت نفرت او بيزاري ښکاره کوي، پرته ددې چي تحقيق او څيړني وکړي، پټ رازونه او منفي اړخونه يې څرګند کړي او هغه لږ ايمان چي د هغوی په زړونو کي ځای نيولی دی، نور هم پياوړی کړي، د ديني او اسلامي تربيت لاندي يې وروزي، پرته ددې چي په دنيوي ماديات پوري وتړل سي، حقيقي اسلام په لور راوبلل سي، د حکيمانه نصيحتونو پواسطه ناهيلي زړونه يې بيرته را وغوړوي، هيلي او اُميدونه په کښي را زرغونه کړي، مشکوک او مخدوش ذهنونه يې د اسلام په رڼو اوبو ومينځي، دغه ډله په دې عقيده نه ده، چي ځوانان بايد د علماؤو، پوهانو، د فکر او عقل د خاوندانو سره کښينول سي، د هغوی په لوري را دعوت سي.

تر څو د هغوی د فکر، تګلاري او مسیر څخه رنګ واخلي او خپل اسلام د غربي نصاب پر ځای د اسلامي نصاب د لاري زده کړي، او د دوهمي ډلي موقف د اولي ډلي څخه پوره بدل دی، دوی د تعلیم یافته خلګو سره اړیکي نیسي، د هغوی په خوښیو او خپګان کي ځانونه شریک بولي، هر ډول مرستي د هغوی سره روا ګڼي، مګر دیني امورو کي مکمل بې توجه او بې باکه دي، نوموړې ډله د فعالو دیني اشخاصو، مؤثرو داعیانو او د اسلامي غیرت څخه محروم سوي دي، سره ددې چي د ځوان نسل سره هر ډول مرستي کوي، مګر په اصلاحي برخه کي هیڅ د باور کار نه دی کړی، نن ورځ په اسلامي نړۍ کي هغه خلګ ډیر کم پیدا کیږي، چي زړونه یې په دې ځوان او په مختلفو غربي میکروبونو ناروغ مسلمان باندي وسوځي او د یو هوښیار طبیب په توګه یې درملنه وکړي، په ډیري پوهي او حکمت سره هغوی د دین په لوري راوبلي، داسي احساس په ډیرو لږو خلګو کي سته، هو! د همدې مخلصو او رب پالونکو داعیانو د نه شتون د امله ده، چي زموږ غرب ځپلي او د غربیزم په وایروس ککړ خلګ ورځ تر بلي د اسلام څخه لیري کیږي او د دین څخه د ناآشنایي په ناروغي اخته کیږي.

تر ټولو لوی مصیبت دا دی، چي زموږ هغه دینداره ډله ددې پر ځای چي زموږ ناروغه ځوانان ځان ته را دعوت کړي، برعکس نور یې هم د ځانه لیري کوي او د ځانه یې شړي، سپکي سپورې ورته وایي، نو ځکه دوی ځیني متنفره کیږي او خپلي اړیکي ورسره پرې کوي، چي د امله یې دین سره هم علاقه کمیږي، ددې غربي سویو ځوانانو د دردونو درملنه نه کوي، په حقیقت کي ددې ډلي دا ډول تعامل د عصري او غربي تعلیم ځپلو سره د حقپالونکو علماؤ او داعیانو سره دښمني نوره هم زیاتوي، ځکه د انسان طبیعت داسي دی، چي کله هغه دنیا پرسته وي، نو که څوک په دنیوي مسایلو کي رقابت ورسره کوي، هغه یې دښمن دی، که د چوکۍ لاسته راوړل یې مقصد وي، نو خپل مخالف لوري هیڅ کله زغملای نه سي او که د خواهشاتو غلام وي، نو هیڅوک د ځانه سره نه سي یو ځای کولای، مقصدي او مهمه ډله اسلامي نړۍ نن ورځ هغه ډلي ته ډیر زیات ضرورت لري، چي د هر ډول طمع او توقع څخه پاکه او خپل ټول استعدادونه او فکرونه د دعوت او اسلامي مبارزې په لاره کي لګوي.

د دنیا ټولول، چوکۍ او واک ځان او ملګرو لپاره نه غواړي، کوښښ وکړئ، چي خپرونو، پروګرامونو، بحثونو، ګټورو کتابونو، مجلو او مقالو په خپرولو سره د ځوانانو شکوک او شبهات له منځه یو سی، چي د غربي کلتور او فرهنګ، یا زموږ د غفلت او بې پرواهي، د نبوي اخلاقو، تقوا او دیني ماحول څخه د لیري والي د امله په دوی کي پیدا سوي دي او دوی یې تر یرغل لاندي نیولي، ټول له منځه یو سئ، د تاریخ په رڼا کي د حقپالونکي ډلي آهمیت تیر تاریخ موږ ته دا ثابته کړې ده، چي همدا ډله د اسلام لپاره پوره خدمت کړی دی، چي د هغې څخه یو هم د بني امیه د کورنۍ اصلاح سوی مثال عمر بن عبدالعزیز وړاندي کولای سو، چي هغه خپله وعده او مسؤلیت د اسلام په اړه پر ځای کړه، هغه دنده چي په عملي کولو کي یې باید ځنډ ونه سي، مخکنیو وړاندیزونو ته په پام سره زموږ د ټولو دنده ډیره زیاته خطرناکه ده، او باید د هغې په ترسره کولو کي هیڅ ځنډ او غفلت ونه سي، ځکه د اسلامي نړۍ کره اولادونه او ډیري حساسي برخي د ارتداد او بې دیني په ډوبوونکي سیلاب کي راګیر سوي دي، اخلاقي او معنوي آرزښتونه، مقدسات او نوامیس یې تر سختو ګوزارونو او یرغلونو لاندي نیولي دي.

داسي نه چي زموږ د بې پرواهۍ او ناپامۍ د امله خپله اسلامي نړۍ چي زموږ ثروت او دارايي ده، د لاسه ورکړو، چي د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د تعليماتو او ارشاداتو او د سربښندونکو مجاهدينو په قربانيو او کوښښونو لاسته راغلي ضايع کړ، پر دين باندي دردمند خلګ دي همدې موضوع ته خاصه پاملرنه وکړي، څومره چي امکان لري په پوهي، تدبير، کلک عزم او پاک نيت سره د عمل ډګر ته راودانګي او اسلامي نړۍ دي ددې افاتو څخه خلاص کړي.

د اسلامي نړۍ په غيږ کي داسي مبارزو ځوانانو او مفکرينو ژوند کړی دی، چي تل يې اسلامي اُمت ته د سالم فکر او روڼ سياست درس ورکړی دی، او د غرب د فاسدو افکار او مزخرفو سياستونو څخه يې د ليري کولو کوښښ کړی دی، په منځني ختيځ د هند په نيمه وچه او د شمالي افريقا په اسلامي هيوادونو کي سلګونه داسي اسلامي مفکرين تير سوي دي، چي د اسلامي فکر، سياست او فرهنګ د ټينګښت او ترويج لپاره يې زرګونه ټوکه کتابونه د قلمونو تر څوکو وتلي دي.

ښه بيلګه يې ابن جوزي (رحمه الله عليه) دی، د دوه زره (۲۰۰۰) څخه زيات کتابونه يې ليکلي دي، چي موږ او تاسو يې شايد ټول عمر کي مطالعه نه کړو، هر کتاب يې د علمي، ادبي او برهاني اړخه دومره عالي دی، چي سړی بيخي ګوته په غاښ ورته پاته کيږي.

د اسلامي مفکرينو هغه ټول افکار چي دوی په خپلو کتابو کي ليکلي دي، په اجراء کولو سره يې د اسلامي اُمت د برم او عزت اعاده لازمي ده، هره ليکنه يې سړي ته د غرب او د غرب د تالي څټو په وړاندي د مبارزې روحيه وربخښي او د حقيقي استقلال مينه يې په زړه کي ور پيدا کوي، همدا لامل دی چي په هغو ټولو هيوادونو کي چي د غرب تر تاثير لاندي دي، د اسلامي مفکرينو د ځينو کتابونو پير او پلور باندي سخته پابندي لګول سوې ده، نشر او اشاعت يې سخت ممنوع دی، خو متأسفانه د اسلامـي اُمت ځوان قشر هم د داسي کتابونو څخه ليري دی، چي ځانونه په ټولنه کي د علم او پوهي خاوندان ګڼي او همدارنګه هغه قشر چي اسلامي اُمت معنوي رهبري ور په غاړه ده، هيڅ د غرب د راتلونکي سيلاب څخه خبر نه دي، بالکل داسي سړي ته معلومه سي، لکه دوی چي په شعوري توګه دا کار کوي او د غـرب د لوري په دې کار مأموره سوي وي.

که د خپل دښمن په لور هم نظر واړه وو، نو د غربيانو پلويان هره ورځ په اسلامي نړۍ کي د غربي فکر د ترويج لپاره زرګونه کتابونه د مسلمانانو په ژبو ليکي، نور ډير کتابونه يې د انګليسي، فرانسوي، الماني او نورو غربي ژبو څخه اسلامي ژبو ته ژباړلي او د غربي فکر د نشر او اشاعت لپاره دومره کوښښ کوي، چي موږ د خپل اسلامي فکر په نشر او اشاعت کي دومره کوښښ نه دی کړی، د يوم الحساب په ورځ به ددې ځواني، وخت، علم، مال او شتمني حساب ورکوو، چي دا پورته موارد دي په څه کي وکارول؟ ته ځوانه د ځان سره فکر وکړه دا پورته موارد دي د الله سبحانه وتعالى په لاره کي کارولي دي او کنه؟ نور بايد د فيل د غوږه رابيدار سو، بل څوک نسته، چي زموږ غم وخوري، خپل غم بايد خپله وخورو، په چا کي چي د مستقل کتاب استعداد وي، هغه بايد مستقل کتاب وليکي.

په چا کي چي د ژباړي استعداد وي، هغه باید د عربي، فارسي، اردو او انګلیسي څخه د اسلامي فکر کتابونه پښتو ته وژباړي او په چا کي چي د یوې لیکني استعداد وي، هغه باید لیکنه وکړي، او که څوک دا یو هم نه سي کولای، نو هغه څوک چي دا لاره تعقیبوي، باید تشویق یې کړو، ملاتړ یې وکړو، اسلامي فکر د سپما شی نه دی، بلکي د نشر او اشاعت شی دی، ضرور دی چي بشپړ نشر او اشاعت یې وسي، او دا د اسلامي اُمت مسؤلیت دی، بلکي په اوسني دور کي اهم مسؤلیت دی، ځکه چي مسلمان اُمت نن ورځ په بد حالت کي قرار لري، په دې مسؤلیت کي ځوانان باید زیاته ونډه واخلي، ځکه ځوانان قوت لري او هر ډول مشکلاتو ته په دې لاره کي اوږه ورکولای سي.

د کفري نړۍ عیسایت ته خدمت او د مسلمانانو غفلت: آیا ته خبر یې؟ چي په امریکا کي د عیسایت د خپرولو لپاره کار کوونکي مختلف تنظیمونو او انجیوګانو سره یو پنځوس (۵۱) میلیونو څخه ډیر مبلغین په ټوله نړۍ کي د عیسایت فراخ تبلیغ او د مسلمانانو عیسایان کولو لپاره کار کوي، درې سوه پنځه شپیته (۳۶۵) زره کار کوونکي ددې مبلغینو جائزه اخیستلو لپاره هر وخت انلائن وي، د کتابونو او مجلو تر دوی پوري رسولو لپاره په یو ساعت کي د څلور (۴) دقیقو په حساب سره درې سوه شپیته (۳۶۰) څخه ډیري طیارې پرواز کوي، څلور زره پنځوس (۴۰۵۰) کلیساوي او تلویزني چینلونه دي، چي شپه او ورځ د عیسایت په خپرولو اخته دي، هر کال درې سوه (۳۰۰) اربه ډالر عیسایي چرچونه او کلیساوي دغه انجیوګاني او تحریکونو ته ورکوي، هسي خو دوی په ټوله نړۍ کي فعالیت کوي، مګر ډیر هدف یې د افریقا غریب مسلمانان دي، ددې برعکس موږ مسلمانان په دې میدان کي انتهایي سست یو، بلکي د غفلت په خوب بیده یو، نه یوازي دا چي موږ بیده یو، بلکي د عیسایت د دسیسو ښکار سوی یو، هغوی موږ ته ټول متفق دي، که څه هم چي خپل په منځ کي شدید اختلاف لري، خو موږ بیا ټول یو پر بل د کفر فتوای لګولو څخه نه خلاصیږو، موږ ټول باید د اسلام د خدمت لپاره د عیسایت او الحاد په رد کي ټول اُمت سره متحد سو.

نو اې مسلمان وروه! په حیثیت د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د اُمتي دا زموږ وجیبه ده چي موږ د اسلام د خپرولو لپاره هر ممکن خدمتونه وکړو، دا یوازي د علماؤو یا تبلیغي جماعت وظیفه نه ده، بلکي هر کلمه ویونکي ته په کار دي چي تر خپل وس پوري د اسلام دفاع وکړي، که ته تعلیم لري او باسواده یې نو خپل قلم دي په کار واچوه که ته عالم یا مقرر یې نو خپله ژبه دي په کار واچوه او که ته د سوشل میډیا کارولو کي ډیر بوخت یې نو دا په نن سبا زمانه کي د عیسایت په رد کي تر ټولو لویه ذریعه ده خپل فیسبوک، یوتیوب او ټویټر د اسلام د یو خادم په توګه استعمال کړه، اسلامي نظام ته په کار دي چي په عالمي سطح داسي مبارزین وروزي او شته مبارزینو ته د خدمت زمینه برابره کړي، تر څو د غافل اُمت مسلمة له طرفه فرض کفایي ادا سي. په اوسني وخت کي د دعوت لویه او آسانه وسیله انټرنیټ هم دی، لکه څنګه چي دعوت مختلیف مجالات او ډګرونه لري، همدا شان الله (جل جلاله) انسان ته مختلف وسائل په لاس ورکړي دی، تر څو د هغو پواسطه د الله (جل جلاله) دین ته خلګ را وبلي او دعوت نورو ته ورسوي، دا وسائل په هره زمانه کي مخ پر وړاندي ځي او د پخوانیو وسیلو سره په خوا کي د دعوت لمنه نوره هم پراخه وي، د دعوت د وسائلو څخه یو هم په

نننی عصر کي د انټرنیټ نړیواله شبکه ده، پر دعوت کوونکي لازمه ده چي د انټرنیټ سره ځان بلد کړي، تر څو په دې وسیله خپل دعوت نورو ته ورسوي، د دعوت لپاره وسائل ضروري دي او پرته د وسائلو دعوت نه سي کیدلای، نن سبا انټرنیټ تر ټولو کم مصرفه او آسانه وسیله ده، نو پر دعوت کوونکي لازمه ده چي ددې وسیلې څخه هر اړخیزه ګټه واخلي، ځکه چي دعوت واجب دی، نو د وسیلې زده کړه هم ضروري ده.

دعوت او د انټرنیټ آهمیت: هره دعوتي او اعلامي وسیله خپلې ځانګړتیاوي لري، چي پر خپل ځای د آهمیت وړ دي، لکه د نورو دعوتي وسائلو په څیر انټرنیټ هم خپلې ځانګړتیاوي لري چي د ډیرو عصري وسائلو، لکه: راډیو، چاپي نشرات او داسي نورو څخه په دعوتي کار کي خپل آهمیت زیاتوي، چي ځیني ځانګړتیاوي یې په لاندي ډول دي:

د:۔ د دعوت نړیوال کول: د انټرنیټ په وسیله نن ورځ د نړۍ هر ګوټ ته خپله خبره رسول آسان کار سوی دی او انسان کولای سي چي د نړۍ ختیځ او لویدیځ سره اړیکه ټینګه کړي.

م:۔ لږ مصرف او ډیر کار: د نورو دعوتي عصري وسائلو جوړول، تر لاسه کول او د هغې لاري دعوتي کار کول ډیرو مصارفو ته اړتیا لري، مګر انټرنیټ د یو کمپیوټر او د انټرنیټ د لیکي د مصارفو بل کوم اضافي مصرف نه لري او یو عادي دعوتګر یې هم کولای سي.

ح:۔ د بیان آزادي: د انټرنیټ پواسطه انسان کولای سي، خپله هره خبره په پوره ډاډ او آزادۍ سره بیله دې چي د چا د سانسور او نیوکي لاندي وي نورو ته ورسوي، چي دا کار په نورو دعوتي وسائلو کي تر ډیره حده ګران او حتی ناشونی کار دی.

ا:۔ څو اړخیزه اړیکه: اکثره دعوتي وسائل یو اړخیزه وي، په دې معنا چي د یوې خوا خبره او پیغام استول کیږي او د بل لوري کوم عکس العمل نه سي ترسره کیدلای، لکه: په راډیو، مجله او اخبار کي یوازي د همدې وسیلو د چلوونکو خبره او نظریات منعکس کیږي او دا مجال ډیر کم او محدود دي، چي اوریدونکي او لوستونکي خپله خبره په هماغه پیمانه چي زړه یې غواړي نورو ته واوروي، مګر په انټرنیټ کي دا کار د دعوتګر او مقابل لوري تر منځ مساویانه وي، هر څوک کولای سي چي خپل نظریات په هماغه اندازه نورو ته ورسوي، چي څومره دی خپله توان لري.

د: د معلوماتو ذخیره او ساتنه: د کمپیوټر او انټرنیټ پواسطه انسان کولای سي په لږ مصرف او لږ وخت کي او په ډیره ساده توګه بې شمیره معلومات حفظ او ذخیره کړي او په ډیره آسانۍ سره کله چي وغواړي هغه معلومات بیرته تر لاسه کړي، که هغه لیکلي مواد وي، که آواز وي او که د غیر حیه اجسامو تصویر (عکس) وي.

ی:۔ کوچنی وسیله او غټ کتابتون: د کتاب او نورو موادو راټولول او ذخیره کول یو ګران کار دی، د یوې خوا ډیرو مصارفو ته اړتیا لري او د بل لوري لوی ځای ته، تر څو دا مواد په هغه کي ځای پر ځای سي او بل دا چي ددې موادو ځای پر ځای کول په اوسني عصر کي ځانګړي علمي او عملي اصول غواړي، تر څو هغه په ترتیب سره ځای پر ځای سي، چي د

لټون پر وخت په آسانه بيرته تر لاسه سي، او نن سبا ددې کار لپاره ډير مصارف کيږي، مګر انټرنيټ پخپله په زرګونو کتابتونونه پر خپلو ليکو کي رانغښتي دي، چي د هغو کتابتونونو جوړول د اکثره هيوادونو د حکومتونو د توان څخه هم وتلي وي، مګر انټرنيټ د يو کمپيوټر او يوې ليکي پواسطه دا ټول کتابتونونه د انسان په خپله خونه او دفتر کي هغه ته بيله کوم اضافي مصرف او تکليف څخه وړاندي کوي.

ر:- د دلائلو د لټون آسانتيا او ډيروالی: کله چي داعي خپل دعوت نورو ته وړاندي کوي، نو دې ته اړتيا لري چي د مناقشې پر مهال علمي دلائل وړاندي کړي، چي په نورو وسائلو کي د هغو لټون ورځو او مياشتو ته اړتيا لري، مګر د انټرنيټ په يو لټون (سرچ) کولای سي بې شميره دلائل تر لاسه کړي.

ف:- پراخه وخت: په نورو دعوتي وسائلو کي د ځانګړي وخت څخه پرته خپله خبره او دعوت نورو ته نه رسول کيږي. د مثال په ډول: اخبار سهار وختي بازار ته راوځي نو بيا د ليکوال د اختيار څخه بهر وي، همدا راز راډيو خپل ځانګړي وختونه لري او بايد په پوره آماده ګي او دقت سره پر خپل وخت پروګرام وړاندي سي، مګر په انټرنيټ کي هر ګړۍ چي وغواړې نو خپله خبره نشرولای سې، که هغه د خوب په خونه کي وي، که دفتر وي او که د خوړلو په خونه او يا کوم بل ځای کي.

د يو واحد اسلامي اُمت په هيله

ماخذونه

۱: قرآن کریم او تفسیر شرف.
۲: د اسلامي اُمت په خلاف نوي صلیبي پلانونه، لیکوال: پوهنمل زاهدي احمدزی.
۳: آیا نړیوالتوب فرصت دی، چیلنج که خطر، لیکوال: ډاکټر محمد ابراهیم شینواری.
۴: په اسلامي نړۍ کې د استعمار او مسیحیت د خپراوي لومې، لیکوالان: دکتور مصطفی الخالدي او دکتور عمر فروخ، پښتو ژباړه: عبدالحمید وردګ.
۵: نړیوال سازمانونه، لیکوال: ډاکټر رضا موسی زاده، ژباړن: محمد نظیم سمون.
۶: د ځوان نسل فکري روزنه، لیکوال: امام سید ابوالحسن علی ندوي (رحمة الله علیه)، ژباړن: ابو معاذ.
۷: د حکیم الأُمت اشرف علی تهانوي سیاسی اند، لیکوال: مفتي تقي عثماني، ژباړن: عرفان الله.
۸: سلطنت عثمانیه، لیکوال: ډاکټر علي محمد صلابي.
۹: اسلام او ګلوبلایزیشن، لیکوال: نقیب الله احمدي.
۱۰: اسلام او ګلوبلایزیشن، لیکوال: دکتور خالد علوي.
۱۱: ګلوبلایزیشن یا نړیوالتوب، لیکنه: ذاکر جلالي.
۱۲: شیندلي ملغلري، لیکوال: نظام الدین شائق.
۱۳: د نړۍ سیاسي تاریخ، لیکوال: عبدالصبور مبارز.
۱۴: اصول الدعوة، لیکوال: دوکتور عبدالکریم زیدان.
۱۵: فکري پوهنه، لیکوال: استاد عبدالهادي مجاهد.
۱۶: اسلام و جهاني شدن تعامل یا تقابل، لیکنه: مهدي نکویي ساماني.
۱۷: فکري استعمار، لیکوال: پوهنمل زاهدي احمدزی.
۱۸: مصطفی کمال اتاترک، ژباړن: زاهد خلیلي.
۱۹: اسلام او نړیوال کیدل، ژباړن: محمد داود منصوري.
۲۰: اسلام جهاني شدن و پیامدهای فرهنګي ان، لیکوال: محمود صوفي ابادي.
۲۱: فکري رغونه، اسلام او نړیوال کیدل، اسلام او ژوند.
۲۲: العرب والعولمة، لیکوال: محمد عابد الجابري.
۲۳: المسلمون والعولمة، لیکوال: محمد قطب ابراهیم.
۲۴: العولمة بین النظم التکنولوجیة الحدیثة، مؤلف: نعیمة شومان.
۲۵: المسلمون والعولمة، لیکوال: دکتور یوسف قرضاوي.